## سریزه

افغانستان که د صنعت او اقتصاد په لحاظ د نړۍ د وروسته پاتې هیوادو په کتار کې درېږي، خو د معنویت په نړۍ کې یې ستر ویاړونه په برخه شوي دي. افغانستان د استعمار پر ضد مبارزه کې د آسیا، افریقا او لاتینې امریکا د اولسونو لپاره لوړ مثال گڼل کیږي. د افغانستان خلکو تل په گډه د خپلې خاورې دفاع کړې؛ ددې هیواد اوسیدونکو تل د هیواد د یووالي تضمین کړی دی. افغانانو له استعماري هیوادونو څخه ډیر زیانونه لیدلي. په افغانستان کې د اسلام د مبارک دین د خپرېدو پر مهال د افغانستان وضعیت ډیر گډوډ او په مادي او معنوي لحاظ د ټولنیز کړکیچ سره مخامخ و. ددین له پلوه چې د یوې ټولنې د یووالي ستر ضامن دی، دلته دوه مختلف دینونه لکه زردشتي او بودایي دینونو رواج درلود. په ختیځې سیمې کې بودایي دین او د بلخ شاوخوا سیمو کې زردشتي دین پیروان درلودل، خو له دې سره سره لرغونی افغانستان یا لرغوني اریانا له اسلام څخه مخکې د ځانگړي جغرافیایي موقعیت او طبعي جوړښت له امله د عظمت او شوکت خاوند و. افغانستان د ویدي او اوستایي مدنیتونو ټاټوبی گڼل کیږي.

د تاریخ او جغرافیې پوهانو افغانستان د څواکونو د تگ او راتگ ستراتیژیک پل، د وریښمو د لارې د تقاطع ځای ، د هند د دروازې ، د اسلامي نړۍ د ختیځې دروازې، د تمدنونو څلور لارې، د نړیوالې سوداگرۍ د لوی لارې په نومونو سره نومولی دی. ځینو افغانستان له ۵۴۵ ق م څخه تر ۱۸۱۵ میلادي پورې د هند په خاوره باندې د یرغلگرو د ټوپ د تختې او پل په نوم پیژندلی دی. د وریښمو کومه لار چې [illegible] د هند، [illegible]، [illegible] عراق او جزیرة العرب سره [illegible] گریزو قافلو به پرې تگ راتگ کاوه. خو دغو ځانگړتیاو له ځانه سره د وینو ډکې پیښې او کړکیچونه هم لرل.

افغانستان د اسلام د مبارک دین د رارسیدو پرمهال یو ستر ټولنیز انقلاب ته اړتیا درلوده، ترڅو وکولای شي چې ټولې اخلاقي ناوړتیا، سیاسي او مذهبي اختلافات، مادي او معنوي اختلافونه او توپیرونه له مینځه یوسي او پر ځای یې په هیواد کې د ژوندیو واحد روح رامینځته کړي. سره له دې چې د دغسې یو انقلاب د رامینځته کېدو زمینه برابره وه، خو یې لا محرک نه و پیدا شوی. په دغسې شرایطو کې یوازې د اسلام سپیڅلي دین وکولای شول چې افغانستان کې دغه درنده دنده ترسره کړي.

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره له دې چې ددې نوي دين له خپرېدو سره ددې ملت جنګياليو هم ډېر مخالفت وښود او د پرمختګ په مخکې يې ورته خنډونه رامينځته کول، بيا هم د اسلام خپرونکيو په يوه لاس کې توره او په بل کې وعظ او تبليغ نيولي وو. د افغانستان خلک په دې ډول او اسانه لار د دين منلو ته تيار نه وو. له همدې امله په افغانستان کې د اسلام خپرېدو نهه پيړۍ او تر دې ډير وخت واخېست، خو د اسلام د سپيڅلي دين په راتلو سره په دې هيواد کې د يووالې، ترقۍ او خوشحالۍ نوې ساه وچليده.

کله چې افغانستان ته لومړۍ ځل د هجرت په ۲۲ کال اسلامي لښکرې راغلې. وروسته دوی د راشدينو خلفاو او اموي او عباسي خلفاو د خلافت پرمهال افغانستان ته د مشهورو قوماندانانو تر مشرۍ لاندې اسلامي لښکرې راوليږلې. دوی د افغانستان ځينې سيمې فتح کړې ، مګر د ټول افغانستان په فتح کولو بريالي نشول. د اسلامي لښکرو جګړې تر هغه وخته پورې ادامه درلوده، ترڅو په ۲۰۷ هـ ق کال د طاهر پوشنجي په مشرۍ د لومړي ځل لپاره افغانانو د خپلواک اسلامي دولت بنسټ کېښود. له طاهر پوشنجي وروسته د هغه د کورنۍ واکمنانو د اسلام د مقدس دين په خپريدا کې پوره ونډه واخېسته او د نويو پيړيو په تاريخ کې يې د افغانستان د مستقل دولت بنسټ کېښود، چې له طاهريانو وروسته صفاريانو، سامانيانو، غزنويانو او غوريانو په ټول افغانستان کې د اسلام مقدس دين خپور کړ.

غزنويانو په ځانګړي ډول سلطان محمود غزنوي د هند په ډېرو سيمو کې د اسلام مقدس دين خپور کړ. له دوی وروسته غوريانو د هغو فتوحات تعقيب او په هند کې يې د مسلمانانو په پياوړتيا او د جوماتونو په جوړولو کې د پام وړ ونډه واخېسته. غزنويانو او غوريانو له غزني او غور څخه دغه لوی اسلامي امپراطور اداره کولې، چې د دوی د واکمنۍ او خدمتونو بيلګې اوس هم په هند کې تر سترګو کيږي.

د غزني ښار ښکلی تاريخي ودانۍ چې د غزنويانو د واکمنۍ پرمهال جوړې شوې وې. خو د هيواد دغو ټولو تاريخي ودانيو او اسلامي فرهنګ د چنګيز خان د وحشيانه يرغل پرمهال ډېر زيان وليد او ډېرې ودانۍ په ټول افغانستان کې له مينځه ولاړې. په دغه درسي کتاب کې ياد موضوعات د امکان تر بريده توضيح شوي دي. يوه يادونه کوم هغه دا چې په دې کتاب کې د هجري قمري نيټو څخه ګټه اخېستل شوې ده، او په عنوانونو کې د هجري قمري ترڅنګ هجري شمسي او زيږديزه (ميلادي) هم کارول شوي دي. دغه تاريخي دوره د افغانستان په تاريخ کې ځانګړی ځای لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لومړی څپرکی

## د طاهريانو دولت

### پيلېزه

د افغانستان خلکو تل د ازادۍ لپاره قربانۍ ورکړي او د نړۍ ستر استعماري دولتونه يې په خپلو موخو کې ناکام کړي دي. په افغانستان کې د اسلام د مقدس دين له خپرېدو وروسته امويانو او عباسيانو د اختلاف پر مهال د افغانستان خلکو د ابو مسلم خراساني په لارښوونه د امويانو د واکمنۍ په سقوط او د عباسيانو واک ته رسولو کې د پام وړ ونډه درلوده ، خو د عباسي دولت خليفه ابو جعفر منصور د ابو مسلم د خدمت په مقابل کې په ډېرې ناروا سره هغه شهيد کړ او د افغانانو قربانۍ ته يې ارزښت ور نه کړ .

د هارون الرشيد له مړينې وروسته چې کله امين الرشيد ځان خليفه او وروسته يې زوی وليعهد وټاکه ، مامون الرشيد د هغه مخالفت وکړ او ځان يې په مروه کې د خليفه په توګه اعلان کړ .کله چې امين الرشيد خپل پوځ د مامون د رعيت کولو لپاره راوليږه، مامون خپل پوځ د هغوي مقابلې ته واستوه او طاهر پوشنجي وتوانيد چې د امين لښکرو ته ماتې ورکړ ي، مامون يې واک ته ورساوه خو کله چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

مامون الرشيد له افغانستان څخه بغداد ته د خلافت پلازمېنه انتقال کړه؛ طاهر يې د خراسان د حاکم په توگه مقرر کړ، خو طاهر پوشنجي د نورو افغاني رهبرانو په څېر د هيواد د آزادۍ په فکر کې و. ده له دوو کالو وروسته افغانستان کې خپلواک اسلامي دولت اعلان کړ او د مامون نوم يې له خطبې څخه وغورځاو او د بغداد خيلفه مامون الرشيد ته د طاهر په څېر شخصيت د زغملو وړ نه وو. د خپلو هغو مامورينو په لاس چې طاهر پوشنجي سره به يې په اداره کې کار کاوه زهر ورکړل ، طاهر يې شهيد کړ خو نوموړې د يوې ورځې حکومت په بهير کې د خپلواک دولت بنسټ کېښود ، وروسته يې زوی طلحه پاچا شو چې مامون دمجبوريت له مخې د هغه واکمني په رسميت وپېژنده او په راتلونکې کې يې د خپلواک اسلامي دولتونو جوړيدو لپاره زمينه برابره کړه .

## ۱,۱. په افغانستان کې د ۹-۱۳ ز پيړۍ پورې د خراساني دولتونو جوړيدل

طاهر پوشنجي د حسين پوشنجي زوی د طاهري دولت بنسټ ايښودونکی په ۸۲۰ ز کال له بغداد څخه افغانستان ته راغی. په ۸۲۲ ز کال يې په افغانستان کې د خپلواک اسلامي دولت بنسټ کېښود او د عباسي خيلفه مامون الرشيد نوم يې له خطبې څخه ليرې کړ، د افغانستان د ولايتونو د مسلمان شويو افغانانو تر مينځ يې مرکزيت ټينگ کړ، له طاهر پوشنجي وروسته په ۸۲۲ ز کال د هغه زوی طلحه پاچا شو ، له طلحه وروسته د هغه ورور عبدالله ، له عبدالله وروسته د هغه زوی دوېم طلحه او ددې کورنۍ وروستی پاچا محمد، د دويم طاهر زوی پاچا شو ، چې نوموړی د خپلو نيکونو برخلاف يو بې کفايته او عياش شخص و ، چې د طاهريانو د سقوط زمينه يې برابره او د يعقوب ليث صفاري له خوا نوموړي بندي شو او د طاهريانو واکمني پای ته ورسيده . د طاهريانو دوره په افغانستان کې د علم او ادب پالنې دوره وه ، دوی د خلکو د باور وړ وگرځيدل( ۲۷: ۹۷).

د طاهريانو د واکمنۍ پر مهال افغانستان په دوو برخو يعني اسلامي او غير اسلامي باندې وېشل شوی وو ، خو يعقوب ليث صفاري ټولو مخالفينو ته ماتې ورکړه د کندهار، هرات او کابل تر نيولو او د خوارجو د مشر له وژلو وروسته يې په افغانستان کې يو مرکزيت جوړ کړ او د ايران ځينې برخې لکه شيراز يې په ۸٦۸ ز کال ونيولې او په ۸۷۱ ز کال يې د کابل شاه زوی او د برهمن شاهي لړۍ وروستی پاچا يې د زابلستان په جگړه کې ونيو. يعقوب ليث صفاري هڅه کوله چې ايران هم له عربو څخه ازاد کړي نو يې د جوزجان له نيولو وروسته د عباسي دولت والي محمد بن واصل ته په ۸۷٤ ز. کال ماتې ورکړه او ايران يې د خپلې واکمنۍ يوه برخه وگرځوله ، يعقوب ليث په افغانستان کې د عربو

(c) ketabton.com: The Digital Library

واکمنۍ پرضد ولاړ شخص و ، په تیره بیا له عباسي دولت څخه یې ډېره کرکه در لـوده ځکـه یعقـوب لېث تل د سفاح وزیـر ابـو سـلمه د ابومسـلم خراسـاني شـهادت او برمکـي بلخـي او سـهل سرخسي۔ د کورنیو له مینځه وړل یا دول چې د عباسیانو له خوا تر سره شوي وو ، او دا یې د عباسي دولـت د غـدر او خیانت یوه بېلګه ګڼله( ۲۷: ۱۰۳).

کله چې افغانستان کې طاهري دولت واک ته ورسید، د شـمالي او لویـدیځ افغانسـتان د مسـلمان شویو سیمو ترمینځ یو مرکزیت پیدا شو او هم ددې ځای پـه وګـړو د عبـاسي دولـت زور او ځبیښـاک لـږ شو، خو پر بزګرانـو د پـانګوالو لـه لـورې تـیرې او زور لا هماغسـې پـاتې وو. د طـاهري دولـت سیاسـت د اسلامي خلافت سره جوړ جاړې او د لوړ پوړو سره ملاتړ و. همدارنګه د دولـت د ټینګښـت لپـاره عمـومي امنیت سـاتل د هغـوی د دولـت موخـه وه. ددوی د واکمنـۍ پرمهـال پـه شرقـي او جنـوبي ولایتونـو کـې رتبیلان او کابل شاهان حکمراني کوله، دا خلـک د زردشـتي دیـن سرسـخت مخـالف و پـه ټـولیزه توګـه طاهري لړی علم پروره کورنۍ وه (۲٦: ۵۱).

خو ماورا لنهر یې ساماني کورنۍ ته پریښود او له هغوی سره د روغې ، جـوړې لاره غـوره کـړه خـود مالیاتو په را ټولولو کې خپل لوړوالي وساته، خو صفاري دولت داسې ونـه کـړل، هغـوی د فـارس حـاکم رافع چې د خپلـواکۍ خـبرې یـې کـولې پـه ۲٦۷ هــ ق کـې وواژه، د سـامانیانو او صـفاریانو تـر مینـځ شخړې زیاتې شوې ، د بغداد خلافت هم د دې اختلاف په زیاتوالي کې ونډه درلوده او دغـه اور تـه یـې لمن ووهله . په ۸۹۹ ز کال د بلخ په شاوخوا کې د عمرو لیث او اسماعیل ساماني تر مینځ جګړه ونښـته بغداد د اسماعیل ساماني پلویتوب کاوه ، عمرو لیث په دې جګـړه کـې د اسـماعیل سـاماني سره بنـدي شو او له دوو کالو بند وروسته په بندیخانه کې وفات شو( ۲۷: ۱۰۹).

## ۱,۲. له ۱۳-۹ ز پیړۍ پورې د افغانستان ټولنیزه، اقتصادي او کتلوري اوضاع

له (۱۳-۹ ز) پېړۍ ترمینځ په افغانستان کې ټولنېزې چـارې لـه بـېلا بېلـو سـتونزو او پرمختګونـو سره مخ وې او مینځنیو پېړیو د خپلې بشپړتیا وروستي پړاوونـه وهـل، پـه دې دوره کـې د کرنـې او اوبـو لګولو چـارو پرمختـګ وکـړ، د اوبـو بندونـه جـوړ، صـنایعو او کسـبونو پـه تېـره بیـا نسـاجۍ او فلزکـارۍ پرمختګ وکړ، آرت او هنر لوړ پـړاو تـه رسـیدلي و، یـو شـمیر ادبي اثارپـه دې دوره کـې ایجـاد او لـوړې ودانۍ جوړې شوې، د افغانستان لوی ښارونه لکه کابل، هرات، بلخ، مـرو او نیشـاپور د مینځنـۍ اسـیا لوي سوداګریز مرکزونه وو، یوازې بلخ دوه سوه زره تنه نفوس در لود، د وریښمو لویـه لار د غزنـوي دولـت

(c) ketabton.com: The Digital Library

لـه سـيمو تيرېدلـه او تـل د لويـو كـاروانونو لـه تـګ او راتـګ څخـه برخمنـه وه، دغـو كـاروانونو هـم د افغانستان، ايران، چين، هند، تركستان، عراق او شام ته مالونه وړل راوړل. په دغـو مـالونو كـې رختونـه، عطـر، غلامـان، څـاروي، درمـل، فلـزي سـامانونه، وسـلې، قيمتـي ډبـرې، ميسـين لوښـي، كاغـذ، وړۍ، پوستكې، څرمن، وريجې او غوړي وو. په ورځنې ژوند كې خلكو له بـادي ژرنـدو، اوبـو ژرنـدو، او لـه اوبـو ايستلو څرخونو (ارهټونو ) څخه ګټه اخيسته . اوربشـې، غـنم، وريجـې، پنبـه، انګـور، كرنېـز پيـداوار وو، سركه او شراب هم په دې دوره كې جوړېدل، د كرنې تر څنګ د غالۍ اوبدلو، رخت جوړولـو، فلزكـارۍ، وسله جوړول، صابون او لوښو جوړولوصنايعو او انځور ګرۍ پرمختـګ كـړى وو، د غزنويـانو پـه دوره كـې موسيقي ښه ځليدلې وه . په لويو غونډو كې به تل سندر غاړو له طبلې سره بدلې ويلې، دولتونـو مـنظم ملكي او نظامي تشكېلات لرل، دينـي علـوم بـه پـه جومـات كـې تدريسـېدل . پـه دې دوره كـې مشـهور شاعران او پوهان لكه فردوسي، بلعمی، ابو ريحان البيروني، طـوسی، فرخـي، سـنايي، بلخـي ابـن سـينا اوسيدلي دي د غزني ښار په ټوله مينځنۍ آسيا كې د علم او ادب ځانګو وه . په دغه دوره كې اسـلامي فقه هم لوړ پړاو ته رسيدلې وه( ۲۷: ۱۲۹).

سلجوقيان په بشپړ ډول ديوه سياسې قبيلوي ملكېت پلويان وو، چې دولت يې يوازې د پاچا مـال نه بلكه هغه يې د ټولې كورنۍ مال ګاڼه . هر سلجوقي شهزاده كه به په هر ځای كـې و، هلتـه يـې پـه خپل نوم خطبه جاري كوله. له همـدې املـه د سـلجوقيانو لويـه امپراتـوري پـه ټولـه اسـيا كـې پـه څـو حكومتونو وويشل شوه، دوی غوښتل چې د مينځنۍ اسيا د پخوانيـو پاچاهـانو پـه څېـر مطلـق العنـاني رواج كړي، خو تل به د اشرافو روحانيونو او مخورو له مخالفت سره مخامخ كېدل( ۲۷: ۱۴۵).

په لنډه توګه ويلای شو چې په دې دوره كې د اقتصاد بنسټ په كرنه او مالـدارۍ ولاړ و. لـه اسـلام څخه مخكې هم په افغانستان كې كرنې پرمختګ كړی و او د څارويو روزنې د خلكو ژوند نسـبتاً ډاډمـن كړی و، ويـالې، كانالونـه او بندونـه جـوړ شـوي وو څـو وروسـته د خپلواكـو اسـلامي دولتونـو ( طـاهري ، صفاري ، غزنوي او غوري دولتونو ) په افغانستان كې كرنې او مالدارۍ ته پاملرنه وكړه، د هيواد پـه شـنو څړ ځايونو كې ښه ډېر څاروي روزل كېدل. پـه دوی كـې د بـاختر اسـونو او اوښـانو، د تخـار اسـونو او د سيستان غواګانو ډير شهرت در لود. وربشـې، غـنم، پنبـه، وريجـې، انګـور، مميـز، بـادام او خيـدک ډيـر زيات توليديـدل. د هيـواد لـه معـدنونو څخـه سره زر، سـپين زر، اوسـپنه، مـس، قلعـي، سرب او نوشـادر ايستل كېدل. كوچنۍ صنايع ښه پرمخ تللی وې. نساجي په تيره بيا نـازک رختونـه، څـرمن ګنـډل، فلـز

(c) ketabton.com: The Digital Library

کاري، غالۍ اوبدل، د مسي لوښو جوړيدل، وسله جوړول، صابون جوړول او بـراق جوړولـو ښـه پرمختـګ کـړی و. پـه زرګـری، مسـګری، پښـګری، بنـايي، ټټـاری، ترکـاڼی، انځـور ګـری او نـورو برخـو کـې ډيـر پرمختګونه شوي وو. دولت صنعت کاران هڅول. په ښـارونو کـې سره او سـپين زر د درهمـو او دينـارو پـه نوم کونډل کېدل. د نن ورځې پيسو په څېر رواج درلود. د سيکو وزن او معيار په اسـلامي هيوادونـو کـې بيل بيل وو(۲۷: ۱٦۸).

په مروه، غزنی او نورو سيمو کې لوی لوی اسلامي مدرسي جوړې شوې او لويو اسلامي پوهانو لکـه امام اعظم، ابو حنيفه، محدث ابواسحق ابـراهيم بـن يعقـوب، جوزجـاني محـدث، ابـراهيم او هـم بلخـی صوفي، ابو سليمان جوزجاني، حنفي فقه پوه، ابراهيم بن رستم مروزي د ابو حنيفه له ملګـرو څخـه، ابـو داود سجستاني، ابو هاشم سهيل بن محمد سيستاني، ابو جعفر بلخي منجم، ابـو قتيبـه مـروزي تـاريخ پـوه، بشـار بـن بـرد تخارسـتانی عـربی شـاعر او نـور د دې سـيمې پـه مـدنيت او فرهنـګ کـې ونـډه واخيسته(۱۰: ۱۱۷-۱۱٦).

## ۱٫۳. د طاهريانو دولت (۲۰۷-۲۵۹ هـ ق)

## (۲۰۱-۲۵۲ هـ ش)

## (۸۲۳-۸۷۴ ز)

په خراسان کې د ابو مسـلم خراسـاني پواسـطه د امـوي ضـد نهضـت لـه مـينځ تـه راتـګ او پياوړتيا وروسته افغانان د ابو مسـلم خراسـاني پـه لارښـوونه وتوانيـدل چـې عباسـيان واک تـه ورسـوي. نوموړی پيښې د اسلام په تاريخ کې ستر بدلون راوست، خو د ابومسـلم شـهادت پـه افغانسـتان کـې د ملي نهضتونو او حرکتونو د مينځ ته راتګ سبب وګرځيد، چې له افغانستان څخه يې د عـربي مسـلمانانو سلطه پای ته ورسوله. دې ملي خوځښتونو په افغانستان کې د طاهريـانو پواسـطه تـر خپلـواک اسـلامي دولت تر تاسيس پورې دوام وکړ . دغه نهضتونه د طاهريانو له واکمنـۍ څخـه ډېـر وړانـدې پـه هـرات او سيستان کې مينځ ته راغلي وو خو د هارون الرشيد له مړينې ( ۱۹۳ هـ ) وروسـته د هغـه د دوو زامنـو امين او مامون تر مينځ د خلافت پر سر اختلاف د خراسانيانو له پاره د طاهر په رهـبری د يـو خپلـواک دولت د تاسيس زمينه برابره کړه( ۴۳: ۱۵۴).

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې واکمنۍ بنسټ ایښودونکی د حسین زوی طاهر و چې د هرات ولایت د پوشنج (نني زندجان ) له یو قوي کورنۍ څخه و، نیکه یې د عباسیانو د واکمنۍ پر مهال د پوشنج حاکم و، له ده وروسته زوی یې حسین د پوشنج واکمنۍ ته ورسید، د حسین زوی طاهر یو زړور، خپلواک او آزادي غوښتونکی شخصیت و، د ده په لاس په افغانستان کې د لومړي ځل لپاره د خپلواک اسلامي دولت بنسټ کېښودل شو(۴:۱۴).

## ۱,۴. د طاهر پوشنجي واکمني (۲۰۷-۲۰۷ هـ ق)
## (۲۰۱-۲۰۱ هـ ش)
## (۸۲۲-۸۲۲ ز)

طاهریانو په افغانستان کې د خپلواک اسلامي دولت بنسټ کېښود. د دې کورنۍ بنسټ ایښودونکی طاهر پوشنجي نومیده. له همدې سببه دغه کورنۍ د طاهریانو په نوم یادېږي. طاهر پوشنجي چې مامون ورته د ذوالیمین لقب ورکړې و. په ۱۵۸ هـ ق کې په پوشنج کې زیږیدلی دی، ده له خپل پلار زده کړه کړې وه، طاهر د حسین زوی د مصعب لمسی دی، د ده پلار حسین د مامون الرشید د خلافت پرمهال د پوشنج حاکم و چې په ۱۵۸هـ ق کې مړشو (۴۶: ۱).

پوشنج د هرات ښار لویدیځ لورته موقعیت لري چې هغه یو وخت، د غوریانو د حکومت مرکز او د هریرود سیند سویل ته د زندجان په نامه یو وړوکې ښار و چې د هرات او فوشنج تر مینځ واقع دی. دغه ښار هرات ښارته څېرمه له نږدې غرونو او له هرات ښار څخه دوه فرسخه واټن لري، د پوشنج ښار ډېر ښکلې و، گرد چاپیره یې شنې ونې ولاړې وې د ښار استحکامات په ښه توگه تر سره شوي و، او چار چاپیر یې د یوال او یوه کنده موجوده وه، په ۱۷۸ هـ ق کې فوشنج ښار یو ودان ښار و، بیهقي د هغه نوم فوشنج، پوشنج یا پوشنگ لیکلی دی، د اسلامي نړۍ ستر عالم شیخ ابو لیث پوشنجي او د شیخ ابو الحسن پوشنجي زیارتونه تر اوسه هلته موجود دی چې ددې ښار له نومیالیو علمي شخصیتونو څخه وو ( ۴۳: ۱۵۳-۱۵۲).

لسترنج په خپل کتاب ( جغرافیایي تاریخي سرزمین های خلافت شرقي) کې د فوشنج په اړه داسې لیکلي دي : (( د یوې ورځې لارې واټن د طی کولو په اندازه د هرات یو مهم ښار پوشنگ ، فوشنج یا پو شنج واقع و، لېرې نه ده دا ښار به هماغه ځای وي چې اوس د غوریانو ښار چې د هریرود

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سیند کېنېي غاړي جنوب لوري ته موقعیت لري )) او علامه اکاډیمیسن پوهاند عبدالشکور رشاد هم په خپل اثر ( جغرافیایي یادابښتونه) کې د پوشنج په اړه داسې لیکلي دي : (( زیاتره کسان اوسنی زنده جان پخوانی فوشنج بولي، زنده جان د هرات ولایت لویدیځ لورته تقریباً څلویښت کېلو متره لېري واقع دی او تر زنده جان چې شپږ ویشت کېلو متره نور لویدیځ ته ولاړ شې غوریانو ته رسیږې ، فوشنج دخطیب زوی صدر الدین ربیعي، چې د کرت پاچهانو په دربار کې و، د فوشنج ښار یې هوشنگ ته منسوب بللی دی ))

که هو شنگ ، پوشنگ را ساخته است

چه فرم بهشتش بر اراسته است ( ١٦: ٣٥٧).

اصطخري لیکلې دي :

د فوشنج کلا ډیره ټینگه کلا ده شاوخواته خندق دی، درې دروازې لري .

١ _ ختیځه خوا دروازه یې علي نومیږي .

٢_ لویدیځه خوا دروازه یې نیشاپور خواته خلاصیږي .

٣ _ د جنوب خوا دروازه یې قهستان ته خلاصیږي .

طاهر فوشنجي د دغه ښار اوسیدونکی و، د دې په توابعو کې د گوډ تیمور تر حملې د مخه دا لاندې کلي پراته وو چې نومونه یې دا دي:

ارد، ښادیز، سادیا، ارشو، سنگوان، اوه، قورمان، غنچاباد، ترکاباد، شکېبان، شاده، مویزک، اوج، کوسویه ( کوسان ) روشنان، باده، فشان، استونان، روزنک، د هران، گزه او جنگان . ځینې کلي یې اوس هم په دغو نومونو یادیږي لکه شاده ، منگوان ، کهستان ، غنجان ، شکېبان ، دهران ، گزه ، جنگان ، روزنگ ، اوج، سبول او استونان په فوشنج پورې تړلې کلي دي .

١ . کوسویه ( کهستان ): د دې کلا کنډوالې لا تراوسه پورې شته؛ د چنگیز لمسی پر دغه کلا برید وکړ مگر ویې نه شوه نیولای( ١٦: ٣٥٩-٣٥٨).

د طاهر پوشنجي شهرت له هغه وخت څخه زیات شو کله چې د هارون الرشید د زامنو تر مینځ د خلافت پر سر اختلاف پیدا شو . هارون الرشید مخکې له مړینې (١٩٣هـ ق) خپله لویه اسلامي امپراتوري د دوو زامنو امین چې د ابو جعفر منصور د لور زبیدې زوی و او مامون الرشید چې د استاد سیس سیستاني د لور مرجیله زوی و ترمینځ وویشله. د امپراتورۍ لویدیځې برخې یې امین

(c) ketabton.com: The Digital Library

الرشيد چې د ابو جعفر منصور لمسی او عباسیانو ته منسوب و، ورکړې او د امپراتورۍ ختيزې برخې يې لکه فارس ، کرمان، مازندران او خراسان مامون الرشيد ته چې مور يې له افغانستان څخه وه ورکړې. د هارون الرشيد له مړيني وروسته د امين الرشيد له پاره زمينه برابره شوه؛ ځان يې دخليفه په توګه اعلان کړ. امين الرشيد د خلافت له اعلان وروسته د خپل وزير فضل بن ربيع په لمسون خپل کوچنی زوی موسی بن امين د ځای ناستي په توګه وټاکه، په دې کار سره مامون په راتلونکې کې هم ځان خلافت ته له رسيدو څخه محروم وليد ، په همدې اساس يې له امين سره د دښمنۍ لار غوره کړه، امين غوښتل چې مامون هم د اسلامي امپراتورۍ د نورو محلي حکمرانانو په څېر د ده اطاعت وکړي، خو مامون الرشيد د ده له اطاعت څخه سرغړونه وکړه، په مروه * کې يې خپل ځان د خليفه په توګه اعلان کړ، په ۱۹٦ هـ ق کال يې په خپل نوم سکه ووهله،استقلال يې اعلان کړ او د بغداد سره يې مخالفت وښود( ٤٦ : ۱).

امين الرشيد لومړی د خراسان لــــه حکومت څخه دمامون الرشيد د ليري کېدو امر صادر او دمامون د ايل کولو په خاطر يې يو لښکر د علي بن عيسی په مشرۍ ور وليږه، مامون الرشيد د امين د لښکرو سره د مقابلې په خاطر د طاهر پوشنجي د حسين زوی په مشرۍ پوځ ولېږه چې د ری په سيمه کې ددوي تر مينځ جګړه ونښته ، په دې جګړه کې د بغداد ٦۰ زره کسيزه پوځ ماتې وخوړه او علی بن عيسی د يو شمير سردارانو سره ووژل شو. د امين له خوا طاهر ته د ذواليمين لقب ور کړ شو. طاهر د بغداد په لورې حرکت وکړ او د همدان په سيمه کې يې هم د بغداد راليږل شوو قوتونو ته ماتې ور کړه. وروسته يې د بغداد لورې ته خپل حرکت ته دوام ور کړ او بغداد ښار يې کلا بند کړ، دغې کلابندۍ يو نيم کال دوام وکړ . په دغه موده کې امين د طاهر له خوا ووژل شو ، بغداد په ۱۹۸ هـ ق کال د طاهر پوشنجي په واسطه فتح او د مامون د خلافت لپاره لاره هواره شوه ، مامون الرشيد له مروې څخه د خلافت ټولې سيمې اداره کولې او طاهر يې د شام ( سوريه ) بين النهرين ( عراق ) د والي په توګه مقرر کړ. طاهر پوشنجي هيله درلوده چې د خلافت مرکز له بغداد څخه افغانستان ته انتقال او اسلامي خلافت دې له افغانستان څخه اداره شي، تر څو د اسلامي دولت واک د افغانانو لاس ته ورشي. مامون هم د خلافت په لومړيو ورځو کې مروه د خپل خلافت مرکز وټاکله او د عباسيانو

---

*مروه تر ۱۸۸۴ ز کال پورې د افغانستان د خاورې جزو ، چې په ۱۸۸۴ ز کال کې روسانو ونيوله او له افغانستان څخه جلا کړله .

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بیرغ پر ځای یې شین بیرغ غوره کړ؛ خو دا پلان تر آخره عملي نه شو او ډېر دوام یې ونه کړ، ځکه ځینو عربانو د مامون پر ضد تحرکات پیل کړل .د مامون کاکا ابراهیم، د مهدی زوی د خپل خلیفه په توګه وټاکه( ۴٦: ۲).

په بغداد کې د عربانو له خوا د خلیفه په توګه د ابراهیم ټاکنه ، د مامون د زوم علی رضا مړینه او د ده د وزیر فضل بن سهل قتل او یو شمیر نور مسایل د دې سبب شول چې مامون خپله کړنلاره بدله کړي او پلازمینه یې له افغانستان څخه بېرته بغداد ته انتقال کړه. طاهر پوشنجي له دې وروسته په دی باور شو چې د ده آرزو یعني افغانستان ته د پلازمینې انتقال نه عملي کېږي. له دې وروسته په دې کوښښ کې شو چې افغانستان له عباسي امپراتورۍ څخه جلا کړي په دې ډول نوموړی په افغانستان کې د خپلواک اسلامي دولت د جوړولو په فکر کې شو؛ د ده د هڅو او غوښتنو په پایله کې مامون الرشید طاهر پوشنجي د افغانستان د حاکم په توګه مقرر کړ ، مامون په دې پوهیده چې طاهر غواړي افغانستان له عباسي امپراتورۍ څخه جلا کړي ، مامون رشید د دې خطر له امله په دمشق کې له عربانو سره د افغانانو نزدیکت او د طاهر پوشنجي موجودیت نور نه شو زغملی؛ ځکه د طاهر په موجودیت کې د مامون ستونزې ورځ تر بلې ډېریدلې، د عربي او افغاني ډلو تر مینځ اختلاف ورځ تر بلې زیاتېده. طاهر پوشنجي په افغانستان کې له مقرریدو سره سم د خپلې نقشې د پلې کېدو له پاره تیارۍ نیوه تر څو یې په ۲۰۷ هـ ق کال د جمادي الاخر په ٢٤ مه (۸۲۲ ز) د جمعې په ورځ د خلیفه مامون الرشید نوم له خطبې څخه لیرې او ځان یې پاچا اعلان کړ ،هغه مهال یې د افغانستان په غرونو کې د آزادۍ بیرغ ورپاوه، له دې وروسته په افغانستان کې د خپلواک اسلامي دولتونو د جوړیدو لړۍ پیل شوه او د بغداد له خلافت سره د دوي اړیکې تش د احترام پربنسټ وي نه د حاکمیت په بنه. د افغانستان د خپلواکه اسلامي دولتونو پاچاهان په ټولو چاروکې خپلواک او ازاد وو، خود روحاني دوستانه اړیکو د ساتلو په خاطر یې د عباسي واکمنانو احترام کاوه. د طاهر پوشنجي په واکمنۍ کې مشهد، نیشاپور ، مرګین ( مرغاب ) ، ( هرات ) او دسیستان ځینې برخې شاملې دي د افغانستان په نورو سیمو لکه کابل ، ګندهارا ، بلوچستان او نورو سیمو کې غیر اسلامي دولتونه موجود وو (۴٦: ۳).

د طاهر پوشنجي عمر ډیر دوام ونکړ په هماغه شپه مړ شو. ډېر ګومان دا دی چې د مامون په امر به د هغو عربي مامورینو له خوا چې له طاهر سره یې کار کاوه زهر ور کړل شوي وي چې نامتو مورخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

بارتولد په دې اړه داسې نظر لري : (( مخکې له دې چې د معصب لمسی، طاهر د پوشنج واک په لاس کې واخلي هغه د مامون له خوا د امین پرضد د لښکرو قوماندان و، وروسته له هغه چې طاهر بغداد فتح کړ ، د مامون له خوا د عراق د حاکم په توګه مقرر شو او په عین وخت کې د بغداد د مالي ( ساوید Sawid) چارې هغه ته وسپارل شوي چې د طاهر پوشنجي دوست او ملګري احمد بن ابو خالد مامون دخراسان د والي غسان بن عباد له برید ( سوقصد ) څخه په ډار کړ ، د همدې ډول دسیسو په پایله کې خلیفه، طاهر د خراسان د والي په توګه مقرر کړ، طاهر د ۸۲۲ز کال د نوامبر په میاشت کې د مامون نوم له خطبې څخه لیرې کړ او له بغداد څخه یې خپله ازادي اعلان کړه، سمدستي مړ شو، طبعاً ګمان کېده چې طاهر به دخلیفه په امر مسموم شوی وي))(۲: ۵۷-۵٦ ).

د تاریخي اسنادو په استناد طاهر پوشنجي د مامون په امر مسموم شوی دی. ځکه، کله چې مامون واک ته د رسیدو له پاره خپل ورور امین وواژه، د طاهر مړینه ورته هم اسانه وه. او کله چې مامون د خراسان د حکومت فرمان طاهر ته لاس لیک کړ ، د دې لپاره چې تل د هغه له کړو وړو خبر وي خپل یو د باور وړ شخص کلثوم بن ثابت یې د خراسان د پوسته خانې د ریس په توګه وټاکه چې د طاهر پوشنجي د کړو وړو څارنه وکړي او خلیفه ترې خبر کړي .همدا راز د خالد پلار احمد چې د مامون الرشید وزیر او د هغه په وړاندې یې د طاهر ضمانت کړی و ، د دې لپاره چې طاهر د مامون مخالفت ونه کړي نو خلیفه باید هر وخت د طاهر له کړو خبر وي ، له خپلو نږدې او باوري کسانو څخه یې یو کس په څرګنده طاهر ته دخدمت لپاره را ولېږه او په پټه یې هغه ته د نده ور وسپارله، که چیرې طاهر خپلواکي اعلانوي، نوموړی به پاڅون وکړي او هغه به ووژني. کله چې په خطبه کې یې د خلیفه نوم له مینځه وویست او د خراسان د خپلواکۍ له اعلان وروسته کور ته ستون شو، د کمزورۍ او ناروغۍ احساس یې وکړ. او داسې ګومان کېده چې زهر ورکړ شوي دی. خو طاهر پوشنجي د هماغي ورځي پر ماښام دحق داعی ته لبیک ووایه .. په هر حال د خراسان د پوسته خانې ریس او جاسوس کلثوم په افغانستان کې د خپلواکۍ د اعلان او بیا د طاهر د مړینې خبر یو په بل پسې مامون ته په لیکلې ډول واستاوه ( ۴۳: ۱٦۸-۱٦۹).

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۱,۵. د طلحه واکمني (۲۱۳-۲۰۷ هـ ق)
## (۲۰۱-۲۰۷ هـ ش)
## (۸۲۲-۸۲۸ ز)

د طاهر پوشنجي له مړيني وروسته د هغه زوی طلحه د خراسان پاچا شو. مامون الرشيد د مجبوريت له مخې د هغه واکمني په رسميت وپېژانده، ځکه مامون په هرات، سيستان او د خراسان په نورو ولايتونو او شام کې د طاهر پوشنجي د کورنۍ له نفوذ او اقتدار ښخه پوره خبرتيا لرله او له هغه ښخه په ويره کې و، چې د طاهر پوشنجي له مړينې وروسته يې د طاهريانو له کورنۍ سره جګړې ته زړه ښه نه کړ ، هغوی په دې ښه پوهيدل که چيرې له طاهريانو سره د ډير مخالفت ښرګندونه وکړي له دوو خوا به پرې حمله وشي د شام لخوا د هغه زوی عبدالله چې د هغه د لښکرو قوماندان او ډير عسکر ورسره وو، او د افغانستان له خوا به طلحه پرې حمله وکړي. نو د بغداد د خلافت وضعيت به له خطر سره مخامخ کړي ، له همدې امله يې له طاهريانو سره له روغې جوړې ښخه کار واخيست ، مامون الرشيد خپل وزير ابی احمد سره له مصلحت وروسته په افغانستان کې د طلحه حکومت په رسميت وپېژاند( ۴۳: ۱۷۵-۱۷۴).

طلحه هم د پلار په ښېر پوه ، هوښيار او علم پالونکی و د خلکو ستونزې به يې ژر حلولې او د هغوی له شکايت ښخه به ډير ژر خبريده. د نجوم په علم کې يې پوره معلومات او د عالمانو روزنې ته يې پاملرنه کوله. د ده اوه کلنه دوره د امن او سولې دوره وه، يوازې حمزه سيستاني په سيستان کې ښو ځله شورش وکړ، طلحه په ۲۱۳ هـ ق کال مړ او پر ځای يې دده ورور عبدالله واک ته ورسيده(۴٦: ۴).

## ۱,٦. د عبدالله واکمني (۲۳۰-۲۱۳هـ ق)
## (۲۲۳-۲۰۷ هـ ش)
## (۸۲۷-۸۴۴ ز)

عبدالله د طاهر پوشنجي زوی، د طاهريانو د کورنۍ او د خپلواک اسلامي دولتونو له مشهورو حکمرانانو ښخه و، په جګړه کې يې پوره مهارت در لود. د ادب، هنراو موسيقۍ سره يې مينه لرله، د

(c) ketabton.com: The Digital Library

دري ژبې شاعر حنظله بادغيسي ، د ده په دربار کې اوسېده ، عبدالله د هيواد په اداره او سياست کې پوره وړتيا در لوده. د ده د واکمنۍ پر مهال د طاهريانو نفوذ او قدرت نور هم زيات شو. کرمان ، اصفهان، او طبرستان پورې يې خپل نفوذ ته پراختيا ورکړه؛ د اوبو د ويش قانون يې جوړ کړ تر څو د خلکو تر مينځ د اوبو پر سر را پيدا شوي اختلافات حل کړي . عبدالله د طاهر زوی چې کله افغانستان ته راغی نو خپلو مامورينو ته يې داسې وليکل : (( تاسو ته هدايت درکوم ، تر څو له خوبه راويښ او له لټۍ څخه را بهر شی خپله ښه ولټوئ ، د ولايت له مشرانو سره غوره چلند وکړئ ، کرنه او بزگران که وروسته پاتې شي هغه بايد ببرته پياوړي کړئ او خپل ځای ته يې ورسوئ، دا ځکه چې الله(ج) له همدې کرنې څخه روزي راکوي او له دوی سره بې عدالتي يې حرامه گڼلې ده (۲۷: ۹۷).

د عبدالله د واکمنۍ پر مهال لويه پېښه په ۲۲۰ هــ ق د هلمند د سيند وچېدل وو چې ورسره د وچکالۍ او قحطۍ ستونزه رامينځ ته شوه ډېر خلک د وچکالۍ او قحطۍ له امله مړ ه شول. عبدالله د دې ستونزې د حل لپاره يوه اندازه پيسې او خوراکې توکې سيستان ته وليږل اوستونزه تر يو حده حل شوه (۴۶: ۵).

عبدالله د طاهر زوی په ۱۸۲ هـ کې زيږيدلی دی ، يو څه موده په شام او مصر کې حکمران و، له هغه وروسته د بغداد خلافت لپاره يې د بابک خرمي په خلاف جگړه کوله . کله چې د طلحه له مړيني وروسته نوموړی امير شو، د بغداد خلافت دی رسماً د خراسان د امير په توگه وپېژانده ، عبدالله د بغداد له خلافت سره لازمي او صميمي اړيکې در لودې. تل يې د بغداد د خلافت له دښمنانو سره جگړې کولې د هغوی دښمنان به يې له مينځه وړل .په ۲۱۹ هــ ق کې د تالقانو امام زاده محمد د قاسم زوی بندي کړ اوخليفه ته يې بغداد ته واستاوه ، په ۲۲٤ هـ ق کې يې مازيار د قارن زوی چې د طبرستان حکمران و هغه ته يې هم د خليفه په گټه ماتې ورکړه. د عبدالله حکمرانانو په سيستان کې شورشونه ارام کړل. عبدالله ۱۷ کاله د افغانستان په لويديځو سيمو حکومت وکړ. د ده د واکمنۍ پرمهال په ۲۲٤هـ کال کې په خراسان کې سخته زلزله وشوه او په سيستان کې ۲۲۰هـ ق کې سخته وچکالي مينځ ته راغله(۱۰: ۱۲۸-۱۲۷).دده د واک پر مهال د عايداتو کچه چې له خپلو اړوند سيمو څخه به يې را ټولوله ٤۹ مليونه ديناره حساب شوې ده. دده

(c) ketabton.com: The Digital Library

مشرې له عباسي خلیفه واثق بالله ، سره همزمان وه. ډېر سخي، مهربانه شخصیت و ، د کرکېلی سره يې زياته مينه در لوده.

## ۱,۷. د دويم طاهر واکمني (۲۴۸-۲۳۰هـ ق
## (۲۴۱-۲۲۳ هـ ش
## (۸۶۲-۸۴۴ ز

د طاهر دزوی عبدالله له مړينې وروسته د عبدالله زوی د دويم طاهر په نوم امير شو، ده په خپله ۱۸ کلنه واکمنی کې دخپلو نيکونو لار تعقيب کړه او د بغداد له خلافت سره يې دوستانه اړيکې درلودې ، د دواړو هيوادو تر مينځ دوستانه اړيکو ته کوم زيان ونه رسيد. د ده د واکمنی پر مهال د واثق الله بالله وفات د ده د اړيکو پر وضعيت باندې کومه اغېزه ونه کړه. خو په سيستان کې ځينې شورشونه موجود وو ، چې دا شورشونه ورځ تر بلې زياتيدل. په ۲٤٦ هـ ق کال ، يعقوب ليث په نيمروز کې د صفاريانو د مستقل دولت بنسټ کيښود (۴٦: ٦).

د عبدالله د زوی دويم طاهر د واکمنی پر مهال د سيستان خلک د نصر ـ د زوی صالح اويعقوب ليث په مشرۍ شورشونه پيل کړل. تر څو چې د صفاريانو کورنۍ د دولت بنسټ کېښودل شو. د دويم طاهر د واکمنی پر مهال ابراهيم د حسين زوی د سيستان حکمران و. نوموړي حکمران خپل نا اهله زوی احمد نومی د بست حاکم وټاکه ، احمد د هغه ولايت نامتو کسانو سره جګړه وکړه. په دې سبب د بست او سيستان خلکو له طاهريانو څخه مخ وګرځاوه او په ۲۳۸ هـ ق کال کې يې په بست کې له صالح سره بيعت وکړ؛ په دغه بحران او ګډوډۍ کې يعقوب ليث صفاري قوت ومومند په ۲٤٦ هـ ق کې يې سيستان د طاهريانو له واک څخه وويست او د دويم طاهر له مړينې وروسته د هغه زوی محمد امير شو ( ۱۰: ۱۲۸).

## ۱,۸. د محمد واکمني (۲۵۹-۲۴۸هـ ق
## (۲۵۱-۲۴۰ هـ ش
## (۸۷۲-۸٦۱ ز

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دويم طاهر له مړيني وروسته د هغه زوی محمد واک ته ورسيد، نوموړی د خپلو نيکونو برخلاف يو بې کفايته او عياش شخص و، ډير وخت به مست او بې هوشه و؛ د هيواد له اداري څخه عاجز و. يعقوب ليث صفاري له دې وضعې څخه ګټه واخېسته، لومړی يې هرات ونيو بيا يې نيشاپور چې د طاهريانو پلازمينه او د افغانستان يو ايالت و ونيوو ، د طاهريانو وروستی امير محمد د يعقوب ليث له خوا بندي شو او د طاهريانو د کورنۍ واکمني پای ته ورسيده( ۴۶: ٦).

د محمد له بندي کېدو ( ۲۵۹هـ ق ) وروسته له دې کورنۍ څخه ابراهيم د محمد زوی د دويم طاهر لمسی، د عبدالله کړوسی اود طاهر پوشنجي کودی تر ۲٦۸ هـ ق پورې په مروه کې خپل حاکميت ته دوام ور کړ. احمد د محمد زوی له ۲۵۹ _ ۲٦۷ هـ ق پورې هم په خوارزم کې حاکم و، او دريم طاهر د محمد زوی د نيشاپور په يوه ليرې سيمه کې ۲۵۹ _ ۲۸۲ هـ ق په محلی توګه حکمراني کوله. خو په رښتيني توګه د طاهريانو واکمني د دويم طاهر د زوی محمد له بندي کېدو (۲۵۹ هـ ق ) وروسته له مينځه ولاړه او د دوی د واکمنۍ ډيرې سيمې د صفاريانو د حکومت له خوا ونيول شوې (۲٦:۱۱۵) .

## ۱,۹. د طاهريانو د عصر علمي او فرهنګي خدمتونه

د طاهريانو کورنۍ ټول فعاليتونه د اسلام مقدس دين د قرآني اصولو او د اسلام د ځلاند فرهنګ په اساس تر سره کېدل. دوي وتوانېدل چې يو روښانه او قوي مرکزي دولت په افغانستان کې جوړ کړي، د طاهري کورنۍ واکمنان د زده کړو لرونکې وو. د ماورالنهر ځيني سيمي هم د دوي په اداره کې شاملې وې، په خپله طاهر پوشنجي د عربي ژبې ښه اديب او شاعر و، طلحه هم په نجوم او نحوه کې ښه پوهيده، عبدالله هم لکه د پلار په څېر شاعر و، منصور د طلحه زوی د مروې حاکم هم په فلسفه کې مقالې ليکلې وې، طاهري دولت د اسلامي معارف په خپرولو، د کرنې او اوبو لګولو په پراختيا کې ډېرې هڅې وکړې ، د اوبو د ويش لپاره يې قانون جوړ کړ ( ۲۷: ۹۷).

د طاهريانو د واکمنانو په دربار کې د دري ژبې مشهور شاعران لکه حنظله بادغيسي- مروزي او ابو حفص سغدی موجود وو. د دې کورنۍ د واکمنۍ پرمهال د عباسي دولت فشار کم و، د اسلام د مبارک دين له خپرېدو مخکې افغانستان په مختلفو محلي دولتونو ويشل شوی و، خو کله چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسلام مقدس دین د افغانستان په ځینو ولایتونو کې خپور شو، پخواني دیني او ژبني اختلافات یې پای ته ورسول(۲٦: ۱۴۳).

ددې کورنۍ یو بل شخصیت عبید الله بن عبدالله په ادبیاتو، فلسفه، هندسه او نورو علومو کې ډېر معلومات درلوده، عبدالله د شاعرانو په ژوند هم یو کتاب لیکلی، د حکومت په اړه یې یوه رساله لیکلې، د طبقات ناصري لیکوال قاضي منهاج سراج جوزجاني د طاهریانو کورنۍ علم پالونکي او وروسته ، با هنره او عادل مشران ګڼلي، چې د دوی د واکمنۍ پر مهال د تفسیر، حدیث او فقهې علومو ډېر پرمختګ وکړ او ګڼ شمیر پوهان لکه : ابراهیم خزامي نیشاپوري، ابوبکر بن ابراهیم، محمد بن عبدالله بن محمد، ابو اسحاق سغدي ابراهیم بن یعقوب جوزجاني، ابراهیم بن ابو طالب، ابو موسی بن سلیمان جوزجاني ، ابراهیم بن رستم ، الحافظ بن عبدالله محمد بن نصر المروزي ابو داود سجستاني ، شیار بن برد تخارستاني او داسې نور موجود وو چې د فرهنګ او علومو په پرمختګ کې یې ډېرې هڅې کړي دي ( ۲٦: ۱۴۴).

په افغانستان کې طاهري دولت د اسلامي پوهې د خپرونې او همدارنګه د هغه مهال د کرکیلې او اوبو خور د ښه والی لپاره ډېرې هڅې کړېدی. له اوبو څخه د ګټې اخېستلو لپاره یې یو قانون جوړ کړی و. له دې امله خپلواکه ملي، علمي او ثقافتي او په خپل اقتصاد متکي ټولنه او دولت ګڼلی شو. ددې دورې یوه فرهنګي ښیګڼه او ځانګړتیا دا وه ، چې له دوی وروسته د افغاني دولتونو په واکمنۍ کې عربي، پښتو او دري ژبی هند ته ورسیدلې او هلته بیا اسلامي او ادبي علومو کې پوهان رامینځ ته شول.

د طاهریانو د واکمنۍ پرمهال یوه فرهنګي ځلیدونکی څېره چې په دواړو ژبو عربي او دري کې اشعار لري. محمود بن حسن وراق هروي دی چې د پیشې له مخې په وراق سره یادیږي، دا ځکه چې کتاب پلورنځی یې درلود او صحافت یې کاوه. نوموړی شخصیت په ۲۷۷ هـ ق کال د عبدالله ابن طاهر د واکمنۍ پرمهال په افغانستان کې و او د معتصم بالله د واک پرمهال په بغداد کې وفات شو. د طاهریانو د واکمنۍ پرمهال افغانستان د علم او فرهنګ ټاټوبی او اوسیدونکو یې په دې برخه کې د پام وړ شهرت درلود (۲٦: ۱۴٦).

زمونږ هیواد کې خلکو د خپلو کورنیو اړتیاو د پوره کولو لپاره په خپل لاس کې جوړو شویو دستګاو باندې د اړتیا وړ شیان جوړول. د څارویو له وړیو او پوستکو څخه د اړتیا وړ شیان لکه پوستینونه،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ليمڅي، ټغر او د غلو د ساتلو په خاطر بنيګانۍ او نور... له پنبې او وريښمو څخه ټوکران جوړول. له ډيرى پخوا زمانى څخه زمونږ په هيواد کې رواج درلود. له دې املـه ويلـې شـو چـې د اوبـدلو صـنعت پـه طاهري دوره کې په ځانګړى توګه پرمختګ کړى و. د خراسان ټوکران هغـه مهـال چـين او سـند تـه وړل کېدل. د افغانستان بوري ډير شهرت درلود؛ بادي ژرندى هم په افغانستان کې موجودې وې. همدارنګـه فلز کارى او زرګرى هم پرمختګ کړى و. صنعت هغه مهال د خلکو په اقتصاد کې د کرنـې پـه خـوا کـې مهم ارزښت درلود (۲٦: ۱۳۹).

امنيت ټينګ و او کاروانونو په ډاډ سره تګ راتګ کاوه، سوداګريزې توکې يې په اسـانۍ سره لـيرى سيمو ته ليږدول او د هيواد په اقتصادي برخه کې سوداګري هم ځانګړې ونډه درلوده.

په هر حال طاهري کورنۍ چې د اسلام د فرهنګي مخکښـتوب پـه دوران کـې ژونـد کـاوه، وکـولاى شول چې يو روښانه خو مستبد دولت په افغانستان کې جوړ کړي او مـاورالنهر د خپلـې د ادارې لانـدې راولي. د طاهري کورنۍ واکمنان د تحصيلاتو لرونکي وو. په خپله طـاهر پـه عـربي ژبـه کـې ښـه اديب او شاعر و؛ عبدالله د پلار په شان شاعر و؛ طلحه په نحو کې ښه پوهيده؛ منصور بن طلحـه د مروې حاکم هم په فلسفه کې رسالې ليکلې وې. طاهري دولت د اسلامي معارف په خپرولو او د کرنې او اوبو لګولو په پراختيا کې ډيرې هڅې وکړې. د اوبو لګولو او له اوبو څخـه د اسـتفادې په خاطر يې يو قـانون د فقهـاوو پـه واسـطه جـوړ کـړ؛ هماغسـې چـې طاهريـانو مـلي خپلـواکي غوښتله، هماغسې يې د اسلام د دين ننګـه او د عـربي ژبـې ملاتـړ او د اسـلامي خلافـت سـاتنه وکـړه، څـومره يـې چـې د عربـو د واکمنـۍ بـرخلاف د افغانسـتان د خلکـو د پـاڅون او د ازادي غوښتونکو غورځنګونو ملاتړ وکړ هومره يې هم په سيستان کې د خوارجو پرضد او په ايران کـې د عباسي خلافت د مخالفينو او په شام کې يې د اسلامي خلافت له بغـاوت کوونکـو سره مخالفـت وکړ. عبدالله ابن طاهر په ۸۲۸ ز کال د افغانستان د زردشتيانو يو شمير کتابونـه وسـوځول او د اسلام د مقدس دين په ټينګولو کې يې برخه واخېسته، د طاهريـانو پلازمينـه د نيشـاپور ښـار و، چې نيشاپور د افغانستان يو ايالت و (۲۷: ۹٦-۹۷).

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۱,۱۰. د طاهریانو د واکمنۍ د سقوط لاملونه

طاهريانو د افغانستان په تاريخ کې لومړی ځل د خپلواک اسلامي دولت بنسټ کېښود ، خو د بغداد خلافت له دوی سره موافق نه و، د مجبوريت له مخې يې دطلحه واکمني په رسميت وپېژانده د دوی د سقوط انتظار يې کاوه چې د عيارانو مينځ ته راتګ او پياوړي کېدو سره د طاهريانو د دولت د سقوط زمينه هم برابره شوه ، ددوی د سقوط لاملونه په لاندې ډول ښودلې شو:

- د دويم طاهر د زوی محمد بې کفايتي او عياشي .
- د عيارانو د نهضت مينځ ته راتګ او پياوړي کېدل .
- د يعقوب ليث واک ته رسېدل .
- پر محمد باندې د يعقوب ليث د برياليتوب او دمحمد بندي کېدل.
- د محمد له بندي کېدو سره د بغداد د خلافت موافقه او د هغه بندي کېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## لنډيز

د افغانستان په تاريخ کې د افغاني ( خراساني ) مستقلو اسلامي دولتونو تاسيس او په ځانګړي ډول د طاهر پوشنجي پوهه او تدبير چې د مامون او امين له اختلاف څخه يې پوره ګټه واخېسته ، لومړی يې مامون واک ته ورساوه ، وروسته يې د مامون نوم له خطبې څخه لېرې او په افغانستان کې يې يو مستقل اسلامي دولت اعلان کړ ، چې د افغانستان په تاريخ کې دا يو نوي پړاو دی.

په دې څېرکي کې د طاهر پوشنجي د اصلي ټاټوبي پوشنګ يا پوشنج ، موقعيت او لرغوني تاريخ په اړه پوره بحث شوی دی ، ورپسې د طاهري دولت آخرنۍ واکمن محمد او د يعقوب ليث صفاري فعاليتونو ته اشاره شوي ده ، په ټوليز ډول په پورته څپرکي کې له نهمې پېړۍ څخه تر دولسمې پېړۍ پورې د افغانستان ټولنيز ، اقتصادي او کلتوري وضعيت د مختلفو واکمنانو د واکمنۍ پرمهال په جلا ډول د اړتيا تر بريده توضيح شوی . ځکه چې د صفاريانو ، غزنويانو او غوريانو د هر يو کورنۍ د دې دورې په کلتوري بډاينه کې د پام وړ ونډه اخېستې ده. په دې دوره کې پوهانو، ډېر اثار ليکلې ، د لاسي صنعت او بزګرۍ په چارو کې يې ډېرپرمختګ وکړ .

د طاهر پوشنجي پلار هم د عباسي دولت سره اړيکې در لودی، ځکه د هارون الرشيد د واکمنۍ پر مهال دوی په پوشنګ کې لوړ ټولنيز موقف در لود ، کله چې عبدالله د طاهر پوشنجي زوی واک ته ورسيد؛ له عباسي دولت سره يې اړيکې نرمې وې، نوموړی خپله يو عالم سړی و ، د اوبو لګولو يو قانون يې جوړ کړ چې د اوبو لګولو چارې يې تنظيم کړې او د بزګرو ژوند ته يې هم پاملرنه وکړه ، د طاهري کورنۍ اخرنۍ پاچا د دويم طاهر زوی محمد چې يو بې کفايته او عياش شخص و ، او د خپلې بې کفايتي له امله يې د طاهريانو واکمني سقوط کړه ، په خپله بندي اود دې کورنۍ واکمنۍ ته يې د پای ټکی کېښود ، د دې څپرکی په پای کې ځيني پوښتنې مطرح شوي دي چې له موضوع سره نږدې اړيکې لري ، اولوستونکې د دې څپرکې محتوا سره اشنا کوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پوښتنې

۱. په افغانستان کې د لومړي خپلواک اسلامي دولت په جوړیدو کې د مامون الرشید اوامین الرشید تر مینځ اختلاف څه اغېز در لوده ؟

۲. د طاهر پوشنجي پواسطه د خپلواک اسلامي دولت بنسټ ایښودل د راتلونکو خپلواکو اسلامي دولتونوپه تاسیس کې څه اغیز در لود ؟

۳. ایا یوازې د دویم طاهر د زوی محمد بې کفایتي او عیاشي د طاهري دولت د سقوط لامل وګرځیده ؟

۴. امین الرشید د خپل ځای ناستی په توګه څوک وټاکه؟

۵. مامون الرشید د امین الرشید د پوځونو د مقابلې په خاطر خپل پوځونه د چا په مشرۍ ولیږل؟

٦. طاهر پوشنجي په کومه نیټه د خپلواک اسلامي دولت بنسټ کښیود؟

۷. طاهر پوشنجي د افغانستان په کوم ولایت کې زیږیدلی دی؟

۸. د پوشنج سیمه اوس په کوم نوم یادیږي؟

۹. د طاهریانو وروستی واکمن څوک و؟

۱۰. طاهر پوشنجي څومره واکمني وکړه؟

۱۱. د مامون الرشید او امین الرشید ترمینځ د اختلاف لامل څه و؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

| د طاهريانو د کورنۍ د واکمنانو د واکمنۍ موده | | |
|---|---|---|
| **شميره** | **د پاچا نوم** | **کال** |
| ۱ | طاهر پوشنجي د حسين زوی | (۲۰۷-۲۰۷ هـ ق)<br>(۲۰۱-۲۰۱ هـ ش)<br>(۸۲۲-۸۲۲ ز) |
| ۲ | طلحه د طاهر زوی | (۲۰۷-۲۱۳ هـ ق)<br>(۲۰۱-۲۰۷ هـ ش)<br>(۸۲۲-۸۲۸ ز) |
| ۳ | عبدالله د طاهر زوی | (۲۱۳-۲۳۰ هـ ق)<br>(۲۰۷-۲۲۳ هـ ش)<br>(۸۲۷-۸۴۴ ز) |
| ۴ | دويم طاهر د عبدالله زوی | (۲۳۰-۲۴۸ هـ ق)<br>(۲۲۳-۲۴۱ هـ ش)<br>(۸۴۴-۸۶۲ ز) |
| ۵ | محمد د دويم طاهر زوی | (۲۴۸-۲۵۹ هـ ق)<br>(۲۴۰-۲۵۱ هـ ش)<br>(۸۶۱-۸۷۲ ز) |

**۱,۱.جدول: پورتنۍ جدول د کتابونو له متن څخه د مؤلف په وسيله ترتيب شوی.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۱,۱. گراف: لاندینۍ گراف د کتابونو له متن څخه د مؤلف په وسیله ترتیب شوی.**

**د طاهري کورنۍ واکمنان**

طاهر پوشنجي (۲۰۷-۲۰۷ هـ ق)

طلحه د طاهر زوی (۲۰۷-۲۱۳ هـ ق)

عبد الله د طاهر زوی (۲۱۳-۲۳۰هـ ق)

دویم طاهر د عبد الله زوی (۲۳۰-۲۴۸ هـ ق)

محمد د دویم طاهر زوی (۲۴۸-۲۵۹ هـ ق)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دویم څپرکی

## د صفاریانو دولت

### پیلیزه

په افغانستان کې د طاهر پوشنجي په واسطه د مستقل دولت له تاسیس وروسته، د خپلواکو اسلامي دولتونو د جوړېدو لپاره زمینه برابره شوه. د طاهریانو د وروستي پاچا محمد( د دویم طاهر زوی) د واکمنۍ پر مهال چې نوموړی یو عیاش او بې کفایته واکمن و، یعقوب لیث صفاري وتوانید، چې د هغه واکمنۍ ته د پای ټکی کېږدي او په ۲۴۶هـ ق کال په سیستان کې د صفاریانو د دولت بنسټ کېږدي. د صفاریانو دولت وتوانیده چې د افغانستان په ډېرو سیمو کې د اسلام مقدس دین خپور کړي. کله چې یعقوب لیث واک تر لاسه کړ، دوه ستر دښمنان یې پر وړاندې موجود وو. یوه یې د خوارجو فرقه چې مشر یې یو بهرنۍ اعمار و، دویم یې صالح بن نصر و. یعقوب لیث له خوارجو سره د سولې لار ونیوه او د یوې لنډې مودې لپاره یې د هغوی له شر څخه ځان خلاص کړ، خو وروسته یې بیا هغه له مینځه یوړ. صالح د کندهار او کابل له پاچا رتبیل سره تړون لاسلیک کړ. یعقوب دوه ځله پر صالح حمله وکړه، چې دویم ځل یې صالح او د هغه مرستندوی رتبیل ته ماته ورکړه. رتبیل په دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

جګړه کې مړ او صالح بندي شو. صالح څه موده وروسته په بندیخانه کې ومړ. یعقوب لیث صفاري وتوانید چې خپل مخالفین له مینځه یوسي او خپلی واکمنۍ ته پراختیا ورکړي.

په دې څپرکي کې د نهو تنو واکمنانو یعنی: دیعقوب لیث صفاري په واسطه افغانستان کې د صفاریانو دولت تاسیس او یعقوب لیث صفاري،عمر د لیث زوی، طاهر دمحمد زوی، لیث د علي زوی، ابو علي د محمد زوی، معدل د علي زوی، دویم عمر د عبدالله زوی، ابو جعفر د احمد زوی او خلف د احمد د زوی واکمنۍ او ددغې صفاري لړۍ د عصر کلتوري، ټولنیز وضیعت او د صفاریانو د سقوط لاملونه څېړل شوي دي.

## ۲,۱. د صفاري دولت مینځ ته راتګ

زرنج د صفاریانو او د سیستان د پلازمېنې په توګه د ډېرو ګټورو منابعو او کانونو لرونکې و، چې د هغه وخت له عجایبو څخه شمېرل کېدل. د دې ښار اوسېدونکو هوښیار وو او په ادب او علم کې یې شهرت درلود. خراسان د بصرې په نوم هم یادېده، ګرد چارپېر یې روانې اوبه وې، مسجد او بندیخانې په دې ښار کې هم موجودی وې. د زرنج ښار به د هلمند د اوبو په واسطه خړوبېده، دزرنج په یو منزل کې د طعام په نوم یو نهر جلا کیږي، چې د دې ښار ډېری کلیو ته اوبه ورکوي( ۸: ۶۷۵).

د زرنج زوړ او پخوانی نوم درنګیانه دی، له درنګیانه څخه (یانه) لرې شوی ده او درنګ یې په زرنج اوښتی دی. د یونانیانو په اثارو کې زرنج د (درنګیانې) او (درنګان) په شکل استعمال شوی دی. کله چې له مینځنۍ اسیا څخه ساکان دې سیمې ته راغلي دي، هغه وخت د دې سیمې نوم (ساکستان) شوی دی. وروسته د سکستان پرځای به سګستان ویل کېده، عربانو هغه سجستان باله ځکه چې هغوی په خپله الفبا کې د (ګ) توری نه لري، نو (ګ) په (ج) بدل شوې، لکه ګوزګان یې په جوزجان بدل کړ، وروسته (ج) په (ی) بدل شو، او سجستان په سیستان باندې بدل شو. اوس هم دغه سیمه د سیستان په نوم یادیږي( ۱۶: ۸۲۷-۸۲۸).

اما محمد اعظم سیستانی پورتني نظر سره موافق نه دی. هغه لیکې:(( به روزگاریکه ما از آن سخن میزنیم .سیستانیان از داستان مهاجرت سکاها به سرزمین شان درمحدوده قرن ٦ ق.م و مسمی شدن انجا به نام انها هیچگونه اطلاعی ندارند. می پندارند که سیستان اصلاً سیسوستان جایگاه

(c) ketabton.com: The Digital Library

مردان شجاع ودلاور بود، وکلمه (سیو) به معنی (مرد دلیر) در میان اصل سیستانیان استعمال میشد.))(۲۱:۱۰۲).

ځینې څېړونکي عقیده لري چې سیستان د اریانا له لرغونو او مشهورو ولایتونه څخه دی، لرغونی یوناني جغرافیه لیکونکی سترابون ( STRABON) په خپلو لیکنو کې د درانجی DRANGIاو زرنجيZRINGI په نومونو یادکړی،خوځینی په دی اند دی،چې په اوستایي ژبه کې زریه،زرایو یا زرانګه،د سیند معنی ورکوي. په لرغوني فارسی کې دریا او پهلوی ژبه کې د زریا نومونه له همدې ریښې څخه مینځ ته راغلی،چې اوس د دریا په نوم استعمالیږي. په هر صورت لرغونی درنجیانه درنګیانه یا ذرنګا،د داریوش په کتیبه کې دسیستان دنوم په توګه کار ول شوې ده.

زرنګ په هغه وخت کې د تمدن مرکز و، چې په اسلامي دوره کې په زرنج تبدیل شو. ددغه ښار شاړې ځمکې دسیستان د نادعلي په قریه کې موجودې دي. نوموړی ښار د اسلامي لښکرو د لښکر کشۍ په وخت کې موجود و او له ډېر شهرت څخه برخمن و،چې د نړۍ پهلوان امیر کروړ سوري له دې شعر : (د زرنج سوبه می د تورې په مخسور وکړه) څخه هم دا معلومیږی. د بلازري له لیکنې دا معلومیږي،چې له ۳۰ هـ ق وروسته عبدالرحمن بن ثمره زرنج ته راغی او ددې سیمې له ساتونکو سره یې سوله وکړه چې بیا سیستان ته راورسېد. د حضرت عثمان (رض) له مړینې وروسته د زرنج د امیر، امیر بن احمد پر ضد یې شورش وکړ او هغه یې بندي کړ. د حضرت علي (ک) په وخت کې د اسلامي لښکرو قوماندان بیا هم د دې سیمې له ساتونکو سره سوله وکړه؛ د بلازري له لیکنو دا هم څرګندیږي چې هغه مهال د رتبېلانو نفوذ په کابل، زابل ، زرنج او سیستان کې موجود و(۴۰:۹-۴۱).

د طاهریانو د واکمنۍ پر مهال (۲۰۷-۲۵۹ هـ ق) د عربستان او افغانستان دولتي اړیکې ښې وې، خو عام خلک راضي نه وو، ځکه حمزه سیستاني د طاهریانو پر ضد هم پاڅونونه وکړل. په دې جګړه کې د خوارجو اغېز هم موجود و،چې له کبله یې د حمزه سیستانی دغه غورځنګ له مینځه ولاړ، د سیستان د عیارانو ډلې ځانګړي تشکیلات درلودل؛ دوی یو مشر درلود، عیاران زړور او جنګیالي ځوانان وو، چې کله ناکله به یې د محلي امیر او کله نا کله به یې هم د هغوی د مخالفینو خوا ونیوله، د عیارانو مهمی ډلې په زرنج ،بست او قندهار کې مینځ ته راغلې. یعقوب لیث صفاري چې د عیارانو د ډلې مشر و، سیستان کې یې د یو مستقل دولت بنسټ کېښود (۴٦: ۸).

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۲,۲. د یعقوب لیث صفاري واکمنۍ (۲۶۵-۲۴۷هـ ق)

## (۲۵۷-۲۳۹ هـ ش)

## (۸۷۸-۸٦۰ ز)

یعقوب لیث صفاري د لیث زوی د المعدل لمسی او د حاتم ماهان کړوسی و. د قرنین په قریه کې، چې د زرنج د ښار په ٦ کیلومترۍ کې موقعیت لري زیږېدلی دی. دسیستان تاریخ نوموړی د فرید او جمشید له نسله ګڼي، نوموړی په ځوانۍ کې د زرنج ښار ته راغی او له تټارسره شاګرد شو، د ورځې به یې نیم درهم ورکاوه . نوموړی د ابو مسلم په څېر له ټیټې طبقې څخه و. یو وخت د عیارانو له غورزنګ سره یو ځای او ډېر ژر د عیارانو د مشر په توګه و ټاکل شو او لاس ته راغلی مال به یې په خپلو ملګرو مصرفاوه، عیاران هوښیار،زړور او وطن پرست ځوانان وو، چې د ټولو یرغلګرو پر ضد یې پاڅونونو کې ونډه درلوده (۵: ۲۰۰- ۲۰۱).

دې ډله کې د غړیتوب داوطلبان د ځانګړو شرایطو له مخې منل کېدل. هغوی به ژمنه کوله، خطبه به لوستل کېده ، بیا به یې ملا ورتړله او مالګه او اوبه به یې وربانديې څښلې. دوی په سخا، صفا او وفا کې شهرت درلود. په ځانګړي ډول لوی پرتوګونه یې اغوستل. عیارانو هغه مهال د ټولنیزو شرایطو له مخې سیاسي بڼه غوره کړه. د بهرنیانو د واکمنۍ پرضد، د ځمکوالو د زور په وړاندې او د دولت د فشار په مقابل کې په مبارزه بوخت شول. په زرګونو عیاران د خپلو مشرانو په لارښوونه په سیاسي او انقلابي مبارزه کې ګډ شول او د شتمنو د کاروانونو لوټلو یې هم ډډه نه کوله. په سیستان کې د لویدیځ افغانستان عیارانو کارونه تر نورو ټولو زیات نوم لري. تر هغو چې پخپله صفاري یعقوب لیث د صفاریانو د دولت بنسټ ایښودونکې او یو عیار و. همدغه عیاران وو چې سلګونو تنو به یې د مغلو په لښکرو د شپې له خوا حملې کولې، هغوی ته به یې ماته ورکوله او غنیمتونه به یې ورڅخه ترلاسه کول. کله چې چنګیز هرات ویجاړ کړ، د عیارانو یو شمیر غړي لکه فخر اهنګر، رشید چرجي، اصیل معدل او نورو له غور، غرجستان او مروې څخه تر څلورو کلونو پورې د هرات ویجاړ شوی ښار ته غلې داني راوړې او پر بیوزلو یې ویشلې؛ د هیواد واکمنو به هم کله ناکهل له دوی څخه مرسته غوښته. په اتمه پیړۍ کې د سیستان د عیارانو نامتو مشران ابوالعریان او په نهمه پیړۍ کې له صفاریانو پرته، درهم بن نصر، حامد بن عمر، محمد بن هرمز او زنګالو او په لسمه ز پیړۍ کې احمد نیا،په یولسمه پیړۍ کې امیر جعفر

(c) ketabton.com: The Digital Library

ناصر، احمد بن طاهر، اسحق کاژبن، شنگیان، لیث نوري، محمد منصور او نور وو. غزنوي دولت ددغې ډلی د له مينځه وړلو لپاره ډېره هڅه وکړه، خو بيخي يې له مينځه ونشو وړلی، ترڅو چې چنګيز راغی، ډير ورانی يې وکړ ، خو بيا هم دا ډله په يوه کوچنۍ او يوه بله بڼه په افغانستان کې پاتی شوه. دوی په کابل کې د کاکه په نوم او په کندهار کې د ځوان په نوم تر شلمې پيړۍ پورې ژوند وکړ. د دوی مشران دوست د اذر زوی، د بهايي زوی پيرو، و بچه ادې، کاکه طلا،کاکه شکور،ميرزا عبدالعزيز لنګر، زمين صوفي، صوفي غني او يو شمير نور. په نولسمه او شلمه پيړۍ کې په کابل کې ددغې ډلې غړي وو. د کابل کاکه ګان په پاين چوک، شوربازار، مراد خانيو او چنداول کې جلاجلا ډلې او مشران درلودل؛ دوی چې په خپل مينځي جګړو کې ټپي يا مړه کېدل، حکومت ته يې خبر نه ورکاوه. د ځوانانو غړو به اوږدې پټه لرونکی لونګۍ تړلې، شمله به يې تر زنګونو پورې رسيدله. پښې به يې په پښو کولې او يوازې به په ټول ښار کې ګرځيده. که چيرې به په جګړه کې بريالی شو بيا به يې ورته مبارکي وويله او که له جګړې به وتښتيده بيا ځوان نه ګڼل کېده. ځوانانو به يو بل ته په خبرو کې شيربچه ويل، دوی به لامبو، چوب بازي، پهلواني او پياده ګرځيدل زده کول، ځان سره به يې چاړه، پيش قبضه او تفنګچه ګرځول. دوی خرامان خرامان ګرځيدل، پاکی جامی به يې اغوستی، رښتينی وو، په ژمنه کلک ولاړ و، وفادار او د غريبو لاس نيوونکي وو. د کار په کولو سره به يې ځان ته ډوډی پيدا کوله. نام و ننګ ته ډير کلک ژمن وو. داسرارو ساتنه يې کوله، سخيان وو، خو د مخالفينو له وژلو يې مخ نه اړولو، له غريبو خلکو سره د بډايانو په پرتله ډير نژدی او زړه سواندي وو. وروسته بيا په کابل کې کاکه ګي هم مبتذله او بی خونده شوه، بی تقوا خلکو هم د ځوان او کاکه نوم غوره کړ او له بلې خوا يې د اميرانو او مخورو په چوپړ لاس پورې کړ ترڅو د شلمې پيړۍ په پيل کې بيخي ورک شول (۲۷: ۱۰۰-۱۰۱).

د سيستان والي صالح بن نصر د بغداد د خليفه واثق بالله پر ضد په ۲۳۲ هـ ق کال د پاڅون له کبله د بُست[1] په ښار حمله وکړه ،خو صالح ل يعقوب ليث صفاري څخه د مرستې غوښتنه وکړه، نوموړي صالح سره مرسته وکړه او د بست ښار يې د هغه له پاره ونيو ،دوه کاله (۲۳۶-۲۳۸ هـ ق ) نور هم يعقوب ليث د خپلو ورونو عمرو ،علي او طاهر سره د صالح خدمت وکړ، صالح به تل په جګړو کې

---

(1) بُست د هلمند د سيند کېڼې غاړې ارغنداب او هلمند د رودنو د يو ځای کېدلو له محله يو څه ښکته د بست د تاريخي ښار کنډوالې پرتې دي ،يعنی په همدغه محل کې د بست زاړه ښار موقعيت درلود بست چې تاريخي نوم يې بيوت BIUT يا بيجس BIJISد لرغونی تمدن د پخوانيو مرکزونو څخه يو مهم مرکز دی او له کومه ځايه چې له خاورينو ډېريو څخه يې شاوخوا کې معلوميږي په لرغونو زمانو کې د يادونې وړ ترقي درلوده (۴۱: ۱۲۸)

(c) ketabton.com: The Digital Library

مشغول و،د بغداد د نفوذ د مخنيوي په خاطر به له يو ځاى ځخه بل ځاى ته تللو خو له دوو کالو وروسته د صالح او يعقوب ليث تر مينځ اختلاف پيدا شو. ددې اختلاف په پايله کې صالح له خراسان ځخه وتښتېده، د صالح له تښتېدلو وروسته د سيستان خلکو او يعقوب ليث صفاري يو تن د درهم بن حسين په نوم خپل امير او يعقوب يې د عمومی سپه سالار په توگه وټاکه، درهم د يعقوب پواسطه واک ته ورسېد خو له يعقوب سره يې کينه درلوده او په پټه يې د يعقوب ليث د له مينځه وړلو لپاره به يې لارې لټولې . د نوموړي دغه توطيه رسوا شوه، يعقوب ليث د خپلو ملگرو په مرسته درهم ونيو او بندي يې کړ. د درهم پوځيانو يعقوب ته بيعت ورکړ. وروسته د سيستان خلکو يعقوب ليث صفاري خپـــــل پاچا وټاکه(۱۰:۴٦-۱۱).

کله چې يعقوب ليث صفاري په ۲۴۷هـ دمحرم په ۲۵ مه د دوشنبی پر ورځ د خپلو وسلوالو عيارانو په مرسته درهم او خوارج مات کړل ، دسيستان له خلکو يې بيعت واخيست او پاچا شو. صالح له رتبيل مرسته وغوښته ،خو يعقوب رتبيل وواژه او بست يې ونيو ،په دې جگړه کې شپږزره تنه ووژل شول، ديرش زره بنديان،ډېر پيلان او زيات غنيمتونه د يعقوب لاس ته ورغلل( ۱۰: ۱۳۰).

کوم وخت چې يعقوب ليث صفاري د طاهر د زوی(محمد) لښکرو ته ماتې ورکړه. هغه يې بندي او نيشاپور يې ونيو او د صفاريانو دولت يې تاسيس کړ؛ د بغداد خليفه مجبور شو، چې طبرستان، جوزجان، ری او فارس رسماً يعقوب ته وسپاري او هغه د پاچا په توگه وپيژني(۲۵: ۱۷۹).

يعقوب ليث صفاري دپاچا کېدو سره سم د خپلو مخاليفنو صالح بن نصر او د خوارجو د ډلې مشر عمار د له مينځه وړلو لپاره لازمي کړنې پيل کړې. صالح چې د بست د ښار په شاوخوا سيمو کې پټ و د يو پوځ له جوړولو وروسته د يعقوب ليث د ماتی په موخه د بست د ښار په لوري يېحرکت وکړ، مگر نوموړي د يعقوب ليث سره په جگړه کې ماتی وخوړه، د رتبيل په دربار کې يې پناه واخېسته؛ رتبيل چې تر دې وخته د بودايي دين پيرو و، صالح سره يې مرسته وکړه؛ خو رتبيل د کندهار په سيمه کې په ۸٦۲ ز ومړ؛ صالح هم بندي او بيا په بندي خانه کې مړ شو.د خوارجو مشر عمار هم د يعقوب سره په جگره کې ومړ او ملگري يې غرونو ته وتښتېدل (۴٦: ۱۰-۱۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library

يعقوب ليث صفاري  خپلې واکمنۍ ته تر کابله پورې پراختيا ورکړه، سند او کرمان يې ونيول، په ۸٦۸ ز  کال يې هرات او پوشنج  چې د طاهريانو د اصلي ټاټوبی وه و  تر خپل نفوذ لاندی هم راوستل، ۸٦۹ ز کال يې کرمان هم ونيو (۲: ۷۳).

يعقوب ليث صفاري د خپلو دښمنانو له مينځه وړلو وروسته د دولت د نفوذ د پراختيا په فکر کې شو،تصميم يې ونيو،چې د طاهريانو د کورنۍ اخرنی پاچا محمد (ددويم طاهر زوی) چې يو ضعيف واکمن و او د هېواد له اداري عاجز و، له مينځه وباسي او په افغانستانکې سياسي  وحدت رامينځ ته کړي. يعقوب په خپله موخه کې بريالی شو. د طاهري دولت ټولې سيمې يې ونيولې او د طاهريانو واکمنۍ ته يې په ۲۵۹ هـ ق کال خاتمه ورکړه، وروسته يې د غزني، کابل، بلخ، باميان ،تخارستان ،گرديز ،فارس او شيراز سيمې هم ونيولې، يعقوب تر کابله پورې د اسلام مقدس دين خپور کړ، په افغانستان او هند کې يې د اسلام مقدس دين د خپرولو له پاره زمينه برابره کړه ، خو عباسي دولت يعقوب د ځان له پاره د ختيځ له خوا يو تهديد گاڼه او د صفاريانو له زياتېدونکي نفوذ څخه په وېره کې و. دوی د طاهريانو د کورنۍ اخرنی پاچا محمد،خليفه معتمد د افغانستان د امير په توگه اعلان کړ،چې پرې د يعقوب ليث او عباسي خلافت تر مينځ اړيکې خرابې شوې . يعقوب د عباسي خلافت له روحاني مقام څخه ډډه وکړه ،وروسته په ۲٦۱ هـ ق کې د بغداد په لوري لښکر کشي وکړه په نظامي لحاظ يعقوب په عباسيانو پياوړی و، خو د عباسيانو تبليغ د يعقوب ليث په فوځيانو باندې بده اغېزه وکړه او ماتې يې وخوړه د يعقوب د ماتې له امله د بغداد لپاره خطر کم شو، خو يعقوب غوښتل چې عباسيانو ته غوڅه ماتې ورکړي ، مگر په ۲٦۵  هـ ق د نيشاپور د جندې په سيمه کې ناروغه او مړ شو(۴٦: ۱۱).

يعقوب ليث يو زړور، ځوانمرده ،عاقل ،د حوصلې خاوند اوثابت قدمه پاچا و، د لوړې روحيې درلودنکی و. د جگړې په فن کې يې ډېر مهارت درلوده؛ په ورځني ژوند کې يو مهربانه شخص و ، خپلو مادونانو، بې وزلو او غريبو خلکو سره يې نرم چلند کاوه، خو خانانو او شتمنو سره ډېر سخت و .د جگړې پر مهال به له عسکرو سره يوځای په خيمه کې اوسېده او ساده جامې يې اغوستې، يوازې دسفيرانو د هرکلی پرمهال يې شاهانه جامې اغوستې او مجلل محفل به يې جوړاوه. لنډه دا چې حکومت يې د هغه وخت دسلطنتي حکومتونو سره شباهت نه درلود.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بارتولد د یعقوب په اړه داسې نظر لري: (( د طبرستان فرمانروا حسن بن زید، د یعقوب پولادي کرکتر دسندان په نوم یادوه، یعقوب له قانوني بیروکراسۍڅخه کرکه کوله، یوازې په خپل شمشېر متکي و... یعقوب د خپل لښکر د اړتیاو د پوره کولو په خاطر اړ و چې ډېرى لښکر کشۍ وکړي....))(۲: ۷٦).

یعقوب لیث صفاري یو پوځي او سیاسي شخص و، د عامه خلکو له ژوند څخه خبر و، نو ځکه یې له خلکو او بزګرې طبقې سره په زړه سوی چلند کاوه، یعقوب لیث صفاري له هغو خلکو مالیه نه ټولوله، چې له ۵۰۰ درهمو څخه یې لږ مال درلود؛ هغه له خپلو همکارانو سره مینه ښودله او خپله یې یو ساده ژوند غوره کړ، ساده کتاني جامې یې اغوستې او پرځمکه به کښیناسته او د توري په موټې به یې سر ایښوده او ویده کېده به؛ د هیواد د چارو په پرمخ بیولو کې یې پریکنده دریځ درلود او یو کلک سړی و، چې فورمالیته او تشریفاتي بیروکراسي یې نه خوښوله، خو د سلطنت د ساتنی لپاره یې دوه زره درباري ګارد چې د سرو او سپینو زرو ګرزونه یې لرل وساتل او په رسمي ورځو کې به د پاچا د دربار دوو خواوو ته تلل. یعقوب لیث له ساده ګی سره سره تر مړینې وروسته څلور ملیونه دیناره، پنځوس ملیونه درهمه، لس زره خره او پنځوس زره اوښان له ځان څخه په میراث پرېښودل (۲۷: ۱۰۲).

## ۲،۳. د عمرو واکمني (۲۸۷-۲٦۵هـ ق)

## (۲۷۸-۲۵۷ هـ ش)

## (۹۰۰-۸۷۸ ز)

د یعقوب د مړینې پر مهال دده دوه ورونه (عمرو او علي) د هغه په خوا کې، حاضر وو. عمرو څه موده مخکې په قهر شوی او سیستان ته راغلی و، د ده په غیاب کې د پوځ قومنداني علي بن لیث ته سپارل شوې وه، د یعقوب له مړینې وروسته دواړو ورونو عمرو او علي د ځای ناستي دعوه کوله. د صفاري دولت مشرانو د مینځګړیتوب په اساس، علي څخه د سلطنت ګوته واخېسته او عمرو ته یې ورکړه. عمرو د وخت د غوښتنې سره سم د بغداد خلیفه ته د یو لیک په ذریعه خپل اطاعت څرګند کړ، په مقابل کې خلیفه د کرمان، فارس، اصفهان، طبرستان، خراسان، سند، هند او ماورالنهر د حکومت فرمان د احمد بن ابی الاصبح پواسطه عمرو ته راولیږه، په دې شرط چې د کال ۲۰ میلونه درهم به

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلیفه ته د خراج په توګه استوي، عمرو دا شرط هم ومانه او په ۲٦٦ هـ ق کال د رجب په ۲۷ مه د نیشاپور[1] د جند له سیمي څخه سیستان ته راغی(۲۱: ۲۰۲-۲۰۳).

عمرو د یعقوب ورور او د هغه ځای ناستی په توګه مجبور شو چې د هیواد په اداري سیستم کې بدلون راولي، د جګړې کړنلاره یې هم بدل کړ. عمرو وضعیت په دقیقه توګه څاره، په همدې خاطر یې هڅه کوله چې ډیر مسائل د سولې له لارې حل کړي. د یعقوب لیث صفاري عسکرو عمرو د یعقوب ریښتینی ځای ناستې ګاڼه او هغه یې له یعقوب وروسته د خپل فرمانروا په توګه مانه... د عمرو لیث قدرت هم د یعقوب لیث په څېر د تورې په زور ټینګ و. له همدې امله عمرو لیث هم اړ و چې د خپلو پلانونو د تطبیق په خاطر پیسې ولري. عمرو دا پیسې نه یوازې د خلکو د مالونو ضبطولو له لارې ، بلکې ده د یو منظم اقتصادي او اداري کړنلارې په واسطه په خپله خزانه کې جمع کولې (۲: ۷۹).

په بغداد کې د معتمد پر ځای مُوَفق واک په لاس کې واخېست، خو عمرو له مُوَفق سره هم ښې اړیکې درلودې. عمرو چې کله له بغداد څخه خاطر جمع شو. بیا د هغو شورشونو داراملو په فکر کې شو چې د صفاریانو دواکمنۍ په قلمرو کې مینځ ته راغلي وو. احمد خجستاني چې دطاهریانو په طرفداری‌یې د نیشاپور ښار نیولی و .د هغه د ایل کولو لپاره یې حرکت وکړ، په دې لښکر کشۍ کې له ده سره د عمرو زوی محمد هم و. او د عمرو ورور علي هم ورسره و، خجستاني د نیشاپور ښار ته د عمرو د لښکرو مخه ونیوله. څرنګه چې علي په پټه خجستاني ته خبر ورکړ، چې د هغه پلوی دی. خجستاني په دې خبر سره ډیر زړور شو، د عمرو په عسکرو یې د شپې له خوا حمله وکړه. عمرو ماتې وخوړه او هرات ته په شاه شو. لومړی یې ماتې وخوړه، خو دوهم ځل پر احمد خجستانی بریالی شو او هغه یې وواژه .د فارس حکمرانان چې د احمد خجستاني په مقابل کې د عمروبن لیث له ماتې خبر شو ،هغوی هم د رفیع په مشری‌په ۲٦۷ هـ ق کال خپل استقلال اعلان کړ، خو هغوی هم ماتې وخوړه، عمرو خپل اعتمادي کسان په فارس او اصفهان کې مقرر کړل، پخپله سیستان ته راغی(۴٦: ۱۳۰).

عباسي دولت نه غوښتل چې د دوی په ختیځ ګاونډ کې دې د صفاریانو مقتدر دولت موجود وي، نو یې د صفاري دولت په مقابل کې خپله پالیسي بدله کړه ،لومړی هغه امتیازات چې عمرو ته یې ورکول لغوه کړل. دویم داچې ددویم طاهر زوی محمد چې له دوی سره په دربار کې و، د عمرو پر ضد

---

[1] البته دغه وخت عمرو په نیشاپور کې د یعقوب د خسولو په مراسمو کې مصروف ځکه یعقوب په نیشاپور کې وفات شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوباره د واکمنۍ لپاره خراسان ته راولیږه. نصر بن احمد ساماني يې په ماروالنهر کې د صفاریانو پر ضد ولمساوه،کرمان او فارس ته يې خپل اجنټان راولیږل، عمرو يې د کورنیو جنجالونو پواسطه ضعیفه کړ، عباسي خلیفه په دې هم بسنه ونکړه، له عمرو څخه يې غوښتنه وکړه ،چې خپل زوی خلیفه ته د ګروګان په شکل ورکړي، عمرو د خلیفه دا ناروا غوښتنه ونه منله . د هغه مقابلې ته يې تیاری ونیو، عمرو د خپل زوی محمد په مشرۍ ٦٥ زره عسکر د بغداد لورې ته ولېږل، عباسیانو هم (۱۵۰) زره عسکر د دوی مقابلې ته راولېږل ،د عربي عسکرو مشري پخپله خلیفه کوله. کله چې محمد چې د خلیفه، له حرکت څخه خبر شو، بېرته سیستان ته راوګرزید ،مګر محمد بن عمرو په لار کې ناروغه او په ۲۷۴ هـ ق کال د جمادی الاول په ۲۹ نیټه د شاک سیمه کې چې د زرنج ښار ته ۲۳ فرسنګه واټن لري وفات شو. عمرو دوه کاله وروسته ۲۷٦ هـ ق فارس د خلیفه له حکمران څخه ونیو. عمرو، رفیع بن هرشمه ته يې چې د طاهر یانو طرفدار و ماتې ورکړه. که څه هم له ۲۷۸څخه تر۲۸۲ هـ ق کال پورې د رفیع او عمرو تر مینځ څو ځله جګړې وشوې چې بلاخره رفیع ووژل شو. په همدغه وخت اسماعیل بن احمد ساماني په ماورالنهر کې واک ته ورسېد. عباسي خلیفه غوښتل چې دا دواړه دولتونه یو د بل سره وجنګوي، خو اسماعیل ساماني سره يې ډېرې مادي مرستې وکړې،اسماعیل ساماني او عمرو تر مینځ د بلخ په شاوخوا کې جګړه ونښته، په دې جګړه کې د صفاري دولت فوځ تیت او پرک شو،عمرو په۲۸۷ هـ ق کې سامانیانو سره بندي شو، اسماعیل ساماني هغه د بغداد خلیفه ته ولیږه په ۲۸۹ هـ ق په بندیخانه کې وفات شو (۴٦: ۱۴۰).

ځینې مؤرخین په دې عقیده دي چې عمرو له لوږې څخه په بندیخانه کې مړ شو، خو ځینې وايي چې عمرو د خلیفه د وزیر قاسم بن عبدالله له خوا د یو شخص پواسطه ووژل شو. عمرو د خپل ورور یعقوب لیث کړنلاره تعقیب کړه، هیڅکله يې ضعیف خلک نه ازارول. د ګردیزي په وینا عمرو د افغانستان امارت ښه اداره کړه او داسې سیاست يې غوره کړ، چې هیڅوک ترې ناراضه نه و. د عمرو واک هم د یعقوب په څېر د توري په زور ټینګ و، په همدې خاطر عمرو چې د خپلو جګړیزو پلانونو د تطبیق لپاره پیسو ته اړتیا درلوده، نوموړی دغه پیسی د پانګه والو د مالونو د ضبطولو له لارې پوره کولې او د مالیاتو په راټولولو سره يې په خپله خزانه کې جمع کولې. ده په ۲۸۳ هـ ق کال څلور ملیونه درهمه د بغداد د خلیفه المتوکل دربار ته ولیږل(۲۲:۲۸۱).

(c) ketabton.com: The Digital Library

عمرو ځینې وخت بغداد ته سوغاتونه لیږل. خو عمرو لومړنی مسلمان پاچا و، چې خپل نوم یې په خطبه کې ذکر کړ. مخکې له دې په خطبه کې یوازې د خلیفه نوم یادیده. عمرو له طاهریانو په پرتله ډیر مستقل و. ابن خلکان وایي چې خراسان له ډیرې مودې پورې د عمرو په څېر هوښیار او زرنگ واکمن نه و لیدلی، خو گردیزی وایي چې د عمرو د واکمنی پرمهال درې ډوله مصارف و، لومړی هغه مصارف چې په نظامي برخه کې به کېدل. دویم هغه پیسی چې دوی به له شخصي جایدادونو څخه برابرولې او د دربار په چارو کې به یې مصرف کېدل. دریم ډول مصارف دوی هغو خلکو ته ورکول چې هغوی به د دښمن مقابله کوله او له همدی برخې څخه خپلو استازو او لایقه اشخاصو ته انعامونه یې هم ورکول. گردیزي عقیده لري چې عمرو د خلکو مالونه ضبطول چې هغوی ته کومه بهانه پیدا کړه(۸۰:۲-۸۱).

عمرو یو پوه سیاست مداره او زړور شخص و. د واک په لومړیو وختونو کې د روغې له لاری یې خپلې ستونزې د بغداد له خلافت سره حل کړې. د عسکري نظام د اصلاح لپاره یې ډېرې هڅې وکړې، د یعقوب لیث برخلاف له تجمل سره یې علاقه درلوده. په دربار کې به یې شاعران موجود وو، چې مشهور یې محمد بن وصیف سکزی چې د دارلانشا ریس و، د عمرو د ماتې او بندي کېدو سره د صفاریانو د قدرت او شوکت دوره پای ته ورسېده، له دې تاریخ وروسته ددوی سلطنت د نالایقو شهزاده گانو اوخاینو خدمتگارانو د لاس بازیچه شوه ژر یې خپل ځای د سامانــیانو ځوان دولت ته پریـــــښود(۳۱: ۱۲).

## ۲,۴. د طاهر واکمني(۲۸۷-۲۹۶هـ ق)

## (۲۷۸-۲۸۷ هـ ش)

## (۹۰۰-۹۰۹ ز)

څه وخت چې عمرو بن لیث بندي شو، واکمني یې پای ته ورسېده ،نوموړي زوی نه درلود ،چې دده پر ځای پاچا شوی وای .د صفاري دولت مشرانو دده لمسی د محمد زوی طاهر د امیر په توگه وټاکه. نوی امیر د بدلې د اخېستلو په غرض د بغداد په لوري حرکت وکړ، خو د خوزستان په سیمه کې یې ماتې وخوړه اوسیستان ته له رسیدو سره سم له یو ترک سره په جگړه کې بندي او بغداد ته یې لاس ترلی واستوه.، په دي ډول دصفاریانو ددریم امیر دوره هم پای ته ورسېده. د صفاري دولت زوال له

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدې(۹۱۰ز) نیتې څخه پیل شو. دده په وخت کې د سامانیانو مینځ ته راتګ ، د شهزاده ګانو تر مینځ دواک پر سر اختلاف او دبغداد دخلافت مداخلې ،دصفاریانو دواکمنۍ د زوال لاملونه شمېرل کېږي .هغه دولت چې دیعقوب لیث پواسطه یې بنسټ ایښودل شوی و دنیمې پیړۍ له دوام وروسته دزوال لورې ته سوق شو (۱۰:۴٦).

محمداعظم سیستاني د طاهر په اړه داسې نظرلري : د طاهر غیرعاقلانه سیاست چې د هېواد له اداري او سیاست سره یې ډېر واټن درلود. د صفاري دولت د سقوط زمینه برابره کړه....(۲۱:۲۲۰).

طاهر بن محمد یو عیاش او بې تدبیره شخص و؛ کله چې د پارس له خوا ډاډه شو، په سیستان کې یې په عیاشۍ پیل وکړ. د هیواد چارو، لښکر، مالیه او نورو ته یې شاه کړه او خپل ټول وخت یې په عیاشۍ تیراوه، د شتمنۍ ډیره برخه یې په همدغه لاره کې خرڅوله. په پای کې د هیواد ټولې چارې، په ځانګړې توګه مالیه له مینځه ولاړه، اقتصادي برخه کې له ستر تاوان سره مخامخ شو او خزانه بالکل تشه شوه (۳۱: ۲۳۳).

## ۲,۵. د لیث واکمني(۲۹۷-۲۹٦هـ ق)

## (۲۸۷-۲۸۸ هـ ش)

## (۹۱۰-۹۰۹ ز)

د عمرو لیث د لمسي او د محمد د زوی (طاهر) له بندي کېدو وروسته د لیث صفاري لمسی د علي زوی لیث واک ته ورسېد. ده ایران ته لښکرکشي وکړه او یاغي والیان یې تابع کړل، ده او عسکرو یې لا دمه نه وه جوړه کړې، بیا یې له بست او زمینداور څخه له اوه زره سیستاني سوارو سره دپارس په لوري حرکت وکړ،ډېر ژر یې کرمان، شیراز او بست ونیول. لومړی یې د سبکزی د ورور غالب د مخنیوی لپاره چې د زابلستان حاکم و، د خپل ورور معدل په مشری د هغه په لور لښکر واستاوه او یرغمل یې ونیو، معدل له هغه ځای څخه غزني ته لاړ او سنجک چې د غزني حاکم و، هغه یې وواژه. وروسته له هغه د معدل او سنجک د لښکرو ترمینځ نښته رامینځ ته شوه. لیث بن علي له سیستان څخه د خپل ورور مرستی ته لښکر واستاوه. خو لانجه د سولې له لارې حل شوه. په خپله سنجک شاید د کابل شاهانو له پاتې شونو څخه و. خو د هغه په اړه اوس هم کره معلومات نشته ، خو د غزني د یوې سیمې

(c) ketabton.com: The Digital Library

حاکم و. په هر حال کله چې لیث بن علي پر پارس حمله وکړه سبکزی ته تر ماتې ورکولو وروسته یې په شیراز خپله ولکه ټینګه کړه. (۳۱: ۲۳۵). سبکزي د لیث نه وېرېده نو د بغداد خلیفه دربار ته ورغی، خلیفه له لیث څخه وغوښتل چې فارس خلیفه ته پرېږدي، خو لیث خپل عسکر د محمد بن زهیر سره د بغداد د خلافت د قوتونو مقابلې ته ولېږل، دده قوتونه کم و ماتی یې وخوړه او شا ته تګ یې وکړ. د محمد بن زهیر ماتی لیث بن علي ورخطا کړ او دې ته یې اړ کړ چې په سختو غرنیو لارو باندې شاه ته راوګرزي، دا شاته تګ چې په سختو غرنیو لارو باندی وشوه، لیث بن علي ته یې ډېر مالي او ځاني زیان ورپیښ کړ،په پایله کې د یوې وړې جګړې په جریان کې لیث بن علي هم بندي شو او بغداد ته واستول شو (۲۱: ۲۲۲-۲۲۳).

## ۲,٦. د ابوعلي محمد واکمني (۲۹۷-۲۹۷هـ ق)

## (۲۸۸-۲۸۸ هـ ش)

## (۹۱۰-۹۱۰ ز)

کله چې د لیث بن علي بن لیث د بندي کېدو خبر سیستان ته راورسید، ابو علي محمد بن علي بن لیث چې په زرنج کې اوسېده، د پاچاهۍ واک یې ترلاسه کړ او دده بل ورور معدل هم له فارس څخه راغی او له ده سره یوځای شو. د واکمنۍ په پیل کې خلکو له ده څخه ډېر امیدونه درلودل ،خو یو هم پوره نه شو،ځکه چې ابوعلي یو بیکاره شخص و، د هېوادادارۍ لپاره جوړ نه و، د ده په واکمنۍ کې کورنۍ بې اتفاقي ډېره شوه، له څو میاشتو حکومت وروسته لیرې شواو پر ځای یې خپل ورور معدل واک ته ورسېد(۴٦:۱۵).

احمد اسماعیل ساماني غوښتل چې سیستان ته ولاړ شي. د فراه په سیمه کې خبر شو،چې د بست خلک د محمد بن علي لیث له ظلم څخه په تنګ شوي دي. له سیستان څخه یې د بست لوري ته حرکت وکړ، لږې ورځې وروسته سهار خاربار (دمارجي دښتې)ته ورسېده. خلک د ده د لښکرو په لیدلو سره خوښ شول. کله چې محمد بن علي خبر شو،امر یې وکړ چې د بست پُل وران کړي؛ اوبه ډېرې وې؛ خو د اسماعیل احمد ساماني لښکر وار د مخه بست ته داخل شوي وو،محمد بن علي دغه مهال له بست څخه بـــــولان ته وتښــتېد چې (٦-۷ کېلو متره دبست سره واټن لري) خو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسماعیل محمد ساماني یو شمېر عسکرو محمد په رخج (قندهار)کې ونیو،هغه یې له خپلو مالونو سره یو ځای چې له خلکو څخه یې په زور اخیستی وو، بست ته بېرته بوتللو. احمداسماعیل ساماني دخپل پوځ سره یوځای د هیرمند سیند پر غاړه بست ته نږدې خپله قرارګاه جوړه ګړه. د بست چارې یې یو نیک سړي حاتم بن عبدالله شاشي (چاچي)ته وسپارلې او فرمان یې صادر کړ چې له محمد بن علي سره چې د خلکو کوم مالونه دي هغه دې بیرته خپلو څښتانو ته توزیع کړئ. په دې ترتیب د محمد بن علي واکمني پای ته ورسېده او د هغه ورور معدل په زرنج کې مخکې واک تر لاسه کړی و (۲۱: ۲۲۵).

## ۲,۷. د معدل واکمني (۲۹۸-۲۹۷هـ ق)

## (۲۸۹-۲۸۸ هـ ش)

## (۹۱۱-۹۱۰ ز)

له علي بن محمد وروسته د هغه ورور معدل په زرنج کې واک ته ورسېد، خوکله چې محمد بن علي په بست کې د عسکرو له خوا و نیول شو، دې کار نوموړی حیران کړ، معدل له زرنج څخه دبست په لور د جګړې په غرض حرکت وکړ، د زرنج دښار په شمالي دروازه کې دساماني عسکرو سره چې حسین بن علي مروردی یې مشري کوله جګړه پیل کړه، ساماني پوځ د ښار خلک تر حملې لاندې ونیول (۱۲ د رجب ۲۹۸ هـ ق). لږه موده وروسته د حسین پوځ ښارته لار پیدا کړه او د ښار د اکار په نوم دروازه یې ونیوله . له دې بریالیتوب سره سم ۲۹۸ هـ ق کاله دشعبان په ۲ مه د سیمجور په نوم ساماني حکومت له خوا د سیستان د حکومت فرمان صادر شو. د ۲۹۸ هـ ق کال دشعبان په ۲۷ اوویشتمه د زرنج د ښار دفارس دروازه چې د دې ښار په جنوب غرب کې واقع وه د ساماني پوځ له خوا ونیول شوه. معدل له مخالفت څخه لاس واخېست، یو شمیر مشرانو او علماو سره یو ځای یې حسین مروردي ته ورولیږل، وروسته پخپله هم د ۲۹۸ هـ ق کال د ذوالحجې په لومړۍ نیټه حسین مروردي ته ورغی او د ښار تسلیمي یې ورکړه، په همدې وخت کې سیمجور خپلو عسکرو ته امر وکړ چې د ښار ټولې دروازې وباسي او ښارته داخل شي په دې ترتیب د ۲۹۸ هـ ق کال د ذوالحجې په دویمه یې د زرنج ښار په بشپړه توګه ونیوپه دې ترتیب ۵۲ کاله وروسته په سیستان کې د صفاریانو د کورنۍ نوم له خطبې څخه ولوید. احمد ساماني په خپله له بست څخه هرات ته ولاړ او معدل بن علي یې هم له ځان سره بوَت(۲۱: ۲۲٦).

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۲,۸. د دویم عمرو واکمني(۲۹۸-۲۹۸هـ ق)

## (۲۹۰-۲۸۹ هـ ش)

## (۹۱۲-۹۱۱ ز)

دويم عمرو چې د يعقوب زوی د محمد لمسی او د عمرو بن ليث کړوسی و. هغه وخت واک ته ورسېد چې احمد بن اسماعيل د صفاري دولت اصلي ټاټوبي د سيستان پلازمينه (زرنج ) نيولې وه. صفاريانو نور د مقاومت توان نه درلود. سامانيانو تر ۳۱۱ هـ ق پورې په سيستان حکومت وکړ خو ابو جعفر احمد بن محمد په ۳۱۱ هـ ق کې بېرته سيستان له ساماني حاکم نصر بن احمد ساماني څخه ونيو (۴٦: ١٦ ).

## ۲,۹. د ابو جعفر احمد واکمني(۳۰۱-۳۵۲هـ ق)

## (۳۴۲-۲۹۲ هـ ش)

## (۹٦۴-۹۱۴ ز)

ابوجعفر احمد د محمد زوی او د عبدالله لمسی، هغه وخت واک ته ورسيد، چې سامانيانو د صفاريانو پلازمينه زرنج ونيو. صفازيانو دسيستان په ليرې پرتو سيمو کې د محلي اميرانو په څېر حکومت کولو او تر ډېر وخت پورې يې خپل حاکميت ته دوام ورکړ. ابو جعفر يو سياست مدار او باکفايته شخص و،د ده د حاکميت پر مهال د يادونې وړ کورنۍ يا بهرنې جگړه نه ده پېښه شوې ،نوموړی يو علم پالونکې او د ادب مينه وال و. د ده په دربار کې شاعران اوسېدل، د واک په اخره کې دده په سلوک او خوی کې تغير راغی ، په خپلو خلکو يې ظلمونه پيل کړل، په پای کې نوموړی د قوم د مشرانو له خوا ووژل شو (۴٦: ١٦).

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۲,۱۰. د خلف واکمني(۳۹۳-۳۵۲هـ ق)

## (۳۸۳-۳۴۲ هـ ش)

## (۱۰۰۵-۹۶۴ ز)

ابو جعفر احمد او د هغه زوی خلف د یعقوب لیث صفاري کورنۍ پورې اړه نلري، خو له دوی سره یې د خپلوي اړیکی درلودی. خلف د صفاریانو د کورنۍ وروستی او مشهور واکمن و. واک ته له رسېدو سره سم یې د خپلی واکمنۍ سیمې ته پراختیا ورکړه، هغه ډېرې سیمې چې د سامانیانو تر سلطنت لاندې وې ببرته له هغو څخه و نیولې، دکرمان ځینې سیمې یې هم ونیولې،څوځلي یې له سامانیانو او غزنویانو سره جګړې وکړې،خو د واک په اخرو وختونو کې یې عصبي تکلیف پیدا کړ او ډېرې وژنې یې وکړې، حتی خپل زوی طاهر یې هم وواژه. په سیستان کې یې په دسته جمعي ډول خپل مخالفین ووژل، د سیستان خلک دده له ظلم څخه تنګ شول او له سلطان محمود غزنوي څخه یې مرسته وغوښته، سلطان محمود غزنوي پر سیستان حمله وکړه په ۳۹۳ هـ ق کال یې سیستان ونیو،خلف یې بندي او له شپږوکالو بند وروسته وفات شو. په دې ترتیب د صفاریانو دولت په ټول سیستان کې ختم شو (۴۶: ۱۷).

## ۲,۱۱. د صفاریانو د عصر کلتوري او ټولنیز وضعیت

صفاریانو په افغانستان کې یو مرکزي حکومت جوړ او د افغانستان د پرمختګ لپاره یې زمینه برابره کړه. هېواد د صنعت او معمارۍ په برخه کې ډېر پرمختګ وکړ. یعقوب او عمرو د خپلو واکمنیو پرمهال ډېره پاملرنه د عام المنفعه ځایونو جوړولو ته کوله، دوی پلونو،لارویه تېره بیا د هلمند پر سیند باندی بندونو ته پاملرنه کوله چې ویالې به یې بیلولې، (یعقوب او عمرو) دواړو واکمنانو د واک پر مهال د اوس په څېر د وزارت مقام وجود نه درلود. پاچا د لښکر د مشرۍ سر بیره نورې مهمې دولتي چارې هم سرته رسولې چې د خلکو عریضو او نوروټولنیزو چارو ته یې توجه کوله. د جګړې پر مهال پاچا به د لښکر قوماندان و، خو د عمرو د واکمنۍ له سقوط وروسته دده د ځای ناستو د واکمنۍ پر مهال د دولت مهمې چارې وزیرانو سرته رسولې. صفاریانو منظم عسکر درلودل چې د دولت له خزانې به یې معاش ورکاوه . یعقوب لیث صفاري په دوو میاشتو کې د خپلو لښکرو رسم ګذشت کاته . دولت ځانګړې تشکیلات درلودل؛ عواید به یې د خزانه په نوم له لاس لاندې سیمو څخه راټولولو، چې د ابن خرداد په

(c) ketabton.com: The Digital Library

قول ۱۰۷۸۰۰۰۰ درهمه د ابن خلدون په قول ۸۲۰۰۰۰۰ درهمه دولتي عوايد و. او ډېر لګښت د وياڵو په کښلو، د بندونو په جوړولو او په لښکر کشيو کې کېدل، ځکه پاچاهانو يې ساده او بې تجمله ژوند کاوه؛ د صفاريانو د واکمنانو رسمي ژبه دري شوه. د دري او پښتو ژبې لومړي شاعران لکه د دري ژبې شاعر محمد وصيف، د پښتو ژبې شاعر ابوالهاشم ابن زيد سرواني بستي چې د يعقوب ليث هم عصرو ژوند کاوه.

د زرنج ښار او سيستان د صفاريانو په دوره کې د لوړتيا لوړ پړاو او شوکت ته ورسيد. زرنج ته د صفاريانو د پلازمينې په توګه د سوداګرو کاروانونه راتلل، په ځانګړې ډول هغه مالونه چې له بخارا او نيشاپور څخه هرات ته راوړل کېدل. له هغوی زيات شمير مالونه يې زرنج ښار ته راوړل . اصطخري هرات د خراسان او سيستان دروازه ګڼله، ځکه د زرنج ښار د هرات په سهيل کې د دريو سوداګريزو لارو يعنې د هند، خراسان او فارس په سر کې پروت و. له همدې کبله دغه ښار په ډير لږ وخت کې ډير پرمختګ وکړ. اصلي ښار اوسپنيزې دروازې لرلې؛ د ښار ګرد چاپيره، د کسبګرو د اوسيدو ځای او د بزګرانو بڼونه جوړ شوي وو. زرنج ښار په داخل کې مختلفې مانۍ درلودې. ددې ښار ديوالونه او بنسټونه له خامو خښتو او خټو څخه جوړ شوي وو. د طاهريانو او صفاريانو د وخت مؤرخ يعقوب په خپل کتاب، کتاب البلدان کې چې په ۲۷۸-۲۷۹ هـ کې يې‌ليکلی دی، د دې ښار پراخوالی او پلنوالی څلور فرسخه (۳۰ کيلو متر مربع ) ليکلی دی. جامع مسجد او دوه پاخه حوضونه په داخل کې جوړ شوی وو، چې لومړي به اوبه حوضونو ته رسولې او بيا به ټول ښار کورونو ته ويشل کېدلې. د ښار د تنظيم په خاطر يعقوب ليث صفاري ځانګړې بوديجه منظوره کړې وه. د هغې بوديجې فهرست چې د ښاري چارو لپاره مصرفيدله په لاندې ډول وه:

۱. د پاچا د ربار مصارف دوه سوه زره درهمه.

۲. د ديوالونو او طاقونو د جوړولو لپاره دوه سوه زره درهمه.

۳. د کلاګانو د جوړولو په خاطر پنځوس زره درهمه.

۴. د بنديانو لپاره شل زره درهمه.

۵. د قرآن د حافظانو او اذان کوونکو لپاره شل زره درهمه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

٦. د روژې په میاشت کې د جامع جومات د مصرف لپاره دیرش زره درهمه.

٧. په روژه کې د قاریانو، خادمانو او ساتونکو لپاره هر یو ته په میاشت کې شل درهمه او د ورځې دوه منه ډوډۍ ورکول کېده(٢٢: ٢٦٩-٢٧٠).

## ٢,١٢. د صفاریانو د واکمنۍ د سقوط لاملونه

صفاریان له طاهریانو وروسته وتوانېدل . چې افغانستان کې یو مرکزي دولت تاسیس او د افغانستان په ډېرو سیمو کې د اسلام مقدس دین خپور کړي. د یعقوب لیث او عمرو د واکمنیو پر مهال صفاري، دولت ډېر پرمختګ وکړ، خو د سامانیانو په مقابل کې د عمرو ماتې او د هغه بندي کېدو د صفاریانو واکمني د سقوط لوري ته سوق کړه، چې له ده وروسته د دوی ځای ناستي ونه توانېدل چې د یعقوب لیث او عمرو لیث مقام او حیثیت ژوندی کړي. دا لاندې عوامل د صفاریانو د واک په سقوط کې ډېر مهم ګڼل کېږي:

- له یعقوب لیث او له وروستیو ځای ناستو په ځانګړي ډول له عمرو سره د بغداد د خلافت مخالفت .
- د سامانیانو ظهور او له هغوی څخه د بغداد د خلافت د چارواکو ملاتړ .
- د صفاري شهزادګانو ترمینځ د واک پر سر مخالفت .
- د بغداد د خلیفه پرضد د عمرو له خوا لښکر کشي او د هغه ماتې.
- پر سیستان د سلطان محمود غزنوي حمله چې د خلف له بندي کېدو سره د صفاریانو واکمنۍ ته یې د پای ټکی کښېښود.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## لنډيز

د صفاريانو د واکمنۍ پر مهال افغانستان په ځانګړي ډول سيستان او د زرنج ښار ډېر پرمختګ وکړ، ځکه چې سيستان کې د صفاري دولت د بنسټ ايښودولو سره سم د سوداګرۍ لپاره زمينه برابره شوه. صفاري دولت د خپل نفوذ سيمه د بغداد تر پولو ورسوله. د دوی د نفوذ پراختيا د بغداد خلافت هم اندېښمن کړ او د صفاريانو د له مينځه وړلو لپاره يې هڅې پيل کړی او د صفاري پاچا عمرو ليث پرضد يې د ساماني پاچا خواجه احمد اسمعيل ساماني ملاتړ غوره کړ او هر ډول مالي مرستې يې ورسره کولې. کله چې ساماني پاچا خواجه احمد اسمعيل ساماني، عمرو بن ليث ته ماتې ورکړه، هغه يې بغداد ته واستوه. د بغداد خلافت تر هغه پورې خپل مخالفت ته ادامه ورکړه تر څو چې صفاري دولت سقوط وکړ. د صفاريانو د واکمنۍ په سقوط کې که څه هم د بغداد مخالفت اغيزه درلوده، خو د شهزادګانو خپل منځي مخالفت په دې برخه کې ډېر مهم و.

صفاريانو له ۲۴۶ - ۳۹۳ هـ ق کال پورې د افغانستان په ځينو سيمو واکمني وکړه، دوی په دې موده کې خپل اداري تشکيلات درلودل او د ځانګړي سيستم پواسطه يې ماليات راټولول. صفاريان وتوانيدل چې له طاهريانو وروسته يو خپلواک اسلامي دولت جوړ کړي، حتی د صفاريانو دويم پاچا عمرو د بغداد د خليفه نوم له خطبې څخه ليری کړ.

د سامانيانو له خوا د صفاريانو د پلازمينې زرنج تر نيولو وروسته، ابو جعفر احمد صفاري د صفاريانو واکمني ټينګه کړه، خو د هغه زوی خلف له سامانيانو څخه زرنج بيرته ونيو. خلف د سامانيانو او غزنويانو سره ډېرې جګړې وکړی او ډېرې سيمې يې ورڅخه ونيولی، خو نوموړی واکمن په اخرو وختونو کې په عصبي ناروغۍ اخته شو او ټول وژنه يې پيل کړه، بالاخره د سيستان خلکو له سلطان محمود غزنوي څخه د مرستې غوښتنه وکړه. سلطان محمود غزنوي په زرنج حمله وکړه، خلف يې بندي کړ. په دې ډول په ۳۹۳ هـ ق کال د صفاريانو واکمني پای ته ورسيده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پوښتنې

۱. د بغداد له خلافت سره د یعقوب لیث او عمرو مخالفت د صفاریانو د واکمنۍ په سقوط کوم اغیز درلود؟

۲. ایا د صفاري شهزاد ګانو خپل مینځنـي اختلاف د صفاریانو واکمنـي د سقوط لوري ته سوق کړه ؟

۳. د بغداد خلافت ولې د صفاریانو پر ضد د سامانیانو ملاتړ وکړ ؟

۴. ایا له اسمعیل ساماني سره د بغداد د خلافت مرستې ددې کورنۍ د واکمنۍ په سقوط کې څه اغیزه درلوده؟

۵. سلطان محمود غزنوي ولې پر سیستان حمله وکړ؟

٦. خلف د چا له خوا بندي شو؟

۷. د عمرو زوی محمد ولې د بغداد د خلافت د لښکرو په مقابل کې ماتې وخوړه؟

۸. عمرو د چا پواسطه بندي او ووژل شو؟

۹. یعقوب لیث صفاري د عیارانو سره څه اړیکې درلودې؟

۱۰. د یعقوب لیث له مړینې وروسته د علي او عمرو اختلاف څه ډول پای ته ورسید؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

| د صفاریانو دکورنۍ د واکمنانو د واکمنۍ موده | | |
|---|---|---|
| شمیره | د پاچا نوم | کال |
| ۱ | یعقوب لیث صفاري | (۲۴۷-۲٦۵هـ ق)<br>(۲۳۹-۲۵۷ هـ ش)<br>(۸٦۰-۸۷۸ ز) |
| ۲ | عمرو د لیث زوی | (۲٦۵-۲۸۷هـ ق)<br>(۲۵۷-۲۷۸ هـ ش)<br>(۸۷۸-۹۰۰ ز) |
| ۳ | طاهر د محمد زوی او د عمرو لمسی | (۲۸۷-۲۹٦هـ ق)<br>(۲۷۸-۲۸۷ هـ ش)<br>(۹۰۰-۹۰۹ ز) |
| ۴ | لیث د علي زوی او د لیث لمسی | (۲۹٦-۲۹۷هـ ق)<br>(۲۸۷-۲۸۸ هـ ش)<br>(۹۰۹-۹۱۰ ز) |
| ۵ | ابوعلي محمد د علي زوی او د لیث لمسی | (۲۹۷-۲۹۷هـ ق)<br>(۲۸۸-۲۸۸ هـ ش)<br>(۹۱۰-۹۱۰ ز) |
| ٦ | معدل د علي زوی او د لیث لمسی | (۲۹۷-۲۹۸هـ ق)<br>(۲۸۸-۲۸۹ هـ ش)<br>(۹۱۰-۹۱۱ ز) |
| ۷ | دویم عمرو د یعقوب زوی د محمد لمسی او د عمرو کړوسی | (۲۹۸-۲۹۸هـ ق)<br>(۲۸۹-۲۹۰ هـ ش)<br>(۹۱۱-۹۱۲ ز) |
| ۸ | ابو جعفر د احمد زوی او د ابوعبدالله لمسی | (۳۰۱-۳۵۲هـ ق)<br>(۲۹۲-۳۴۲ هـ ش) |

(c) ketabton.com: The Digital Library


| | | |
|---|---|---|
| | | (۹۱۴-۹٦۴ ز) |
| ۹ | خلف د احمد زوی او د محمد لمسی | (۳۵۲-۳۹۳هـ ق)<br>(۳۴۲-۳۸۳ هـ ش)<br>(۹٦۴-۱۰۰۵ ز) |

**۲,۱. جدول: پورتنی جدول د کتابونو له متن څخه د مؤلف په وسیله ترتیب شوی.**


(c) ketabton.com: The Digital Library

**٢,١. ګراف: لاندینۍ ګراف د کتابونو له متن څخه د مؤلف په وسیله ترتیب شوی.**

## د صفاري کورنۍ واکمنان




دغه لاندې واکمنان د یعقوب لیث صفاري کورنۍ سره اړیکه نلري.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# درېيم څپرکی

# ساماني دولت

## پيليزه

سامان خدات چې اصلاً د افغانستان د بلخ حاکم و، د بغداد له حاکم سره يې د ښو اړيکو له امله خپل پخوانی زردشتي دين پرېښود او مسلمان شو. د هغه زوی اسد څلور زامن ( نوح، احمد، يحی او الياس ) درلودل، چې د مامون الرشيد لخوا نوح د سمرقند، احمد د فرغانې، يحي د تاشکند (چاچ) او الياس د هرات د والي په توگه مقرر شول. کله چې خواجه احمد اسمعيل ساماني، عمرو ته ماتې ورکړه. د ساماني حکومت ساحه هم پراخه شوه.د سامانيانو واکمنۍ په مرکزي اسيا، افغانستان او د ايران په ځينو برخو کې خپل حاکميت ټينگ کړ. پخپله اسمعيل ساماني د بغداد د خليفه له غوڅ ملاتړ څخه برخمن و. د ساماني دورې واکمنان د علم، فرهنگ او اسلامي تمدن په پرمختگ کې د پام وړ ونډه واخېسته. ډيرې مدرسې يې جوړې او د دوی په دربار کې عالمان، اديبان او شاعران اوسيدل. د دوی د ډيرو واکمنانو وزيران عالمان او اديبان وو. خو ددې کورنۍ وروستي واکمنان د عمر په لحاظ کوچنۍ وو او د واک چارې د خودغرضه جنرالانو بکتوزن او فايق لاس ته ورغلی هغوی د دولت د پياوړتيا پرځای،

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خپل شخصي واک د زیاتوالی لپاره په خپل مینځ کې جګړې کولې چې دې کار د سامانیانو واکمني ضعیفه کړه.

په دې څپرکي کې په بلخ کې د سامان خدات حاکمیت، د ابونصر د اسمعیل ساماني زوی، ابونصر د احمد زوی، نوح د نصر زوی، ابوصالح منصورد نوح زوی، دویم نوح د منصور زوی، دویم منصور د دویم نوح زوی، دویم عبدالمالک د نوح د زوی واکمنی، د سامانیانو د عصر مدني، ټولنیز او فرهنګي حالت، د سامانیانو د سقوط لاملونو ته ځای ورکړل شوی او هر عنوان د اړتیا تر بریده توضیح شوی دی.

## ۳,۱. سامان خدات

سامانیان یوه اریایي کورنۍ وه او په بلخ کې اوسیدله. سامان خدات ددې کورنۍمشر و. سامانیان هم د خپل نیکه سامان خدات په نوم یادیږي. کله چې د بلخ خلکو د سامان خدات پرضد شورش وکړ. سامات خدات د خراسان له حاکم اسد بن عبدالله څخه د مرستې غوښتنه وکړه. نوموړي د سامان خدات سره مرسته وکړه، شورش یې ارام او سامان خدات یې د بلخ د حاکم په توګه مقرر کړ. سامان خدات په خراسان کې د اموي دولت د حاکم اسد بن عبدالله له مرستې څخه ډیر خوښ شو نو یې خپل پخوانی زردشتي دین پریښود او د اسلام مقدس دین یې قبول او مسلمان شو. د خپل زوی نوم یې اسد کیښود.

د سامان خدات زوی اسد څلور زامن ( نوح، احمد، یحی او الیاس) درلودل. دوي د عباسیانو سره ښې اړیکې درلودې او له عباسیانو سره یې د شورشونو په ارامولو کې په ځانګړې ډول د رافع بن لیث په جګړه کې له مامون الرشید سره ډیره مرسته وکړه. مامون الرشید چې کله هرات ته متوجه شو، نو یې غسان بن عباد د خراسان د امیر په توګه مقرر کړ او د اسد د زامنو سپارښتنه یې ورته هم وکړه، کله چې د حسین زوی طاهر له هغه وروسته د خراسان حاکم شو، هغوي یې په خپل حال پریښودل. مامون الرشید هم د اسد څلور واړه زامن په مهمو څوکیو ( نوح د سمرقند د حاکم ، احمد د فرغانې حاکم، یحي د چاچ حاکم او الیاس د هرات د حاکم ) په توګه مقرر کړل(۴۶:۲۰).

(c) ketabton.com: The Digital Library

د عباسیانو ټولو خلفاو د دوي درناوی کاوه، د نوح بن اسد له مړینې وروسته د خراسان امیر، طاهر پوشنجي د یو فرمان په ترځ کې، د نوح بن اسد ټول قلمرو دده د وروڼو یحی او احمد ترمنځ وویشل شو، خو کله چې یحي وفات شو، د ماورالنهر ټول واک د احمد لاس ته ورغی.

احمد یو باانصافه حاکم و، چې د وروڼو په مینځ کې یې د عادل لقب ګټلی و. په خراسان کې یې نفوذ پیدا کړ، نوموړی هم به ۲۵۰ هجري قمري کال وفات شو. ده اووه زامن (نصر، اسمعیل، یعقوب، یحی، اسد، اسحق او احمد) درلودل. نصر چې تر ټولو مشر و، د پلار ځای ناستی شو او د واک چارې یې په لاس کې واخیستې. عباسي خلیفه ( المعتمد باالله ) دټول ماورالنهر[1] دحکمرانۍ فرمان دنصرپه نوم صادر کړ.

نصر خپل ورور اسمعیل د بخارا د حاکم په توګه مقرر کړ او د ماورالنهر د خلکو د ژوند د ښه کېدو او امنیت د ټینګېدو لپاره یې ډېري هلې ځلې وکړې. د نصر دوره د صفاریانو د نهضت له پیل(۲۴٦هـق) سره برابره وه. طاهریانو په اریانا کې د وحدت او خپل نفوذ د ټینګوالي په موخه مخ په ماورالنهر لښکر ور واست. په دغه وخت کې په ټوله اریانا کې درې مرکزونه ( په نیشاپورکې طاهریان، په زرنج کې صفاریان او سمرقند کې سامانیان ) موجود وو. د ارياایانو دری واړو دولتونو کوښښ کاوه چې د یو بل د نفوذ ساحه کمه او د خپلې واکمنۍ ساحه پراخه کړي. ښه به دا وه چې دوي د سولې له لارې په اریانا کې یووالی تامین کړی وای. خو د سولی له لارې دې کار امکان نه درلود، له همدې امله د صفاریانو او طاهریانو ترمنځ جګړه پیل شوه، چې په پایله کې د طاهریانودولت سقوط وکړ. وروسته بیا د صفاریانو او سامانیانو ترمنځ جګړې ونښتې، چې دا جګړې هم د افغانستان په زیان وې. سامانی لښکرو په ۲۹۸ هـ ق کال د ذوالحجی په میاشت کې د ابوالحسن سیمجور قهستانی او حسین بن علي مرورډي چې د خراسان سپهه سالار و، د زرنج د ښار دروازې پرانیستې او د زرنج ښار یې ونیو. اسمعیل سامانی چې کله د بست او کندهار وضعیت ارام کړ، حسین مروزي (مروالرودي) ته د یوه لیک پواسطه دستور ورکړ چې محمد بن علي بن لیث صفاري دې سیمجور ته پرېږدي او پخپله د معدل بن علي بن لیث سره هرات ته راشي. خو هغوی محمد بن علي بن لیث هم له ځان سره هرات ته بوته او له هغه ځای څخه یې بخارا ته واستول او د میاشتی به یې دری زره درهمه تنخواه ورکوله، مګر ډېر وخت

---

[1] عربي مؤرخینو او واکمنانو د امو سیند هغې خواته سیمې د ماورالنهر په نوم یاد کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تیر نه شو، چې د خلیفه د غوښتنې په اساس هغوی یې بغداد ته ولیږل او هلته د خلیفه لخوا بندیان شول. په همدغه وخت ساماني پاچا، سیستان د هغه د کاکا زوی منصور بن اسحاق ساماني ته ورکړ. منصور بن اسحاق ساماني د زرنج د خلکو سره د لیدنی پرمهال د ښو کارونو د عملي کولو زیاتې وعدې ورکړې خو وفا یې پرې ونکړه (۲۱: ۲۲۷).

## ۳,۲. د امیراسمعیل ساماني واکمني (279-295هـ ق)

## (270-286 هـ ش)

## (892-908 ز)

د ساماني دولت بنسټ اېښودونکي اسمعیل داحمد ساماني زوی د ۲۳۴ هجري قمري کال د ربیع الاخر په میاشت د فرغانې په ښار کې هغه وخت چې پلار یې هلته حاکم و، وزیږید. کله چې پلار یې مړ شو، دده ورور نصر هغه د بخارا حاکم مقرر کړ. په ۲۷۲ هجري قمري کال رافع[1] د هرثمه زوی له نصر څخه د مرستې غوښتنه وکړه. نصر، اسمعیل د څلورو زرو عسکرو سره د هغه مرستې ته واستاوه او رافع وکولای شو چې د عمرو لیث صفاري د لښکرو مشر ابوطلحه ته ماتې ورکړي (۳۵:۲۵۳-۲۵۴).

اسمعیل ساماني په ۲۷۹ هجري قمري کې د خپل مشر ورور ابونصر له مړینې وروسته د خوارزم او ماورالنهر پاچا شو. د ابونصر زوی یې په سمرقند کې حاکم وټاکه، پخپله بخارا ته راغی او بخارا یې د خپلې پلازمینې په توګه وټاکله. عباسي خلیفه معتمد د اسمعیل واکمني په رسمیت وپېژنده، هغه ولایتونه چې په ماورالنهر کې د نصر تر واک لاندې و د یو فرمان په ترڅ کې اسمعیل ساماني ته ورکړل او خلک یې د هغه اطاعت ته وهڅول؛ دویم ځلې بیا اسمعیل ساماني ته یې فرمان ورکړ چې تخارستان او جوزجان ولایتونه ونیسي (۲: ۲۰٦).

معتمد له صفاریانو څخه په ویره کې و، د ساماني واکمن اسمعیل ساماني سره یې د صفاریانو پرضد مرسته کوله، څرنګه چې د معتمد د توطیې، تحریک عمده لامل، د عمرو زیات ځواک او له دې امله چې ډیرې سیمې لکه سیستان، بست، رخج (کندهار)، هرات ، نیشاپور، مروه، کابل، بامیان، غزني

---

[2] رافع بن هرثمه د هرات د بادغیس او سیدونکې دی. هغه تر خجستاني وروسته د خراسان حکومت ترلاسه کړ، او په هغه جګړه چې له عمرو لیث سره پیښه شوه ماتې وخوړه. (۳۵ : ۲۵۳).

(c) ketabton.com: The Digital Library

او بلخ د عمرو تر واک لاندې وې، خو عمرو د رافع له ماتې وروسته غوښتل چې خوارزم هم دده تر واک لاندې راشي.همدا لاملونه وو، چې د اسمعیل ساماني او صفاري پاچا عمرو لیث ترمنځ جګړه ونښته، چې په جګړه کې عمرو لیث ماتې وخوړه، اسمعیل ساماني لومړی هغه بندي او بیا یې د عمرو د غوښتنې او هیلې برخلاف بغداد ته واستلو، چې له دوو کاله بند وروسته په ۲۸۹ هجري قمري کال کې وفات شو ( ٤٦: ۲۲).

عباسي خلیفه د خراسان د ځینو سیمو د حاکمیت فرمان د اسمعیل ساماني په نوم صادر کړ. اسمعیل ساماني د طبرستان د محلي امیر محمد بن زید طبري او د شمال د ترکانو له مشر ایلک خان[1] سره جګړې وکړې، او په دې جګړو کې بریالې هم شو. د ساماني دولت د نفوذ ساحه پراخه شوه، کله چې اسمعیل ساماني له رافع څخه خوارزم وغوښت، هغه په ورین تندي د خوارزم حاکمیت اسمعیل ته وسپاره او اسمعیل خپل استازی هلته واستاوه. په دې ترتیب د سامانیانو ریښتنی بنسټ ایښودونکی اسمعیل بن احمد ساماني واک ته ورسید. په هغو محلي واکمنانو کې چې د بغداد د خلیفه له اطاعت څخه یې غاړه غړولې وه، یو هم شاه اسمعیل ساماني و. اسمعیل ساماني چې د خراسان او ماورالنهر حکمران و. په ۲۷۹ هجري قمري کال کې یې کندهار، زابل او غزنی ونیول، بخارا یې د خپل دارالخلافت په توګه وټاکله او خپل ځان ته یې د پاچا لقب ورکړ. دې کورنۍ نژدې یوه پیړۍ پاچاهي وکړه ( ۳٦: ٦۰).

دده په وخت کې سامانیانو د صفاریانو د واک لاندې ډیري سیمې ونیولې، په خوارزم او ماورالنهر کې یې د بغداد د خلافت د موافقې او رضایت سره سم حاکمان مقرر کړل. د خراسان، ماورالنهر او خوارزم زیاتې برخې د دوي په واکمنۍ کې شاملې شوی، پخپله اسمعیل ساماني یو عادل شخص و، په اداره او سیاست کې یې پوره وړتیا درلوده. نصر ته د پنځه سوه زرو درهمو د نه لیږلو اصلي دلیل دا ؤ

---

[1] ایلک خان د ترکانو له قبایلو څخه و، چې د فرغانې په جنوب کې اوسیدل، لکه د ترکانو د نورو قبایلو په شان د لسمې پیړۍ کې مسلمانان شوی وو. په لسمه پیړۍ کې دوی داسې یو حکومت جوړ کړ چې له فرغانی څخه یې د چین پولو پورې پراخوالی درلود. د قراختایانو چې ختیځ تورکان وو، پلازمینه یې کاشغرستان کې و او د ایلک خانیانو چې لویدیځ تورکان و پلازمینه یې (( اوزګند )) وو چې د فرغانې په جنوب کې موقعیت لري. په هر حال د ایلک خانیانو پاچا بغرا خان ماورالنهر ته لښکر کشي وکړه او په ۹۹۰ ز کال یې د ساماني دولت پلازمینه بخارا یې ونیوله، خو د ایلک خان د ناروغی له امله هغه بیرته خپل هیواد ته ستون او هلته مړ شو، چې دویم نوح د هغه له ناروغۍ او مړینې وروسته بیرته بخارا ته راستون شو او پر تخت کښیناست(۲۷: ۱۱۰).

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې امیر اسمعیل یو رعیت پال ، زړه سواندی او ځواکمن شخص و، نوموړی په دې راضي نه و، چې له ښار، کلیو اوبانډو څخه راټوله کړې مالیه بلې سیمې ته ولیږي. که چیرې د هغه ملک مشرتابه دده د مشر وروړپه لاس کې هم وي. غوښتل یې چې دغه راټوله شوې مالیه د ښار په ودانۍ او نورو ودانیزوچارو ولګوي، نو ځکه د نصر استولي کسان له بخارا څخه تش لاس بیرته ولاړل. له دې امله د دواړو ورونو ترمینځ تاوتریخوالی رامینځ ته شو. خو ده بیا هم خپل ورور وروسته وباخښه او بیرته یې د حاکم په توګه مقرر کړ ترڅو وفات شو(۳۵:۲۵٦).

د اسمعیل ساماني د واکمنۍ پلازمینه بخارا د ډیرو عالمانو او پوهانو مرکز و، دده په دربار کې مشهور علما اوسېدل، ابوالفضل محمد بلعمي چې یو پیاوړی عالم و، دده په حکومت کې د وزارت دنده درلوده. دده د حکومت پر مهال ډیرې مدرسې جوړې شوې، دري ژبې ته یې زیاته پاملرنه وکړه. اسمعیل ساماني د سلطنتي واک سربیره اخلاقي نفوذ هم درلود. دده پرهیزګاري ، ځوانمردي او ښو اخلاقو د هغه محبوبیت لاپسې زیات او دده په واکمنۍ کې د معمارۍ صنعت هم ډیر پرمختګ کړی و. په بخارا کې یې داسې ماڼۍ جوړې کړې چې په ټول خراسان کې یې شهرت درلود چې لا تر اوسه هغه ودانۍ شتون لري. د کرنې په برخه کې یې هم د پام وړ اقدامات وکړل (۴٦: ۲۲).

امیر اسمعیل ساماني بخارا ته نږدې په یوه اباده کلي کې چې د ازماز په نوم یادیده او دده ډیره خوښیده، د ۲۹۵ هجري قمري کال د صفری په ۱۴ مه چې د سې شنبې شپه وه د ٦۱ کلنې په عمر وفات شو. هغه ځای چې د اسمعیل ساماني د مقبرې په نوم شهرت لري، د اسلامي دورې د معمارۍ په تاریخ کې له مهمو ودانیو څخه شمیرل کیږي. اوس هم په بخارا کې د سیلانیانو د توجه وړ ده. دغه ماڼۍ دده له مړینې وروسته جوړه شوه. په دې مقبره کې له اسلام د مخه، د مرکزي آسیا د معمارۍ سبک په ښه ډول څرګندیږي. معماري یې په ساماني دورې پوره اړه لري (۳۹: ۲٦۷).

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۳,۳. د ابونصر احمد واکمني(۳۰۱-۲۹۵هـ ق)

(۲۹۲-۲۸٦ هـ ش)

(۹۱۴-۹۰۸ ز)

د امیر اسمعیل ساماني له مړینې وروسته د هغه د وصیت سره سم د هغه مشر زوی احمد د ابونصر د لقب په غوره کولو سره پاچا شو. نوی پاچا یو عصباني او جګړه خوښوونکی شخص و. لومړی یې خپل تره اسحق د سمرقند له حکومت څخه لیرې او بندي کړ، د طبرستان امیر چې ډیر ثروت مند شوی و پرهغه یې حمله وکړه، د طبرستان امیر له خپل ثروت سره بغداد ته وتښتید. ساماني پاچا د هغه په عوض بل حاکم وټاکه.

ابونصر احمد په ۲۹۹ هجري قمري کال هرات ته راغی، ډیره موده یې هلته تیره کړه. یو ټولګی عسکر یې د صفاري پاچا ابوعلي سره د جګړې په غرض، چې هغه تر رخج او بست پورې یې نفوذ درلود سیستان ته یې واستاوه. د سیستان ښار ته نږدې د دواړو قوتونو ترمینځ سخته جګړه ونښته، په پایله کې ابوعلي ماتې وخوړه او بندي شو، ساماني پاچا ابونصر احمد خپل وراره د ابوعلي په عوض په سیستان کې د حاکم په توګه مقرر کړ. ابونصر احمد ساماني ډیر وخت په ښکار او حرمسرای کې تیراوه ، دده دې سلوک د ساماني دربار لوړ پوړي چارواکې خفه کړل او دده د وژلو پلان یې طرح کړ، د څو تنو غلامانوله لاسه چې لا وار د مخه تطمیع شوي وو، په ۳۰۱ هجري قمري کال کې ووژل شو(۴٦:۲۳).

په سجستان کې معدل بن علي بن لیث د یعقوب لیث او عمرو وراره مخالفت پیل کړ. نصر بن اسمعیل د معدل بن علي د رعیت کولو په خاطر لښکر ولیږه. معدل بن علي بن لیث په دې جګړه کې ماتې وخوړه او بندي شو. نصر د سجستان په ولایت کې د خپل تره زوی ابوصالح منصور بن اسحاق بن احمد ساماني د حاکم په توګه مقرر کړ، خو د سجستان خلکو د منصور پر ضد پاڅون وکړ او هغه یې بندي کړ او د یعقوب لیث له زوی عمرو سره یې بیعت وکړ، خو نصر د دویم ځل لپاره لښکر ولیږه، عمرو د یعقوب زوی یې کلابند کړ، خو هغه سوله وکړه او سجستان یې د نصر لښکرو ته وسپاره (۷: ۲۰۷).

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۳,۴ . د نصر واکمني (۳۰۱-۳۳۱هـ ق)

## (۲۹۲-۳۲۲ هـ ش)

## (۹۱۴-۹۴۴ ز)

د ابونصر احمد بن اسمعیل ساماني له وژل کېدو وروسته د دربار مشرانو د هغه (۸) کلن زوی ابوالحسن نصر چې په امیر سعید هم مشهور و، د پاچا په توگه وټاکه. خو کوم وخت چې یې نصر له حرم څخه بیرون کړ، چې پر تخت کې کښینوي، خو هغه ډیر وړوکی یعني اته کلن کوچنی و، ویره پرې غالبه شوه؛ ژړل یې او ویې ویل چې ما چیرته بیایی، غواړئ ما هم ووژنئ څرنگه چې زما پلار ووژل شو، له ما څخه لیرې شئ، خو مشرانو نوموړی پرتخت کښیناو (۷: ۲۰۸).

ابوعبدالله محمد بن احمد الجیهاني چې یو مشهور ادیب او نیک سړی و، دده د وزیر او نایب په صفت تعین کړ. ترڅو نوموړی د بلوغ عمر ته ورسیږي د حکومت چاری به دغه نایب سرته رسوي او له هغه سره به مرسته کوي. دده د حکومت په لومړیو وختونو کې دده وروڼو ( یحي ، منصور، ابراهیم ) او د نوموړی تره اسحق بن اسد یو شمیر شورشونه وکړل، چې ترټولو مهم شورش د هغه د کاکا اسحق بن اسد شورش و، ځکه هغه په سمرقند کې ډیر واک او قدرت درلود. په ۹۱۴ ز کال اسحق له دوو جگړو وروسته د نصر له خوا ونیول شو چې بیا په بندیخانه کې وفات شو. احمد د سهیل زوی او حسین علي هم دده پر ضد په هرات او سیستان کې شورشونه وکړل، خو دده پوه او باتدبیره وزیر ابوعبدالله بن احمد الجیهاني دغه ټول شورشونه ارام کړل. نصر یو عادل، پرهیزگاره او علم پالونکی شحص و، د عالمانو په پالنه کې یې ډیر کوښښ کاوه، رودکي او شهید بلخي دده د واکمنۍ د شاعرانو له جملې څخه وو، د کلیله او دمنه قصه دده ّپه وخت کې له عربي ژبې څخه دري ته وژباړل شوه، چې د هغې د نظم کولو له امله رودکي ته یې اتیا زره درهم د انعام په توگه ورکړل. د رودکي هغه قصیده ( بوی جوی مولیان) چې د نصر ساماني لپاره یې ویلي وه اوس هم د ژبو پر سر ده. ختیځ مؤرخین د نصر ډیر ستاینه کوي او هغه له اسمعیل وروسته دویم پیاوړی پاچا گڼي او دده واکمني د ساماني کورنۍ د عظمت آخیرنی دوره گڼي (۴۶: ۲۴).

د نصر په واکمنۍ کې یوه مهمه پیښه په ری او ماورالنهر کې د اسماعیلیه فرقې پټ او ښکاره تبلیغاتو پیل و، چې خلک یې د مصر د فاطمي خلیفه تابعیت او پیروۍ ته رابلل. احمد نخشبی د دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

نهضت لارښوونکې د خپل فعالیت او تبلیغ په پایله کې په خپله امیر نصر د احمد زوی اړ کړ ترڅو ۱۱۹ زره دیناره د مروردي د مړیني د دیت په نوم د مصر خلیفه فاطمي ته ولیږي. امیر نصر ساماني اسمعییلې فرقې ته په گرزیدو سره، د ترک معتصبه غلامان او روحانیون او نور مسلمانان په قهر او دده پرضد راپورته شول. په گارد کې د ترکانو په مرسته یې د امیر نصر ساماني د وژلو توطیه جوړه کړه. د امیر نصر ساماني زوی نوح له دې توطیې څخه خبر شو او پلار ته یې وړاندیز وکړ چې د توطیه کوونکو مشر خپل حضور ته راوغواړي او سر دې ترې غوڅ کړي، نصر د خپل زوی خبره ومنله ، یو محفل یې جوړ کړ او خپلو افسرانو ته یې امر وکړ چې د توطیه کوونکو رئیس سر دې دده مخې ته کیښودل شي. وروسته یې اعلان وکړ، چې د خپل زوی نوح په گټه د خپل سلطنت څخه تیر او پاچاهي ده ته پریږدي. څرنگه چې نوح په اسمعیلیه طریقه باندي متهم نه و، د پوځ مشران د پاچا له دې غیر منتظره پریکړې څخه حیران شول او نوي امیر نوح بن نصر ته یې بیعت وکړ. خو نوح د نصر زوی چې کله واک ته ورسید لومړی کار یې دا و چې د اسمعیلیه فرقې مشر نخشبی یې دې ته اړ کړ چې د فقهي علماو سره بحث وکړي، چې په پایله کې د اسلامي فقهې عالمان پر نخشبي بریالې شول، لږه موده وروسته یې نخشبي په دې متهم کړچې له هغو پیسو څخه چې نصر بن احمد د مروردي د دیت په خاطر فاطمي خلیفه ته لیږلې وې څلویښت زره دیناره یې حیف میل کړی دی، په پایله کې نخشبي د مخالفینو له خوا له نیولو وروسته د بخارا په میدان کې پانسي کړ. په دې ډول د نصر بن احمد واکمني د هغه په استعفا سره پای ته ورسیده او پرځای یې دده زوی نوح پاچا شو (۲۲: ۲۹۰).

## ۳,۵. د نوح واکمني (۳۳۱-۳۴۳هـ ق)

## (۳۲۲-۳۳۴ هـ ش)

## (۹۴۴-۹۵٦ ز)

د نصر بن احمد له مړینې وروسته د هغه زوی نوح په ۳۳۱ هجري قمري کې واک ته ورسید. امیرالمؤمنین نوح بن نصر ته د خراسان د هغو سیمو فرمان ورکړ کومې چې دده د پلار په واک کې وې او دده واکمنۍ یې په رسمیت وپیژنده (۷: ۲۰۹). نوح، ددې لپاره چې د خلکوهغه احساسات او مخالفتونه چې دده د پلار (نصر) د واکمنۍ پرمهال د اسمعیلیه فرقې ته د ورگرځیدو په خاطر پیدا شوي وو، له مینځه یوسي. فقهي عالم ابوالفضل محمد بن احمد یې د خپل وزیر په توگه وټاکه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ابوالفضل محمد بن احمد الحاکم که څه هم د فقهي یو لوی عالم و خو د هیواد په ادارې او سیاست کې یې چندان مهارت نه درلود، په همدې علت دده په اداره کې ګډوډي مینځ ته راغله چې د نوح د دولت د ضعف سبب وګرځیده. د وزیر د مخالفینو مشر د سمرقند حاکم و، پر هغه باندې له کامیابیدو وروسته امیر هغه معاف کړ. نوح د ټولو مخالفینو سره له نرمۍ څخه کار واخیست. مګر ګټه یې ونه کړه. بوعلي چغاني بن محتاج د سامانیانو سپه سالار هم د نوح پر ضد پاڅون وکړ، د مروې او بخارا له نیولو وروسته یې د نوح کاکا ابراهیم سره یو ځای شو، او هغه یې د سامانیانو امیر وباله، دې کار د سامانیانود سقوط زمینه برابره کړه (۴٦: ۲۴-۲۵). د پوځ د مشرانو او د علم د دښمنانو یو ټولګی د نوح بن نصر په شاوخوا کې نفوذ پیدا کړ، له نوح څخه یې غوښتنه وکړه چې د نوموړي وزیر د کړنلاری له امله سیاسي وضعیت خراب دی، وزیر مونږ ته وسپاری، که نه مونږ به ستا له تره سره یو ځای شو. نوح بن نصر ، نوموړی عالم ظالمانو ته وسپاره، هغوی په ډیر ناوړه ډول وزیر وواژه، خو نوح بن نصر هم په ۳۴۳ هـ ق کې مړ شو (۷: ۲۰۹).

د نوح د حکومت دوره ( ۳۳۱-۳۴۳ هـ ق) کې د ساماني دولت د سقوط نښې په واضح ډول ښکاره شوې. د سقوط عمده لامل د نوح بن نصر د حکومت تګ لار و. نوح بن نصر د اسمعیلیه غورځنګ له غلي کېدو وروسته، ابوالفضل محمد بن احمد فقیه یې د خپل وزیر په توګه وټاکه. ابوالفضل محمد بن احمد خپل ډیر وخت په لمانځه او عبادت تیراوه او له حکومتي چارو سره یې دومره علاقه نه لرله. په دغه وخت کې ساماني دولت له سختواقتصادي او مالي ستونزو سره مخ شو. خو دا ستونزه هغه وخت زیاته شوه چې په ۳۴۳ هـ کال بغاوت کوونکو د ساماني دولت خزانه چور کړه. دولت ددې بحراني وضعیت د له مینځه وړولو لپاره امر وکړ چې خلک د راتلونکې کال مالیه مخکې له مخکې ورکړي، مګر حکومت بل کال د خلکو هغه مالیه حساب نه کړه او د خلکو پور یې ادا نه کړ. حکومت په دې کار دا ثابته کړه چې دوی د خلکو د پور د ورکولو توان نه لري. په دې ترتیب د نورو لاملونو په خوا کې مالي ستونزې د نوح بن نصر حکومت د سقوط سره مخ کړ. (۲۲: ۲۹۲).

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۳,٦. د عبدالملک واکمني (۳۴۳-۳۵۰ هـ ق)

## (۳۳۴-۳۴۰ هـ ش)

## (۹۵٦-۹٦۳ ز)

د نوح له مړینې (۳۴۳ هجري قمري) وروسته د هغه د پنځو زامنو هر یو عبدالملک، منصور، نصر، احمد او عبدالعزیز څخه عبدالملک پاچا شو. نوموړي، لومړی پخواني مامورین له دندو گوښه او پرځای یې نوي مامورین مقرر کړل. ابومنصور احمد د عزیز زوی یې د وزیر او بکر بن مالک یې سپه سالار او د خراسان د والي په توگه مقرر کړل، خو الپتگین یې د ټولو قواو سپه سالار وټاکه. عبدالملک له دغو تعیناتو وروسته د سامانیانو د واکمنۍ د پراختیا له پاره لښکر کشي پیل کړه، لومړی یې خراسان ته د ابوعلي محتاج د له مینځه وړلو لپاره لښکر راواستوه. بکر بن مالک ابوعلي محتاج ته ماتی ورکړه، بیا یې په اصفهان کې رکن الدوله ته مخه کړه، چې پر هغه هم بریالی شو، بکر بن مالک یو لایقه او پوه خو ډېر کبرجن اداره چي و، چې پوځي چارواکو ورڅخه کرکه کوله. عبدالملک ته یې شکایت وکړ، نوموړی دا ناراضي توب د خپلې پاچاهي له پاره خطر وگاڼه، دده پرځای یې الپتگین د خراسان د حاکم او سپه سالار وټاکه، چې وروسته نوموړی په افغانستان کې د غزنوي دولت بنسټ کیښود. خو عبدالملک په ۳۵۰ هـ ق کال د چوگان په لوبه کې له آس راولوید او مړشو(۴٦: ۲۵).

د عبدالملک له مړینې وروسته نوي شورشونه پیدا او خلکو پاڅونونه پیل کړل. ددې خبرې مهم لامل دا و چې د عبدالملک واک ته د رسیدو پرمهال د ترک د قوماندانانو زور او قوت ورځ تر بلې زیاتیده، چې ټولې حکومتي چارې د هغوی لاس کې وې. په سیاسي لحاظ په دغه وخت کې د الپتگین نقش ډېر زیات و. ځکه هغه د حاجب کل دنده ترلاسه کړې وه او د ترکي گارد د رئیس په توگه وټاکل شو، په دې خاطر چې د ترکانو نفوذ کم شي او عبدالملک، الپتگین له ځان څخه لرې کړي، هغه یې د خراسان د حاکم په توگه مقرر کړ. د هغه پر ځای د الپتگین پخوانۍ سردار د حاجب کل په توگه وټاکه. خو د عبدالملک له مړینې وروسته د هیواد د مشرانو ترمینځ اختلاف پیدا شو، ځکه الپتگین غوښتل چې د عبدالملک کوچنۍ زوی پاچا شي، خو د دربار مشرانو د هغه پر عوض د عبدالملک د ورور نوح بن نصر پلویان وو او هغه یې پاچا کړ(۲۲: ۲۹۴).

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۳,۷. د ابو صالح منصور واکمني (۳۵۰-۳٦٦هـ ق)

## (۳۴۰-۳۵٦ هـ ش)

## (۹٦۳-۹۷۹ ز)

کله چې عبدالملک له اوو کالو حکومت وروسته د چوګان د لوبې پرمهال له آس څخه ولویده، له لویدو سره سم مړ شو. د ساماني دربار مشران په دې فکر کې شول چې د عبدالملک له ورونو او زامنو څخه یو تن د هغه د ځای ناستی په توګه وټاکي. ابوعلي محمد بلعمي د عبدالملک وزیر، چې له الپتګین سره یې دوستي درلوده، ، او د هغه له مشورې پرته یې کوم کار نه کاوه، په همدې خاطر یې الپتګین ته یو لیک راولیږه او د ځای ناستې په اړه یې د هغه د نظر غوښتنه وکړه. الپتګین د هغه د ځای ناستې لپاره د عبدالملک زوی نصر خوښ کړ، خو مخکې له دې چې بخارا ته د الپتګین لیک ورسیږي، د ساماني دربار نورو سردارانو د عبدالملک ورور منصور د ځای ناستې په توګه ټاکلې و. له همدې ځایه د نصر او منصور د پلویانو ترمینځ د نظر اختلاف پیدا شو، دا اختلاف دومره زیات شو چې الپتګین د نیشاپور ښار پریښود او له خپلو عسکرو سره یې د سامانیانو د پلازمینې په لور حرکت وکړ(۴٦: ۲٦).

د امو د سیند په خوا کې د الپتګین د فوځونو او د بخارا د عسکرو ترمینځ جګړه ونښته، خو الپتګین د ماورالنهر په نیولو بریالی نه شو، د مجبوریت له مخې غزني ته راوګرځید، الپتګین د غزني ښار ونیو او هلته یې د غزنویانو د سلطنت بنسټ کېښود. خو په ۹٦۱ ز کې د عبدالملک ناڅاپي مړینې د هیواد وضیعت ډیر کړکیچن حالت سره مخ کړ او بې نظمي زیاته شوه، حتې په دې ګډوډۍ کې د پاچا قصر هم چور او وسوځول شو. که څه هم بلعمي د الپتګین د غوښتنې سره سم د عبدالملک ځوان زوی نصر واک ته ورساوه، خو د نصر حکومت له یوې ورځې زیات دوام ونه کړ، ځکه د سامانیانو سلطنتي کورنۍ او د ګارد مشرانو د ابو صالح منصور پلوي کوله. فایق چې د منصور د کوچنیوالی ملګری و، د هغه په پلوي یې پاڅون وکړ، چې ددې مخالفتونو په پایله کې منصور واک ته ورسید. الپتګین دوی ټول ترک کړل، خو بلعمي د منصور د حکومت طرفداري وکړه چې د مړینې تر ورځې پورې وزیر پاتې شو(۲: ۱۳٦).

(c) ketabton.com: The Digital Library

د منصور د واکمنۍ پرمهال د سیستان حاکم خلف د احمد زوی د حج د فریضې د ادا کولو په خاطر مکې معظمې ته تللی و. د بیرته راګرځیدو پرمهال د طاهر بن حسین له مخالفت سره مخامخ شو. ساماني منصور له خلف سره مرسته وکړه او هغه یې بیرته حکمرانۍ ته ورساو. لږه موده وروسته خلف پخپله د سامانیانو سره جګړه وکړه، منصور د هغه سره له یوې اوږدې جګړې وروسته په سوله راضي شو. منصور یو سوله خوښوونکې او امن غوښتونکې پاچا و. د نوموړي له مړینې وروسته د هغه زوی دویم نوح واک ته ورسید( ۴۶: ۲۶).

د ابو منصور بن نوح واکمنۍ په ارامۍ سره تیره شوه، کومه مهمه پیښه په کې واقع نه شوه. خو دده د واکمنۍ پرمهال د حکومت د دربار مصرف د دولت له عوایدو څخه زیات شو. ده د عوایدو د زیاتوالي او چور چپاول په خاطر په نورو سیمو یو شمیر حملې وکړې. په پایله کې د کورنیو ځمکوالو (فیوډالانو) مخالفتونه زیات شول. هغوی د محلي ازادیو او خودمختارۍ غوښتونکي وو. د دولت عایدات د لښکرکشیو او د فیوډالانو د پاځونونو له امله ډیر زیان ولید، د حکومت کمزوري ورځ تر بلې زیاتیده، چې قراخطایانو د حملې په مقابل کې ماتې وخوړه (۲۲: ۲۹۵).

## ۳,۸. د دویم نوح واکمني (۳۸۷-۳۶۶هـ ق)

## (۳۷۷-۳۵۶ هـ ش)

## (۱۰۰۰-۹۷۹ ز)

د منصور له مړینې وروسته دده زوی دویم نوح چې لا ۱۳ کلن و پاچا شو. نوموړی د عمر په لحاظ کوچنی او د دولتي چارو له اجرا څخه عاجز و. د ساماني دولت ټولې سیاسي او دولتي چارې د دریوو تنو (ابوالحسین عبدالله د احمد عتبی زوی ، حسام الدوله ابوالعباس تاش او ابوالحسن فایق ) او د هغه د مور له خوا اداره کیدې. چې عتبی د وزارت دنده، ابوالعباس تاش د حاجب الحجاب ( د دربار وزیر) او د خراسان امارت او فایق د بلخ د حکمران دنده اجرا کوله. د ساماني دولت وزیرانو او آمرینو ددې پرځای چې د هیواد د ابادۍ او د شورشونو د ارامولو په خاطر خپله انرژي مصرف کړي، شخصي مسایلو ته یې په دولتي مسایلو ترجیح ورکړه. د خپل شخصي واک د زیاتوالي په خاطر یو د بل د له مینځه وړلو لپاره هلې ځلې پیل کړې وې. په پایله کې د ساماني دولت بحراني وضعیت نور هم کړکیچن او شورشونه زیات شول. په ځانګړي ډول د تاش او سیمجور چې د خپل پلار له مړینې وروسته

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خراسان حکومت یې تر واک لاندی و، له ابوالحسین عبدالله عتبی سره یې دښمني درلوده، د بلخ له حاکم ابوالحسن فایق سره یوځای شو او د استقلال له پاره یې هڅې پیل کړې. نوح د سیمجور د له مینځه وړلو او خراسان کې د وضعیت د ارامولو له پاره یو پوځ راولیږه او له سبکتګین څخه ( چې دا مهال یې ورسره ښې اړیکې درلودی) د مرستې غوښتنه وکړه. سبکتګین له خپل زوی سلطان محمود سره یو ځای د دویم نوح د مرستی لپاره ورغی. سیمجور ماتی وخوړه، ساماني پاچا دویم نوح سبکتګین ته د ناصرالدین او سلطان محمود ته د سیف الدوله لقبونه ورکړل، په خراسان او بلخ باندې یې ددوي حاکمیت په رسمیت وپیژانده(۴۶: ۲۷).

دویم نوح هڅه کوله چې د لویو نظامي ډلو له پوځي مشرانو، په ځانګړي ډول له ابوالحسن سیمجوري سره سوله وکړي. په همدې خاطر یې ابوالحسن سیمجوري ته اعزازي لقبونه ورکړل، کله چې ددوی حکومت ټینګ شو، د دویم نوح وزیر ابوالحسین بن عبدالله بن احمد عتبی په دې فکر کې شو چې د حکومت بیروکراسي پیاوړی کړي او پوځ تر خپل نفوذ لاندې راولي. دا کړنلاره ددې سبب شوه، چې یو قوي قوماندان ابوالحسن سیمجوري یې له دندې لیرې کړ. پر ځای یې تاش چې پخوا د عتبی د پلار غلام و، وټاکه. خو اصلي لامل دا و چې سیمجور دویم نوح ته مشوره ورکوله چې عتبی ځوان او د وزارت له چارو څخه عاجز دی نو پرځای یې جیهاني د وزیر په توګه وټاکه، هغه وه چې سیمجور یې له دندې ګوښه کړ دې وضیعت د نوح واکمنۍ د ځواکمن کېدو پرځای کمزوری کړه(۲:۱۴۰).

د دویم نوح د واکمنۍ په کمزورتیا کې د بغرا خان بن موسی د سلجوق لمسی مخالفت هم اغیزه درلوده، ځکه هغه د ابوعلي سره په پټه داسې تړون لاس لیک کړ چې د سامانیانو قلمرو به په خپل مینځ کې تقسیم کړي. بغرا خان چې کله ماورالنهر ونیسي د امو دریاب جنوبي ولایتونه به ابوعلي ته ورکوي. خو کله چې ۹۹۲ ز نوح بخارا پریښوده، بغرا خان د بخارا ښار ته داخل شو او د سامانیانو له خزانی څخه ورته ډېر غنیمتونه په لاس ورغلل. نوح په امل کې لښکر راغونډ کړ. عبدالله بن محمد بن عزیز یې له خوارزم څخه راوغوښت او د خپل وزیر په توګه یې مقرر کړ. ابو علي هم له بغرا خان څخه جلا او له نوح سره یو ځای شو، خو له نوح څخه یې وغوښتل چې ده ته د ((ولي امیر المؤمنین[1])) لقب

[1] ولي امیرالمونین: دا لقب د سامانیانو د کورنۍ ځانګړی لقب و، چې علي هم ددې لقب غوښتنه وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورکړي چې دا لقب د سامانیانو د کورنۍ ځانګړی لقب و. نوح د ابوعلي دا غوښتنه ومنله، له دې وروسته دویم نوح بیرته د بخارا ښار ته راوګرځید (۲: ۱۵۴).

سیمجور او فایق څه موده وروسته بیا د دویم نوح پر ضد شورش وکړ، خو دا ځل یې هم د سلطان محمود غزنوي له خوا ماتې وخوړه، سمیجور د محمود غزنوي لخوا بندي او بیا په ۹۹۷ ز کال کې مړ شو، خو فایق د ایلک خان په دربار کې پناه واخیسته او ترکان یې پر بخارا حملې ته وهڅول. مګر سبکتګین هغه له خپله ځایه دې خواته پرینښود. او ایلک خان شاته وتنبول شول. دویم نوح په ۳۸۷ هجري قمري کې مړ او په همدې کال سبکتګین هم وفات شو (۴۶: ۲۷).

د دویم نوح واکمني د سامانیانو په دوره کې یوه بحراني دوره وه. د نوموړي ډیر وخت د شورشونو په ارامولو کې تیر شو. خو بیا هم د ده په دربار کې عالمان او ادیبان اوسیدل. د دري ژبې مشهور شاعر دقیقي دده درباري شاعر و.

## ۳,۹. د دویم منصور واکمني (۳۸۷-۳۸۸هـ ق)

## (۳۷۷-۳۷۸ هـ ش)

## (۱۰۰۰-۱۰۰۱ ز)

د دویم نوح له مړینې وروسته د هغه کوچنی زوی دویم منصور چې بلوغ ته لا نه و رسیدلې پاچا شو. ټولې دولتي چارې د فایق او بکتوزن له خوا اداره کېدلې. ابومنصور عزیز چې د امیر سبکتګین له ویرې تښتیدلې و، بیرته یې راوست. ابومنصور عزیز بخارا ته د راتګ پرمهال د ایلک خان سره مرسته کړې وه، خو کله چې ابومنصور د دوهم نوح زوی سمرقند ته ورسید، ابومنصور عزیز یې بندي کړ، فایق هم دغه مهال په سمرقند کې و. ایلک د ابومنصور عزیز د ازادۍ غوښتنه وکړه او د هغه د خلاصولو لپاره یې لښکر بخارا ته راولیږه. امیر منصور د دوهم نوح زوی چې د ایلک خان د لښکر د رالیږلو خبر واورید له بخارا څخه بیرون شو او امل ته ولاړ، خو کله چې فایق بخارا ته راورسید او پاچاهی وضعیت یې خراب ولید ډیر خفه شو او امیر منصور بن دوهم نوح سره یوځای شو، او هغه ته یې وویل چې امارت یې ولې خالي پریښی دی، منصور بیرته بخارا ته راغی او د لښکرو دنده یې فایق ته پریښوده (۷: ۲۱۵).

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دويم نوح واکمني د دغو جاه طلبو جنرالانو او د ساماني دولت د نورو مشرانو د اختلاف په وجه له ستونزو سره مخ شوه. بکتوزن او فايق په اتفاق سره دواړه وتوانيدل چې دويم منصور ړوند او له واک څخه ليرې کړي. د هغه پرځای د هغه کوچنی زوی عبدالملک واک ته ورسوي. د دويم منصور د واکمنی په دوره کې ددې پرځای چې د ساماني دولت د وضعيت د بهبود لپاره کار وشي ، پر ځای يې نوموړی دولت د بحران خواته سوق کړ. خو د خود غرضو جنرالانو په واسطه دده ړنديدل او پرځای يې د کوچنی زوی پاچا کېدل ددې کورنۍ د سقوط زمينه برابره کړه ( ۴۶: ۲۸).

## ۳,۱۰. د دويم عبدالملک واکمني (۳۸۹-۳۸۸هـ ق)

## (۳۷۹-۳۷۸ هـ ش)

## (۱۰۰۲-۱۰۰۱ ز)

دويم عبدالملک د دويم منصور کوچنی زوی چې لا ماشوم و، واک ته ورسيد. هغه هسې په نوم پاچا و او د دولت له اداري څخه عاجز او ويې نشوای کولای چې د ساماني دولت د پرځيدو مخه چې د واک غوښتونکو فيوډالانو، د نظامي خود غرضو جنرالانو او ترکي غلامانو د مخالفتونو پواسطه سياسي وضعيت يې کړکيچن حالت سره مخ و، مخنيوی وکړي. د دولت چارې د بکتوزن او فايق پواسطه اداره کېدلې، دغو دواړو جنرالانو ( بکتوزن او فايق ) غوښتل چې د ساماني دولت اړيکې د غزنويانو له دولت سره خرابې او کمزورې کړي، په بدل کې يې د ايلک خان سره د ساماني دولت د پياوړي کېدو کوښښ کاوه.

غزنوي پاچا سلطان محمود غزنوي چې لا په بلخ کې و، له يوې خوا د ددويم منصور په ړنديدو خپه و، او له بلې خوا د بکتوزن او فايق په دې هڅو باندې زيات انديښمن شو چې هغوی د ايلک خان له دولت سره د ساماني دولت د اړيکو د پياوړي کېدو کوښښ کاوه. په همدې سبب سلطان محمود غزنوي د سامانيانو د پلازمينې په لور لښکر کشي وکړه. بکتوزن او فايق ته يې په مروه کې ماتې ورکړه. بکتوزن او فايق بخارا ته وتښتيدل، سلطان محمود له دې بريالیتوب وروسته خپل ورور نصر د نيشاپور او خراسان د سپهسالار په توگه مقرر کړ او بيرته غزني ته راوگرزيد. خو ايلک خان له خپل ټاټوبی کاشغر څخه حرکت وکړ، په ۳۸۹ هجري قمري کال يې بخارا ونيوله؛ دويم عبدالملک او د هغه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

کورنۍ غړي يې بنديان کړل. که څه هم د دويم عبدالملک ورور ابراهيم د لباس په بدلولو سره له بنديخانې څخه وتښتيده، خوارزم ته ولاړ او هلته يې يو لښکر برابر کړ او د سلطان محمود غزنوي له ورور نصر او ايلک خان سره يې جګړې وکړې خو مثبته پايله يې ترلاسه نه کړه، چې بيا په مروه کې نوموړی ووژل شو، چې د ابراهيم په وژلو سره د ساماني دولت لړۍ پای ته ورسيده او ددوي ځای غزنوي دولت ونيو(۴۶: ۲۹)

## ۳,۱۱. د سامانيانو د عصر مدني، ټولنيز او فرهنګي حالت

په ماورالنهر او د خراسان په شمال کې د تاريخي ودانيو اثار ليدل کيږی. چې له هغې جملې څخه يوه د بخارا د کهندز ودانۍ ده. دا وداني د شپږو پاچاهانو د اوسيدو ځای و. پکې د خزانې د ساتلو او د بنديخانې خونې وې. دا وداني يو ځل ويجاړه شوه. د اصطخری په قول دوه دروازی يې درلودې. اما د بخارا د مدينې ښار اوه دروازی درلودی... د بخارا د ښار شاوخوا سيمې باغونه وو. او ټولې سيمې يې شنې وې چې پاچاهي ودانې د هغو په مينځ کې ليدل کيږي؛ رواني ويالې يې درلودې، بازارونه يې تل له شوره ډک او پاک وو ( ۸: ٦٧۲).

کوم ساماني دولت چې د نصر بن احمد ساماني په لاس جوړ شوی و ، او تقريباً يوه پيړۍ يې دوام وکړ. په دې دوره کې اسلامي فرهنګ او تمدن په مينځنۍ اسيا، افغانستان اود ايران ځينې برخې چې د دوي په واکمنۍ کې شاملې وې ډير پرمختګ وکړ. په دې دوره کې کرنې ، اوبو لګولو، څارويو روزنې، د وريښمو ټوکر اوبدلو او کاغذ[1] جوړولو ترقي وکړه. سره او سپين زر، قلعي، مس، سرب او نوشادر به د افغانستان او ماورالنهر په ځينو سيمو کې ايستل کېدل. د اسونو براق ، څرمن او صابون جوړولو، پوست ګنډلو، د غاليو اوبدلو صنعت او سوداګرۍ پرمختګ وکړ. په دې برخه کې د درملو، څارويو، کاغذ، پوستکو، لرګيو، وريښمو، غلې، غوړيو، کرډيو، صابون، ميوې، سپينوزرو، اوسپنې او مسو

[1] د سمرقند کاغذ د نړی د تمدن په تاريخ کې ځانګړی مقام لري. د مسلمانانو له ويناو څخه معلوميږي چې د سمرقند خلکو د کاغذ جوړولو فن له چينايي بنديانو څخه ياد کړی، چې زياد بن صالح په ۷۵۱ کې بنديان کړي وو. خو پروفيسور کربچيک Karabchek د تازه څيړنو پر بنسټ داسې حدس او کمان کوي، چې له زړو کاليو څخه د کاغذ جوړول په خپله د سمرقند د خلکو اختراع ده. ځکه له ۹۴۰ ز کال څخه مخکې چينايي کاغذ چې له زړو او فرسوده کاليو څخه جوړ شوی وي په بازارونو کې نه ليدل کېده . سر ايم اوريل شتين Sir.M. Aurelstein په خپلو څيړنو کې دا ثابته کړی چې چينايانو له زړو او فرسوده کاليو څخه کاغذ جوړ کړ او هغوي کاغذ په دويمه ميلادي پيړۍ کې اختراع کړی، چې په لسمه زيږديز پيړۍ کې د سمرقند د کاغذ د پاپيروس او پوستکو چې پر هغوي ليکونه کېدلې ځای په اسلامي هيوادونو کې ونيو. (۲: ۱۱۰-۱۱۱).

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوداګري په سمرقند کې دود شوه. د ماوراالنهر او افغانستان ښارونه د علماو، شاعرانو او هنرمندانو د ټوليدو ځای و. ساماني دولت علم پالونکي وزيران لرل لکه: ابوالفضل محمد بن عبدالله بلعمي، رودکي، ابو علي محمد بن ابوالفضل بلعمي، د طبري د تاريخ ژباړونکي، ابوعبدالله محمد بن الجيهاني، ابوعلي بن ابو عبدالله جيهاني، ابو عبدالله احمدابن ابوعلي جيهاني، ابوالحسن عتبی او يو شمير نورو علماو د علم او هنر په وده کې ژوره اغيزه درلوده(۲۷: ۱۱۱).

د سامانيانو د واکمنۍ دوره په آسيا کې د اسلامي فرهنګ او تمدن د پرمختګ دوره وه، د ساماني کورنۍ واکمنانو چې د سياسي واک د ټينګښت لپاره جګړې کولې، د علم او کلتور د پرمختګ لپاره يې هم ډيرې هلې ځلې وکړې. د ساماني واکمنانو د واک پرمهال مروه، بلخ، نيشاپور او بخارا د زده کړې او پوهې په مرکزونو بدل شول. او ددوی په واکمنيو کې عالمانو د لومړی وزير په توګه دنده اجرا کوله. ساماني پاچاهانو د عالمانو د پالنې په خوا کې خپل معلومات هم زياتول او د خپلو اولادونو تربيې ته يې ځانګړی پاملرنه کوله. د ساماني پاچاهانو له خوا به شاعران، اديبان او عالمانو تشويق کېدل. د ساماني پاچاهانو په دربار کې د عالمانو، شاعرانو او اديبانو شمير زيات وو(۴٦: ۳۱).

په ساماني دوره کې دري ژبې ښه وده وکړه، د نظم او نثر په برخه کې ښه اثار وليکل شول. لکه د طبري تفسير ، تاريخ طبري، کليله او دمنه په دري ژبه وژباړل شول. عجايب البلدان چې د ابوالموئيد بلخي اثر و، د منصوري منثوره شهنامه ، د سعودي منظومه شهنامه، د جوزجاني حدودالعالم او د الابنيه فی حقايق الادويه دهروي په همدې وخت کې تاليف شوي دي. يو شمير شاعران لکه شهيد بلخي، رودکي بخارايي، دقيقي بلخي ، رابعه بلخي او لسګونه نور شاعران په همدې دوره کې راڅرګند شول. په هغه اثارو کې چې نظر عربي لغاتو ته دري لغاتونه پکې ډير دي عبارت دي له بلعمي تاريخ او حدود العالم ګڼل کيږي. ددې دورې فيلسوفانو لکه ابو زيد بلخي، ابو سعيد سجزی، ابوسليمان منطقي، ابوجعفرخازم او ابو الوفا جوزجان؛ ديني عالمان لکه سليمان سبتي، ابو حاتم سبتی، محمد بن الکتاب؛ او نامتو پوهان ابونصر فارابي او ابن سينا بلخي د سامانيانو د دورې پوهان وو. د سامانيانو په پلازمينه او نورو سيمو کې کتابتونونه موجود وو. اسماعيليه طريقه هم ددوي په واکمني کې رواج شوه. ساماني دولت د لسو وزارتونو (ديوانونو) لرونکې و. د شخصي چارو او درباري چارو منظم ديوان ، د مستوفي ديوان، اوقاف، قضا،رسائل ، مشرط، بريد، احتساب او د مشرف ديوانونه پکې راتلل چې د صدارت چارې ، د دربار وزارت، د ماليې چارې، عدلي چارې، شاهي تحريراتو او بهرنيو چارو دندې،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښاري امنيت ، مخابرات، احتساب، بلديه، او استخباراتو دندې يې ترسره کولې. وزارت ديوان د صدارت حيثيت درلود. په خپله وزير تر پاچا وروسته مقتدر شخص و. يوازې سپه سالار دده سره برابر ګڼل کيدای شو. د اشرافو ديوان به استخباراتي چارې هم سرته رسولې. بريد ديوان د مخابراتو کار کاوه. لويانو په خپلو کورونو کې جاسوسان او مخبران لرل. د احتساب ديوان د ښاروالي، او سيمه ايزه پوليسو په شان و. د مشرط امير لکه د پوليسو امر و. د دولت خزانې دوه برخې درلودې. يوه يې د عمومي دخل او خرڅ لپاره او بله برخه يې د پس انداز يا سپما لپاره ځانګړې شوې وې. پاچا ددغو ټولو تشکيلاتو په سر کې قرار درلود، چې يوازې او يوازې د خدای په نزد مسؤل و. د افسرانو مقررول، ليرې کول او تقاعد د پاچا واک ګڼل کېده . روحانيون او مذهبي عالمان د دولت د درناوي وړ وو(۲۷: ۱۱۳).

ساماني دولت ددغه پراخ تشکيل سره سره په دې بريالی نه شو چې هيواد کې مرکزيت ټينګ وساتي، ځکه سيستان، نيشاپور ، هرات، بلخ ، جوزجان او خوارزم- ټولو تقريباً د خپلواکو امارتونو بڼه درلوده. ساماني دولت له دوو مخالفو ځواکونو سره مخامخ و، يو يې محرومه طبقه او بل يې ځواکمن فيوډالان وو. دولت د ځان ساتنې لپاره د دواړو پر وړاندې په عسکرو ډډه لګوله. بل پلو ساماني پوځ د ترک له اجيرانو او ازادو عسکرو څخه جوړ و. سپاره او پلي عسکر د ليندۍ او غشي لرونکي وو. کله به يې توره او سپر ځينې وخت به يې زغرې هم استعمالولې. پلي عسکر به مخکې او سپاره به ورپسې و. د منجنيق استعمال، د اړيکو لارې پريکول او کلابند کول- د دښمن د ماتې لارې وې. پرته له دې پاچا له مرئيانو څخه جوړ ګارد درلود. دولت خپلو عسکرو ته د پيسو پرځای ځمکې ورکولې. د ساماني دورې په پای کې ساماني پاچاهان د افسرانو د لاس د آلې په توګه استعماليدل. د دولت عايد به په لاندې برخو کې لګول کېدل. د پاچا او دربار لګښتونه، د عسکرو او مامورينو معاشونه، د برجونو جوړول او ساتنه، د سيلابونو د ويجاړيو رغونه، د بنديانو لګښت، د ملا او مؤذن معاشونه، د پلونو جوړول، د ويالو کيندل. د مامورينو معاش به په شلو ورځو کې ورکول کېده ، چې بيست ګانی يې بلل. پاچا له وزيرانو څخه جوړ مشورتي مجلس درلود، خو د مجلس پريکړې د پاچا د ارادې مخنيوی نشو کولای، پاچا هيڅ قانون ته غاړه نه کيښوده، دربار له اشرافو، خدمتګارانو، شاعرانو، طبيبانو او بذله ګويانو څخه ډک و(۲۷:۱۱۶).

د سامانيانو مرکزي دولت ناچاره و چې د فيوډالانو د استقلال طلبانه تمايلاتو په مقابل کې مبارزه وکړي. د ساماني دولت ټولو واکمنانو د مرکزي حکومت د ټينګښت له پاره ډيرې هلې ځلې وکړې، مګر خپلې موخې ته ونه رسيدل. سامانيانو د فيوډالانو د پاڅونونو د مخنيوی په خاطر بانفوذه اشخاص د

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپلو سیمو د مسؤلینو په توګه وګومارل؛ خو دا سیاست هم ګټور تمام نه شو. د نصر د زوی نوح (۳۳۱-۳۴۳ هجري قمري) د حکومت په دوره کې د ساماني حکومت د سقوط نښانې ښکاره شوې. ځکه نوح بن نصر له خلکو څخه مالیات مخکې له مخکې د قرضې په بڼه اخیستل ، خو بیا یې هیڅکله د خلکو قرضه ورنکړه. بارتولد په دې عقیده دی ، چې د ساماني دولت د مالیاتو کلنۍ اندازه ۴۵۰ میلونه درهم وه، چې دا به ددوی په لاس کې وې او هغه خراج چې له ختیځو ولایتونو څخه اخیستل کېده ؛ د پاچا خزانې ته نه رسیده(۲۲: ۲۹۲).

که څه هم پورته د سامانیانو د دورې د دفترونو یادونه وشوه، خو دلته بیاهم د ځینو نومونه لیکو:

1. د وزارت دفتر: چې د هیواد ټولې سیاسي او اقتصادي چارې یې څارلې او په نورو ټولو دفترونو یې ریاست لاره.
2. د مستوفي دفتر: د حکومت مالي برخې یې تنظیمولې.
3. د امنیت دفتر: چې اوس مهال د کورنیو چارو وزارت ته ورته دی.
4. د شکایاتو اوریدو دفتر.
5. د خدماتو دفتر: چې د وزیرانو او نورو دولتي مامورینو کارونه یې سرته رسول.
6. د ځانګړې محکمې دفتر: ددې دفتر دنده د ځانګړو ځایونو څارنه وه.
7. د محتسب دفتر : دې اداري به شرعي چارې، جامې او د نورو شیزونو د پلورلو او پیریدلو څار کاوه.
8. د اوقافو دفتر: د جوماتونو او نورو وقف شویو ځایونو څار به یې کاوه او هغه به یې تر خپل واک لاندې ساتل.
9. د قضا دیوان: د خلکو د دعوو د حل او فصل کولو او نورو عرایضو پر وړاندې به یې هڅې ترسره کولې.

پورته دفترونه ټول شاهي سرای ته څېرمه په یوه ښکلې ودانۍ کې پراته وو، دغو ادارو په ولایاتو کې هم څانګې درلودې(۲۲: ۲۹۳).

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۳,۱۲. د سامانیانو د واکمنۍ د سقوط لاملونه

- هغو کوچنیو شهزاد ګانو ته واک سپارل چې د دولت له اداري څخه به عاجز ول.
- د لوړ رتبو چارواکو تر منځ  د واک د زیاتوالي په خاطر خپل منځي اختلافات.
- د فایق او بکتوزن له خوا د دویم منصور ړندیدل او د غزنوي پاچاهانو مداخله.

د پورته او یو شمیر نورو لاملونو په پام کې نیولو سره د سامانیانو دولت چې د اسمعیل ساماني له خوا د هغې بنسټ ایښودل شوی و، د دویم عبدالملک د دویم منصور د زوی د واکمنۍ پرمهال چې نوموړی ډیر کوچنی و د دربار مشرانو لخوا د پلار پر ځای د پاچا په توګه وټاکل شو. نوموړی د دولتي چارو له اداري څخه عاجز او واک د خود غرضو جنرالانو لاس ته ورغی چې  د واک په اخرو وختونو کې د ایلک خان د حملې په مقابل کې عبدالملک یې بندي شو.  دده په بندي کېدو سره د سامانیانو د واک لړی پای ته ورسید.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## لنډیز

د سامانیانو واکمني د ماورالنهر په تاریخ کې ځانګړی ځای لري. تاجکستان اوس هم خپله د چلند وړ پیسې د سامان په نوم یادوي. دغه کورنۍ چې اصلاً له بلخ څخه وه، مامون الرشید او طاهرپوشنجي د خپلې حکمرانۍ پرمهال د سامان خدات د زوی اسد څلور واړه زامن ( نوح، احمد ، یحی او الیاس) په ترتیب سره د فرغانی، سمرقند، چاچ (تاشکند ) او هرات د حاکمانو په توګه وټاکل، په دې ترتیب بیا وروسته، له بلخ څخه ماورالنهر ته ولیږدیدل.

د احمداسمعیل ساماني پواسطه ددې کورنۍ د سلطنت بنسټ کېښودل شو. په لومړیو وختونو کې د بغداد خلافت د صفاریانو په مقابل کې ددوی ډېره پلوي کوله، خو وروسته د سامانیانو ترمینځ د اختلاف او د دربار د مشرانو له خوا د کوچنیو شهزادګانو لکه دویم منصور او دویم عبدالملک واک ته رسولو له امله، چې هغوی د هیواد له ادارې څخه عاجز وو، د سامانیانو واکمني د سقوط لوری ته سوق کړه.

د سامانیانو د واکمنۍ دوره په آسیا کې د اسلامي فرهنګ او تمدن د پرمختګ دوره وه. سره ددې چې دوی د واکمنۍ د پراختیا لپاره جګړې کولې، د علم او کلتور لپاره یې هم ډېرې هلې ځلې کولې. د دوی د واکمنۍ پرمهال بلخ، نیشاپور او بخارا د زده کړو په مرکزونو بدل شول. بل پلو ته په سمرقند کې د څارویو، پوستکو، کاغذ، صابون او میوی سوداګری پیل شوه. ماورالنهر او د افغانستان لرغوني ښارونه د عالمانو او شاعرانو د ټولیدو په ځایونو بدل شول. د ساماني واکمنانو په دربار کې به ستر عالمان اوسیدل. لکه : ابوالفضل محمد بن عبدالله بلعمي، رودکي، ابوعلي محمد، ابو عبدالله بن محمد بن الجیهاني، ابوالحسن عتبی او نور. په ساماني دوره کې دري ژبې ښه پرمختګ وکړ. د نظم او نثر په برخه کې ښه اثار لکه د طبري تفسیر، تاریخ طبري، کلیله او دمنه په دري ژبه ولیکل شو.

ساماني دولت ډېر پراخه تشکیلات درلودل. اداري چارې یې د دیوانونو په واسطه اداره کیدلې، خو بیا هم دوی ونشو کولی چې د فیوډالانو او ځان غوښتونکو جنرالانو د مخالفت مخه ونیسي. ځکه فایق او بکتوزن وتوانیدل چې دویم منصور ړوند او له واک څخه لیری کړي او پر ځای یې د هغه کوچنی زوی واک ته ورسوي. د دوی عواید د برجونو په جوړولو، د عسکرو په معاشونو ، د سیلابونو پواسطه د ویجاړ شویو بندونو په رغولو، د بندیانو په معثیت، د پلونو په جوړولو، د ویالو په کیندلو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

نورو برخو کې مصرفیدل.  پاچا له وزیرانو سره یو مشورتي مجلس درلود، خو د مجلس پریکړو د پاچا د ارادې مخنیوی نه شو کولی. پاچا هیڅ قانون ته مسؤل نه و. دربار به تل له اشرافو، خدمت گارانو او بذله گویانو څخه ډک و.

د سامانیانو واکمنۍ هغو وړو شهزادگانو ته  واک  سپارلو، چې د هیواد له ادارې څخه به عاجز وو، د چارواکو ترمینځ اختلاف، د غزنوي دولت او ایلک خان مداخلو او یو شمیر نورو عواملو له امله سقوط وکړ. ځکه ایلک خان بخارا ونیوه؛ د عبدالملک کورنۍ غړي یې بندیان کړل خو د عبدالملک ورور ابراهیم د الیاس په وژلو سره له بندي خانې څخه وتښتید. خوارزم ته ولاړ، د لښکر له برابرولووروسته یې دسلطان محمود له ورور او ایلک خان سره جگړې وکړې، خو مثبته پایله یې ترلاسه نه کړه. بالاخره نوموړی په مروه کې مړ شو. د ابراهیم له مړینې سره سم د سامانیانو د دولت لړی پای ته ورسیده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پوښتنې

۱. آیا د عمرو په مقابل کې د بغداد خلافت د امیر اسمعیل ساماني سره مرسته کوله؟

۲. د سامانیانو په سقوط کې د کاشغر پاچا ایلک خان مخالفت څه اغیز درلود؟

۳.  آیا د ساماني دولت په سقوط کې د فایق او بکتوزن مخالفت اغیزه درلوده؟

۴. د دویم عبدالملک کوچنیوالی ددی دولت په سقوط کې څه اغیزه درلوده؟

۵. له ساماني دولت سره د غزنوي دولت د اړیکو د ښه والی لامل څه و؟

٦. سامانیان څه ډول واک ته ورسیدل؟

۷. سامان خدات اصلاً د کوم هیواد اوسیدونکې و؟

۸. سامان خدات ولي خپل زردشتي دین په خپله خوښه پریښود؟

۹. اسمعیل ساماني په کوم کال د ساماني دولت بنسټ کیښود؟

۱۰. سامانیانو په فرهنګي برخه کې کوم مهم خدمتونه وکړل؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

| د سامانیانو د کورنۍ د واکمنانو د واکمني موده | | |
|---|---|---|
| شمیره | د پاچا نوم | کال |
| ۱ | امیر اسمعیل ساماني | (295-279هـ ق)<br>(286-270 هـ ش)<br>(908-892 ز) |
| ۲ | ابو نصر احمد د اسمعیل زوی | (۳۰۱-۲۹۵هـ ق)<br>(۲۹۲-۲۸٦ هـ ش)<br>(۹۱۴-۹۰۸ ز) |
| ۳ | نصر د احمد زوی | (۳۳۱-۳۰۱هـ ق)<br>(۳۲۲-۲۹۲ هـ ش)<br>(۹۱۴-۹۴۴ ز) |
| ۴ | نوح د نصر زوی | (۳۴۳-۳۳۱هـ ق)<br>(۳۳۴-۳۲۲ هـ ش)<br>(۹۴۴-۹۵٦ ز) |
| ۵ | عبدالملک د نوح زوی | (۳۵۰-۳۴۳هـ ق)<br>(۳۳۴-۳۴۰ هـ ش)<br>(۹۵٦-۹٦۳ ز) |
| ٦ | ابو صالح منصور د نوح زوی | (۳٦٦-۳۵۰هـ ق)<br>(۳۵٦-۳۴۰ هـ ش)<br>(۹٦۳-۹۷۹ ز) |
| ۷ | دوهم نوح د منصور زوی | (۳۸۷-۳٦٦هـ ق)<br>(۳۷۷-۳۵٦ هـ ش)<br>(۹۷۹-۱۰۰۰ ز) |
| ۸ | دوهم منصور د دوهم نوح زوی | (۳۸۸-۳۸۷هـ ق)<br>(۳۷۸-۳۷۷ هـ ش)<br>(۱۰۰۰-۱۰۰۱ ز) |

(c) ketabton.com: The Digital Library


| | | |
|---|---|---|
| ۹ | دوهم عبدالملک د دوهم منصور زوی | (۳۸۹-۳۸۸هـ ق)<br>(۳۷۹-۳۷۸ هـ ش)<br>(۱۰۰۲-۱۰۰۱ ز) |

**۳,۱. جدول: پورتنۍ جدول د کتابونو له متن څخه د مؤلف په وسیله ترتیب شوی.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۱.3. گراف: لاندینۍ گراف د کتابونو له متن څخه د مؤلف په وسیله ترتیب شوی.**

**د ساماني کورنۍ واکمنان**



(c) ketabton.com: The Digital Library

دوهم نوح د منصور زوی (۳۶۶-۳۸۷ هـ ق)

↓

دوهم منصور د دوهم نوح زوی (۳۸۷-۳۸۸ هـ ق)

↓

دوهم عبدالملک د دوهم منصور زوی (۳۸۸- ۳۸۹ هـ ق )

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څلورم څپرکی

## د غزنويانو دولت

### پیلیزه

د غزنويانو مستقل اسلامي دولت وتوانيده چې په ټول افغانستان او د هند په ځينو برخو کې د اسلام مقدس دين خپور کړي، چې سرحدات يې هند او فارس ته رسېدل. دغه لويه امپراتوري د افغنستان د غزني له ښار څخه اداره کېده، چې د افغانستان په تاريخ کې ځانګړی ځای لري، ځکه غزنوي دولت د افغانانو پرمټ د هند په نيمه وچه کې د اسلام مقدس دين خپور کړ. په دغه څپرکي کې د غزني ښار د نوم د تسميې وجه، د الپتګين له خوا د غزني د ښار نيول او د غزنوي دولت بنسټ اېښودل، د ابواسحق ابراهيم، بلکاتګين، پريتګين او سبکتګين واکمني، په هند کې د سلطان محمود غزنوي فتوحات، د غزنويانو د کورنۍ د ټولو واکمنانو د واکمنۍ دوره او د سقوط لاملونه يې توضيح شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


په دې څپرکي کې د غزنویانو د عصر فرهنګي او ټولنیز وضعیت د دولسمې او پنځلسمې زیږدیزو پیړیو ترمینځ د افغانستان اوضاع ، خو د پوښتنو ترڅنګ کې د غزنویانو د کورنۍ د واکمنۍ د سقوط لاملونه تشریح شوي دي.

## ۴,۱. د غزنویانو د دولت مینځ ته راتګ

### ۴,۱,۱. غزني ښار

غزني ښار د تاریخ په اوږدوکې په مختلفو نومونو لکه غزني، ګزنیک ، غزنه (جزنه)، غزنین، غزنو، ګازاکه ، هوسی نا ، کنژک او ګنجک باندې یاد شوی دی. اوس د غزني پخوانی ښار د کابل- کندهار ترمینځ د یوې کنډوالې په بڼه پروت دی، خو لرغوني عظمت او برم یې اوس له څو خرابو پرته نور څه نه لري. د سلطان علاؤالدین جهان سوز په لاس له سوزولو مخکې یو آباد ښار و. هیوان تسنګ د غزني ښار هوسی نا بللی دی ، نوموړي لیکلي، چې دا ښار د یوې مستحکمې کلا په بڼه په یوه شنه او حاصلخیزه سیمه کې پروت دی . هیوان تسنګ لومړنی عالم دی چې هوسی نا ( غزنی ) یې د زابلستان پلازمینه وبلله ( ۴۲: ٦٨).

د غزني پخواني ښار په کلاسیکه بڼه جوړ او په یوه اوچته غونډۍ باندې پروت دی. یوه مظبوطه کلا او دیوال ورنه راچارپیر شوی او د یوې جنګي کلا بڼه یې خپله کړې ده، څکه د کلا په غاړو کې پاخه او کلک برجونه موجود وو، چې په دفاع کې ورڅخه ګټه اخیستل کېده . ( ۴۲: ۷۵).



**۴,۱. انځور: پورتنی انځور د غزني د پخواني ښار بڼه راښیي. (۳: ۱۲۴)**

(c) ketabton.com: The Digital Library

د غزني اوسنی ښار د غزني د ولایت مرکز دی، چې د کابل له ښاره ۱۳۵ کیلو متره واټن لري. د سمندر له سطحې په ۲۱۸۳ متره لوړوالي سره په یوه لوړه تپه باندې موقعیت لري او د سوق الجشي اهمیت لرونکی دی. د غزني ښار د سبکتګین په واکمنۍ کې هم پرمختګ وکړ، خو د سلطان محمود غزنوي په واکمنۍ کې له ځانګړي اداري، علمي، سوداګریز او اقتصادي اهمیت څخه برخمن شو، مګر د ګوډ تیمور لمسي له دې ښاره د یوې نظامي هډې په توګه ګټه اخېسته، خو د اورنګزیب په واکمنۍ کې نوموړی ښار بیا د پاملرنې وړ وګرزید. د انګریزانو د لومړي یرغل پرمهال یې ډېر زیان ولید، خو د اعلیحضرت محمد ظاهر شاه په واکمنۍ کې د ۱۳۴۳ ل کال د نوي اساسي قانون له مخې په نوي تشکیلاتي ویش کې غزني  د ولایت او د غزني ښار د هغه د مرکز په توګه وپیژندل شو. د غزني د نوي ښار بنسټ په ۱۳۳۷ ل کال کې کېښودل شو. ددې نوي ښار ودانیو او سړکونو د ۱۳۴۲ او ۱۳۴۷ ل کلونو ترمنځ یو څه پرمختګ وکړ.اوس دغزني ښار دپراختیا او پرمختګ په حال کې دی( ۳: ۱۰-۱۱).

## ۴,۱,۲. د غزنوي دولت بنسټ ایښودونکی

کله چې د الپتګین اړیکې د ساماني دولت له مشرانو سره خرابې شوې او د دوی ترمنځ جګړه وشوه؛ له جګړې وروسته الپتګین غزني ته مخه کړه. د غزني ښار یې د هغه وخت له محلي حکمران ابوبکر لاویک[1] څخه ونیو. او په ۳۵۱ هجري قمري کې یې د غزني په ښار کې د غزنوي مستقل دولت بنسټ کېښود.

د غزنوي د واکمنۍ دوره په افغانستان کې د خپلواک اسلامي دولتونو په لړ کې هغه دوره ده چې پکې د اسلام مقدس دین ته د پام وړ خدمتونه سرته رسیدلي دي. د غزني ښار یې د اسلامي مدنیت مرکز ګرزولې و. همدا لامل و، چې په ۱۳۹۱ ل (۲۰۱۳ ز) کال د نړۍ د اسلامي هیوادونو له خوا د غزني ښار د نړۍ د اسلامي تمدن د مرکز په توګه وپیژندل شو. دا ویاړ هم د غزنوي دولت د هغو خدمتونو پر بنسټ د افغانستان په برخه شو چې غزنوي دولت په ختیځ کې د اسلام د مقدس دین په خپرېدو او د اسلامي عالمانو په تربیه کې سرته رسولې وه.

---

[1] ابوبکر لاویک چې د ساماني منصور له لوري د غزني حاکم په توګه ټاکل شوی و. (۳۲: ۲۷۷).

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۴,۲. د الپتګین واکمني (۳۵۲-۳۵۱هـ ق

(۳۴۲-۳۴۱ هـ ش

(۹۶۳-۹۶۲ ز

الپتګین په ۲٦۷ هجري قمري کې زیږیدلی دی. د اسمعیل ساماني د زوی احمد په دربار کې غلام و ( ۳ :۱۷). نوموړی ډېر ژر د شاهي ګارد غړی او په شاهي ګارد کې د افسر رتبې ته ورسید. وروسته د حاجب الحجاب (دربار وزیر ) په دنده وګمارل شو. په ۹۵٦ ز کال د بلخ حاکم، په ۹۵۹ ز کال د ساماني پوځ د سپه سالار او د افغانستان د شمالي سیمو د والي په حیث مقرر شو. په ۹٦۰ ز کال په بخارا کې د عبدالملک له مړینې وروسته، الپتګین د عبدالملک ساماني وزیر ابوعلي بلعمي ته په یوه لیک کې ولیکل چې د عبدالملک زوی دې پاچا شي، مګر د دربار نورو مخورو د عبدالملک ورور منصور پاچا کړ. منصور د د الپتګین د ایل کولو په غرض پوځ راولیږه، خو الپتګین نوموړي پوځ ته د خُلم په دره کې ماتې ورکړه. له دې مخالفت وروسته الپتګین د غزني ښار د غزني له حاکم ابوبکر لاویک[1] څخه ونیو. په ۹٦۲ ز ۳۵۱ هجري قمري کې یې په غزني کې د غزنویانو د خپلواک دولت بنسټ کیښود. له سولې وروسته ساماني پاچا د خراسان د حکومت فرمان د الپتګین په نوم راولیږه.[2] الپتګین په ۳۵۲ هجري قمري کې ومړ او د هغه پرځای دده زوی ابواسحق پاچا شو (۲۷: ۱۱۷).

## ۴,۳. د ابواسحق ابراهیم واکمني (۳۵۵-۳۵۲هـ ق

(۳۴۵-۳۴۲ هـ ش

(۹٦٦-۹٦۳ ز

ابواسحق ابراهیم یو کمزوری، عیاش او بې کفایته شخص و، چې د پلار پرځای پاچا شو. دده د افغانانو غوښتنې نه شوای پوره کولی، عسکرو دده پرضد شورش وکړ. د ابوعلي لاویک زوی ابوبکر لاویک له دې وضعیت څخه ګټه واخېسته او د غزني په ښار یې حمله وکړه، د غزني د ښار له نیولو

---

[1] قاضي منهاج سراج جوزجاني د ابوبکر لاویک پرځای د انوک نوم ذکر کړی. (۷: ۲۲٦).

[2] الپتګین چې په غزني کې یو نوی سلطنت تشکیل کړ، خو د هغه دپاره د خپل سلطنت د پراختیا په مخ کې د کابل شاهانو سره زور وازمایې او جګړې څخه بله لاره نه وه، چې له کابل شاه سره د پېښور څخه تر کابله پورې پښتانه ملګري وو(۳۲:۲۷۷).

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروسته ابواسحق ابراهیم بخارا ته ولاړ او له ساماني پاچا څخه یې د مرستې غوښتنه وکړه. ساماني پاچا ډیر عسکر غزني ته راواستول. د غزني ښار د دویم ځل لپاره ابواسحق ابراهیم ونیو. ددې ښار تر نیولو وروسته ابواسحق ابراهیم د دویم ځل لپاره پاچا شو، مگر ډیر ژر په ۳۵۵ هجري قمري د ذوالعقدی په ۲۵ مه مړ شو. دده پرځای د الپتگین غلام، جنرال بلکاتگین واک ته ورسید(۳: ۱۸).

## ۴,۴. د بلکاتگین واکمني (۳۵۵-۳۶۵هـ ق)

## (۳۵۵-۳۴۵ هـ ش)

## (۹۷۷-۹٦٦ ز)

د الپتگین زوی ابواسحق وارث نه درلود. د دربار مشرانو او جنرالانو بلکاتگین، چې د الپتگین د ساتونکي گارد قوماندان و، د پاچا په توگه وټاکه. نوموړی یو عادل او پرهیزگاره شخص و. بلکاتگین په عسکرو ډیر گران و، نوموړي پوره لس کاله پاچاهي وکړه، په ۳٦۵ هجري قمري کال د گردیز په کلابندۍ کې مړ شو( ۴٦ : ۳۵).

## ۴,۵. د پریتگین واکمني (۳٦٦-۳٦۵هـ ق)

## (۳۵٦-۳۵۵ هـ ش)

## (۹۷۸-۹۷۷ ز)

د بلکاتگین له مړینې وروسته د غزنوي دربار مشرانو پریتگین، چې د الپتگین غلام او جنرال و، د پاچا په حیث وټاکه، خو نوموړي د عدالت او خدمت پرځای د ظلم او بې رحمۍ لاره غوره کړه. خلک دده له ظلم او ناوړه کړنلارې څخه په تنگ شول. ابوعلي لاویک د غزني مخکني حاکم له دې فرصت څخه گټه واخیسته، د کابل د پاچا کابل شاه له زوی سره یې یوځای پر غزني د حملې په نیت حرکت وکړ، مگر سبکتگین د لوگر د څرخ په سیمه کې د هغوي مخه ونیوله، په جگړه کې ابوعلي او د کابل شاه د پاچا زوی دواړه بندیان او ووژل شول. د غزني د دربار مشرانو پریتگین له واک څخه لیرې او پرځای یې سبکتگین د غزني پاچا کړ ( ۴٦ : ۳٦).

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۴,٦. د سبکتگین واکمني (٣٦٦-٣٨٧هـ ق)

## (٣٥٦-٣٧٦ هـ ش)

## (٩٧٨-٩٩٨ ز)

سبکتگین په ٣٣١ هجري قمري کال په ماورالنهر کې زیږدیدلی دی. پلار یې جوق نومیده، چې د خپلې قبیلې مشر و. ددې قبیلې په خوا کې یوه ترکي قبیله اوسېده. نوموړې قبیلې د جوق پرقبیلې حمله وکړه. د جوق د قبیلې د سیمې نیولو سره سم سبکتگین چې لا ١٢ کلن و د یادې قبیلې سره بندي شو. سبکتگین څلور کاله په بند کې پاتې شو. بیا په یوه سوداگرباندې، چې نصر نومیده د مرئیي په توگه وپلورل شو. سبکتگین له نصر سره و چې د جگړې او توري استعمال یې زده کړ. خپل صاحب ورڅخه ډیر خوښ و، نوموړی یې د خپلو مرئیانو د رئیس په توگه وټاکه. له همدې سوداگر نصر سره و، چې د اسلام مقدس دین یې قبول کړ. ( ٤٦: ٣٦).

نصر، سبکتگین بخارا ته له ځانه سره بوته، کله چې الپتگین په سبکتگین کې د زړورتیا نښې ولیدې، نوموړی یې واخېسته، په دې مهال الپتگین د ساماني عبدالملک حاجب الحجاب[1] و. څه وخت چې الپتگین د افغانستان د شمالي سیمو حاکم په حیث مقرر شو، سبکتگین هم ورسره و او د غزني د ښار په نیولو کې هم له الپتگین سره ملگری و (٧: ٢٢٦).

سبکتگین ډیر ژر د الپتگین د دربار وزیر او د هغه د معتمدو کسانو له جملې څخه وگڼل شو. د الپتگین له لور سره یې واده هم وکړ. د الپتگین د زوی ابو اسحق په واکمنۍ کې یې هم مهمه دنده درلوده. تر هغه وروسته د بلکاتگین او پریتگین په واکمنیو کې هم مهم شخص و او لوړه څوکۍ یې درلوده. سبکتگین د پریتگین د درباریانو له خوا د ٣٦٦ هجري قمري کال د شعبان په ٢٧ مه د جمعې په ورځ د پاچا په توگه وټاکل شو. له پاچا کېدو سره سم د غزنوي دولت دواکمنۍ د پراختیا په فکر کې شو، ترڅو په افغانستان کې د یو قوي دولت پواسطه ملي وحدت تامین او د هیواد د تجزیې او سقوط مخه ونیسي. لومړی یې بست ، قصدار ( بلوچستان ) او قلات جنوبي برخې ونیولې. په کابل کې د محلي دولت له مینځه وړلو وروسته د افغانستان ختیځ ته متوجه شو. د کابل هندوشاهي دولت چې د

---

[1] حاجب الحجاب د سبکتگین په واکمنۍ کې یو ځانگړی ارگان و چې د دربار چارې به یې سرته رسولې او د هغه مسؤل ته یې د حاجب الحجاب ( د دربار وزیر ) هم ویل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

صفاریانو د واکمنۍ پرمهال یې کابل پرېښود او د ګندهارا په ختیځو سیمو (لغمان او ننګرهار) کې یې خپل موقعیت ټینګ کړ. له لغمان څخه د ګنګ دریاب پورې سیمه یې تر نفوذ لاندې وه. د اسلامي لښکر د پرمختګ په مخکې یو لوی خنډ و. د پنجاب راجه جیپال چې د برهمن له قوم څخه و، د سرهند له انبالې څخه نیولې تر پېښور پورې په اوږدوالی، له کشمیر څخه نیولې تر ملتان پورې په پلنوالې دده واکمني وه. یعني د افغانستان ختیځه برخه دده تر لاس لاندې وه، کله چې نوموړی راجا د سبکتګین له نیت او هڅو څخه خبر شو، یو لوی لښکر یې راټول او د خپلې پلازمینې (لاهور) څخه یې د افغانستان په لورې حرکت وکړ، سبکتګین هم له خپل فوځ سره د هغه مخې ته ورغی (۳۶: ۶۲).

امیر سبکتګین د سلطنت په دویم کال ختیځ لورې ته لښکر کشي وکړه، څوکلاګانې یې ونیولې، په ډېرو ځایونو کې یې جوماتونه جوړ کړل. له زیاتو بریالیتوبونو سره بیرته غزني ته راوګرزید. دغه وخت په هندوستان کې راجه جیپال حکومت کاوه. د جیپال د حکومت ساحه له لاهور څخه تر لمقان او له کشمیر څخه تر ملتانه پورې پراخوالی درلود؛هغه په دې خاطر چې په ویهند کې اوسېده، نو د مسلمانانو له لښکر سره مخامخ شو، کله چې جیپال د مسلمانانو له حرکت څخه خبر شو، ورخطا شو، قوي پوځ، فیلان او سواره یې د مسلمانانو مخې ته راولیږل. د لمقان (لغمان) په میدان کې جګړې ته یې تیارې ونیو. لمقان د کابل او پېښور ترمینځ موقعیت درلود. امیر سبکتګین هم له غزني څخه د جګړې لپاره د جګړې ډګر ته راورسید، دواړو لښکرو جګړه پیل کړه. له سبکتګین سره د هغه زوی سلطان محمود غزنوي هم په دې جګړه کې ملګری و.))(۴۹:۲۵).

د دواړو لښکرو ترمینځ درې ورځې جګړه روانه وه[1]. سلطان محمود چې دغه وخت د خپل پلار د لښکر مشر او سردار و، سره له دې چې ډېر ځوان او بې تجربې و، خو په دغه جګړه کې یې ډېره میړانه وښوده او په ډېرې چالاکۍ سره وجنګیده. په پای کې راجه جیپال ته د خپل لښکر کمزوري ښکاره شوه. د پنځوسوو (۵۰۰) پیلانو او روپیو په ورکولو یې سوله وکړه او خپل یو معتبر امیر یې د سبکتګین سره د ضمانت (یرغمل) په توګه پرېښود او څو تنه مسلمان امیران یې د هغو شیانو د ورکولو په خاطر

---

[1] په جګړه کې پښتنو قوم ته ډېر زیان ورسیده ځکه د کابل او پېښور ترمینځ پښتانه پراته وو. بل پلو د سبکتګین په لښکر کې هم پښتانه وو چې ددوي په بریالیتوب کې ډېره ونډه درلوده او ددوي کورونه وران شول خو له کابل څخه تر پېښوره پورې د پښتنو ونډې ته په تاریخ کې ډېره یادونه نه ده شوې، یوازې البیروني لیکلي چې له اباسیند څخه تر کابله پورې علاقو کې پښتانه قبایلو یادونه کوي او داسې وایې چې دا خلک ډېرسرکښ، سرتیرې، زیړه او هندو مذهب دي.(۳۲: ۲۷۵).

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د سولې د تړون په وخت کې یې منلي وو له ځان سره لاهور ته بوتلل.خو کله چې راجه جیپال لاهور ته ورسید، خپل تړون یې مات او مسلمان امیران یې ونیول، غزني ته یې ځواب راولیږه تر هغه چې زمونږ هندو مشر خوشې نکړي، مونږ به هم مسلمان امیران خوشی نکړو. سبکتګین چې په دې جګړه کې له لغمان څخه تر سند سیند پورې سیمه نیولې وه، د جیپال ددې ځواب له خبرېدو سره سم د یو لوی پوځ سره د هند په لوری یې حرکت وکړ، راجه جیپال د هندي راجاګانو په مرسته د یو لوی لښکر سره له لاهور څخه د پیښور په لورې حرکت وکړ، په غالب ګومان د سند د سیند لویدیځ ته د پیښور په شاوخواکې د هندوانو او مسلمانانو ترمینځ جګړه ونښته، په پایله کې هندوانو ماتې وخوړه او سبکتګین بریالی شو.له دې بریا وروسته د افغانستان ختیځه برخه د لاهور له ریاست څخه آزاده شوه. د سند تر سیند پورې خطبه د سبکتګین په نوم جاري شوه. سبکتګین دوه سوه زره عسکر په پیښور کې پریښودل. د هغه ځای اوسیدونکي پښتانه چې د پیښور په شاوخوا کې اوسیدل په ډیرې کرارۍ اوتسلې سره تابع او د هغه ځای پښتانه یې په خپل پوځ کې شامل کړل (۳٦: ٦۲- ٦۳).

د سبکتګین او جیپال ترمینځ لومړی جګړه په ۳۷٦ هجري قمري پیښه شوه او جیپال د هندو شاهي دولت پاچا د پنجاب د راجه ګانو په مرسته د غزني په لوری حرکت وکړ، د کابل د سیند په غاړه د لغمان په سیمه کې د دواړو لښکرو ( مسلمانانو او هندوانو ) ترمینځ جګړه ونښته. جګړه د سبکتګین په بریالیتوب او د جیپال په ماتې سره پای ته ورسیده. د سبکتګین قوتونو له لغمان څخه د سند د سیند تر سواحلو پورې سیمې، چې د افغانستان طبعیي حدود دی، ونیولې. د نیول شویو سیمو خلکو ته یې د اسلام د مقدس دین تبلیغ کاوه، ډیر مسجدونه یې جوړ کړل. دومره ډیر غنیمتونه یې لاس ته راوړل، چې د غزنوي دولت او پوځ په پیاوړتیا کې یې ډیره مرسته وکړه. د غزنوي دولت د واکمنۍ د پراختیا لپاره یو بل لامل دا و چې د سامانیانو واکمني د داخلي مخالفتونو په وجه د زوال لورې ته سوق شوه. سبکتګین له دې وضعیت څخه ښه ګټه واخیستله، له نوح ساماني سره د ابوعلي سیمجور او فایق مخالفت، نوح مجبور کړی و چې له سبکتګین څخه د مرستی غوښتنه وکړي. سبکتګین د خپل زوی محمود سره د نوح مرستې ته ورغی. د ساماني پاچا مخالفینو ته یې ماتې ورکړه او د ایلک خان له خطر څخه یې هم خلاص کړ. ساماني پاچا سبکتګین ته ددې خدمت په مقابل کې د ناصرالدین او سلطان محمود ته د سیف الدوله لقبونه ورکړل. سلطان محمود غزنوي ته یې د خراسان سپه سالاري هم ورکړه. سبکتګین ، محمود په نیشاپور کې پریښود، په خپله لومړئ بلخ ته ولاړ، بیا یې غوښتل غزني


(c) ketabton.com: The Digital Library

ته راشي ، د لارې په اوږدو کې د باميانو او بلخ ترمينځ ، بلخ ته نږدې په ۳۸۷ هجري قمري کې وفات او غزني کې يې خښ کړ (۳۷:۴٦-۳۸).

قاضي منهاج سراج جوزجاني د امير سبکتگين د شخصيت په اړه داسې نظر لري:(( امير سبکتگين مرد عاقل و شجاع و ديندار و نيکو عهد و صادق و بی طمع از زمان مردمان، و مشفق بر رعيت و منصف بود. و هر چه در امرا و ملوک از اوصاف حميده بيايد، حق تعالی جمله او را کرامت کرده بود، و مدت ملک او بيست ويک سال بود، و عمر پنجاوشش سال بود، و وفات او به حدود بلخ بود...)) (۷: ۲۲۸).

سبکتگين په رعيت او عسکرو گران و. هغوي سره يې په سختو او ستونزو کې تل برخه اخيسته. دده له ښې ادارې څخه ټول خوښ وو. کله چې سبکتگين مړ شو نو د امير عادل لقب يې وګاټه... سبکتگين په سختيو کې صابر او د کلکې ارادې خاوند او خير رسوونکې شخص و. دده دوه زامن حسن او حسين په کوچنيتوب کې مړه شوي و او محمود، اسمعيل، نصر او يوسف ورڅخه پاتې شول. سبکتگين په خپلو اولادونو ډير شفقت درلود. د هغوي تعليم ته يې ډيره پاملرنه کوله. کله چې يې واک ترلاسه کړ، خپل ورونه، مور او خويندې يې راوغوښتل او په خوشحالۍ کې يې شريک کړل (۳۷: ۵۸).

**۴,۱. نقشه :لاندينۍ نقشه مونږ ته د الپتگين او سبکتگين د لښکر کشيو لورې راښيي.** (۴۴۹:۳۰)



(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۴,۷. د سلطان محمود غزنوي واکمني (۳۸۸-۴۲۱هـ ق)

## (۳۷۶-۴۰۹ هـ ش)

## (۹۹۸-۱۰۳۱ ز)

سلطان محمود غزنوي د سبکتگين زوی د جوق لمسی او د قرایجکم کړوسی په ۳٦۱ هجري قمري د محرم په لسمه شپه زیږیدلی دی. مور يې د زابلستان د يو نجيب شخص[1] لور وه. څرنګه چې د ختيځو شهزادګانو سره ښايي سلطان محمود غزنوي هم د هغه وخت په مدرسو کې قرآن حفظ کړي او په شريعت او حديثو کې يې زده کړې وکړي. په سياسي برخه کې سبکتگين پخپله هغه ته د هيوادنيو چارو ترسره کول وروښودل او خپلې ښودنې يې د پندنامې په نوم يوه رساله کې راوړې دي. سلطان محمود غزنوي په اداري چارو کې هم پوره بلديت درلود. کله چې سبکتگين د بست جګړې ته ولاړ، اوه کلن محمود يې په خپل وکالت په غزني کې پريښود او ابوعلي کرماني د هغه وزير و. څو کاله وروسته هغه ته د زميندداور د ولايت چارې وسپارلې. محمود په توره وهلو او نښه ويشتلو کې پوره مهارت درلود. دا تجربې يې له پلار سره په ګډو سفرونو او جګړو کې ترلاسه کړې وې، په ۳۷٦ هجري قمري په لغمان کې له جيپال سره او همدارنګه په ۳۸۴ هجري قمري له فايق او ابوعلي سيمجور سره په جګړه کې له خپل پلار سره يو ځای جنګيده. په وروستۍ جګړه کې ورته د سيف الدوله لقب ورکړ شو (۳۷:٦۰-٦۲).

سبکتګين شپږ زامن ( محمود، اسمعيل، نصر، يوسف، حسن او حسين ) درلودل. سبکتګين د مړينې پرمهال ، خپل کوچنی زوی اسمعيل چې د الپتګين لمسی و، د خپل ځای ناستې په توګه وټاکه. ځکه چې سبکتګين، الپتګين ته خاص احترام درلود. اسمعيل بلخ ته ولاړ او خپله پاچاهي يې اعلان کړه. عبدالحارث منصور بن نوح ساماني ته يې درناوی وکړ. هغه خزانه چې پلار يې په هلو ځلو راټوله کړې وه، عسکرو ته بحشش کړه. ده فکر کاوه که چيرې له سلطان محمود سره يې جګړه پيښه شي هغوی به د دې ننګه او ملاتړ وکړي ( ۳۷: ٦۵).

سبکتګين د اسمعيل د ځای ناستی له ټاکنې وروسته سلطان محمود غزنوي ته په دې مضمون يو ليک ليکي: اسمعيل مې د ځای ناستی په توګه وټاکه، چې ته ډير لوی کارونه په مخکې لرې، اميد دی چې ته به له دې مصلحت سره راضې يې. په غزني کې به ستا لپاره خطر نه وي. اسمعيل ستا له نږدې

[1] په همدې خاطر د سلطان محمود غزنوي د دربار شاعرانو هغه د محمود زابلي بللې دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مرسته کوونکو څخه دی. ته له هغه څخه ډیر ځواکمن یې ... . خو محمود خپل پلار ته ددې لیک ځواب ورنکړ (۳۰: ۹۸).

سلطان محمود چې په نیشاپور کې و، اسمعیل ته یې خبر ورکړ، چې دی د پاچاهي مستحق دی. ابوالحسن حمولی یې له یو لیک سره یو ځای اسمعیل ته راولیږه. او دا یې هم ورته ویلي و، چې مشر ورور ته په درناوي، د محمود د حقوقو او د ورورۍ د مینې په لرلو سره غزنی هغه ته وسپاري، د بلخ یا د خراسان ولایت به اسمعیل ته ورکړي. په لیک کې یې دا هم لیکلي و: که چیرې رښتیا هم اسمعیل عسکري لیاقت، تجربه او په کارونو کې کفایت لرلای، نو محمود به هیڅکله د پلار له وصیت څخه سرغړونه نه وې کړې. خو اسمعیل دا وړاندیز ونه مانه، د دغې پیښې له امله د جوزجان حکمران او عبدالحارث ډیره هڅه وکړه ترڅو چې دواړه ورونه سره پخلا شي او یو بل سره خبرې وکړي، خو اسمعیل ددغه مینځګړیو په هڅو شکمن شو او خبرو ته یې غوږ ونه نیوه. محمود اړ شو چې غزني ته روان شي او د تورې په زور خپل مقصد ترلاسه کړي. خو کله چې هرات ته راورسید بیا یې د سولې وړاندیز وکړ، اسمعیل بیا هم انکار وکړ (۳۷: ۲۶-۲۷).

اسمعیل د محمود له خوا د سولې وړاندیزونه د هغه د ضعف علامه ګڼله او د دربار د مشرانو د مشورو په اساس د محمود ټول وړاندیزونه رد او د جګړې تیارۍ یې ونیوه. سلطان محمود هم د جګړې لار غوره کړه. غزني ته نږدې د ۳۸۸ هجري قمري د ربیع الاول په میاشت کې د دواړو ورونو ترمینځ د پاچاهۍ پر سر جګړه ونښته. په پایله کې محمود بریالی شو او اسمعیل ماتې وخوړه او بندي شو. په دې ترتیب د اسمعیل د پاچاهۍ اوه میاشتی دوره پای ته ورسیده، او په بندیخانې کې مړ شو. سلطان محمود د واکمنۍ چارې په خپل لاس کې واخیستی ( ۳۷: ٦۵).

سلطان محمود د غزني د لویو پاچاهانو له جملې څخه دی. کله چې ده غزنی ونیو، اسمعیل تسلیم شو او د سبکتګین پرتخت کیناست. عالمان، سیاسي او نظامي مشران یې معاف کړل. دده د فرمان پربنسټ د سبکتګین قبر په ډیر ښه شان سره جوړ شو. د واکمنۍ په لومړي کال کې وتوانید د ټولو سیمو حاکمان تابع او د سبکتګین قلمرو تر خپل کنترول لاندې راولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

### ۴،۷،۱. د سلطان محمود غزنوي او ابوالحارث ساماني اړیکې

د سبکتګین د مړینې پرمهال، سلطان محمود غزنوي د سامانیانو د سپه سالار په توګه په نیشاپور کې اوسېده. محمود غزنوي غزني ته د راتګ پر مهال ساماني پاچا ابوالحارث د واکمنۍ له نیولو څخه خبر کړ. څه وخت چې محمود پر خپل ورور اسمعیل بریالی او د سبکتګین د قلمرو تر تصرف وروسته په خراسان کې د خپل قدرت په فکر شو، په داسې حال کې چې نوموړی کله غزني ته راتللو، ساماني پاچا ابوالحارث له فرصت څخه ګټه واخېسته، بکتوزن چې د سامانیانو دپوځ مشر او د خراسان د سپه سالارۍ او حاکم په توګه مقرر کړی و. سلطان محمود غزنوي د پورته خبر له خبرېدو، بیرته د پخواني مقام د لاس ته راوړلو په غرض د یو لښکر سره بلخ ته ولاړ او هلته میشت شو. له بلخ څخه یې د ساماني امیر څخه د خراسان د حکومت او سپه سالارۍ غوښتنه وکړه ، هغه ته یې ځان او سبکګین د خدمتونو یادونه وکړه. خو له ساماني امیر څخه یې مثبت ځواب ترلاسه نه کړ. ساماني امیر د خپل استازي پواسطه محمود ته د سلطنت د مبارکۍ په خوا کې د بلخ ، ترمز او هرات حکومت ده ته ورکړ. خو ده د خراسان له حکومت او سپه سالارۍ څخه یې ډډه وکړه. محمود بیا خپل استازی ابوالحسن حمولي د قیمتي سوغاتونو سره ساماني دربار ته ولیږه او یادونه یې وکړه چې ساماني پاچا باید دده د پلار خدمتونه هیر نکړي او ویې وویل چې ما باید دې ته اړ نکړې چې د سامانیانو مخالفت وکړم(۳۰:۱۰۷).

کله چې ابوالحسن حمولي بخارا ته ورسید. ساماني امیر هغه ته وزارت ورکړ، هغه د محمود دربار ته له راتګه ډډه وکړه. محمود له بلخ څخه نیشاپور ته حرکت وکړ ترڅو پخوانی مقام لاسته راوړي. بکتوزن محمود سره له جګړې ډډه وکړه، له نیشاپور څخه ووت او ساماني پاچا یې د سلطان محمود له حملې څخه خبر کړ. ابوالحارث د محمود د مقابلې په خاطر لښکر ترتیب او له پلازمینې څخه د خراسان په لورې روان شو. کله چې ابوالحارث سرخس ته ورسید، بکتوزن او فایق چې د ساماني دولت مشران وو، له ابوالحارث څخه ناراضي و، ابوالحارث (دویم منصور د دویم نوح زوی) یې ړوند او پرځای یې عبدالملک واک ته ورساوه. په ۳۸۹ هجري قمري کې. د ابوالحارث ( دویم منصور د دویم نوح زوی) له واکه د لیرې کېدو وروسته د هغه کوچنی زوی عبدالملک د بکتوزن او فایق پواسطه واک ته ورسید. محمود د منصور ړندیدل بهانه کړل. بکتوزن او فایق ته یې ماتې ورکړه، خراسان یې ونیو. د هرات او بلخ حکومتونه یې په رسمي ډول محمود ته ورکړل. د عبدالملک له مړینې وروسته د سامانیانو له

(c) ketabton.com: The Digital Library

مینځه تګ نور په خراسان[1] کې د محمود له پاره کومه ستونزه نه وه. نصر یې د نیشاپور د حاکم او سپه سالار په توګه په نیشاپور کې پرېښود. محمود په بلخ کې پاتې شو ترڅو وضعیت وڅاري او د بغداد خلافت ته یې د مذهبي او روحاني مقام په حیث خبر ورکړ. عباسي خلیفه القادر باالله محمود د فتح شویو سیمو د حکمران په توګه وپیژاند، د امین السلطنت او یمین الدوله لقبونه یې ورته ورکړل. په ۳۸۹ هجري قمري کې یې دده پاچاهي په رسمیت وپیژانده. سلطان محمود غزنوي په اسلامي دوره کې لومړنې پاچا و چې په ټول افغانستان کې یې محلي واکمنان تابع اویو قوي مستقل اسلامي دولت یې تشکیل کړ(۱۰۹:۳۰).

## ۴,۷,۲. د سیستان نیول

د سبکتګین د واکمنۍ پرمهال د صفاریانو واکمن خلف د احمد زوی د محمد لمسی له سبکتګین سره د اړتیا په اساس دوستانه اړیکې درلودې، خو دسبکتګین له مړینې وروسته وتوانیده چې د غزني دربار، له بحراني وضعیت څخه ګټه واخلي او د خپل زوی طاهر پواسطه پوشنج ونیسي. د طاهر د لښکر مشران سلطان محمود ته راغلل او هغه یې وهڅاوه چې پر سیستان حمله وکړي. سلطان محمود غزنوي په ۳۹۰ هجري قمري کال سیستان ته لښکر کشي وکړه. د غزني پوځونو؛ خلف چې په یوه محکمه قلعه کې اوسېده، کلابند کړ. دغې کلابندۍ ډېر دوام ونکړ، ځکه خلف پوهیده چې نوموړی د غزنوي پوځونو سره مقابله نشي کولی. د سولې وړاندیز یې وکړ. سلطان محمود د سولې وړاندیز ومانه، خو دده واکمني یې په سیستان کې پای ته ورسوله. سلطان محمود غزنوي خلف ته د اوسیدو د ځای د خوښولو اختیار ورکړ. خلف په جوزجان کې سکونت غوره کړ او څلور کاله په جوزجان کې واوسېده، خو وروسته یې د ایلک خان سره د یو خراب لیک د لیږلو له امله د محمود په دستور هغه ( خلف ) د ګردیز

---

[1] د خراسان نوم یې لومړی ځل واوریدو او په خپلو کتابونو او اثارو کې یاد کړل. لومړنۍ عربي لیکوال امام احمد بن یحی بن جابر بغدادي دی ، چې په بلازری سره شهرت لری. د دویمې هجري پیړی په ورستیو کې زیږدیدلې او په ۲۵۵ هجري کې خپل نامتو کتاب فتوح البلدان تالیف او اسلامي مؤرخینو لپاره یې دروند ماخذ پرېښې د خراسان کلمه استعمال کړی ده. خو د اسلام تر راتګ څخه وړاندې د افغانستان خاوره په دریو لویو برخو - شمالي (باختر) ، سویلي پراخه سیمه (نیمروز) او مینځني برخه (خراسان) ویشل شوی و. پر افغانستان د اسلامي لښکرو د راتګ پرمهال د باختر برخه له مینځه تللی وه او ځای یې خراسان نیولې و ، ځکه مونږ وینو کله چې د مسلمانانو لښکرو د فارس له هیواد څخه حتیځ لور ته راورسیدل او د هغه سمسورو سیمو تر فتحې وروسته یې د لومړي ځل لپاره د خراسان نوم واوریده او لاندینې ولایتونه او ښارونه یې د خراسان برخې وپیژندلې: د نیشاپور ولایت، هرات ولایت، تخارستان ولایت ، بلخ ولایت، ماورالنهر ولایت او د خوارزم ولایت.(۲۸ : ۶-۸).

(c) ketabton.com: The Digital Library

کلا ته ولیږه، چې په ۳۹۹ هجري قمري کې هلته مړ شو. د خلف له مړینې وروسته د صفاریانو حکومت سقوط وکړ او ددوي سیمې د سلطان محمود د قلمرو برخه وګرزیدې. بیرته غزني ته د راتګ پرمهال د اعتماد وړ قیچي حاجب یې د سیستان د حاکم په توګه وټاکه. محمود چې له سیستان څخه غزني ته ورسید، په سیستان کې شورش پیل شو. سلطان محمود دویم ځل سیستان ته لښکر کشي وکړه، شورش یې ارام کړ او خپل ورور نصر چې د نیشاپور حاکم و، د سیستان د حاکم په توګه مقرر کړ(۱۱۱:۳۰-۱۱۲).

### ۴,۷,۳. د غور نیول

هغه ټولې غرنۍ سیمې چې د هرات ختیځ او جنوب حتیځ، د سیستان جنوب اود جوزجان جنوب ته پرتې وی د غور یا غورستان په نوم یادیدې. د دغو سیمو شاوخوا سیمې د اسلامي فاتحانو له خوا فتح شوي وو. مرکزي سیمې له دې امله چې ورتګ ورته ستونزمن و، ازادې پاتې وې. یوازې د مندیش حکمران ابن سوري د سبکتګین واکمني ومنله. خو د سبکتګین له مړینې وروسته یې بیرته خپله ازادي وساتله، او ټاکل شوي پیسې به یې نه ورکولې، خو سلطان محمود د غور د شاوخوا سیمو له خلکو څخه د سرسلامتۍ محصول اخیسته. په ۴۰۱ هجري قمري کال سلطان محمود په خپله د غور په خوا روان شو. د هرات د حاکم التون نتاش او د طوس د حاکم ارسلان جاذب لښکرې یې مخکې کړې. ددغه لښکر خبر غورته ورسید. د غور د غرونو خلکو د جګړې لپاره تیاری ونیو او التو نتاش ته یې ماتې ورکړه، خو سلطان محمود ډیر ژر مرستې ته ور ورسید. او غوریانو ته یې وروسته له څو جګړو ماتې ورکړه. په دې ترتیب سلطان محمود دغور پلازمینه اهنګران ونیوله. محمد ابن سوري کلاګانې پریښودې. غرونو ته وخوت او د سلطان محمود پر ضد یې جګړه پیل کړه. خو سلطان محمود د مهارت او جسارت د لرلو سره سره پر محمد ابن سوري بریالې نه شو. محمود له یوه ځانګړې تاکتیک څخه ګټه واخیسته ( دوی د تیښتې په بهانه خپل ځایونه پریښودل، شاته ولاړل. غوریان چې ددوی ظاهري شاته تګ ولید، له خپلو سنګرونو څخه راووتل، د غزنوي لښکرو لټون یې وکړ. سلطان محمود ډیر ژر پرې راوګرزیده، په دې ډول یې د غوریانو تیت او پرک لښکر ته ماتې ورکړه. سلطان محمود مندیش د ابن سوري بل زوی ابوعلي ته وسپاره. ابن سوري او شیش یې بندیان غزني ته ولیږل. خو محمدابن سوري

(c) ketabton.com: The Digital Library

له اسارت څخه مرګ بهتر وګاڼه، هغه زهر چې د خپلې ګوتې له غمي لاندې يې ايښې وو، وڅښل. په لاره کې د کدن[1] Kidan په سيمه کې مړ شو( ۳۷: ۱۰۸).

سلطان محمود د غور د ختيځو برخو له نيولو وروسته  په ۴۰۵ هجري قمري کې د غور جنوب خواته لښکر کشي وکړه. د څو کلاګانو له نيولو وروسته بيرته غزني ته راغی. سلطان محمود غزنوي په ۴۱۱ هجري قمري د غور د شمال غربي برخې د نيولو لپاره د هرات حاکم مسعود له هرات څخه حرکت وکړ، تر څو دتب سيمې ته ورسيد او د  څو کلاګانو تر نيولو وروسته د تب حاکم تسليم شو او وعده يې ورکړه ټولې هغه کلاوې چې په غرستان کې يې نيولې وې هغه به بيرته سلطان ته ورکړي. ماراباد Marabad  چې د لارې په اوږدو کې موقعيت درلود. ددې سيمې حاکم هم د  خراج په ليږلو سره د مسعود متابعت وکړ. په دې ترتيب ټول غور يې ونيولو ( ۳۷: ۱۱۰).

## ۴,۷,۴. د قصدار يا ننني بلوچستان  نيول

د قصدار حکومت د ننني بلوچستان په شمال حتيځ کې د غزني له توابعو څخه شميرل کېده . په ۴۰۱ هجري قمري د قصدار حاکم د ايلک خان په لمسون غزني سره دښمني غوره کړه او د خراج له ورکولو څخه يې ډډه وکړه. سلطان محمود د ۴۰۲ هجري قمري په جمادي الاول کې قصدار ته لښکر کشي وکړه. قصدار يې کلابند کړ، د قصدار حاکم تسليم شو، د کلني خراج د ورکولو وعده يې وکړه. دا يې هم ومنله چې (۱۵) پيلان او ۱۵ ميلونه درهمه د جګړې تاوان به هم سلطان ته ورکړي. سلطان محمود د سولې شرايط ومنل ، باج يې پرې وټاکه او غزني ته راستون شو(۳۷:۱۱۱).

## ۴,۷,۵. د مکران نيول

د مکران سلطنت په لومړيو وختونو کې د بويه[2] کورنۍ تابع و. د اباسين سيند او د عمان  خليج ترمينځ د سمندر پر غاړه، د کرمان او بلوچستان په يوه برخه کې پروت و. کله چې د ال بويه ځواک او

---

1 عتبی ۲۴۴ مخ. طبقات ناصري ۳۲۱مخ. (کدن) د غزني او باميانو ترمينځ لاره کې و. د کدن دغه موقعيت د طبقات ناصري په (۳۲۴، ۳۴۳، ۴۳۱ او ۴۳۲ مخونو) تر يادونې او مقايسې وروسته ترلاسه شوی. د کدن موقعيت د غور شمال غرب ته موقعيت لري (۳۷:۱۰۸)

2 ابو شجاع بويه  د ايران د بويه پاچاهانو نيکه و، چې د قزوين څنګ ته د کياکاش اوسيدونکي و، او ويل يې چې دې د ساماني سلطان بهرام ګور له نسب څخه دی. کله چې ماکان بن کاکي طبرستان ونيو، ابوشجاع له خپلو دريو زامنو (علي، حسن او احمد) سره د هغه په حضور کې د ملازمت دنده ترلاسه کړه. په ۳۵۱ هجری کې ماکان د اسفار بن شيروبه له لاس

(c) ketabton.com: The Digital Library

واکمني پای ته ورسیده، د مکران[1] حکمران معدان لومړی د سبکتګین او بیا د محمود تابع و. کله چې سلطان محمود غزنوي په ۴۱٦ هجري قمري د سومنات ړنګولو پسې هند ته ولاړ، معدان مړ شو. له معدان څخه دوه زامن عیسی او ابوالمعسکر پاتې شول. د دواړو ترمینځ د واک پر سر جګړه ونښته، ابوالمعسکر[2] ماتې وخوړه، د سلطان محمود دربار ته یې پناه یوړه. محمود ابوالمعسکر په غیږ کې ونیو. عیسی د سلطان محمود له دې نیک چلند څخه وویریده، چې محمود به دده ورور ابوالمعسکر واک ته ورسوي. عیسی یو هیئت د نماینده ګانو په توګه سلطان ته ولیږه او له خپل ورور سره یې شخړه حل کړه. د سلطان محمود قهر کم شو او عیسی یې د مکران د حاکم په توګه په رسمیت وپیژانده. خو په ۴۲۰ هجري قمري کال کله چې محمود سلجوقیانو سره په جګړه بوخت و، عیسی دښمني پیل کړه او د مکران ازادي یې اعلان کړه. سلطان محمود تصمیم ونیو چې ابوالمعسکر د مکران پرتخت کښینوي، خو مخکې له دې کاره مړ شو (۳۷:۱۲۰).

## ۴,۷,٦. د ری، همدان او اصفهان نیول

فخر الدوله د ری د بویه کورنۍ حاکم په ۳۸۷ هجري قمري کې مړ شو. پر ځای یې د هغه ۹ کلن زوی مجدوالدوله پاچا شو، مور یې د خپل کوچني زوی نائب السلطنه شوه. کله چې مجدالدوله ځوان شو، غوښتل یې خپله مور لیرې کړي، خبره جګړې ته ورسیده. مجدوالدوله ماتې وخوړه او بندي شو. هغه د خپلې مور واکمني ومنله او له بند څخه آزاد شو. د مجدالدوله مور په ۴۱۹ هجري قمري کې مړه شوه. د حکومت چارې مجدوالدوله ته پاتې شوې. نوموړی له سلطان محمود څخه د مرستې غوښتنه وکړه. سلطان محمود په ۴۲۰ هجري قمري کې اته زره سپاره عسکر د حاجب علي په مشرۍ هلته واستول. مجدالدوله له سلو تنو عسکرو سره د هغه مخې ته ورغی، چې په ډیرې اسانۍ سره د دښمن لاس ته ورغی. ځکه، کله چې د راغلو عسکرو او سلطان د احترام په خاطر له آس څخه ښکته شو، ډیر

---

ماتې وخوړه او خراسان ته وتښتیده. اسفار هم د مرداویچ بن زیاد وواژه، په خپله د طبرستان حاکم شو. د بویه درې واړه زامن دده خواته ورغلل. مرداویچ د بویه مشر زوی علی ته د کرج (همدان ته نږدې پروت دی) حکومت ورکړ. دوه نور ورونه یې هم کرج ته ولاړل. د فتوحاتو په لړ کې علی فارس، حسن ری او احمد عراق ونیو. د مرداویچ له مړینې وروسته علی خپلواکي اعلان کړه، اصفهان یې هم ونیوه او د واک ساحه یې پراخه شوه (۳۷: ۲٦٦-۲٦۷).

[1] د مکران پایتخت کز Kiz نومیده . د ننني تربت کلي ته نږدې پروت و (۳۷: ۱۱۹).

[2] ابوالمعسکر د مکران معدان زوی و، چې د پلار له مړینې وروسته یې د خپل ورور عیسی سره د واک پر سر جګړه وکړه. په جګړه کې ابوالمعسکر ماتې وخوړه او د سلطان محمود په دربار کې یې پناه واخیسته. (۳۷:۱۲۰)

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژر د غزني د عسکرو له خوا په خيمه کې نظر بند شو. حاجب علي خپل عسکر د ری د ښار دروازو د نيولو لپاره وليږل. ددې بريالیتوب زيری يې سلطان محمود ته راوليږه (۳۷:۱۲۰).

سلطان محمود ډير ژر له جرجانيه څخه د ری خواته روان شو. د ۴۲۰ هجري قمري د جمادي الاول په نهمه د دوشنبې ورځ ښار ته ننوت، زيات غنيمتونه لکه يو مليون دينار نقدې پيسې ، نيم مليون ديناره جواهر، ۶۰۰۰۰ جوړې جامې او د طلا او نقرې ډير شمير لوښي يې په لاس راوړل. وروسته له هغه مجدوالدوله يې خپل حضور ته راوغوښت، بيا يې هغه له خپل زوی ابو دولف سره د بندي په توګه هند ته وليږه. سلطان محمود يو څه موده په ری کې پاتې شو. د ری د ادارې لپاره يې وړ کسان وټاکل. د ری د شاوخوا سيمو حاکمان ورته تسليم شول. يوازې ابراهيم بن مرزيان ديلمي مخالفت وکړ. سلطان محمود بيا په قزوين کې ابراهيم بن مرزيان ديلمي ته ماتې ورکړه، او نوی نيول شوی ولايت يې مسعود ته پريښود؛ امر يې ورته وکړ چې د بويه د کورنۍ تر واک لاندې نورې سيمې هم بايد ونيسي (۳۷: ۱۲۴-۱۲۵).

غزنوي لښکر د همدان او اصفهان د نيولو په نيت حرکت وکړ. لومړی يې په همدان يرغل وکړ. علاوالدين ابن کاکه ته يې ماتې ورکړه او همدان يې ونيو. بيا يې د اصفهان خواته حرکت وکړ. علاولدوله تستر (Tester) ته وتښتيد. مسعود په ۴۲۱ هجري قمري کې اصفهان ونيو. خو کله چې د سلطان محمود د مړينې خبر ورته ورسيد، مسعود، علاولدوله له خبرو وروسته بيرته د اصفهان د حاکم په توګه مقرر کړ، په دې شرط چې د کال شل زره ديناره خراج به ورکوي. په خپله ری ته ستون شو او له هغه ځايه نيشاپور ته راغی (۳۷: ۱۲۶).

### ۴,۷,۷. د فارس نيول

سامانيان په بخارا کې د سقوط په حال کې وو. په افغانستان کې سلطان محمود غزنوي د خپلواکۍ بيرغ پورته کړ. د سلطان محمود د قدرت او عظمت آوازې له خوارزم څخه تر هند پورې ورسيدې. د خراسان په لويديځ کې وضعيت کړکيچن و. په ۳۱۶ هجري قمري کې د زيار د کورنۍ د واک بنسټ د زيار زوی اويز پواسطه کيښودل شو، چې په ری او اصفهان کې يې حکومت درلود. همدارنګه د بويه د کورنۍ د واک بنسټ په ۳۲۰ هجري قمري ابوالحسن علی د ابو شجاع بويه پواسطه کيښودل شو چې د فارس په سهيل او د عراق په ځينو برخو کې يې پاچاهي کوله. د بويه درې زامنو

(c) ketabton.com: The Digital Library

درې جلا جلا امارتونه جوړ کړل، چې په تاریخ کې د دریودیالمه په نوم یادیږي. چې د پارس دیالمه، د ری او همدان دیالمه، د عراق دیالمه، اهراز او کرمان کې به تل د دواړو کورنیو (بویه او زیار ) ترمینځ جګړې وې. سلطان محمود غزنوي چې د هند زیاتې برخې نیولی وې، خوارزم یې هم نیولی و، د ترکستان په خانانو باندې هم بریالی شوی و، اوس په دې لټه کې ؤ چې لویدیځ طرف ته هم خپل نفوذ ته پراختیا ورکړي. لویدیځ لورې ته د لښکر کشۍ په پایله کې یې د ری ، اصفهان، همدان ، ګیلان، طبرستان، قزوین، ګرګان او مازندران ښارونه ونیول. او د افغانستان سرحدات یې عراق ته نږدې کړل. د بویه کورنۍ واکمني یې پای ته ورسوله (۴۶: ۴۶-۴۷).

## ۴,۷,۸. ختیځ لورې ته فتوحات

سلطان محمود غزنوي د افغانستان ستر ځواکمن واکمن و، چې په کلمَة الله یې راسخه عقیده لرله او غوښتل یې چې د خپل پلار په څېر د خپلو بریو لمن د اباسین پورې غاړې د هندوستان په پراخه ځمکو کې وغځوي. په همدې موخه یې پوځي سفرونه وکړل. محمود غزنوي چې کله واک ته ورسید، ډیر ژر په هند کې د فتوحاتو په فکر کې شو. دې هدف ته د رسیدو دپاره یې لومړی د یوه قوي سیاسي ځواک د جوړولو هڅه وکړه.

### ۴,۷,۸,۱. د ویهند جګړه

سبکتګین د ویهند[1] د هندوشاهي[2] کورنۍ پاچا د انند پال له زوی جیپال سره جګړه وکړه او د خپل سلطنت برید یې تر لغمان پورې ورساوه. محمود هم د خپل پلار لاره تعقیب کړه، کله چې د بغداد د خلیفه له خوا په ۳۸۹ هجري قمري کې د مستقل سلطان په توګه وپیژندل شو، پریکړه یې وکړه چې هند ته پوځي سفر وکړي .

---

[1] هغه وخت چې هندوشاهي دولت له کابل څخه وشړل شو ، ویهند یې دویم پایتخت و. البیروني لیکي : چې له پیښور څخه ۱۴ میله فاصله لري (۱۶: ۵۲۷).

[2] لسمه میلادي پیړۍ کې د هند د شهزادګانو یوه سلسله په داسې یوه سیمه چې له لغمان څخه تر سند او د جنوبي کشمیر له غرونو څخه د ملتان تر سیمې پورې پراخه وه. پلازمینه یې ویهند و. جبپال چې کله له بهیم څخه وروسته پاچا شو ، ډیر ژر یې د غزني حکمران سره شخړه پیل کړه. د غزني حکمران سبکتګین ، جیپال ته ماتې ورکړه. ټوله سیمه یې تر لغمانه پورې تر حکمراني لاندې راوستله ( ۳۷ : ۱۱۹-۱۲۰).

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ۳۹۱ هجري قمري کې د پنځلس زره سپرو عسکرو او يو شمير رضا کارانو سره يې له غزني څخه د هند لورې ته حرکت وکړ. پيښور ته نژدې يې پوځي قرارگاه جوړه کړه. جيپال د دولس زره سپرو، ديرش زره پلی او درې سوه پيلانو يو لښکر برابر کړ. د ۳۹۲ هجري قمري د محرم په اتمه د دوی ترمينځ جگړه ونښته. په جگړه کې هندوانو ماتې وخوړه. ډير غنيمتونه د مسلمانانو لاس ته ورغلل. جيپال له خپلو پنځلسو زامنو سره بندي شو. وروسته د سلطان محمود او جيپال ترمينځ د سولې تړون لاسليک شو. په تړون کې جيپال ژمنه وکړه چې ۲۵ زره ديناره او پنځوس پيلان به امير ته د جگړې تاوان ورکړي، نو ځکه يې هغه بيرته په خپل ځای مقرر کړ، خو د هغه زوی يې د دغه تاوان تر ورکولو پورې له ځان سره وساته. محمود د ويهند په لوري لاړ. د ۳۹۳ هجري قمري په پسرلي کې بيرته غزني ته راغی. جيپال پنجاب ته له رسيدو سره سم ځان وواژه، پرځای يې زوی انند پال پاچا شو (۳۷:۱۲۹).

### ۴,۷,۸,۲. د سند نيول

۳۹٦ هجري قمري کې سلطان محمود د ملتان د نيولو په نيت روان شو. د سند دسيند له کوزي برخې څخه پورې وتل له خطره ډک کار و. پريکړه يې وکړه چې د پيښور په سيمه کې له دغه سيند څخه پورې وځي. انندپال ته يې خبر ورکړ چې د افغاني پوځ ممانعت ونکړي، خو انندپال د ملتان د حکمران داود په ملاتړ پاځېد او د سلطان د عسکرو د مخنيوي له پاره مخ په پيښور راغی. سلطان محمود، انند پال ته سخته ماته ورکړه او د چيناب تر سيند پورې يې وځغلاوه. انند پال د کشمير غرونو ته وتښتيده. خو سلطان محمود له دې وړاندې ورپسې ورنغې، د ملتان په لورې روان شو( ۳۷ :۱۳۱).

کله چې سلطان محمود په ۳۹٦ هجري قمري کال په پنجاب او ملتان کې خپل فتوحات پيل کړل، نو د غازي لقب ورکړ شو. لومړی يې ملتان ونيو، خو د ملتان حاکم داود چې قرمطي مذهب يې درلود، خپل مذهب ته يې پريښود او ۷۵ طلايي درهم يې محمودته ورکړل. په ۳۹۸ هجري قمري کې انند پال د گواليار، قنوج، اجمير او يو شمير نور هندي راجا گان له ځان سره ملگري کړل، د پيښور او د سلطان محمود لخوا د نيول شويو سيمو د بيرته نيولو په خاطر يې له خپلو سيمو څخه حرکت وکړ. ددوي ترمينځ د نگر يا لنگرکوټ په قلعه کې جگړه ونښته. لنگرکوټ قلعه د هماليا د غرونو په لمن کې يوه کلکه او مستحکمه کلا وه چې د هند پانگوالو او راجاگانو خپله پانگه (طلا) هلته ساتلې وه. خو سلطان محمود غزنوي نوموړې قلعه هم فتح کړه. سلطان محمود ډيره خزانه (اوه لکه ديناره، اوه سوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

منه زرين لوښي او ۲۲ منه خالصه طلا، دوه زره منه خامه نقره، شل منه مختلف جواهرات ....) د لنگرکوټ له قلعه څخه لاسته راوړل. دغه غنيمتونه په ۴۰۰ هجري قمري کې درې ورځې ننداري ته کېښودل شول (۴٦: ۴۲).

د ۴۰۵ هجري قمري په پسرلی کې سلطان محمود غزنوي غوښتل د ناردين قلعه چې حکمران تريلوچنيال پکې حکمراني کوله، له مينځه يوسي ځکه هغه په لاهور کې د هندوشاهي د سلسلې له نورو حکمرانانو سره په يوځای کېدو سره يو قوي قوت جوړ کړی و او هڅه يې کوله چې په لاهور کې د غزنويانو نفوذ له مينځه يوسي. د ناردين کلا په لورې يې حرکت وکړ. کله چې تريلوچنيال د سلطان محمود له ورتگ څخه خبر شو، خپل زوی (بهيمپال) يې د کلا د دفاع لپاره وټاکه. سلطان محمود بهيمپال ته ماتې ورکړه او کلا يې فتح کړه. او ډير غنيمتونه د سلطان محمود په نصيب شول. د تريلوچنيال ځواک درې ورې شو. هغه د پنجاب ختيځ د سوالک Siwalik په غرونو کې له لاسه وتلو فوځونو په راټولولو شروع وکړه. يو ځل بيا يې پر محمود حمله وکړه، خو ماتې يې وخوړه. د سلطان محمود ددې بريا خبر ډيرو لريو ځايو ته ورسيد، چې په پايله کې د شاوخوا راجاگانو سلطان ته د وفاداری لوړه وکړه. او د هغو سيمو گڼ شمير خلکو د اسلام دين ومانه. سلطان محمود د دينې ښوونې لپاره هلته افغاني عالمان پريښودل او ډير جوماتونه يې جوړ کړل او په خپله د ۴۰۵ هجري قمري کال په اوړي کې بيرته غزني ته راستون شو ( ۳۷: ۱۳۷).

په ۴۰۹ هجري قمري کې محمود د کشمير د فتحې پريکړه وکړه. که څه هم هغه د جيهلم له سيند څخه تير شو د لوهرکوټ مشهور حصار چې هلته ډير هندوان جمع شوي وو، محمود دوه ځله حمله وکړه. کله چې د سلطان محمود لښکر له افغانستان څخه هند ته ورسيد. د قنوج او مترا (ماتوره[1]) په ښارونو کې، چې په هند کې د مدنيت مرکزونه وو او ډير معبدونه يې لرل، حمله وکړه. د لنگرکوټ چې د سلطان له مهمو فتحو څخه گڼل کيږی، ځکه ددې ښار په يوه معبد کې پنځه زره بتان چې سترگو کې يې ياقوت ځای پرځای شوي وو، او نور قيمتي اجناس موجود و، هم محمود ته په لاس ورغلل. وروسته د مترا، قنوچ او د گنگا درياب په غاړه کې چې ډيرې کلاگانې او زرهاو بوتان موجود وو

---

[1] ماتوره: د هند له مشهورو فرهنگي ښارونو څخه وه، چې هلته ډير معبدونه موجود وه. نوموړي ښار سلطان محمود غزنوي په په ۴۰۸ هـ ق (۱۰۱۸ م) کال فتح کړ. سلطان محمود چې کله د ماتوره ښار فتح کړ، په دې ښار کې پنخه بتان موجود وو. دغه بتان له سرو زرو څخه جوړ او د يو بت په سترگو کې دوه ياقوت ځای پرځای شوی وو. (۴۶: ۴۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغوی د فتحې لپاره تياري ونيوه. د قنوچ تر نيولو وروسته مظفر او منصوره يې هم ونيول. سلطان محمود ته په دې فتح کې پنځه پنځوس زره غلامان، ۳۵۰ پيلان او درې مليونه درهم په لاس ورغلل. کله چې سلطان له دې وروسته غزني ته راورسيد، په غزني کې يې د مشهور جماعت (عروس فلک) بنسټ کيښود. د عروس فلک مسجد په آسيا کې د معمارۍ په لحاظ ساری نه درلود. سلطان محمود په ۴۱۲ هجري قمري د کالنجر د نيولو لپاره اقدام وکړ، په لاره کې يې د گواليار کلا ونيوله ، او د کالنجر کلا يې هم فتح کړه (۴٦: ۱۴۳).

### ۴,۷,۸,۳. د سومنات فتح (۴۱٦ هـ ق )

### (۴۰۴ هـ ش )

### (۱۰۲٦ ز )

سلطان محمود غزنوي د پرلپسې فتوحاتو په لړ کې د هند ډيری سيمې ونيولې او د هندوانو يو شمير معبدونه يې وران او پرځای يې جوماتونه جوړ کړل. ټولو هندوانو به ويل چې سومنات زمونږ پر بتانو په غوسه شوی دی، که هغه خوښ وای، هيڅا به بتان نه وای تخريب کړای. کله چې سلطان محمود دا خبر واوريد. د سومنات د ويجاړولو دپاره، ترڅو د هندوانو پورته ادعا رد کړي په ۴۱٦ هجري قمري د شعبان په ۲۳ مه د دوشنبې په ورځ له ديرش زره منظمو سپرو او ډير شمير داوطلبو مسلمانانو سره له غزني څخه روان شو، چې د همدې کال د رمضان په ۱۵ مه ملتان ته ورسيد. هلته د وسايلو د چمتو کولو او بيديا کې د لارې د څيړلو او تثبيتولو لپاره تم شو. سلطان هر عسکر ته د اوبو لپاره دوه اوښان ورکړل او شل زره نورو اوښانو باندې يې وسايل او شيان بار کړل.د ۴۱٦ هجري کال د شوال په دويمه يې له ملتان څخه حرکت وکړ. د سختو لارو له طې کولو وروسته د ۴۱٦ هجري قمري کال د ذيقعدې په ۱۴ مه د پنجشنبې ورځ سلطان محمود هغه ښار ته چې هلته سومنات[1] بت ؤ، ورسيد. هغه د سمندر تر غاړې يوه کلکه کلا وليده. د کلا برجونه د برهمنانو په لاس کې وو. هغوی مسلمانانو ته په سپکاوي سره وويل، چې سومنات به له تاسې څخه هغه بدله واخلي کوم چې تاسو يې سپکاوې کړی دی. خو کله چې د کلا مشر خپله ناتوانې وليدله، يو ټاپو ته وتښتيده، ترڅو چې سلطان محمود بيرته راونه گرزيد هغه مشر هم سومنات ته رانغی (۳۷: ۱۳۷).

---

[1] د سومنات د بتانو خونه د کاتياوار د ايالت د شبعې جزيرې په جنوب کې چې لويديځ برخه کې موقعيت درلود. (۴۶: ۴۳) .

(c) ketabton.com: The Digital Library

سلطان محمود د سومنات کلا محاصره کړه. د کلا اوسیدونکو برهمنانو او د سومنات نورو پیروانو په کلکه دفاع کوله، خو د سلطان محمود پوځ د ۴۱٦ هجري قمري د ذیقعدې په۱۵ مه د جمعې په سهار پر کلا حمله وکړه، ماسپښین مسلمانانو د کلا برجونه ونیول او د اذان په کولو سره یې خپله کامیابي اعلان کړه. د کلا هندوان د کلا دننه معبدونو ته ننوتل، د بت پښو ته پریوتل او مرسته یې وغوښتله. دوباره یې په زیات جرئت او هیله بیا جګړه پیل کړه. د مسلمانانو پوځ ګډ وډ شو، مخکې له ماښام څخه هندوانو له دوی څخه هغه سنګرونه بیرته ونیول کوم چې نیولي یې وو. د شنبې ورځ د ذیقعدې په ۱٦ مه مسلمانانو بیا د کلا استحکامات ونیول او هندوان یې په شا وتنبول. هندوان بیا ډلې ډلې معبد ته ننوتل او له سومنات څخه یې مرسته وغوښته. خو د هندوانو دغه عصبیت د مسلمانانو په جرئت هیڅ اغیزه ونکړه. مسلمانان د کلا په نیولو بریالي شول. په پایله کې پنځوس زره هندوان د سومنات په دفاع کې ووژل شول(۳۷: ۱۷۰).

جواهر لعل نهرو د سومنات په اړه داسې نظر لري : سومنات یو لوی معبد و، چې د پیړیو په اوږدو کې هلته ډیر سوغاتونه جمع شوي وو. کله چې محمود هغه ځای ته نږدې شو، په زرګونو خلکو دې معبد ته پناه یوړه، هیله یې درلوده چې معجزه به مینځ ته راشي. هغه خدای چې دوي د هغه عبادت کوي ، ددوي ساتنه او ملاتړ به وکړي... په پایله کې محمود معبد ونیوه. پنځوس زره کسان چې هلته د ساتنې په انتظار کې وو، ټول مړه شول...)) (۴۵: ۳۱۲-۳۱۳).

سلطان محمود له دې بریالیتوب وروسته د ۴۱۷ هجري قمري کال د صفری په لسمه بیرته غزني ته راغی.

### ۴,۷,۸,۴. د جټانو سره جګړه (۴۱۸ هـ ق )

**(۴۰٦ هـ ش )**

**(۱۰۲۸ ز )**

جټان چې سلطان محمود، له سومنات څخه د بیرته راتګ پرمهال کړولي وو. له ملتان څخه یې حرکت وکړ، پریکړه یې وکړه چې په سیند کې د جټانو مقابله وکړي. خپل لښکر یې په بېړیو او وسلو سمبال کړ، جټانو هم د جګړې له پاره ترتیبات نیولې وو، کورونه او مالونه یې یو لیرې ټاپو ته یوړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځلور زره بېړې يې مجهزې کړې وې. خو د جټانو بېړۍ به چې کله د مسلمانانو له بېړيو سره ولګيدلې نو چپه او ډوبې به شوې. په پايله کې جټانو ماتې وخوړله. سلطان محمود په ۴۱۸ هجري قمري کال کې بيرته غزني ته راغی(۳۷ : ۱۷۷).

## ۴,۷,۹ . د سلطان محمود مړينه

سبکتګين له بلخ څخه د غزني پر لورې د سفر په لاره د ۳۸۷ هجري قمري کال په شعبان کې مړ شو. د هغه له وصيت سره سم اسمعيل پاچا شو، او اوه مياشتې يې پاچاهي وکړه. سلطان محمود له يوې جګړې وروسته چې د ۳۸۸ کال د ربع الاول په مياشت کې د دواړو ورونو  اسمعيل او محمود ترمينځ واقع شوه، محمود بريالی او پاچا شو. سلطان محمود د ۳۳ کالو (۳۸۸-۴۲۱هجري قمري) واکمنۍ وروسته د ۴۲۱ هجري قمري کال د ربيع الثاني په ۲۳ مه نيټه وفات شو. سلطان محمود په ۴۱۸ هجري قمري کال په هند کې د جګړو له امله په ځانګړي ډول د اوړي په موسم کې د جګړو د سختيو او تکليف له کبله يې د بدن ځواک ورځ تر بلې کميده. په ۴۱۸ هجري قمري کال له جټانو سره د جګړې پرمهال د ملاريا مکروب يې وجود ته ورننوت چې دغه مزمنې ناروغۍ ورته د اسهال او سل (نرې رنځ) سب وګرځيد. نوموړی دوه کاله په دغې شديدې ناروغي باندې اخته و. سلطان محمود هڅه کوله چې دغه ناروغي له خلکو پټه وساتي. طبيبانو ورته د بشپړ استراحت سپارښتنه کوله ، خو بيا هم سلطان محمود ورځنۍ چارې ترسره کولې. د ورځې دوه ځله يې خلک خپل حضور ته منل. خپل کلني سياحت  ته يې د پخوا په شان دوام ورکړ. د امپراتورۍ دننه يې ګرځيدل راګرځيدل پري نښودل. د ۴۲۰ کال ژمی يې په بلخ کې تير کړ، خو د بلخ آب او هوا دده پر وجود باندې ښه ونه لګيده. د ۴۲۱ هجري قمري په مينځ او د ۱۰۳۰ ز کال په اپريل کې غزني ته راورسيد. د ځای بدلون هم ګټه ونکړه. په غزني کې له يوې اونۍ وروسته د ۴۲۱ هجري قمري د ربيع الثاني په ۲۳ مه د پنجشنبې ورځ د سهار په ۹ بجو د ۵۹ کالو په عمر وفات شو. په هماغه ورځ يې د ماخستن د لمانځه پروخت په فيروز بڼ کې يې خښ کړ (۳۷: ۱۷۸-۱۷۹).

## ۴,۷,۱۰. د سلطان محمود شخصيت

سلطان محمود غزنوي د هغو پاچاهانو په جمله کې شامل دی چې د خپلو لوړو کارنامو له کبله نه يوازې په اسلامي تاريخ کې مشهور دی؛ بلکې د نړۍ په تاريخ کې هم ډير شهرت لري. د بغداد خليفه

(c) ketabton.com: The Digital Library

له خوا د سلطان په لقب ولمانځلی شو. دده مور د زابلستان د یو سردار لور او پښتنه وه. د پلار له لورې ترک ؤ. دا چې دی په افغانستان کې پیدا شوی او روزل شوی دی افغان دی. ولې پښتنو نوموړی د هغه د لوړو کارنامو له امله د خپل مشر او لیډر په توګه قبول کړ. په تخت باندې د سلطان محمود د کښیناستلو پرمهال د غزني حکومت لا ډیر پرمختګ نه و کړی، مګر ده د خپلې واکمنۍ قلمرو په یو عظیم سلطنت بدل کړ. دده په واکمنۍ کې بخارا، د فارس یوه لویه برخه او د هند ډیرې سیمې شاملې وې. پر هند باندې یې ۱۷ ځلی لښکر کشي کړیده. د سلطان محمود غزنوي د فوځونو اکثریت؛ پښتانه وو. دا خبره العتبي هم د هند د ناردین په جګړه کې تائید کړی وه. په دې جګړه کې ګڼ شمیر پښتانه دده سره ملګري وو (۲۸۱:۳۲-۲۸۲).

جواهر لعل نهرو د سلطان محمود د شخصیت په اړه داسې نظر لري : له سبکتګین وروسته د هغه زوی محمود پاچا شو. سلطان محمود یو ممتاز سردار، د سپرو عسکرو یو ښه لاربنود، پر هند یې ډیر کلونه پرلپسې حملې وکړې؛ ډیر غنیمتونه او بندیان یې له ځانه سره یوړل، اولس ځله یې پر هند حمله وکړه، یوازې یو ځل یې ماتې وخوړه، نور په ټولو حملو کې بریالی و (۴۵:۳۱۲).

سلطان محمود یو مسلمان او د قرآن حافظ و. د هند هره سیمه یې چې نیولې هلته یې د اسلام مقدس دین خپور کړی دی. ټول غنیمتونه یې د خدای ج د دین په لاره کې لګول. هغه د خلکو شخصي شتمنۍ او کورونو سره کار نه درلود. نوموړی مینځنۍ قد او جلبوونکې څېره درلوده. سلطان محمود یو مهربانه سړی و، له ورونو سره یې نرم چلند کاوه، له مامورینواو صاحب منصبانو سره یې ښه سلوک کاوه، هغوی به له مړینې وروسته هم هغه په نیک نوم یادوه. خپل ژوند یې د اسلام د سپیڅلي دین له اصولو سره سم تیراوه. د چا مخالفت یې نه شو منلې، خپله تیروتنه یې منله ، د قانون احترام یې کاوه او هیچا ته یې د قانون خلاف کړنو ته اجازه نه ورکوله.

### ۴,۷,۱۱. د سلطان محمود دورې ته یوه کتنه

سلطان محمود غزنوي د مینځنیو پیړیو او مخکنیو امپراتورانو په څېر د یو مطلق العنانه پاچا په توګه د درې واړو قوو ( اجرائیه، قضائیه او مقننه ) په سر کې قرار درلود. ده په خپل ژوند کې دا ثابته کړه چې د سکندر مقدوني او ژول سزار په څېر د نړۍ له لویو فاتحانو څخه دی؛ او د اسلام په تاریخ کې د سترو او مقتدرو اسلامي پاچاهانو په لیکه کې ولاړ دی. ده په خپل ژوند کې یوه لویه امپراتوري

(c) ketabton.com: The Digital Library

تشکیل کړه. د ده د امپراطورۍ سرحدات په لویدیځ کې د اصفهان، همدان او طبرستان پورې؛ په ختیځ کې د گنگا تر سواحلو پورې او په شمال کې تر سیر دریا پورې رسیده، تاسیس کړه. سلطان محمود په خراسان کې د یو مقتدرې امپراطورۍ په جوړولو، تر ډیره وخته پورې د افغانستان په سیاسي، نظامي، او اقتصادي لحاظ د اسلامي هیوادونو مقتدر دولت گڼل کېده . د اسلام مقدس دین یې په ټول افغانستان او هند کې خپور کړ (۴۶: ۴۷).

سلطان محمود هیڅکله په خپلو دندو کې بې عمله شخص نه و. نوموړی د دولتي چارو په سرته رسولو کې نه ستومانه کېده . له هرې ادارې څخه یې څارنه کوله . کله به یې چې ظلم، جبر او بې عدالتي ولیدله، ډیر ژر به یې مجرم ته سزا ورکوله او مظلوم ته به یې د جبران چاره کوله. د امپراطورۍ په لېرې سیمو کې په گرځیدو راگرځیدو سره یې د حاکمانو په زړونو کې دده محبوبیت زیاتوه. له صاحب منصبانو او دولتي چارواکو یې دوامداره څارنه کوله. سلطان محمود د ټول پوځ قوماندان او سپه سالار و. پخپله یې په جگړو کې گډون کاوه. بهرنۍ سیاست یې خپله شخصاً اداره کاوه. مهم مکتوبونه یې پخپله لیکل. لوړ رتبه مامورین یې خپله مقررول. له وزیرانو سره یې مشوره کوله. دده په دربار کې ډیر زیات شمیر قلموالو او شاعرانو حضور درلود. د سلطان محمود دولت یو قوي مرکزي دولت و.

سلطان محمود حکومت لاندې وزارتونه درلودل.

1. د دیوان وزارت ( وزیر مالیه )
2. عرض دیوان ( حربیه وزیر)
3. د رسالت دیوان ( دارالتحریر وزیر)
4. د شغل دیوان ( وزیر د اشرف الملوک یا استخبارات)
5. دیوان وکالت یا د دربار وزیر

په ولایتونو کې جلا ادارې موجودې وې. (۳۷: ۱۸۴).

د سلطان محمود غزنوي په دربار کې د وخت مشهور شاعران او عالمان لکه عنصري بلخي، فرخي سیستاني، منوچهري ، فردوسي ( د شهنامې لیکونکې)، ابوریحان البیروني، ابن سینا بلخي، احمد حسن میمندي ، العتبی او داسې نور موجود وو. ډیر اسلامي علما یې تربیه او د امپراطورۍ لیرې برخو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته یې واستول. چې د همدې خدمت پر بنسټ د اسلام مقدس دین هر ځآی ته ورسیده او په غزنی کې لویه دیني مدرسه جوړه شوه، چې پکې اسلامي زده کړې کېدلې. د همدې ارزښتونو له مخې په ۲۰۱۳ ز کال کې د اسلامي نړۍ له خوا غزنی د اسلامي نړۍ هیوادونو د تمدن د مرکز په توګه وپیژندل شو.

جواهر لعل نهرو د سلطان محمود د واکمنۍ د دورې په اړه داسې نظر لري : محمود په ۱۰۳۰ ز کال کې مړ شو. دده د مړینې پرمهال ټول پنجاب او سند دده په قلمرو کې شامل و. په هند کې محمود د یو لوی اسلامي رهبر په توګه پیژندل شوی دی. ده د اسلام دنشراو پراختیا لپاره پرهند حملې کولې. ډیر مسلمانان د هغه ستاینه کوي... (۴۵:۲۱۳).

همدارنګه مرحوم میر غلام محمد غبار د سلطان محمود غزنوي د واکمنۍ د دورې په اړه داسې نظر لري : ... هند ته د محمودلښکرو مذهبي اړخ درلود، نه د مال د ترلاسه کولو اړخ. هغه، غنیمتونه او مرئیان یې د مذهب له حکم سره سم منل او د غیر مسلمانانو مذهبي ځایونه یې په جوماتونو اړول او یا یې له سره جوړول. محمود یو کلک مسلمان و او د الهي کلمة الله لوړیدا یې خپله دیني دنده بلله. په دغه لار کې د هغه جګړو دیني بڼه درلوده او که چیرې د مالي ګټو لپاره وای نو مسلمان شوی او تسلیم شوي هندوان به یې یو هم ژوندی نه وای پریښی. مالي او ځاني مصؤنیت به یې نه و ورکړای. او یا به یې د بوتانو د ماتولو پرځای د هغه په پیروانو پلورلي وای. هغه به په دي قیمتي غنیمتونو او ځیزونو باندې تل جوماتونه او مدرسې جوړولې ...)) (۲۷:۱۲۱).

د سلطان محمود دوه تیروتنې د تاریخ په وړاندې د پاملرنې وړ دی. یودا چې په افغانستان کې ترکي سلجوقیانو ته یې د اوسیدو اجازه ورکړه ، ځکه همدې سلجوقیانو د ده له مړینې وروسته د مسعود سره مخالفت وکړ او د هغه د قوتونو تر ماتې وروسته سلجوقیانو خپل مستقل دولت تاسیس کړ. دویمه تیروتنه یې دا وه چې د مسعود پر ځای محمد د ځای ناستې په توګه وټاکه چې په لوی لاس یې پخپلې غزنوي کورنۍ کې بې اتفاقي پیدا کړه ، چې بیا مسعود په زور له محمد څخه واک ترلاسه کړ.(۴۶:۴۹).

د سلطان محمود د واکمنۍ دوره د افغانستان د اسلامي واکمنانو په لړ کې یوه ځلانده او له ویاړه ډکه دوره ده چې په افغانستان کې یې یو لویه امپراتوري جوړه او د هند په نیمه وچه کې یې د اسلام

(c) ketabton.com: The Digital Library

مقدس دين خپور کړ.او د هيواد دننه يې  سياسي وحدت تامين او په خوا کې يې يو قوي مرکزي دولت تاسيس کړ.

**۴,۲. نقشه : لاندينۍ نقشه د سلطان محمود غزنوي د لښکر کشيو لورې راښئي.(۱۵۰:۳۰)**



## ۴,۸. د محمد واکمني (۴۲۱-۴۲۱هـ ق)

## (۴۰۹-۴۰۹ هـ ش)

## (۱۰۳۱-۱۰۳۱ ز)

سلطان محمود غزنوي اوه زامن  مسعود، محمد، سليمان ، اسمعيل ، نصر ، ابراهيم او عبدالرشيد درلودل. دوه لومړنې  مسعود او محمد   يې مشران زامن وو. مسعود چې تر محمد مشر و؛ زړور، مبارز او د مشرۍ صفتونه پکې موجود وو، خو محمد دا صفتونه نه درلودل. هغه عياش سړی و او د سياست په نسبت د شعر او ادب سره يې زياته علاقه درلوده (۴٦: ۴۹).

سلطان محمود په ۴۰٦ هجري قمري کې خپل زړور زوی مسعود د ځای ناستې په توگه وټاکه، چې نوموړی هغه مهال ۱۹ کلن و. اما د مسعود دښمنانو د شيطانت په وسيله سلطان محمود پر مسعود باندې بدگومانه کړ او سلطان محمود، د دښمنانو د توطيې او دسيسې پر بنسټ مسعود تل تهديداوه او بل زوی محمد يې د مسعود په مقابل کې تشويق او هڅاوه. سلطان محمود غزنوي خپل زړور زوی مسعود سره له کينې څخه ډک چلند کاوه، مسعود يې د تهديد په خاطر له هرات څخه ملتان ته وليږه. لږه موده وروسته يې بيرته هرات ته بدل کړ. ددې دواړو (پلار او زوی ) ترمينځ د تاوتريخوالې

(c) ketabton.com: The Digital Library

پایله دا شوه چې سلطان محمود غزنوي؛ مسعود د ځای ناستې له مقام څخه لیرې کړ. خو ددې موضوع له ښکاره کېدو څخه یې ډډه وکړه، ځکه هغه د مناسب وخت په انتظار کې و. خو ددربار مشرانو هم په ښکاره د سلطان ددې تصمیم مخالفت نشو کولې؛ که چا مخالفت هم کاوه، سلطان محمود د هغوي نظریاتو ته کوم اهمیت نه ورکاوه خو سلطان محمود د مړینې پر مهال د دولت مشرانو ته وویل: کوښښ وکړئ چې زما د زامنو تر مینځ بې اتفاقي پیدا نشي او مسعود د محمد سره جګړه ونکړي . د سلطان محمود له مړینې وروسته د غزنوي دربار مشران په دوه ډلووویشل شول؛ یوې ډلې د مسعود ملاتړ وکړ؛ بلې ډلې د سلطان د وصیت سره سم د محمد ملاتړ وکړ او محمد چې په دې مهال په جوزجان کې و، د پاچا په توګه یې اعلان کړ. علي د ارسلان زوی حاجب د پلازمینې د امنیت د ساتلو او ټولو حکومتي چارو څارنه کوله. محمد یې له جوزجان څخه غزني ته د یو لیک په واسطه راوغوښت. محمد چې د علي لیک ولوست؛ له خپلو مشاورینو سره یې یو ځای پریکړه وکړه چې د ځای ناستې په اړه د مسعود نظر ته انتظار وباسي؛ د هیواد ګټو ته وفادار درباریانو د محمد دا نظر تائید کړ. خو فرصت طلبو عناصرو وویل : (( څه کوئ چې نقد په نسیه خرڅوئ. غزني، سیستان، کابل، زابل، هندوستان او هغه خزانه چې ته پوهیږې چې څومره ده له تاسره ده؛ هغه عسکر چې نړۍ یې د مقابلې توان نلري له لاسه ورکوې او د بل تر امر لاندې ژوند کوې))(۳۰: ۱۸۵).

محمد غزني ته راغی او په غزني کې یې تود هرکلی وشو. له درې ورځو غم او فاتحې اخیستلو وروسته پرتخت کښیناست؛ محمد د نرم طبعیت خاوند و؛ یو شمیر درباریان چې مسعود یې د امپراطورۍ د ادارې لپاره وړ ګاڼه، ویې هڅاوه چې غزني ته راشي او واک ترلاسه کړي. مسعود هم ځان د پاچاهۍ مستحق ګاڼه؛ د واک د ترلاسه کولو په خاطر له فارس څخه هرات او له هرات څخه بلخ او بیا غزني ته راغي. د مسعود پلویانو وار د مخه محمد بندي او ړوند کړې و. په دې ترتیب مسعود واک ته ورسید او د محمد اوه میاشتنۍ واکمني ختمه شوه (۴۶:۵۰).

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۴,۹. د مسعود واکمني (۴۲۱-۴۳۲هـ ق)
## (۴۰۹-۴۲۰ هـ ش)
## (۱۰۳۱-۱۰۴۲ ز)

مسعود چې کله واک ته ورسید ، خواجه احمد حسن میمندي یې له بندیخانې څخه خلاص کړ او د خپل وزیر په توګه یې وټاکه؛ ابو علي حسن بن محمد یې چې په حسنک مشهور و، بندي کړ او احمد ینالتګین یې ویهند ته ولیږه. هغه دواړه سرداران چې محمد یې بندي او ړوند کړی و، بندیان او پاڼسي کړل، چې دې کار ظاهري بڼه درلوده؛ ځکه چې مسعود پخپله امر کړی و چې محمد ړوند کړئ. مسعود یو کال د دربار د چارو په سنبالښت او د داخلي ستونزو په اوارولو کې تیر کړل. په ۴۲۲ هجري قمري کې د عیسی په نوم یو تن په مکران کې بغاوت وکړ؛ د مسعود عسکرو هغه شورش ارام او په ۴۲۳ هجري قمري کې ترکمنانو پر هرات حمله وکړه. هغوي ته یې هم ماتې ورکړه. په ۴۲۴ هجري قمري کې مسعود هند ته پوځي سفر وکړ . خو کله چې له هند څخه بیرته راوګرځید؛ د هیواد په داخل کې وضعیت ورځ تر بلې بحراني کېده؛ په ځانګړي ډول ترکمنانو به په طوس ، هرات او ترمذ حملې کولې. علي تګین هم له بخارا څخه د بلخ د نیولو تصمیم درلود. مسعود پخپله مقابلې ته ورغی او په سرخس کې یې قرار ګاه ونیوله. ترکمنانو په مروه کې ماتې وخوړه. علي تګین په خپله مړ شو، مسعود خاطر جمع شو (۴٦: ۵۱).

مسعود یو ځل مخکې له علي تګین څخه د واک لپاره د مرستې غوښتنه کړې وه، او تعهد یې کړی و چې د مرستې په بدل کې به د ختلان سیمه علي تګین ته ورکوي. خو کله چې مسعود د علي تګین له مرستې پرته واک ته ورسید نو د ختلان د سیمې له ورکړې یې انکار وکړ. خو علي تګین وار د مخه د جګړې تیاري نیولې وه. کله چې مسعود سرخس ته د جګړې لپاره ورسید، علي تګین مړ شو، مسعود د هغه له خطر څخه بې غمه شو. له بل پلوه د قدر خان سره یې د دوستۍ اړیکې په دې مقصد ټینګې کړې. چې د کاشغر له قدر خاني دولت سره اړیکې په دوستۍ بدلې شي ، په ۴۲۲ هجري قمري کې سلطان مسعود خپل دوه سفیران کاشغر ته ولیږل؛ دوې دواړو دنده درلوده چې د قدر خان دربار ته ورشي او د هغه لور مسعود ته او د هغه د زوی بغراتګین لور مودود لپاره وغواړي. بالاخره

(c) ketabton.com: The Digital Library

استازي بريالی شول. قدر خان خپله لور مسعود او د خپل زوی بغراتگين لور يې د هغه زوی مودود ته په نکاح ورکړې ( ۳۰: ۲۱۰).


بارتولد هم پورته مطلب تائيدوي او ليکي : مسعود يو هئيت د ابوالقاسم ابراهيم بن عبدالله حصيري او قاضي ابو طاهر عبدالله بن احمد ثياني په مشری کاشغر ته وليږه. دغه هئيت د کاشغر پاچا قدر خان ته د مسعود له پاچا کېدو خبر ورکړ. او د مسعود له خوا يې د دوستی ډاډ ورکړ او له قدر خان څخه يې غوښتنه وکړه چې خپله لور مسعود او د هغه د زوی بغرا خان لور د مسعود زوی مودود ته په نکاح ورکړي. مسعود د قدر خان د لور لپاره پنځوس زره ديناره او د بغرا خان د لور لپاره يې ديرش زره ديناره پيشنهاد کړل. د دوي وړانديز د کاشغر د پاچا قدر خان او د هغه له مړينې وروسته د هغه د زوی بغرا خان له خوا ومنل شو. د مودود ميرمن په لار کې وفات شوه خو د مسعود ميرمن شاه خاتون په ۱۰۳۴ ز کال غزني ته راورسيده چې د مسعود له خوا يې تود هرکلی وشو (۲۱۸:۲-۲۱۹).

له قراختائيانو سره د کورني پيوند او دوستی څخه د مسعود موخه دا وه ترڅو له شمال څخه خاطر جمع شي او دده دښمنان له قراخانيانو سره ملگري نه شي. په ۴۲۵ هجري قمري کال سلجوقيان د يبغو -طغرل او داود په مشری له ماورالنهر څخه د خراسان نيسايا (جوزجان) ته داخل شول. مسعود دوه تنه جنرالان د ترکمنانو د دفاع لپاره جوزجان ته واستول، خو سلجوقيانو د غزني پوځ ته ماتې ورکړه. مسعود مجبور شو چې د جوزجان ولايت ته نږدې سيمې سلجوقيانو ته پريږدي. په ختيځ کې د وضعيت د کنترول لپاره يې د سلطان محمود د وخت حاکم اربارق له هند څخه بلخ ته راوغوښت؛ ددې لپاره چې د هغه عسکر پاڅون ونکړي. لومړی يې د هغه احترام او وروسته يې په ۴۲۲ هجري قمري کال بندي او ثروت يې ورته لوټ کړ. احمد ينالتگين يې د پنجاب د حاکم په توگه وټاکه. احمد ينالتگين په ۴۲۶ هجري قمري کال د سلطان مسعود له اجازې پرته پر بنارس حمله وکړه او له ډيرو غنيمتونو سره لاهور ته راوگرزيد. مسعود د هغه دا عمل د ځان لپاره خطر وگاڼه او جنرال تلک يې د هندو قواو د قوماندان په توگه چې خپله هندو و، وټاکه، د احمد ينالتگين د ايل کولو په خاطر لاهور ته وليږه. احمد ينالتگين غوښتل چې مانسيرې (منصري) ته وتښتي؛ مگر د سند سيند کې ډوب شو. سلطان مسعود په ۴۲۸ هجري قمري کال هند ته سفر وکړ. د هانسي مشهوره کلا او بنارس بندر يې ونيول او له ډيرو غنيمتونو سره غزني ته راوگرځيد. خپل زوی مجدود يې د لاهور د حکمران په توگه مقرر کړ. مسعود په همدې کال ماورالنهر ته سفر وکړ، هغه ترکمنان چې د بلخ د نيولو نيت يې درلود

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیرته شاته تگ ته مجبور کړل. په جوزجان کې علي کندوزي چې بغاوت یې کړی و، د خپلو ملگرو سره یې یو ځای پانسي کړ (۴٦: ۵۲).

**۴،۳. نقشه : لاندینی نقشه د سلطان مسعود د لښکرکشیو لورې راښئي. (۳۰: ۱۵۱ )**




سلطان مسعود د واک په اخرو وختونو کې د ډیرو جگړو او ستونزو له امله عصباني شوی و. هغه مشران چې مسعود ته وفادار و، زاړه یا مړه شوي وو. په دربار کې بې باوري او گډوډې د مسعود واکمنې د زوال کندې ته ورټیل وهله. مسعود د دندانقان په سیمه کې چې د سرخس او مروې په مینځ کې موقعیت لري سخته ماتې وخوړه. په ډیر بد حالت غزني ته راورسید. په همدې مهال (۴۳۱ هجري قمري) د میکائیل سلجوقي زامنو ( طغرل بیک او داود چغر بیک ) نیشاپور، هرات او سیستان پورې سیمې ونیولې.

مسعود چې د هیواد په داخل کې وضعیت خراب ولید، خپل زوی مودود یې په غزني کې پرېښود، پخپله یې هند ته په دې نیت سفر وکړ چې هلته به د یوه قوي پوځ له برابرولو وروسته افغانستان ته راشي؛ ترڅو له سلجوقیانو څخه نیول شوې سیمې بیرته ونیسي. د دربار مشرانو نوموړی هند ته له سفر څخه منع کاوه، خو مسعود ونه منله. په دې سفر کې یې خپل ړوند ورور محمد او د هغه زامن له بندیخانې څخه ازاد او له ځانه سره یې هند ته بوتلل. کله چې مسعود د مارگلې سیمې ته، چې د سند دریاب د اوسنې حسن ابدال ختیځ کې موقعیت لري ، ورسید، په دې ځای کې هغو عسکرو چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسعود خزانی ته سترگی پټې کړې وې، دده پرضد شورش وکړ. دوي د لږ مقاومت وروسته د مسعود په طرفدارانو بریالی شول. د مسعود خزانه یې چور او نوموړی یې بندي کړ او د هغه ورور ړوند محمد یې پاچا کړ. په ۴۳۲ هجري قمري کال کې د محمد د پاچا کېدو سره سم یې مسعود وواژه. مسعود د توري او قلم خاوند و، د ادب سره یې هم مینه درلوده. د ده د واکمنی مشهور عالم ابوریحان البیروني و(۴۶:۵۳).

د مسعود قبر اوس د روضه په لار کې ښي طرف ته تقریباً د یو میل په واټن د بڼونو په مینځ کې موجود دی.د هغه پر سر یوه گُنبده هم جوړه شوې، د مرمر له ډبرو څخه یو ښایسته صندق دده پر قبر جوړ شوی. خلک دا د مسعود مزار گڼي چې د باغونو په مینځ کې پروت دی(۳: ۴۳)



**۴،۲. انځور: پورتنی انځور د سلطان مسعود تاریخي منار راښيي.** (۳:۱۲۱)

## ۴،۱۰. د مودود واکمني (۴۳۲-۴۴۱هـ ق)

## (۴۲۹-۴۲۰ هـ ش)

## (۱۰۴۲-۱۰۵۱ ز)

سلطان مسعود د واکمنۍ په آخر کې خپل مشر زوی مودود چې مخکې یې د ولیعهد په توگه ټاکلی و. په ۴۳۲ هجري قمري کې یې د خپل وزیر احمد بن محمد بن عبدالصمد سره په اتفاق یو لوی لښکر د سلجوقیانو سره د مقابلې په خاطر له غزني څخه حرکت وکړ ترڅو له سلجوقیانو سره مقابله وکړي. مگر د پلار له وژلو او د عسکرو د شورش د خبرېدو سره سم یې د سلجوقیانو له مقابلی

(c) ketabton.com: The Digital Library

څخه لاس واخیست او پریکړه یې وکړه چې ژر تر ژره د خپل پلار له قاتلانو څخه د خپل پلار بدل واخلي. خو دده پوه وزیر ابونصر احمد بن محمد بن عبدالصمد، مودود ته وویل : ښه دا ده چې لومړی غزني ته ولاړ شو او غزني ونیسو. کله چې غزني مو ونیو، ټول عسکر ډیر ژر زمونږ لاس ته راځي(۳۰:۲۷۷).

د وزیر دا وړاندیز د مودود خوښ شو، بیرته غزني ته راغې. په غزني کې د خلکو له خوا یې درونډ استقبال وشو. د سلطان مسعود د فاتحې د مراسمو له پای ته رسیدو وروسته یې د سلطان مسعود د قاتلانو څخه بدلې اخیستلو لپاره عسکر راټول او مجهز کړل. محمد په پیښور کې د مودود د مقابلې لپاره تیاری کاوه. د پسرلي په رارسیدو سره مودود له غزني څخه بهر شو، محمد خپل زوی یې د پیښور او ملتان د سپه سالار په توګه وټاکه ، پخپله یې له پیښور څخه د مودود د مقابلې لپاره حرکت وکړ. د اوسني فتح آباد په سیمه کې دواړه لښکرې سره مخامخ شوې ، په لومړۍ جګړه کې یو هم بریالی نشو. مودود، عبدالرشید د محمود زوی یې د ځان ملګری کړ ، بالاخره امیر محمد ماتې وخوړه او د مودود په دستور د سلطان مسعود تابوت غزني ته راوړل شو او هغه ځای فتح آباد[1] په نوم یاد کړو (۳۰: ۲۷۹).

امیر محمد مخکې مودود ته لیکلی و چې سلطان مسعود د ینالتګین زامنو؛ زما له رضایت پرته د خپل پلار د قتل په بدل کې وژلی دی. خو مودود په خپلې واکمنۍ کې دوه مهمې دندې درلودې، یوه د پلار د وینې بدله اخیستل او بله د سلجوقیانو سره مقابله. خپل تره امیر محمد یې په ۴۳۲ د رجب په ۱۳ مه وواژه. همدارنګه د ینالتګین او د امیر محمد زامن یې چې د خپل پلار قاتلین ګڼل ، ټول یې ووژل (۳: ۴۴).

مودود بیرته غزني ته راوګرزید. په ۴۳۲ هجري قمري کال کې یې ځان پاچا اعلان کړ. د سلجوقیانو سره ددښمني پرځای یې د دوستۍ لار غوره کړه. د چغري بیک داود لور یې پخپله نکاح کړه. مګر د دوستۍ سربیره سلجوقیانو د غزنوي دولت په سیمو حمله وکړه او بلخ یې دوباره ونیوه او د سیستان پر یوه برخه یې هم تسلط پیدا کړ. په همدې علت غزنویانو هند کې خپلو نیول شویو سیمو ته پاملرنه وکړه. د سلجوقیانو د شورش سره سم د مودود ورور مجدود هم د خپل ورور پرضد په لاهور کې

[1] فتح آباد ننګرهار ګوټي د سره رود ولسوالی مربوط دی چې د خیر اباد څخه پورته موقعیت لري چې د خوګیانیو او سره رود ولسوالیو ترمینځ فاصل حد دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخالفت پیل کړ. دواړه ورونه جګړې ته تیار شول؛ خو مجدود په ناڅاپي ډول مړ شو، او د هغه عسکر هم د مودود ملګري شول. د غزنویانو واک دوباره په هند کې ټینګ شو. وروسته په ۴۳۵ هجري قمري یې عسکر د سلجوقیانو سره د جګړې په خاطر باختر ته واستول؛ مګر د غزني پوځ د سلجوقي پاچا الپ ارسلان سره په جګړه کې ماتې وخوړه. په همدې وخت کې سلجوقیانو پر بُست حمله وکړه. مودود د سلجوقیانو مقابلې ته د طغرل په نوم قوماندان واستوه، طغرل لومړی په بست بیا په هرات کې سلجوقیانو ته ماتې ورکړه. خو دوه کاله وروسته سلجوقیانو بیا پر بست حمله وکړه، غزنوي دولت دا ځل هم طغرل د سلجوقیانو مقابلې ته واستوه. خو طغرل د غزنوي دولت سره خیانت وکړ او د مودود پر ضد یې شورش وکړ. خو کومه مثبته پایله یې ترلاسه نکړه. له دې نیتې وروسته هغه په تاریخ کې د طغرل نمک حرام په نوم یاد شو. د سلجوقیانو ورځ تربلې د قدرت زیاتوالي ،مودوددې ته اړ کړ چې د ماورالنهر او اصفهان له امیرانو سره د سلجوقیانو پر ضد متحد شي. او د سلجوقیانو نفوذ په افغانستان کې ختم کړي. خو مخکې له دې چې هغه دا پلان عملي کړي. نوموړی په ۴۴۱ هجري قمري کال له نهه کالو واکمنۍ وروسته د ۳۹ کلنۍ په عمر وفات شو( ۴۶: ۵۴).

## ۴,۱۱. د دویم مسعود واکمني (۴۴۱-۴۴۱هـ ق)

## (۴۲۹-۴۲۹ هـ ش)

## (۱۰۵۱-۱۰۵۱ ز)

د سلطان مودود له مړینې وروسته په ۴۴۱ هـ ق کې د هغه کوچنی زوی چې څلور کلن و د پاچا په توګه وټاکل شو؛ مګر د دربار مشرانو داسې پریکړه وکړه ترڅو دویم مسعود قانوني سن ته رسیږي د هغه کاکا علي د لومړي مسعود زوی به د هغه د نائب السلطنه په حیث دنده اجرا کوي. خو علي بن ربیع خادم؛ د مسعود په پاچا کېدو کې مهم نقش درلود. علي بن ربیع دا موخه درلوده چې دویم مسعود به تش په نوم پاچا او واک به له ده سره وي. خو له دې کوچني پاچا سره د دربار د وزیر (حاجب) باشتګین کوم چې د سلطان محمود غزنوي د وخت له آمرینو څخه و مخالفت پیدا شو. باشتګین او د ربیع ترمینځ مخالفت ورو ورو زیات شو. باشتګین غوښتل چې د مودود زوی علي واک ته ورسوي. په پایله کې باشتګین بریالی شو او د دویم مسعود شپږ ورځنې حکومت پای ته ورسید. او پر ځای یې د مسعود زوی علي د واک په ګدۍ کېښناست (۴۶: ۵۵).

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۴,۱۲. د علي واکمني (۴۴۱-۴۴۱هـ ق)

## (۴۲۹-۴۲۹ هـ ش)

## (۱۰۵۱-۱۰۵۱ ز)

د مودود زوی دویم مسعود له ګوښه کېدو وروسته چې کله علي په ۴۴۱ هـ ق کې واک ته ورسید. د بهاؤالدوله په لقب یې غوره کړ او د خپل ورور له کونډې سره چې د داود چغری بیک[1] لور وه، نکاح وکړه. د ده واکمنی هم ډېر دوام ونه کړ، ځکه علي بن ربیع د میرک وکیل چې په دربار کې یې نفوذ درلود د نورو غلامانو او د غزنوي دربار د امیرانو سره یو ځای د سلطنتي خزانې له چورولو وروسته د پېښور په لورې حرکت وکړ. بل پلو ته علي د لومړي مسعود زوی په تخت باندې له کښیناستلو وروسته خپل ورونه مردانشاه او ایزدشاه چې له غزني څخه لیرې و، غزني ته راوستل او د هغوی یې ډېر عزت یې وکړ. د سلطان محمود غزنوي زوی عبدالرشید هم واک ته د رسیدو لپاره کوښښونه پیل کړل، خو علي د لومړی مسعود زوی یې په مقابل کې په خلکو پیسې وویشلې او د خزانې له مالونو څخه یې د نفوذ خاوندانو ته تحفې ورکولې، مګر ګټه یې ونکړه (۳۰: ۳۰۲).

د دویم مسعود او د لومړي مسعود د زوی (علي) د واکمنیو پر مهال د سلجوقیانو نفوذ د غزنویانو په دربار کې زیات شو. په دې کار له غزنوي واکمنانو څخه د خلکو په تیره بیا غوریانو خوابده او سخت مخالفت یې پیل کړ.

## ۴,۱۳. د عبدالرشید واکمني (۴۴۱-۴۴۴هـ ق)

## (۴۲۹-۴۳۲ هـ ش)

## (۱۰۵۱-۱۰۵۴ ز)

عبدالرشید د سلطان محمود غزنوي زوی چې ګردیزي هغه د سلطان معظم عزالدوله وزین المله معزالدین دین الله په لقب باندې یاد کړی دی. پرته له ستونزو واک ته ورسید، نوموړی یو پوه او عاقل سړی و؛ خو زړ ور او جګړه خوښونکی شخص نه و او د ستونزو په مقابل کې ناتوانه سړی و، نوموړی مودود د بست د مندین په کلا کې بندي کړی و. خواجه میمندي د مودود وزیر چې د سلطان په امر

---

[1] په ځینو کتابونو کې د مودود ددې میرمنی د پلار نوم شاکر بیک ښودلی (۴۶: ۵۵)

(c) ketabton.com: The Digital Library

بُست ته تللی و، هلته د مودود له مړینې خبر شو هغه عبدالرشید د سلطان محمود زوی د پاچاهي له پاره وړ وګاڼه نو له بندي خانې څخه یې آزاد او غزني ته یې راوست، کله چې علي بن سلطان مسعود له عبدالرشید سره د جګړې توان نه لیده ، وتښتیده او عبدالرشید واک ته ورسید. عبدالرشید هم د خپل پلار په څېر زړور نه و. چغري بیک داود سلجوقي چې د خراسان حاکم و، خپل زوی الپ ارسلان یې د تخارستان له لارې پر غزني باندې د حملې په خاطر راولیږه. الپ ارسلان د سیستان له لارې بست ته لښکر کشي وکړه. عبدالرشید د طغرل په مشرۍ د هغوي مخې ته لښکر واستوه. طغرل د خمار په دره کې (شاید د میدان ننني ولایت زړه خمار دره وي) د الپ ارسلان لښکر ته ماتې ورکړه. طغرل ډېر ژر بست ته ولاړ د داود سلجوقي لښکرو ته یې ماتې ورکړه؛ او د هغوی عسکر یې تعقیب کړل څو تر سیستان پورې ورسید (۳۰: ۳۰۴).

طغرل په دې بریالیتوب سره د غزني په دربار کې ډېر نفوذ پیدا کړ او د حاجب الحجاب (دربار وزیر) مقام ته ورسید. نوموړی دومره مغروره شو چې په سر کې یې د پاچاهي فکر پیدا شو. له سیستان څخه د راتګ پر مهال خراسان ته ولاړ نشو، غزني ته راوګرزید، کله چې د غزني پنځه فرسنګۍ ته راورسید، عبدالرشید ته یې پیغام راواستوه، چې عسکرو یې ورسره خراسان ته په تللو مخالفت وکړ-غواړي غزني ته راشي. عبدالرشید چې دا پیغام واوریده، له خپلو نږدې درباریانو سره یې مشوره وکړه. هغوی چې د طغرل په موخه پوهیدل، عبدالرشید یې د غزني په قلعه کې اوسیدو ته وهڅاوه. څو ورځې وروسته طغرل حاجب د غزني ښار ته داخل شو او حکومتي ماڼۍ کې ځای پر ځای شو. عبدالرشید د خپلو ملګرو سره په غزني کې د یو غرنۍ سیمې په یو قلا کې پټ شو. طغرل د هغه ملګرو ته د تهدید او طمع څخه ډک لیک ورولیږه او ورڅخه یې وغوښتل چې سلطان عبدالرشید هغوي ته تسلیم کړي. عبدالرشید او د هغه ملګرو پرته له تسلیمۍ بله چاره نه درلوده. دوي ټول تسلیم شول. خو طغرل، عبدالرشید له نهه تنو شهزاد ګانو سره یو ځای وواژه، او پخپله د پاچاهۍ پر تخت کیښناست(۴۶:۵٦).

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۴,۱۴. د طغرل واکمني (۴۴۴-۴۴۴هـ ق)

## (۴۳۲-۴۳۲ هـ ش)

## (۱۰۵۴-۱۰۵۴ ز)

د عبدالرشید له وژلو وروسته طغرل پر تخت کښیناست. تقریباً شپږ اونۍ یې پاچاهي وکړه. طغرل هغه کسان چې د ادارې او پاچاهۍ کولو توان یې درلود له مینځه یوړل. طغرل د عبدالرشید د لیرې کولو او د غزنویانو د پر تخت کښیناستلو په اړه داسې وایي: (( کله چې زه عبدالرشید د الپ ارسلان مخې ته د جګړې له پاره استولم؛ له ماسره یې وعده وکړه او قول یې راکړ. خو د ځان ساتنې ویره پرده دومره غالبه شوه چې د بدن د هډوکو لړزه یې زما غوږونو ته راورسیده؛ زه پوه شوم چې له دومره بې زړه انسان څخه نه نشې کېدای د پاچاهۍ د چارو د سرته رسولو او ادارې طمع وکړو.)) . د طغرل خبرې دومره واقعیت ته نږدې نه دي؛ خو د طغرل واکمني د غزني د درباریانو له کرکې سره مخ شوه، ځکه چې هغوی د پردیو واک نه شو زغملی. که څه هم طغرل له پاچا کېدو وروسته د سلطان مسعود لور سره نکاح وکړه، خو د سلطان مسعود لور او د دربار مشرانو له خرخیز څخه چې مخکې د غزنوي دربار لخوا د هند د ځینو سیمو د حکمران په توګه ټاکل شوی و. د طغرل په مقابل کې یې له هغه څخه مرسته وغوښته ، له طغرل څخه یې ګیله وکړه او خرخیز یې د انتقام لپاره وهڅاوه. د طغرل مخالفین د خرخیز په یو ځای کېدو سره قوي شوي و؛ د طغرل د له مینځه وړلو په فکر کې شول. په داسې حال کې چې طغرل لا پر تخت ناست و چې څو قوي متړو ځوانانو یو ناڅاپه پر طغرل حمله وکړه او هغه یې ټوټې ټوټې کړ. د هغه سر یې د لرګي پر سر وټومبه او ښار کې یې وګرځاوه (۳۰: ۳۰۶).

## ۴,۱۵. د فرخ زاد واکمني (۴۴۴-۴۵۱هـ ق)

## (۴۳۲-۴۳۹ هـ ش)

## (۱۰۵۴-۱۰٦۱ ز)

فرخ زاد د لومړي مسعود زوی او د سلطان محمود لمسی دی چې په ۴۴۴ هـ ق کال په تخت کښیناست. هغه د ښو اخلاقو خاوند او عادل شخص و، خو د غزنوي دولت متزلزل وضعیت هغه ضعیف کړ. دده ډیر کارونه دده وزیر خرخیز سرته رسول. داود سلجوقي پر غزني حمله وکړه؛ خو خرخیز هغه ته ماتې ورکړه ، له غزني څخه یې شاته وشاړه، خو لا د خراسان ډیری برخې سلجوقیانو نیولې وې، فرخ زاد

(c) ketabton.com: The Digital Library

په داسې حال کې واک ته ورسید چې د دولت وضعیت په کړکیچن حالت کې و، خو نوموړی وتوانید چې یو پوځ ترتیب او بست ته یې ولیږي. سلجوقیانو د غزني د لښکرو د مقابلې په خاطر کلسارغ چې د سلجوقي پوځ یو سپه سالار و، راولیږه. د جګړې په جریان کې د سلجوقیانو پوځ ماتې وخوړه او کلسارغ له غزنوي پوځ سره بندي شو، خو کله چې دغه بندیان غزني ته ورسیدل، فرخ زاد ټول خوشی کړل. ترڅو چې فرخ زاد ژوندی و ، سلجوقیانو پر بست باندې حملې ته زړه ښه نکړ. هند یې هم په ښه وجه اداره کړ. درې ځلې په هند کې شورشونه وشول خو هلته د سپه سالارانو له خوا ارام شول. فرخ زاد په ۴۵۱ هـ ق د قولنج د ناروغۍ له امله مړ شو (۳: ۴۷-۴۸).

فرخ زاد د خپل اوه کلن سلطنت په موده کې د زابل پر خلکو باندې؛ درانده مالیات لیرې کړل. هغه مړي چې طغرل نمک حرام په سمڅو کې اچولي و راوویستل او ښخ یې کړل(۴۶: ۵٦).

## ۴,۱٦. د ابراهیم واکمني (۴۵۱-۴۹۲هـ ق)

## (۴۳۹-۴۷۹ هـ ش)

## (۱۰٦۱-۱۱۰۱ ز)

څه وخت چې د سلطان ابراهیم ورور فرخ د قولنجو د ناروغي له امله وفات شو، ابراهیم د لومړي مسعود زوی او د سلطان محمود لمسی په ۴۵۱ هـ ق کې پر تخت کښیناست. ابراهیم یو عادل ، پوه او سیاسي شخص او د سبکتګین د کورنۍ له پوهو اشخاصو څخه ګڼل کېده . پر تخت باندې د کښیناستلو پرمهال د سلطان محمود غزنوي د وخت د حکمرانۍ ډیره برخه ددښمنانو لاس ته ورغلی وه؛ حتی بست ، بلخ او هرات د سلجوقیانو په لاس کې و. سلطان ابراهیم په دې پوهیده چې سلجوقیان قوي شوي دي؛ د جګړې په واسطه نشي کولی چې هغوي ایل او مهار کړي، د اړتیا له امله یې له سلجوقیانو سره د جګړې پر ځای د سولې لار غوره کړه. دواړو لوریو تعهد وکړ چې د یو بل حدودو ته به احترام کوي. د دوي اړیکی دومره دوستانه شوې، چې د الپ ارسلان زوی ملک شاه سلجوقي خپله لور د ابراهیم زوی مسعود ته په نکاح کړه. دا د سلجوقیانو او غزنویانو ترمینځ د امن دوره وه. ابراهیم له دې وضعې څخه ګټه واخېسته، او د خپلو خلکو د ژوند د ښه کېدو له پاره یې کارونه سرته ورسول او هم یې په غزني کې جوماتونه او کلاګانې جوړې کړې. هند ته یې سفرونه وکړل، ډیرې سیمې یې ونیولې او غنیمتونه یې لاس ته راوړل (۴۶: ۵۷).

(c) ketabton.com: The Digital Library

سلطان ابراهیم په ۴۲۴هـ ق کال کې زیږیدلی او په ۴۵۱ هـ ق کې په ۲۷ کلنۍ پاچا شو. تقریباً یو څلویښت کاله یې پاچاهي وکړه. نوموړی د ښو اخلاقو خاوند او د ښې ادارې له امله په غزنوي پاچاهانو کې د پام وړ شهرت لري (۳۰: ۳۱۳).

سلطان ابراهیم د خپلې حکمرانۍ په دوران کې دوه مهمې دندې په مخکې درلودې، لومړۍ دنده یې دا وه چې د سلجوقیانو د نفوذ د زیاتېدو مخه ونیسي، چې لا د مخه یې له دې کورنۍ سره دښمني درلوده. دویمه دنده یې دا وه، چې په داخل کې د هغو ستونزو او کړکیچن حالت مخه ونیسي چې د سلطان محمود امپراتوري  یې تجزیې ته نږدې کړې وه. ابراهیم د لومړۍ دندې لپاره د سلجوقیانو سره دوستي پیل کړه  او د هغوی له خوا خاطر جمع شو. په داخل کې یې هم یو لړ اصلاحات عملي کړل، د حکومتي او ملکي چارو دقیقه څارنه یې کوله. سلطان ابراهیم شپږدیرش زامن او څلویښت لور ګانې درلودې او ساداتو ته یې ورکړې وې.

د سلطان محمود غزنوي لښکرو په غور حمله وکړه او غور یې فتح کړ، د ملک محمد سوري له نیولو وروسته د هغه زوی ابو علي یې د غور د حکمران په توګه پرېښود. خو د هغه وراره امیر عباس بن شیش ؛ ابوعلي دستګیر او بندي کړ، امیر عباس یو زړور او د سخت مزاج لرونکی شخص و، خلک ورځینې تنګ شول؛ د غور مخورو او مشرانو د غزني دربار ته یو لیک ولیږه او د امیر عباس په لېږی کولو کې یې ترې مرسته وغوښته. سلطان ابراهیم د یو لوی لښکر سره د غور لورې ته روان شو، د غور عسکر هم له سلطان ابراهیم سره یو ځای شول. سلطان ابراهیم امیر عباس ونیوه او غزني ته یې راولیږه او د هغه د قلمرو واک یې امیر محمد غوري ته پرېښود، په دې ترتیب غور د دویم ځل لپاره د غزنویانو تر حاکمیت لاندې راغی.. په ۴۹۲ هـ ق کې وفات شو. د هغه له وفات وروسته د هغه زوی دریم مسعود پاچا شو(۳۰: ۳۱۷).

## ۴,۱۷. د درېیم مسعود واکمني (۴۹۲-۵۰۹ هـ ق)
## (۴۷۹-۴۹۵ هـ ش)
## (۱۱۰۱-۱۱۱۸ز)

ابراهیم شپږ دیرش زامن درلودل. د هغه له مړینې وروسته درېیم مسعود پاچا شو. درېیم مسعود ډېر ورونه درلودل؛ مګر دده په واکمنۍ کې کومه ستونزه پیدا نشوه. درېیم مسعود یو لایقه پاچا او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوهې خاوند و. دده   د واکمنۍ دوره آرامه وه؛ ځکه چې ده د سلطان سنجر له خور سره نکاح کړې وه او سلجوقیانو سره یې دوستي درلوده؛ د یو بل په سیمه یې تیري نه کاوه. درېیم مسعود په داخل کې د مالیاتو قانون اصلاح او تطبیق کړ. دا چې نوموړی د سلجوقیانو له لورې خاطر جمع و، نو یې په هند کې فتوحاتو ته ادامه ورکړه. په هند کې د درېیم مسعود سپه سالارطغاتگین د غزنوي دولت د واکمنۍ د پراختیا په خاطر د گنگا له سینده تیر او هغه سیمې چې سلطان محمود غزنوي نیولې وې بیا ځلي تر خپل کنترول لاندې راوستې (۴٦: ۵۷).

درېیم مسعود د مالیاتو په راټولولو کې زیاتوالی ونکړ او خلکو سره یې نرمۍ څخه کار اخېسته. د قاضي منهاج سراج جوزجاني په حواله درېیم مسعود په ۴۵۲ هـ ق کال په غزني کې زیږیدلې دی. درېیم مسعود په چارو کې عادل او له غریبانو سره یې په مرسته کې هیڅ توپیر رانغې. ټول خلک ترې راضي او خوښ وو. د هیواد خلکو خپل ژوند په ډیرې خوشحالۍ سره پرمخ وړ. هندوستان کې د غزنوي دولت تر ولکې لاندې سیمې په ښه توگه اداره کېدلې. نوموړی شهزاده په ۴۵۳ هـ ق کې په غزني کې زیږیدلی و او په ۵۰۹ هـ ق کال مړ شو. درېیم مسعود، منهاج سراج جوزجاني د هغه لقب علاوالدین، مستوفي عمادالدوله د علاوالدوله او د روضة الصفا لیکوال د جلال الدوله اود فرشته تاریخ کې د علاوالدوله په نومونو ضبط کړی دی. دده د عدالت یوه بیلگه دا ده چې په ۵۰۴ هـ ق په غزني کې ټول کرنیز حاصلات ملخانو له مینځه ویوړل او خلک له قحطۍ سره مخامخ شول، ده امر وکړ چې له دولتي ذخیرې څخه غنم او خوراکي موادذې  وایستل شي او په خلکو دې په ارزانه بیه وپلورل شي. بالاخره نوموړی په ۵۰۹ هـ ق کې مړ او د غزني د ښار ختیځ لور ته د منار ترڅنگ خښ شو چې دا منار له ښار څخه په لېرې واټن کې ولاړ دی. دا منار د همدې پاچا په وخت کې آباد شوی دی. دده لقب په هغه ځای کې د علاولدوله و الدین ابی سعد مسعود په نامه لیکل شوی (۱۴: ٦۸۵).

## ۴,۱۸. د ارسلان شاه واکمني (۵۱۱-۵۰۹هـ ق)

## (۴۹۷-۴۹۵ هـ ش)

## (۱۱۲۰-۱۱۱۸ز)

د درېیم مسعود له مړینې وروسته ارسلان د خپل پلار پر ځای پر تخت کښیناست. خو ارسلان شاه ددې پر ځای چې د خپل سلطنت د ټینگښت لپاره یې هڅې کړې وای، د کورنۍ پر بربادۍ او په له

(c) ketabton.com: The Digital Library

مینځه وړلو يې لاس پورې کړ. ځکه نوموړی واکمن د سلطان سنجر خور ته په خواره سترګه وکتل، سلجوقیان يې پرغزني باندې حملې ته وهڅول، خپل ورونه يې بندیان کړل، ځینې يې بندیان، ځینې يې ړانده او ځینې يې ووژل. خو بهرام شاه په تیښته بریالی شو. خپل ماما سلطان سنجر سلجوقي ته يې پناه ویوړه. دا مهال سلطان سنجرسلجوقي د خپل ورور له خوا د خراسان په یوه برخه کې د حاکم په توګه دنده ترسره کوله، نوموړی د بهرام شاه پلوي وکړه، ارسلان شاه ته يې ولیکل: ((چې په خپله خوښه بهرام شاه ته واک وسپاري ، خو ارسلان شاه ونه منله )) (۱۴: ٦٨٦).

سلطان سنجر له خپلو عسکرو سره پر غزني یرغل وکړ او بهرام شاه يې واک ته ورساوه، لوموړي ځل د دوي ترمینځ په بست کې سخته جګړه ونښته چې د سلطان سنجر د پوځونو مشری د سجستان حاکم ابوالفضل نصر بن خلف کوله، ارسلان شاه په بست کې له سختې ماتې سره مخامخ او بیرته غزني ته ستون شو. ارسلان شاه چې په ویره کې و، د سنجر خور يې هغه ته واسطه کړه او دوه سوه زره دیناره يې هم هغه ته ولیږل. خو بهرام شاه سولې ته غاړه کیښنښوده او دومره هڅه يې وکړه چې بالاخره سنجر غزني ته د تلو پریکړه وکړه. کله چې سنجر د غزني دوه فرسنګۍ ته راورسید، ارسلان شاه له دیرش زرو عسکرو او یو سلو شپیته پیلانو سره د هغه مقابلې ته ووت. بالاخره په جګړه کې يې ماتې وخوړه او د هند په لوری وخوځیده، سنجر د سترې شاهنشاهي پلازمینه په خپل واک کې واخېسته. په دې توګه د ارسلان شاه او بهرام شاه د بې اتفاقیو له امله د سلطان محمود غزنوي د سترې کورنۍ برم پای ته ورسید. سنجر په غزني کې تر څلويښتو ورځو وروسته بیرته خراسان ته ولاړ. ارسلان شاه بیا پر غزني حمله وکړه؛ بهرام شاه تر ماتې وروسته بامیانو ته وتښتیده سنجر چې له دې پیښې خبر شو، یو ځل بیا يې غزني د بهرام شاه لپاره ونیو؛ ارسلان شاه يې هم ونیو او بهرام شاه ته يې تسلیم کړ. بهرام شاه لومړی هغه ته بښنه وکړه او بیا يې د ویرې له امله په ۵۱۲ هـ ق کې په پټه ووژه(٦٨٨:۱۴-٦٨٩).

## ۴,۱۹. د بهرام شاه واکمني (۵۱۱-۵۵۲هـ ق)

## (۴۹۷-۵۳۸ هـ ش)

## (۱۱۲۰-۱۱٦۰ز)

بهرام شاه د دریم مسعود زوی، د ابراهیم لمسی، د لومړی مسعود کړوسی او د سلطان محمود غزنوی کودی دی. د غزنوي کورنۍ لومړنۍ پاچا و چې د سلطان سنجر په مرسته واک ته ورسید. د

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزني دربار ته يې د سلجوقيانو د نفوذ لاره خلاصه کړه، څکه بهرام شاه د جمعې د لمانځه په خطبه کې د خپل نوم سره د سلطان سنجر نوم هم یاد کړ او دا لومړی ځل و چې د غزنویانو د سلطنت پر منبر د خطبې پرمهال د سلجوقي پاچا سلطان سنجر نوم یاد شو. په تخت باندې د بهرام شاه کېښناستل د غزنویانو د کورنۍ د سقوط ورځ وه. بهرام شاه د کورنیو شورشونو له اراملو وروسته دوه ځلي هند ته پوځي سفر وکړ، چې ددې پوځي سفرونو لامل په هند کې د ارسلان شاه سپه سالار محمد باهیلیم شورش او مخالفت ؤ. چې بهرام شاه دوه ځله هند ته پوځي سفر وکړ چې په دواړو سفرونو کې یې محمد باهلیم او د هغه زامنو ته په ملتان او لاهور کې په ۵۱۲ هـ ق کې ماتې ورکړه(۴٦: ۵۸).

د غزني دربار ته د سلجوقي ترکمنانو د راوستلو له امله د غور واکمنان په قهر شول، خو کله چې قطب الدین محمد غوري له سلطان علاوالدین غوري او سیف الدین غوري څخه خفه شو، د غزني دربار ته ولاړ. بهرام شاه په لومړیو وختونو کې د هغه ډېر احترام او درناوی وکړ او خپله خور یې ورته په نکاح کړه؛ خو وروسته ملک الجبال ( قطب الدین محمد غوري ) له ابراهیم څخه څکه خواشینی شو چې سلجوقیانو ته یې په کورنیو چارو کې د لاس وهنې فرصت برابر کړ. کله چې ډېر خلک دده په شاوخوا راټول شول، ابراهیم د خپلو نژدې کسانو له خوا د قطب الدین غوري پرضد وهڅول شو، ابراهیم، قطب الدین محمد غوري د واک پر نیولو او خلکو ته د پیسو په ویشلو تورن کړ، او هغه یې وواژه. د قطب الدین محمد غوري درې واړه ورونه امیر بهاوالدین سام (د غور او بامیانو حاکم)، سیف الدین (د غور محلي حاکم) او علاوالدین جهانسوز چې کله د خپل ورور قطب الدین محمد غوري له مړینې خبر شول؛ د غزني په لوري یې حرکت وکړ. د غور د لښکرو له رسیدو سره سم بهرام شاه هند ته وتښتیده(۱۴: ٦۹۹).

سیف الدین د غزني له خلکو سره ډېر ښه چلند کاوه. کله چې د ژمي موسم راورسید، سیف الدین د غور عسکر غور ته ولیږل او پخپله د خپلو خدمتگارانو سره په غزني کې پاتې شو او د بهرام شاه په امنیتي کسانو او مامورینو یې باور وکړ. په دې وخت کې واورو لارې بندې کړې. غزنویانو بهرام شاه ته په یو لیک کې خبر ورکړ، چې سیف الدین غوري پرته له غوري عسکرو په غزني کې یوازې اوسیږي. بهرام شاه له وخت څخه گټه واخېسته، په ډېرې چالاکۍ سره یې پرغزني برید وکړ، سلطان سیف الدین غوري اړ شو چې له مجدالدین موسوي او یو شمیر غوریانو سره؛ له ښاره ووځي او د غور پر لورې روان شي. د بهرام شاه سورو کسانو هغه وځاره او د سوراخ په سیمه کې یې ایسار کړ. سیف الدین غوري په

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېره ميړانه او زړورتوب د غزني له سورو سره تر هغې وجنگيده تر څو يې چې غشي درلودل، کله چې د سلطان سيف الدين غشي خلاص شول، هغه يې له خپل وزير مجدالدين موسوي سره يرغمل غزني ته راوست؛ بيا يې په دوو اوښانو سواره او په ډېره ناځوانۍ سره يې د غزني د ښار په کوڅو کې وگرځول او خلکو پرې له بالاخانو څخه خاورې اچولې. بيا يې دواړه د پل يک په طاق کې وځړول او د سلطان سيف الدين سر يې سنجر ته واستاوه(۱۴: ۷۰۰).

کله چې غور ته د سيف الدين د وژلو خبر ورسيد، سلطان بهاوالدين سام غوري د خپل ورور فاتحه وانخېسته. د بدلې د اخېستلو په خاطر يې له غور، گرم سير او غرجستان څخه يو لوی لښکر جوړ کړ، خو کله چې د گيلان سيمې ته راورسيد، د ډېرې غوسې او پريشانۍ له امله ناروغه او په همغه ځای کې وفات شو. له دې وروسته د هغه بل ورور علاوالدين د غزني په لورې حرکت وکړ. بهرام شاه له علاوالدين سره په زمينداور او تگين اباد (قندهار) کې له جگړو وروسته هند ته فرار وکړ. علاوالدين غزنی ونيو. نوموړی اوه ورځې او شپې د غزني ښار کې اور بل کړ او امر يې وکړ چې نارينه ووژنې اوښځې بندياني کړې. امر يې وکړ چې له محمود، مسعود او ابراهيم د غزني د پاچاهانو له جسدونو پرته نور ټول شاهي جسدونه له قبرونو څخه راوباسي او ويې سوزوي. د ورونو مړي يې په تابوتونو کې ځای پرځای کړل او غور ته يې يوړل. په دې ترتيب علاولدين په جهانسوز شهرت پيدا کړ. د بست ښار يې هم ويجاړ کړ. د غزني ښار چې د تمدن مرکز و وران شو. څه موده وروسته علاؤالدين د سنجر په مقابل کې ماتې وخوړه او له هغه سره بندي شو. بهرام شاه د دربيم ځل لپاره له هند څخه راغی او د غزني واک يې په لاس کې واخېست، خو دريېم ځل واکمنی يې ډېر دوام ونکړ او ژر وفات شو(۶۰:۴۶).

بهرام شاه يو علم دوسته پاچا و، د هغه شعر او شاعري ډېره خوښيده چې د حکيم سنايي حديقه او د بهرامشاهي کليله - دمنه يې ښې بيلگې دي. حمدالله مستوفي د هغه لقب يمين الدوله ياد کړی. هغه منار چې دده د واکمنۍ پر مهال جوړ شوی اوس هم په غزني کې شته چې دا لاندې لقبونه يې پرې ليکلي دي:

السلطان الاعظم يمين الدوله او امين المله ابوالمظفر بهرامشاه. دا القاب بالکل د ستر شهنشاه سلطان محمود غزنوي القاب دي: خو هر چاته څرگنده ده چې ددې دواړو واکمنو ترمينځ څومره بې کچه توپير و؛ يوازې القاب او کلمات د سرلوړۍ لامل نشي کيدای(۱۴: ۶۹۶).

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴،۳. انځور: پورتنی انځور د بهرام شاه تاریخي منار راښيي. (۳:۱۲۱)

## ۴،۲۰ . د خسرو شاه واکمني (۵۵۲-۵۵۷هـ ق)
## (۵۳۸-۵۴۲ هـ ش)
## (۱۱۶۰-۱۱۶۵ز)

د بهرام شاه له مړينې وروسته د هغه مشر زوی یمن الدوله خسرو شاه پر تخت کښیناست. دده د واکمنۍ پرمهال د غزنویانو دولت ډیر کمزوری شوی و؛ یوازې په غزني او د هندوستان په ځینو ښارونو کې دده واک چلیده. سنجر چې له دوی سره مرسته کوله هغه د غزه ترکانو له خوا بندي شوی و. بل پلو ته غوریان هم ډیر قوي شوي و. غزه ترکانو د سنجر له بندي کېدو وروسته غزني ته عسکر ولیږل. خسرو شاه هند ته وتښتید او لاهور یې د خپلې پلازمینې په توگه وټاکه. په دې ترتیب په افغانستان کې د غزنویانو واکمني پای ته ورسیده. غزه ترکانو دولس کاله په غزني کې واکمني وکړه، ترڅو سلطان غیاث الدین غوري غزه ترکان له غزني څخه وشړل او معزالدین غوري یې په غزني کې پریښود. خسروشاه اوه کاله په لاهور کې حکومت وکړ بیا هلته وفات شو(۱۴: ۷۰۷).

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۴,۲۱. د خسرو ملک واکمني (۵۵۷-۵۸۲هـ ق)
## (۵٦٧-۵۴۲ هـ ش)
## (۱۱٦۵-۱۱۹۰ز)

د خسرو شاه له مړينې وروسته خسرو ملک په لاهور کې واک ته ورسيد. لاهور وار د مخه د خسرو شاه پواسطه په ۵۵۲ هـ ق کال کې د غزنويانو د پلازمينې په توګه ټاکل شوی ؤ. خسرو ملک د غزنوي کورنۍ وروستی پاچا و؛ غوري واکمنانو يوازې د غزني پر حاکميت قناعت ونه کړ، ځکه کله چې سلطان معزالدين غوري په غزني کې غزه ترکانو ته ماتې ورکړه، بيا به يې هر کال د خسرو ملک د واک سيمې تر لاسه کولې ، په هند کې د غزنويانو د نيول شويو سيمو د نيولو لپاره يې د هند په لوري حرکت وکړ، خسرو ملک ونه توانيده چې د غوريانو مقابله وکړي ، سلطان معزالدين په ۵۷۷ هـ ق کال تر لاهور پورې خپلې لښکرې واستولې. په ۵۸۲ هـ ق يې پر لاهور يرغل وکړ؛ خسرو ملک يې يرغمل فيروز کوه ته وليږه، چې وروسته په بنديخانه کې وفات شو. د خسرو ملک د واک له پای ته رسيدو سره سم د غزنويانو واکمني پای ته ورسيده( ۱۴: ۷۱۰-۷۱۱).

## ۴,۲۲. د غزنويانو د عصر فرهنګي او ټولنيزې هڅې

د غزنويانو د واکمنۍ پر مهال د افغاني دولت نفوذ د هند نيمې وچې ته ورسيد. نو ټول افغانستان د خراسان په نامه يادېده. خراسان چې د لمر ختلو يا ختيځ معنی ورکوي. د عباسي خليفه له خوا هم په رسمي توګه سلطان محمود غزنوي د خراسان د سلطان په توګه وپيژندل شو. خو ابی بکر احمد بن محمد الهمداني چې په ابن فقيه هم مشهور دی ، نوموړي خراسان په څلورو برخو ويشلی او لاندې ولايتونه د هغه څلورو برخې ګڼې : نيشاپور ولايت ( اوسنې خراسان )، هرات ولايت، مرو ولايت، خوارزم ولايت، تخارستان ولايت، بلخ ولايت ، ماورالنهر ولايت او د فرغانې ولايت، همدارنګه د کرمان او سيستان ولايت د ښارونو په ټاکلو کې تقريباً د بلاذري پيروي کوي، خو يو بل جغرافيه ليکونکی ابو القاسم عبيدالله بن عبدالله مشهور په ابن خرداد د خاص خراسان څلور برخې په دې توګه ښيې : د مرو شاجهان برخه، د بلخ او تخارستان برخه ، د هرات ، پوشنج، بادغيس او سجستان برخه، د ماورالنهر برخه ، نوموړی د بست، رخج، کابل، زابلستان، هرات، بلخ، تخارستان(قطغن او بدخشان)، مرو او نيشاپور، خوارزم، بخارا، سغد، خجند او فرغانه ددې څلورو برخو اجزا ګڼې(۲۸: ۱۰-۱۱).

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزنويانو د آسيا په زړه افغانستان کې يوه لويه امپراتوري تشکيل کړه چې په هغه کې ټول افغانستان ، فارس، د هندوستان ځينې سيمې او ماورالنهر شامل وو. د غزني ، بلخ ، لاهور او بست له ښارونو څخه يې د پلازمينې په توګه ګټه اخيسته. د غزنويانو دورې تقريباً دوه نيمې پيړۍ دوام وکړ. د غزنويانو په دوره کې په ځانګړې ډول د سلطان محمود غزنوي دوره د اسلامي مدنيت د ټينګښت او د دري ژبې د پرمختګ دوره وه. هند ته د سلطان محمود غزنوي پوځي سفرونو مذهبي بڼه درلوده. غزنويانو څو ځلې پر هند حملې وکړې؛ لومړی ځل د سبکتګين او جيپال ترمينځ جګړه وشوه؛ سبکتګين پر جيپال بريالی شو، خو هند يې فتح نه کړ؛ سلطان محمود چې يو کلک مسلمان و ، غوښتل يې د اسلام مقدس دين د هند په نيمه وچه کې هم خپور کړي. نوموړي اکثراً د منې په موسم کې د هند هيواد ته پوځي سفر کاوه. په دې جګړو کې ډير ثروت هم دده لاس ته ورغې. له ده سره د جګړې په بنديانو کې ډير شمير پوه معماران او صنعتګران هم وو، چې د غزني د ښار په ودانولو کې يې ترې ګټه واخيسته. هند ته د غزنويانو ورتګ د افغانستان او هند ترمينځ د نويو اړيکو پيلامه وه چې د افغانستان او هند يو نوی مدنيت مينځ ته راغې او غزنی د تمدن په پلازمينه بدل شو. يو شمير دينې عالمان افغانستان څخه هند ته ولاړل چې هنديانو سره يې په اسلامي زده کړو کې مرسته کوله. د غزنويانو امپراتوري د هند، فارس او ماورالنهر د نږدې کېدو سبب هم شوه او د دغه هيوادونو يو شمير سيمې د پلازمينې غزنې څخه اداره کېدلې (۴٦: ٦٠).

سلطان محمود غزنوي غنيمتونه او غلامان د اسلام د مقدس دين د اصولو سره سم قبلول، په ټولو ځايونو کې يې بودايې معابد په مسجدونو بدلول او يا تخريبول. بتان يې ماتول او له هغو څخه لاس ته راغلي مالونه او غنيمت يې حلال ګڼل. په اقتصادي برخه کې يې د اوبو بندونه جوړ او کرنيزې ځمکې ابادې کړې چې د هغه غټه بېلګه د غزني بند سلطان دی چې لا تر اوسه پورې موجود دی. کسبه کارۍ په ځانګړي ډول نساجۍ او فلز کارۍ ډيره وده وکړه. په ودانيو کې مرمرينې ډبرې استعمال شوې، د سبکتګين او سلطان محمود غزنوي قبرونه او د غزني منارونه او د مسعود قبر لاتر اوسه پاتې دي. غزنويانو په آسيا کې د دينې عالمانو او شاعرانو په تربيه کې ځانګړې ونډه درلوده، نظامي قدرت يې ډير پياوړی ؤ، په فتوحاتو کې اديبانواو شاعرانو هم هڅه کوله، او پوځيان يې هڅول. د غزنويانو د دربار مهم او مشهور وزيران دا وو : ابوالعباس الفرايني، احمد بن حسن ميمندي، حسن بن مهمد ميکالي، ابونصر احمد بن عبدالصمد شيرازي، خواجه احمد مستوفي، عبدالرازق بن احمد او نور .

(c) ketabton.com: The Digital Library

مشهور عالمان يې عبارت وو له : ابوريحان البيروني، ابن سينا بلخي، ابوالفتح بستي، ابومنصور موفق هروي، عبدالجبار العتبى، ابونصر مشکان، ابوالفضل بيهقي، عبدالحی گرديزي، ابو عبدالله جوزجاني، ابو نصر عتبی او نور . مهم شاعران يې عبارت وو له : فردوسي،فرخي، عنصري ، مسجدي، منو چهري، سنايي ، مسعود سعد سلمان، ناصر خسرو ، اسد طوسي او سيد حسن غزنوي. دا دوره د دري ژبې د رنسانس دوره ده. سلطان محمود غزنوي يو مدرسه د عروس فلک مسجد په خوا کې جوړه کړې وه، چې مجهز کتابتون يې درلود. د امپراطورۍ له ډيرو سيمو څخه يې عالمان راټول کړل ، دلته د اسلام فقه او په نورو اسلامي علومو کې عالمان تربيه او بيا هند او ماورالنهر ته استول کېدل. څو د اسلام مقدس دين په خپرولو کې اغيزمن فعاليت سرته ورسوي. د مدرسې استادانو ته دولت معاش ورکاوه. ددې مدرسې زده کوونکي يوازې له غزني څخه نه وو؛ بلکې د امپراطورۍ له مختلفو سيمو څخه به د زده کړې لپاره راتلل او د دولت لخوا اعاشه او اباطه کېدل، موزيم يې هم جوړ کړی و چې مختلف اثار ورکې ساتل کېدل؛ يو ښکلی مسجد يې د عروس فلک په نوم هم جوړ کړې و(۴۶: ٦٢).

کله چې غزنويانو خپل پايتخت لاهور ته انتقال کړ، هغه ښار هم د سياست او سوداګرۍ له پلوه پرمختګ وکړ. د سلطان محمود په وخت کې يو شمير ديني عالمانو، متصوفينو، فيلسوفانو، روحانيونو ، شاعرانو او اشرافو له افغانستان څخه هند ته سفر وکړ او هلته يې د يو نوي تمدن بنسټ کېښود چې د هند او افغان د تمدن په نوم يادېږي. له متصوفينوڅخه مشهور يې علي بن عثمان همجوري او خواجه معين الدين چشتي وو، چې دې دواړو په هند کې ډېر نفوذ پيدا کړ. اسلامي عالمانو د اسلام د مقدس دين په نشر کې ډيره ونډه واخېسته. د غزنويانو په دوره کې د هند، افغانستان او ماورالنهر ترمينځ ازادانه تګ راتګ د سوداګرۍ لپاره زمينه برابره کړه او دغو سوداګريزو اړيکو د امپراتوري په مختلفو سيمو کې د اسلام د مقدس دين د تبليغاتو له پاره هم زمينه برابره کړه. هغه نظامي، دولتي سياسي تشکيلات چې سلطان محمود غزنوي وضع کړی وو د هغه د وروستيو ځای ناستو له خوا عملي کېدل، که چيرې کوم تغيير راغلی وي هغه ډير کم دی. د غزنويانو د واکمنۍ قلمرو ډير پراخه و. ددې امپراطورۍ اداري ډير مصرف ته اړتيا درلوده، د غزنوي دولت د عوايدو مهمې سرچينې عبارت وې له :

١. سلطنتي ملکيت

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲. جگړه ییزه غنیمتونه چې یوازې د سومنات له بت څخه له شل میلیونو دینارو څخه یې ډیر غنیمتونه لاس ته راوړي وو.

۳. هغه سوغاتونه چې د محلي امیرانو له خوا به ورکول کېدل.

۴. خراج او مالیات چې د مختلفو سیمو له حاکمانو څخه اخېستل کېدل(۴۶: ٦٦).

## ۴,۲۳. د (۱۲ - ۱۵ ) زیږدیزې پیړۍ ترمینځ د افغانستان ټولنیز حالات

د غزنویانو واکمنې د افغانستان په تاریخ کې له لسمې او دولسمې زیږدیزې پیړې سره برابره ده، په دې دوره کې مینځنیو پیړیو خپل پړاوونه طې کول، کرنې او د اوبو لګولو چارو پرمختګ وکړ؛ د اوبو بندونه جوړ شول، چې بند سلطان اوس هم موجود دی. صنعت او کسبه کاري په تیره بیا نساجۍ او فلزکارۍ ډیر پرمختګ وکړ. په دې دوره کې لوړې ودانۍ او څلی جوړ شول. د بلخ، کابل نیشاپور، هرات او مرو ښارونه د مینځنۍ آسیا په لویو سوداګریزو ښارونو بدل شول. یوازې غزني دوه سوه زره نفوس درلود. د وریښمو لویه لار چې ډیره برخه یې د غزنویانو د امپراطورۍ له سیمو څخه تیرېدله، تل به لوی کاروانونه په دې لاره تیرېدل، او د چین هیوادیې له مدیترانې سره تاړه. په دې لار کې ځای پر ځای کاروان سرایونه جوړ او د لارې امنیت ټینګ و. دغو کاروانونو له افغانستان، چین ، هند ، ترکستان، عراق ، مصر او شام څخه مالونه وړل راوړل. په دغو مالونو کې رختونه، عطر، مرئیان، څاروې ، درمل، فلزي سامانونه، وسلې، قیمتي ډبرې، مسي لوښي، کاغذ، وړۍ، پوستکي، څرمن، دانې ، ډیوې او غوړې شامل وو(۲۷ : ۱۲۹).

بادي او د اوبو ژرندې، د اوبو رایستلو څرخونه (ارهټونه)، اوربشې، غنم، وریجې، پنبه او د انګور تولید وده وکړه ، او له ممیزو، بادام او سرکې څخه شراب جوړیدل، د کرنې ترڅنګ غالۍ اوبدلو، رخت جوړولو ، له وړیو څخه د د ټغرونو او لیمڅیو جوړول، له فلزاتو څخه د وسلو جوړول او خټینو لوښو جوړولو ډیر پرمختګ کړی و. له سپینو زرو څخه به ګاڼې جوړیدې، د یو من غنمو بیه یو درهم وه. زرګري او پینې ګري ، ترکاڼي او د ودانیو جوړولو پرمختګ وکړ. دولت منظم اداري او نظامي تشکیلات درلودل ، قضایي ، مالي او د جاسوسۍ چارو ډیره پراختیا کړې وه. په ټولو ښارونو کې جوماتونه او مدرسې ودانې شوې . د غزني ښار په ټوله آسیا کې د دري ادب زانګو بلل کېده . فردوسي او ابوریحان

(c) ketabton.com: The Digital Library

البيروني زيات اثار وليکل. يو شمير شاعران لکه سنايي ، اسد، مسعود سعد، ابوالنصر او سيد حسن غوندې شاعران وروزل شول. د تيږو توږل، د ماڼيو گچ کاري ، کاشي توږل، انځوريز لرگي به استعماليدل. د غزني څلی ، د بست طاق په دې دوره کې جوړ شوي دي. ښوونه او روزنه د عقيدې سره سم سرته رسيدله. په هر حال په افغانستان کې هم د غزنويانو دوره لکه د نورو اسلامي هيوادونو په شان ورځ تر بلې د فقهاؤ دريځ د کلکېدو او د ادبيانو، هنر، صنعت او د علومو د ودې دوره وه. خو فلسفه په ټپه ودريده( ۲۷ : ۱۳٦).

د غزنوي دولت ملکي تشکيلات د دولت د ځواک د کلکوالې دوره وه. د هيواد د ملکي ادارې په سر کې د وزارت ديوان و، چې د صدارت او ماليې د وزارت دندې يې سرته رسولې. د د يوان مشر ته يې ديوان صاحب يا خواجه بزرگ ويلي. دويم ديوان رسايل و، چې د تحريراتو رسمي دندې په خوا کې يې د پاچا د بهرنې سياست چارې هم پرمخ بيولې. د رسايلو په ديوان کې د عربي، ترکي او هندي ژبو ژباړونکی مقرريدل. د رسايلو د ديوان صاحب به د تکړه منشيانو له ډلې څخه غوره کېدل او ځوان منشيان د شاگرد په توگه د معينيت په ځانگه کې بې تنخوا په کار بوختيدل. درېيم مهم وزارت ((ديوان عرض)) و چې د جگړې د وزارت په توگه په نظامي چارو او د پوځ په برخه کې بوخت و. دغو دريو واړو وزارتونو د (صاحب بزرگ) يا د دربار وزير او د گارد قوماندان سره يو ځای د پاچا تر مشرتوب لاندې دوزيرانو مجلس جوړاوه. خو وروستی پريکړه د پاچا ارادې پورې اړه درلوده. ديوان وکالت : حسابي چارې سرته رسولې. قاضي القضات په مرکز کې د ولايتونو د قاضيانو په سرکې قرار درلود. د قاضي حکم پرته له ځنډ څخه د اجرا وړ و. مهمې بنديخانې په منديش (غور) ، گرديز، جوزجان، کشمير، ملتان او غزني کې په کلکو کلاو کې موجودې وې. چې سياسي او جنايې بنديان به ورکې ساتل کېدل، بنديانو ته ډول ډول سزاگانې ورکول کېدلې( ۲۷: ۱۳۷).

د غزنويانو د پوځ شمير سل زره تنه وو چې څلويښت زره يې سپاره عسکر په غزني کې وو، پوځ لوې وسله تون درلود، اوه سوه پيلان چې څه يې بار وړونکي او څه جگړه ايزه وو. د غزني د دربار مصرف دومره زيات نه وو، خو د خوراکونو د چمتو کولو لپاره لويه اداره وه چې ((توليت سفر شاهي)) بلل کېده . پاچا به په لوړه چوتره باندې پرتخت ناست و، څو سوه مرئيانو چې د وشاخ خولۍ، د سپينوزرو خولۍ ، کمربندونه (ملاوستنی) او ځانگړې وسلی به يې درلودې شاوخوا به ولاړ وو. د چوترې پرمخ به شهزاد گان او سپهه سالاران وو، او نور مامورين به په ټاکلو ځايونو ناست وو. سلطنتي حاجب د (دربار

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسولین) به د دربار په دروازه کې ولاړ وو، او د مرئیانو څو زره کسیزه ګارد به د دربار له دروازې بهر ودریده. شهزاد ګان هم د تشریفاتو پابند وو او که سرغړونه به یې وکړه بیا به اوچته غړونه وربانديې کېدل. جګړې ته د روانیدو پر مهال به پاچا پوځ له یو لوړ ځای څخه معاینه کاوه. د بهرنیو سفیرانو لیدنې هم ډیره پرتمینه بڼه درلوده، د سفیرانو هئت ته به د غزنې په ټولو لویو لارو کې ښه راغلاست ویل کېده . د پاچا لیک په پټه راغوښتل کېده . له ژباړې وروسته بیرته ورکول کېده . سفیرانو ته د راتګ په دریو لومړیو ورځو کې به شل زره درهم او یو شمیر قیمتي سوغاتونه ورکول کېدل. او د رخصتیدو په ورځ به تر دوو سوو زرو درهمو پورې نقدي او د سپینو زرو یو براق لرونکي آس ، قیمتي جامې ، یو څه مشک، عود او کافور سفیر ته ورکول کېدل(۲۷:۱۴۱).

سره له دې  د غزني دولت خپلو عسکرو ته به نقدي پیسی ورکولې خو لویو افسرانو او زورمندانو ډیرې ځمکې درلودې. مرئیان به تر روزنې لاندې نیول کېدل . چې کله به آزاد شول د مامورینو په توګه هم منل کېدل. په غزنوي دولت کې نسب او هم د پوهې د معیار سره سم  درناوې کېده . د غزنوي دولت عواید له سل میلونو درهمو څخه زیات وو  چې جنسي او نقدي بڼه یې درلوده. د جګړو غنیمتونه او مصادره شوي شتمني د دولت په لګښتونو کې به مصرفیدله. لکه د ځینو غزنوي پاچاهانو د دربار لوړ لګښت، د حرمسرای لګښت، د شاهي کورنۍ لګښتونه، د پوځ لګښت او معاش ، د ملکي مامورینو معاشونه، د روحانیونو مستمري او معاشونه ، د شاعرانو مستمري معاشونه ، د لرې پرتو ولایتونو د والیانو معاشونه، چې په غزني کې به اوسیدل د میاشتې پنځه زره درهمه او په کال کې به یې دوه سوغاتونه اخېستل. د لارو جوړول او رغونه، د پلونو جوړول ، د جوماتونو ابادول، د حکومتي ودانیو او بنسټونو جوړول او نورو برخو کې به مصرفېدل(۲۷: ۱۴۲).

## ۴,۲۴. د غزنویانو د واکمنۍ د سقوط لاملونه

د غزنویانو واکمنۍ د سلطان محمود غزنوي د واکمنۍ پرمهال ډیر پرمختګ وکړ او یو لوی اسلامي دولت یې تاسیس کړ. خو د هغه له واکمنۍ وروسته د هغه د ځای ناستو تر مینځ مخالفت، د سلجوقیانو مخالفت ، د غوریانو سره دښمني او د غزه ترکانو په مقابل کې ماتې د هغوی په سقوط کې مهمه ونډه درلوده، چې ورته په لاندې ډول اشاره شوې ده:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د غزنویانو د سقوط ستر لاملونه د سلجوقیانو مخالفت او د سلجوقیانو په مقابل کې د لومړي مسعود ماتی او د سلطان سنجر پواسطه د بهرام شاه واک ته رسیدل.
- له غوریانو سره مخالفت ، د بهرام شاه له خوا د قطب الدین غوري وژنه.
- د واک پر سر د شهزاده گانو ترمینځ مخالفت
- د سیف الدین غوري وژنه چې په غځ کې یې سلطان علاولدین جهان سوز د غزني ښار وسوزاوه.
- د بهرام شاه له خوا د غزني پریښودل
- د غزه ترکانو په مقابل کې ماتې او لاهور ته د پلازمینې انتقالول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## لنډیز

د غزنویانو د واکمنۍ دوره د افغانستان په تاریخ کې ځانګړی ځای لري، ځکه د دوی د واکمنې پر مهال به د هند او اوسنۍ ایران ډیرې سیمې د افغانستان د واکمنانو پواسطه اداره کېدلې. سلطان محمود غزنوي په هند کې د اسلام د مقدس دین په خپربدو کې ستره ونډه درلوده او د نړۍ د لویو امپراطورانو څخه شمیرل کېده. سلطان محمود غزنوي پخپله په دغو جګړو کې د اسلام د مقدس دین د خپرېدو لپاره ګډون کاوه او غازي هم ورته ویل کېده. سلطان محمود غزنوي د خپلې واکمنۍ پر مهال دغه لوی اسلامي دولت په ښه شان اداره کړ. د ده د واکمنۍ پر مهال د علومو زده کړې ترقي وکړه، او د دیني روزنې لپاره یې یوه مدرسه جوړه کړې وه چې تقریباً درې زره شاګردانو به ورکې درس وایه. سلطان محمود غزنوي د دولت د اداري لپاره ځانګړې تشکیلات جوړ او هر دیوان به جلا دنده سرته رسوله. د سلطان محمود غزنوي له خوا د سومنات د بت خانې فتح او ددې بت ماتول د اسلام په تاریخ کې یوه ستره بریا ده. سلطان محمود غزنوي یو لوی اسلامي دولت افغانانو او خپلو وارثینو ته په میراث پریښود. له ده وروسته د غزني دربار د دربار د مشرانو تر واک لاندې راغی. هغوی لومړی د سلطان محمود غزنوي له مړینې وروسته د مسعود او محمد ترمینځ د اختلاف له امله په دوه ډلو وویشل شول حتی د دربار ځینو مشرانو محمد نه پریښود چې واک مسعود ته وسپاري او هغه یې جګړې ته لمسوه.

کله چې مسعود له محمدڅخه واک په زور ونیوه ، نو هغه یې بندي کړ. وروسته پخپله سلطان مسعود د محمد او د هغه د زامنو او پلویانو پواسطه ووژل شو. مودود د خپل پلار د وژلو له امله اړ شو چې له سلجوقیانو سره جګړه پریږدي او د خپل پلار د انتقام په خاطر له خپل کاکا سره د جګړې په خاطر تیاری ونیسي. مودود لږه موده وروسته دننګرهار په فتح آباد کې محمد ته ماتې ورکړه او د خپل پلار قاتلین یې ووژل. د مودود له مړینې وروسته د دربار مشرانو د مودود څلور کلن زوی دویم مسعود د پاچا په توګه او د هغه کاکا علي یې د هغه د نایب په توګه وټاکه څو له هغه سره به مرسته وکړي. خو علي ډیر ژر په دویم مسعود کودتاه وکړه او واک یې په خپل لاس کې واخیست، خو هغه هم د دربار مشرانو له واک څخه لیری او پر ځای یې د سلطان محمود غزنوي زوی عبدالرشید واک ته ورساوه. د طغرل نمک حرام پواسطه د واک نیول چې د غزنوي له کورنۍ سره یې اړیکې نه درلودې، ډیر ژر له واک څخه لیری شو او د هغه پرځای د محمود غزنوي لمسی د لومړی مسعود زوی فرخ زاد واک ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورسيد. دې پيښو د غزنويانو واکمنۍ لپاره د سقوط زمينه برابره کړه، خو په ځانګړي ډول د سنجر پواسطه د بهرام واک ته رسول  او په خطبه کې د سلجوقي واکمن نوم اخېستل د غزنويانو واکمني د سقوط سره مخ کړه، خو کله چې غزنويانو د غزه ترکانو په مقابل کې ماتی وخوړه او خپله پلازمينه يې لاهور ته انتقال کړه ، نو د غزنويانو واکمني عملاً په افغانستان کې سقوط وکړ.

غزنويانو سل زره تنه پوځ درلود چې څلويښت زره يې په غزني کې وو.  په غزني کې يو لوی وسله تون هم موجود وو. اوه سوه پيلان يې درلودل چې څه يې بار وړونکې  او څه يې جګړه ايز وو. خپلو عسکرو ته يې نقدي پيسی ورکولی خو افسرانو يې ځمکې هم درلودلې.

سلطان محمود غزنوي غنيمتونه او غلامان د اسلام د مقدس دين د اصولو سره سم قبلول. په ټولو ځايونو کې يې بودايي معبدونه په مسجدونو بدلول. په اقتصادي برخه کې  يې د اوبو بندونه جوړ او کرنيزې ځمکې يې ابادې کړی . کسبګری هم په دې دوره کې وده وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پوښتنې

1. ولې د غزنویانو د کورنۍ بنسټ ایښودونکی الپتگین د ساماني پاچا په ټاکنه کې له اختلاف وروسته پر غزني ښار حمله وکړه؟
2. د غوریانو او غزنویانو ترمینځ اختلاف د غزنویانو په سقوط کې څه اغیزه درلوده؟
3. د غزنوي شهزاد گانو  د خپل مینځي اختلاف پایلې څه وې؟
4. د بهرام شاه واک ته رسولو کې د سلطان سنجر مداخلې څه منفي اغیز درلود؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

| د غزنویانو د کورنۍ د واکمنانو د واکمني موده | | |
|---|---|---|
| شمیره | د پاچا نوم | کال |
| ۱ | الپتگین | (۳۵۱-۳۵۲هـ ق)<br>(۳۴۱-۳۴۲ هـ ش)<br>(۹۶۲-۹۶۳ ز) |
| ۲ | اسحق | (۳۵۲-۳۵۵هـ ق)<br>(۳۴۲-۳۴۵ هـ ش)<br>(۹۶۳-۹۶٦ ز) |
| ۳ | بلکاتگین | (۳۵۵-۳٦۵هـ ق)<br>(۳۴۵-۳۵۵ هـ ش)<br>(۹٦٦-۹۷۷ ز) |
| ۴ | پریتگین | (۳٦۵-۳٦٦هـ ق)<br>(۳۵۵-۳۵٦ هـ ش)<br>(۹۷۷-۹۷۸ ز) |
| ۵ | سبکتگین | (۳٦٦-۳۸۷هـ ق)<br>(۳۵٦-۳۷٦ هـ ش)<br>(۹۷۸-۹۹۸ ز) |
| ٦ | اسمعیل | ۳۸۷-۳۸۸ هـ ق |
| ۷ | سلطان محمود | (۳۸۸-۴۲۱هـ ق)<br>(۳۷٦-۴۰۹ هـ ش)<br>(۹۹۸-۱۰۳۱ ز) |
| ۸ | محمد | (۴۲۱-۴۲۱هـ ق)<br>(۴۰۹-۴۰۹ هـ ش)<br>(۱۰۳۱-۱۰۳۱ ز) |
| ۹ | لومړی مسعود | (۴۲۱-۴۳۲هـ ق)<br>(۴۰۹-۴۲۰ هـ ش)<br>(۱۰۳۱-۱۰۴۲ ز) |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| ۱۰ | مودود | (۴۳۲-۴۴۱هـ ق)<br>(۴۲۰-۴۲۹ هـ ش)<br>(۱۰۴۲-۱۰۵۱ ز) |
| ۱۱ | دویم مسعود | (۴۴۱-۴۴۱هـ ق)<br>(۴۲۹-۴۲۹ هـ ش)<br>(۱۰۵۱-۱۰۵۱ ز) |
| ۱۲ | علي | (۴۴۱-۴۴۱هـ ق)<br>(۴۲۹-۴۲۹ هـ ش)<br>(۱۰۵۱-۱۰۵۱ ز) |
| ۱۳ | عبدالرشید | (۴۴۱-۴۴۴هـ ق)<br>(۴۲۹-۴۳۲ هـ ش)<br>(۱۰۵۱-۱۰۵۴ ز) |
| ۱۴ | طغرل | (۴۴۴-۴۴۴هـ ق)<br>(۴۳۲-۴۳۲ هـ ش)<br>(۱۰۵۴-۱۰۵۴ ز) |
| ۱۵ | فرخ زاد | (۴۴۴-۴۵۱هـ ق)<br>(۴۳۲-۴۳۹ هـ ش)<br>(۱۰۵۴-۱۰۶۱ ز) |
| ۱۶ | ابراهیم | (۴۵۱-۴۹۲هـ ق)<br>(۴۳۹-۴۷۹ هـ ش)<br>(۱۰۶۱-۱۱۰۱ ز) |
| ۱۷ | دربیم مسعود | (۴۹۲-۵۰۹هـ ق)<br>(۴۷۹-۴۹۵ هـ ش)<br>(۱۱۰۱-۱۱۱۸ز) |
| ۱۸ | ارسلان شاه | (۵۰۹-۵۱۱هـ ق)<br>(۴۹۵-۴۹۷ هـ ش)<br>(۱۱۱۸-۱۱۲۰ز) |
| ۱۹ | بهرام شاه | (۵۱۱-۵۵۲هـ ق)<br>(۴۹۷-۵۳۸ هـ ش)<br>(۱۱۲۰-۱۱۶۰ز) |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| ۲۰ | خسرو شاه | (۵۵۲-۵۵۷هـ ق)<br>(۵۳۸-۵۴۲ هـ ش)<br>(۱۱٦۰-۱۱٦۵ز) |
| ۲۱ | خسرو ملک | (۵۵۷-۵۸۲هـ ق)<br>(۵۴۲-۵٦۷ هـ ش)<br>(۱۱٦۵-۱۱۹۰ز) |

**۴,۱. جدول: پورتنۍ جدول د کتابونو له متن څخه د مؤلف په وسیله ترتیب شوی.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۴٫۱. ګراف: لاندینۍ ګراف د کتابونو له متن څخه د مؤلف په وسیله ترتیب شوی.**

## د غزنوي کورنۍ واکمنان

الپتګین (۳۵۱-۳۵۲ هـ ق)

اسحق د الپتګین زوی (۳۵۲-۳۵۵ هـ ق)

بلکا تګین د الپتګین د ساتونکي ګارد قوماندان (۳۵۵-۳۶۵ هـ ق)

پریتګین د الپتګین غلام او جنرال (۳۶۵-۳۶۶ هـ ق)

سبکتګین د الپتګین زوم (۳۶۶-۳۸۷ هـ ق)

اسمعیل (۳۸۷-۳۸۸ هـ ق) اوه میاشتې

سلطان محمود (۳۸۸-۴۲۱ هـ ق)

محمد (۴۲۱-۴۲۱ هـ ق)

سلطان مسعود (۴۲۱-۴۳۲ هـ ق)

عبدالرشید (۴۴۱-۴۴۴ هـ ق)

سلطان مسعود (۴۲۱-۴۳۲ هـ ق)

سلطان مودود (۴۴۱-۴۳۲ هـ ق)

علي (۴۴۱-۴۴۱ هـ ق)

فرخ زاد (۴۵۱-۴۴۱ هـ ق)

ابراهیم (۴۹۲-۴۵۱ هـ ق)

(c) ketabton.com: The Digital Library

دویم مسعود د مودود زوی (۴۴۱-۴۴۱ هـ ق)

دریم مسعود د ابراهیم زوی (۴۹۲-۵۰۹ هـ ق)

ارسلان شاه د دریم مسعود زوی (۵۰۹-۵۱۱ هـ ق)

بهرام د دریم مسعود زوی (۵۱۱-۵۴۸ هـ ق)

خسرو شاه (۵۵۲-۵۵۷ هـ ق)

خسرو ملک (۵۵۷-۵۸۲ هـ ق)

نوټ : طغرل نمک حرام د سلطان محمود غزنوي د کورنۍ سره اړیکه نه لري.

طغرل نمک حرام (۴۴۴-۴۴۴ هـ ق)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پنځم څپرکی

# د سلجوقیانو دولت

## پیلیزه

سلجوقیان له ترکي قومونو څخه یو قوم دی چې کسب یې مالداري وه او تل به له یوه ځای څخه بل ځای ته د څړ ځای د موندنې په خاطر لیږدیدل. د سلجوق پلار دقاق یا توقاق تیمور نومیده. سلجوق په ماورالنهر کې د محلي امیرانو د واک لاندې ژوند کاوه. تر هغه پورې چې د سامانیانو واکمنې د سیحون په شاوخوا سیمو کې ټینګه وه؛ سلجوقیانو د سامانیانو په خاوره باندې د تیرې جرئت نه شو کولای، خو کله چې د بې اتفاقی په وجه د سامانیانو واکمنې کمزورې شوه؛ سلجوق له دې وضعیت څخه ګټه واخیسته، له جیحون څخه راتیر او په جند کې میشت شو. سلجوق په دغه وخت کې د اسلام مقدس دین قبول او مسلمان شو. سلجوق له هغو ترکانو سره جګړه کوله چې مسلمانان شوی نه وو. سلجوق ډیر شهرت ومومند. د ماورالنهر محلي واکمنانو هم د خپلو دښمنانو د له مینځه وړلو له پاره له سلجوق څخه د مرستې غوښتنه کوله. کله چې سلجوق د جند په ښار کې مړ شو، دده د واکمنۍ ساحه دده د څلورو زامنو ( یبغور ارسلان چې په اسرائیل مشهور و ، میکائیل، یونس او موسی )

(c) ketabton.com: The Digital Library

له خوا اداره کېده . د سلجوق زوی اسرائيل د علي تګين سره د سلطان محمود غزنوي په مقابل کې مرسته وکړه. خو سلطان محمود غزنوي د آمو له سيند څخه تير شو، علي تګين وتښتيده؛ او اسرائيل د سلطان محمود له خوا په ۴۱٦ هـ ق کال د کشمير د کالنجر په کلا کې بندي شو. ددې قوم يو شمير مشرانو له سلطان محمود غزنوي څخه په افغانستان کې د ميشته کېدو غوښتنه وکړه، سلطان محمود غزنوي په افغانستان کې د سلجوقيانو څلورو زرو کورنيو ته په دې شرط چې وسلې به نه ساتي د ميشته کېدو اجازه ورکړه. دا د سلطان محمود غزنوي يوه لويه تيروتنه وه چې سلجوق (ترکانو) ته يې د اريانا (افغانستان) دروازې پرانيستې چې بيا د همدې قوم مشرانو د سلطان محمود اولادې ته ستونزې پيدا کړې. په ۴۱۸ هـ ق کال سلجوقيانو په جوزجان (نيسايا) ولايت کې د خلکو د مالونو په لوټولو پيل وکړ. خلکو غزنوي سلطان محمود ته شکايت وکړ، هغه يو پوځ وروليږه، دوی ته يې سزا ورکړه. د مسعود د پاچاهۍ پرمهال سلجوقيانو به پر مروه، هرات، ترمذ او بلخ باندې تل حملې کولې او مسعود به دوی له خپلې خاورې څخه شړل، مګر د ميکائيل زامنو داود چغري بيک او طغرل له ډيرو جګړو وروسته په يوې جګړې کې په ۴۲۹ هـ ق کال مسعود ته ماتې ورکړه. بلخ ، نيشاپور او مروه يې له مسعود څخه ونيول. او په نيشاپور[1] کې يې تاج پر سر کيښود او خپله پاچاهي يې اعلان کړه. د سلجوقيانو واکمنې له يو شمير هيوادونو سره ارتباط لري خو مونږ دلته يوازې پر هغې برخې بحث کوو کوم چې افغانستان پورې اړه لري.

## ۵,۱. د رکن الدين ابوطالب طغرل بيک واکمني (۴۵۵-۴۲۹هـ ق)

## (۴۴۲-۴۱٦ هـ ش)

## (۱۰٦۴-۱۰۳۸ز)

کله چې د ميکائيل زوی، طغرل بيک د دندانقان په جګړه کې سلطان مسعود ته په ۴۲۹ هـ ق کې ماتې ورکړه؛ په همدې کال ( ۴۲۹ هـ ق) کې يې د پاچاهي تاج په سر کړ او پاچاهي يې په نيشاپور کې اعلان کړه. طغرل بيک خپل ورور يبغور د لويديځ افغانستان يعنی پوشنج، هرات او سيستان د حاکم په توګه وټاکه او په ۴۳۲ هـ ق کال نوموړی تر بست (هلمند) پورې پرمخ ولاړ. دده ورور داود چغري بيک له مروې او سرخس څخه نيولې تر بلخ او شبرغان پورې سيمې ونيولې، د بلخ په

[1] نيشاپور او مروه هغه وخت د افغانستان (خراسان) د خاورې جز و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

علي آباد کې يې د سلطان مسعود لښکرو ته ماتې ورکړه او د خپل نفوذ ساحه يې په سويل کې تر سيستان او شمال کې تر بلخ او تخارستان پورې وغځوله. له سلطان مسعود وروسته سلطان مودودله غزني څخه خپل وزير عبدالرزاق د احمد ميمندي زوی سيستان ته د جګړې له پاره واستوه، خو بريالی نشو، په مقابل کې تخارستان، بلخ، ترمذ، قباديان او وخش يې ترې ونيول(۱۰: ۱٦۸-۱٦۹).

طغرل بيک د سلجوقيانو لومړی پاچا و. نوموړی يو زړور، د ټينګ عزم او د جګړې په هنر پوه شخص و. په نيشاپور کې د پاچاهۍ له اعلان وروسته د اصفهان ، بغداد او نورو سيمو په نيولو بريالی شو. د اصفهان له نيولو وروسته يې هغه ځای (اصفهان) د خپلې پلازمينې په توګه وټاکه او د بغداد د خليفه لور يې په نکاح کړه. د طغرل بيک په واسطه د بغداد له نيولو وروسته عباسي خليفه په ۱۰۵۵ هـ ق خپل واک له لاسه ورکړ او د سلجوقيانو تر مستقيم تسلط لاندې و. اما د مذهبي لارښود په توګه سلجوقيانو دده احترام کاوه. د طغرل وزير عبدالملک خراسانی د سلجوقيانو د واکمنۍ د نفوذ په پراختيا کې مهمه ونډه درلوده. نوموړی د دربار د دري او عربي برخې منشي هم و او له لويو عالمانو او لويانو څخه ګڼل کيږي. د سلجوقي دولت ډير کارونه به دده په تدبير او سياست اداره کېدل. په ۴۵۵ هـ ق طغرل بيک مړ او پر ځای يې زوی الپ ارسلان پاچا شو(۴٦: ٦۸).

طغرل سلجوقي د خپل مهال يو ځواکمن پاچا و؛ د ايران سياسي يووالی تر ساسانيانو وروسته د همدې په لاس ټينګ شو. هغه ديلمی واکمنو ته ماتې ورکړه او بغداد يې هم ونيوه، بيا يې شام ونيو او د ګرجستان له عيسويانو سره يې جګړې وکړې او په ۱۰٦۳ ز کې مړ شو (۲۷: ۱۴۳).

د طغرل بيک اداره په دوو برخو ويشل شوې وه، چې يو يې درګاه[1] او بل يې ديوان و. درګاه د سلطان په حرم پورې ارتباط درلود، د هغې مالي او اقتصادي چارې ځانګړي وکيل اداره کولې، چې ددې ادارې په سر کې به يو مشهور شخص مقرريده چې د وزير او لويو امرينو په حساب کې راته، د درګاه بلې برخې د ملکي، نظامي، مذهبي اشخاصو، پوهانو او نورو د هرکلي برخه وه. وزيرانو به مستقيماً له سلطان سره خپلې ستونزې شريکولې او ورتلل يې آزاد وو. خو د ملک شاه په وخت کې وکيل د لوړو ملکي او نظامي افسرانو او سلطان ترمينځ د تګ راتګ مسؤل و. وروسته (( امير بار)) چې نظامي افسر به وه د وکيل ځای ونيو. له دې پرته يو بل منصب حاجب کبير هم موجود و، چې وروسته

---

[1] دغه ارګان د طغرل بيک په حرم پورې ارتباط درلود. ددې ارګان مالي او اقتصادي چارې ځانګړی کس اداره کولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له وزیر څخه د هیواد مهم شخص ګڼل کېده . د طغرل بیک په وخت کې یو بل تن د نګهبان ریس په نوم و، چې پنځوس لرګین کوتک لرونکی کسان یې په اختیار کې درلودل. د هغوی دنده دا وه چې خلک به یې په غاړه کې وهل او بندیخانې کې به یې اچول. د اداري بله برخه دیوانونو جوړوله، د هر دیوان په سر کې وزیر قرار درلود. سلجوقي وزیرانو نظامي دندې هم درلودې. وزیر به مالي چارې څارلې، د مصرف او عایداتو ډول یې د مستوفیت په واسطه معلوموه. د پوځ حقوق یې کنترلول. ((دیوان اعلی)) چې په سر کې وزیر قرار درلود، په څلورو برخو ( دیوان رسایل، دیوان استیفا، دیوان اشراف الممالک او عرض دیوان) ویشل شوی و. وروسته نور دیوانونه لکه دیوان خالص یا خالصه چې له سلطنتي ملکیتونو څخه څارنه کوله؛ دیوان مصادره هم تاسیس شو. ځینې اداري تشکیلات هم په پلازمینه کې موجود وو. له طغرل بیک وروسته د هغه ځای ناستو هم له همدغو تشکیلاتو څخه ګټه اخېسته (۴: ۹٦).

## ۵,۲. د الپ ارسلان واکمني (۴٦۵-۴۵۵هـ ق)

## (۴۵۲-۴۴۲ هـ ش)

## (۱۰٦۴-۱۰۷۴ز)

د طغرل بیک له مړینې وروسته د هغه وراره د داود چغري بیک زوی الپ ارسلان واک ته ورسید. الپ ارسلان د روم امپراطورۍ لښکرو ته په ترکیه کې ماتې ورکړه. ارمنستان او ترکیه کې د روم امپراطور رومانوس دیو جانوس ته ماتې ورکړه او د نوموړي دیوجانوس لور یې خپل زوی ملک شاه ته واده کړه. او عبدالملک یې مړ کړ او د خراسان یو نامتو عالم خواجه نظام الملک طوسي یې چې شافعي مذهب او با تدبیره سړی و، د خپل وزیر په توګه وټاکه. الپ ارسلان د طوسي په مرسته په هیواد کې نظم ټینګ کړ(۲۷:۱۴۴).

الپ ارسلان په افغانستان کې خپلو حملو ته دوام ورکړ. تخار، بلخ او ترمذ یې ونیول، که څه هم د غزني له پاچا ابراهیم سره یې ښې اړیکې درلودې. د الپ ارسلان له مشهورو وزیرانو څخه یو هم ابوعلي حسن بن علي بن اسحق چې د نظام الملک طوسي خراساني لقب یې درلود، ده د الپ ارسلان د واکمنۍ پرمهال د سلجوقي دولت په پرمختګ کې ستره ونډه درلوده. الپ ارسلان په ۱۰٦۴ ز کال په ماورالنهر کې د ختل (ترمذ) ته لښکر کشی وکړه او هغه یې تر خپل کنترول لاندې راوست. کله چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزنوي دولت د بلخ او ترمذ کنترول له لاسه ورکړ، دا دواړه ولايتونه هم د سلجوقيانو لاس ته ورغلل. د دواړو ولايتونو خلکو شورشونه کول، خو الپ ارسلان له ډېرو ستونزمنو جګړو وروسته  دغه شورشونه ارام کړل. الپ ارسلان په ډېر شجاعت او زړورتيا سره، پر هغو کلاګانو چې د غرونو په لوړو برخو کې جوړې شوې وې، حملې وکړې. يو کال وروسته يې په ۱۰٦٥ ز کال له خوارزمه څخه په جند (Jand) او ساوران (Sawran) حمله وکړه، د هغه ځای حاکم له جګړې پرته دې سلجوقي واکمن ته ځان تسليم کړ. الپ ارسلان نوموړی حاکم چې په داوطلبانه توګه تسليم شوی و، په خپل حال پرېښود. هغه د پخوا په څېر خپل حاکميت ته دوام ورکړه. الپ ارسلان د طمغاچ خان ابراهيم د واکمنۍ په سيمه حمله وکړه. ابراهيم خان د بغداد د خلافت دربار ته له الپ ارسلان څخه شکايت وکړ.  خو د خلافت دربار له دوی سره مرسته ونشوه کولی. دويم ځل په ۱۰۷۳ ز کال الپ ارسلان د يو لوی لښکر سره چې (۲۰۰۰۰۰) دوه سوه زرو ته يې شمير رسيده پر ماورالنهر حمله وکړه، خو دا ځل لښکر کشي د الپ ارسلان د مړينې له امله له ناکامۍ سره مخ شوه، ځکه الپ ارسلان د يو کلا د اوسيدونکی د خنجر د ضربې له امله مړشو. د الپ ارسلان له وژل کېدو وروسته دهغه زوی ملک شاه پاچاشو (۲:۲٥٦-۲٥۷).

## ۵,۳. د ملک شاه واکمني (۴۶۵-۴۸۵هـ ق)

## (۴۵۲-۴۷۲ هـ ش)

## (۱۰۷۴-۱۰۹۴ز)

د الپ ارسلان له مړينې وروسته د هغه له شپږو زامنو څخه ملک شاه چې په لياقت او جرئت کې تر نورو ښه و او د پلار له خوا د ځای ناستي په توګه ټاکل شوی و؛ د جلال الدوله معزالدين ابوالفتح حسن ملک شاه په نوم پاچا شو. ملک شاه د غزني د پاچا ابراهيم له زوی سره دوستانه اړيکې درلودې، زابلستان او کابل يې تر لاهور پورې غزنوي دولت ته پرېښودل. په دغه وخت کې د ملک شاه ورور تکش په بلخ کې ياغي شو، ملک شاه هغه په ترمذ کې ونيو او ړوند يې کړ ( ۱۱ :۸۲۹).

ملک شاه هم د پلار د وخت پوه وزير نظام الدين خراساني طوسي د خپل وزير په توګه وټاکه؛ د دې وزير تدبيرونو د دولت د واک په ټينګښت کې ډېره اغيزه درلوده. د ملک شاه د واکمنۍ پرمهال يو شمير شورشونه په ځينو سيمو کې پيدا شوی وو؛ خو دده د پوه وزير طوسي په لاس  ارام شول او په کوچنۍ اسيا (ترکيه) کې يې خپل نفوذ ټينګ کړ. د خپلې واکمنۍ سيمې ته يې د مرکزي آسيا له

(c) ketabton.com: The Digital Library

کاشغر څخه تر مدیترانې بحیرې پورې پراختیا ورکړه. دده په واکمنۍ کې بیت المقدس او سوریه شامل شول. خو کله چې ملک شاه سمرقند ته ورسید د سمرقند حاکم د سولې لاره خپله کړه، ملک شاه هم د سولې لاره ورسره ومنله. دواړو لوریو د مینځګړتوب لپاره نظام الملک ته مراجعه وکړه، ملک شاه له شمس المک سره له روغې وروسته بیرته خراسان ته راغی (۲: ۲۵۷).

دویم ځل ملک شاه په ۱۰۸۹ ز کال کې بخارا فتح او سمرقند یې کلابند کړ؛ په سمرقند کې ملک له سخت مقاومت سره مخامخ شو، د سمرقند حاکم ټولو امنیتي مسؤلینو ته امر ورکړ چې له ښار څخه کلکه ساتنه وکړي، خو د سمرقند له امرینو څخه د یو امر زوی له ملک شاه سره بندي و، ملک شاه د هغه پلار تهدید کړ چې زوی دې وژنم، نوموړي له همدې امله له برج څخه ښه دفاع ونه کړه. د ملک شاه پوځ ته یې اجازه ورکړه چې هغه برج ونیسي، په دې ترتیب د ملک شاه پوځونو سمرقند ونیو. د سمرقند حاکم چې په یوه کور کې پټ شوی و، هغه یې پیدا کړ او رسۍ په غاړه یې ملک شاه ته راوست. ملک شاه امر وکړ چې هغه اصفهان ته واستوي. ملک شاه له سمرقند څخه اوزګند ته ولاړ، د ملک شاه په غوښتنه د کاشغر خان (حاکم) دده حضور ته راغی او په داوطلبانه ډول ملک شاه ته تسلیم شو. د کاشغر حاکم امر وکړ چې خطبه د ملک شاه په نوم ووایي او هم سیکه دده په نوم ضرب کړي. ملک شاه خراسان ته راغی او سمرقند کې یې خپل نائب پریښود. په دې ترتیب سمرقند او کاشغر ددوی په واکمنۍ کې شامل شول (۲:۲٦۱).

د سلجوقیانو د قلمرو پراختیا ددې سبب شوه چې په هره سیمه کې یو مشر د حاکم په توګه وټاکل شي. د هر حاکم قدرت به په تدریجي توګه زیاتیده، چې وروسته د ملک شاه سلجوقي د ځای ناستو د واکمنۍ پرمهال له سلجوقي دولت څخه جلا شول او جلا جلا سلجوقي دولتونه یې مینځ ته راوړل. لکه د کرمان سلجوقیانو حکومت، د شام (سوریه) د سلجوقیانو حکومت، د عراق د سلجوقیانو حکومت، د کردستان او د ترکې د سلجوقیانو د حکومت په نوم هر یوه خپل استقلال اعلان کړ. په دې توګه د کرمان د سلجوقیانو حکومت غزه ترکانو، د شام (سوریه) د سلجوقیانو حکومت ، د عراق او کردستان د سلجوقیانو حکومت خوارزم شاهانو له مینځه یوړل مګر د ترکې د سلجوقیانو حکومت تر ۱۴ مې زیږدیزې پیړۍ پورې دوام وکړ چې د عثمانیانو پواسطه له مینځه ولاړ.. ملک شاه په ۴۸۵ هـ ق کال کې ومړ چې له مړینې وروسته یې زوی برکبارق واک ته ورسید (۴٦: ۷۰).

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملک شاه سلجوقي دري ادب پياوړی کړ او ددیني علماو ملاتړ يې وکړ. دده وزير نظام الملک د نظاميه په نوم ګڼ شمير مدرسې په بلخ، مروه، نيشاپور، پوشنګ، هرات، بغداد، اصفهان، بصره، امل او موصل کې جوړې کړې، چې شافعي مذهب پکې تدريس کېده . عمر خيام د همدې پاچا په امر تاريخ جلالي کتاب ليکلی دی. ملک شاه سره له دې لکه د الپ ارسلان په څېر بيسواد و، خو ده لکه د غزنوي پاچاهانو په څېر د ادب پالنه وکړه او خپل واک يې ټينګ کړ. خو دده د ځای ناستو لکه محمود، برکبارق، ملک شاه ثاني او محمد د واکمنيو پرمهال د سلجوقيانو اداره ډېره ضعيفه شو (۲۷:۱۴۴).

## ۵,۴. د برکبارق واکمني (۴۹۸-۴۸۵هـ ق)

## (۴۸۵-۴۷۲ هـ ش)

## (۱۰۹۴-۱۱۰۷ز)

د ملک شاه له مړينې وروسته يې زوی برکبارق پاچا شو. نوموړی پاچا دولس کاله پاچاهي وکړه چې يوولس کاله يې له پاچاهي غوښتونکو سره په جګړو او نښتو تيره کړه  او د هيواد د ابادۍ له پاره يې وخت پيدا نکړ؛ يوازې يو کال يې په ارامۍ سره پاچاهي وکړه. نوموړي په ۴۹۰ هـ ق کې خپل ورور سلطان سنجر په افغانستان کې د نيول شويو سيمو د حاکم په توګه مقرر کړ. دده له مړينې وروسته دده ورور ابوشجاع محمد پاچا شو.(۴٦: ۷۰).

د برکبارق د واکمنۍ پرمهال په سمرقند کې دده لخوا سليمان تګين، محمود تګين او هارون تګين يو پر بل پسې د واک چارې په لاس کې واخېستی، چې د دوی اصل معلوم نه و. سليمان تګين د داود کوچ زوی، محمود تګين د ضمغاج خان ابراهيم لمسی و. د برکبارق په واکمنۍ کې قدرخان جبرئيل د بغراخان محمد لمسی، نه يوازې د ماورالنهر ډېرې برخې ونيولې او  په ۱۱۰۲ ز کال يې د سلجوقيانو په قلمرو حملې پيل کړې او ترمذ يې ونيو، مګر د سلطان سنجر سره يې په جګړه کې ماتې وخوړه او ووژل شو، چې دغه جګړه د جند ښار ته نږدې وه. سلطان احمد سنجر د سليمان تګين زوی احمد تګين، چې د قدر خان د حملې پرمهال فرار کړی و ، بيرته خراسان ته راوغوښت. محمد تګين د ارسلان خان لقب پر ځان کيښود او تر ۱۱۳۰ ز کال پورې د ماورالنهر حاکم و (۲: ۲٦۴-۲٦۵).

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۵,۵. د ابوشجاع محمد واکمني (۴۹۸-۵۱۱هـ ق)

## (۴۸۵-۴۹۷ هـ ش)

## (۱۱۰۷-۱۱۱۹ز)

له برکبارق وروسته د هغه ورور ابوشجاع محمد د غياث الدين ابوشجاع محمد په نوم پاچا شو. دده په واکمنۍ کې ډيره ګډوډي وه، خو نوموړي وضعيت ارام کړ. دده د واکمنۍ له مهمو پيښو څخه د صليبي جګړو پيل و چې د مسلمانانو او عيسويانو ترمينځ پيل شوې. سلطان سنجر د نوموړي د واکمنۍ پر مهال د افغانستان په نيول شويو سيمو کې د پاچاهۍ اعلان وکړ. د محمد ځای ناستو هم ونشوای کولی چې له سنجر څخه د افغانستان نيول شوي سيمې بيرته واخلي (۴۶: ۷۱).

د ابو شجاع محمد واکمنۍ پرمهال د ماورالنهر چارې د سنجر پواسطه څارل کېدلې. د قدر خان له ماتې وروسته د هغه ځای حاکم محمد تګين د ارسلان خان په لقب وټاکل شو. کله چې ارسلان خان له ساغر بيک سره د قراختايانو سره اړيکې درلودې جګړه پيل کړه، سلطان سنجر د ارسلان خان پلوي وکړه او د دواړو ترمينځ يې سره روغه وکړه. په ۱۱۰۹ ز کال ساغر بيک دويم ځل بغاوت وکړ. سنجر د خپل ټاکل شوی سلطان ارسلان خان پلويتوب وکړ. ارسلان خان د سنجر په مرسته ياغيان او شورشيان تابع کړل، وروسته له دې ارسلان خان شل کاله حکومت وکړ. ارسلان خان د بخارا بالاحصار ترميم او د ښار ديوالونه يې بيا له سره جوړ کړل. په ۱۱۲۱ ز کې يې جامع جومات هم جوړ کړ(۲:۲٦٦).

## ۵,٦. د سلطان محمود سلجوقي واکمني (۵۱۱-۵۱۳هـ ق)

## (۴۹۷-۴۹۸ هـ ش)

## (۱۱۱۹-۱۱۲۰ز)

د ابوشجاع محمد له مړينې وروسته د هغه زوی سلطان محمود پا چا شو. سلطان محمود پر تخت باندې له کښناستلو وروسته لومړی د خپل کاکا سنجر سره چې د افغانستان په نيول شويو سيمو کې يې لا د مخه د سلطنت اعلان کړې و، جګړه وکړه. په پايله کې سلجوقي دولت په دوو برخو وويشل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ختیځه برخه کې سلطان سنجر او په لویدیځه برخه کې سلطان محمود سلطنت کولو. له دې وروسته په افغانستان کې د سلطان سنجر واکمني پیل شوه (۴٦: ۷۱).

په دغه وخت کې افغانستان پر څلورو برخو ویشل شوی و، شمالي ولایتونه له تخارستانه تر مروې پورې مستقیماً په سنجري او سلجوقي دربار پورې اړه درلوده. د غور، بامیانو او گوزگانانو سیمې د هرات تر شاو خوا پورې د غوریانو تر لاس لاندې وې. زابل ولایت له هلمند څخه تر غزني، کابل، ننگرهار، پېښور او لاهور پورې د سلطان محمود غزنوي کورنۍ په واکمنۍ کې و. سیستان، زمینداوره تر زرنج، فراه پورې د سیستان په ملکانو پورې اړه درلوده، چې دغو ملکانو د سلجوقیانو، غوریانو او غزنویانو سره ښې اړیکې درلودې، چې د صفاریانو او د سیستان د ملکانو له پاته شونو (بقایاو) څخه وو(۱۱:۸۳۰).

## ۵,۷. د سلطان احمد سنجر واکمني (په افغانستان کې د سلجوقیانو واکمني) (۵۱۱-۵۵۲هـ ق) (۴۹٦-۵۳۷ هـ ش) (۱۱۱۸-۱۱۵۹ز)

سلطان سنجر د ملک شاه زوی د سلجوقیانو د کورنۍ د مشهورو پاچاهانو له جملې څخه دی. دده له پاچا کېدو سره سم د غزنوي دولت تجزیه او د غوریانو واکمني نوی د پراختیا او ټوکېدو په حال کې وه. سنجر لومړی ماورالنهر ته لښکر کشي وکړه. ماورالنهر ته له لښکر کشۍ وروسته یې له بهرام شاه سره مرسته وکړه. هغه یې په غزني کې واک ته ورساوه. تر لاهور پورې سیمې یې بهرام شاه ته پرېښودې (۱۱: ۸۲۹).

په تیر کې مو هم ویلی وو چې بهرام شاه په خطبه کې له خپل نوم سره د سلطان سنجر نوم هم اضافه کړ. سلطان سنجر لومړنی سلجوقي پاچا و چې یوازې یې په خطبه کې د نوم په یادولو بسنه وکړه. سلطان سنجر مروه خپلې پلازمینې په توگه وټاکله. سلطان سنجر په جگړه کې سلطان علاؤالدین حسین جهان سوز ته ماتې ورکړه او بندي یې کړ. لږه موده وروسته یې علاؤالدین بیرته آزاد او د غور د محلي حاکم په توگه یې وټاکه. په غور او غزني باندې له بري  وروسته سلطان سنجر له دریو دښمنانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره مخ شو. لومړی د خوارزم پاچا اتسز، دویم د قراخطایانو دولت او درېیم د غزه ترکانو له مخالفت سره مخ شو(۴٦:۷۱).

اتسز خوارزم شاه په ۵۳۰ هـ ق کال د سنجر پر ضد شورش وکړ او جرجانیه ته نږدې د هزار آسپ کلا ته یې پناه یوړه. سنجر په دغه کلا حمله وکړه، اتستز خوارزمشاه فرار وکړ. سلطان سنجر د خوارزم حکومت ونیو، اتسز د بدلې اخېستلو لپاره د قراخطایانو له دولت څخه د مرستې غوښتنه وکړه. قراخطایانو چې په ۵۱۹ هـ ق په کاشغر کې مستقل دولت تشکیل کړې و، تل یې هڅه کوله چې په مناسب وخت کې پر مسلمانانو حمله وکړي. اتسز له نوموړي پاچا څخه غوښتنه وکړه چې د سلطان د واکمنۍ په سیمو حمله وکړي. قراخطایانو په ۵۳۱ هـ ق پر ماوراالنهر حمله وکړه او د سمرقند په ۳٦ کیلو مترۍ کې د دواړو قواوو ترمینځ جګړه ونښته . سلطان سنجر په دې جګړه کې ماتې وخوړه، تقریباً ۳۰ زره عسکر یې ووژل شول. سلطان سنجر سلجوقي ترمذ ته راوتښتید. ګوره خان قراخطایي سمرقند او بخارا ونیول او چور یې کړل او اتسز خوارزم شاه یې د باج په ورکولو سره په خوارزم کې پرېښود. له دې وروسته ماورا النهر د قراخطایانو تر نفوذ لاندې راغی او د سلجوقیانو له نفوذ څخه خلاص شو، تر څو چې سلطان محمد خوارزم شاه واک ته ورسید او د قراخطایانو نفوذ ته یې د پای ټکې کېښود. اتسز د سنجر له ماتې او خفګان څخه ګټه واخېسته په ۵۴۲ هـ ق کې یې په مروه او نیشاپور حمله وکړه په لومړی وخت کې اتستز مروه او نیشاپور ونیول خو وروسته یې ماتې وخوړه. مګر د سلطان سنجر سیاسي او نظامي وضعیت د ګوره خان (قراخطایانو) سره په جګړه کې له ماتې وروسته ډېر خراب و. په همدغه وخت کې غزه[1] ترکانو هم د سنجر پر ضد شورش وکړ . سنجر د غزه ترکانو مقابلې ته تیار شو. د دوی ترمینځ پرلپسې جګړې وشوې. په پایله کې سنجر په ۵۴۸ هـ ق ماتې وخوړه او د خپلې میرمنې سره د غزه ترکانو له خوا بندي شو. څلور کاله په بند کې پاتې شو. د مروې ښار غزه ترکانو ونیو او چور یې کړ. د سنجر میرمن په بندیخانه کې مړه شوه. خو سنجر له بندیخانې څخه فرار وکړ. لږه موده وروسته هغه هم مړ شو. د سلطان سنجر له مړینې سره سم په افغانستان کې د سلجوقیانو واکمني پای ته ورسیده. خو دوو دولتونو (غوریانو او خوارزمشاهیانو) د غزه ترکانو د چور مخه ونیوله (۴٦: ۷۲).

---

[1] غزه ترکان د خوارزم په شاوخوا سیمو کې اوسیدل. دوی مسلمانان ول خو دا قبیله د قراخطایانو له خوا چې بودایي دین یې درلود زوریدل. د سلطان سنجر په اجازه غزه ترکان په بلخ کې میشت شول چې کال به یې ۲۴ زره پسونه سنجر ته ورکول. په تدریج سره قدرت زیات شو چې د باج له ورکولو څخه انکار وکړ. سلطان سنجر د دوي د رعیت کولو په خاطر له دوي سره جګړه وکړه خو په جګړه کې سلطان سنجر ماتې وخوړه (۴۶. ۷۲).

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۵,۸. د سلجوقیانو د دولت سقوط او د خوارزمشاهانو پیاوړې کېدل

د سلجوقیانو دولت هغه وخت له سقوط سره مخ شو چې د دوی واکمنۍ په ځو محلي حکومتونو وویشل شوه، هر محلي حکومت به د خپل نفوذ د پراختیا له پاره هڅې کولې. په افغانستان کې د سلجوقیانو واکمني هغه وخت پای ته ورسیده چې سلطان احمد سنجر د غزه ترکانو سره په جګړه کې ماتې وخوړه او له غزه ترکانو سره نوموړی بندي شو. که څه هم سلطان احمد سنجر له بندیخانې څخه وتښتید، مګر ډېر ژر وفات شو. د نوموړي له مړینې وروسته په افغانستان کې د سلجوقیانو واکمني پای ته ورسیده، خو افغانستان کې د غوریانو نفوذ د پراختیا په حال کې و؛ چې د غزه ترکانو واک ته یې په غزني کې د پای ټکي کیښود. په خوارزم کې د خوارزمشاهانو واکمني ورځ تر بلې پیاوړې کېده ، ترڅو چې یې په ماوراالنهر کې یو پیاوړی دولت تاسیس کړ. ددې کورنۍ د پاچاهانو په لړ کې سلطان علاؤالدین محمد خوارزم شاه وتوانید چې یوه لویه امپراتوري تاسیس او تر هند پورې خپل نفوذ ته پراختیا ورکړي. خو د خوارزم شاهانو نفوذ د سلطان علاؤالدین محمد خوارزمي او چنګیز خان ترمینځ د اختلاف او جګړې په پایله کې ضعیفه او له مینځه ولاړ. په دې ډول په افغانستان کې د سلجوقیانو واکمني هم د قراختایانو د دولت (ګوره خان) سره په جګړه کې له ماتې وروسته د سلطان سنجر سیاسي او نظامي وضعیت ډېر ضعیفه شو او د اتسز د حملې لپاره هم زمینه برابره شوه چې لومړی مروه او نیشاپور ونیسي ، خو وروسته اتسز ماتې وخوړه. دې مخالفت د سلطان سنجر پرضد د غزه ترکانو د شورش لپاره زمینه برابره او غزه ترکان وتوانیدل چې سلطان سنجر ته ماتې ورکړي. د سلطان سنجر له ماتې او بندیتوب سره سم د سلجوقیانو واکمني په افغانستان کې پای ته ورسیده (۲۷: ۱۴۴).

## ۵,۹. د سلجوقي دولت کلتوري او ټولنیزې کړنې

کله چې سلجوقیان واک ته ورسیدل، ماوراالنهر او خراسان یې ترخپل تسلط لاندې راوستل، وروسته یې خپل نفوذ ته د فارس تر لویدیځې څنډې، سیستان او عراق پورې پراختیا ورکړه. سلجوقیان په ځړ ځایونو کې د رمې له ځرولو څخه پاچاهۍ ته ورسیدل، له همدې کبله سلجوقي واکمنانو په جګړه کې مهارت درلود. دوی د واک د پراختیا سره ډېره مینه درلوده. د سلجوقي پاچاهانو له خوا په لومړیو وختونو کې په اقتصادي، سیاسي او فرهنګي برخه کې کومه هڅه نه ده شوې. خو کله چې دوی په نیول شویو سیمو کې د هغو ځایونو له فرهنګ او تمدن سره آشنا شول، دوی د هغه ځآی د خلکو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرهنگ تر اغیز لاندې راغلل؛ خو بیا هم د سامانیانو او غزنویانو په څېر یې فرهنګي او ټولنیزو هڅو ته ډېره پاملرنه ونکړه. خو له دې سره هم په لښکر کشیو مصروف وو. د پوه او با تدبیره وزیرانو لکه عبدالملک او نظام الملک په هڅو یو شمیر کارونه په علمي او فرهنګي برخه کې سرته ورسیدل، او نظام الملک طوسي په اداري او سیاسي برخه کې ډېرې هلې ځلې وکړې، لکه د ملک شاه سلجوقي د وزیر خواجه نظام ملک په هڅه په بلخ، مروه، نیشاپور، پوشنګ، هرات ، بغداد، اصفهان او بصره کې یو شمیر مدرسې د نظامیه په نوم جوړې شوې. عمر خیام تاریخ جلالي ولیکه، سره له دې چې ملک شاه د الپ ارسلان او سلطان احمد سنجر په څېر بیسواده وو. د سلجوقیانو د واکمنۍ پرمهال دربار ساده بڼه درلوده، تجمل او دولتي تشکیل کم شو. دیوان برید (د مخابراتو وزارت) له منځه ولاړ. د جاسوسۍ دستګاه خپل اهمیت له لاسه ورکړ. مجازات یې زیات کړل. په سلجوقي دولت کې د نظامي خدمت په مقابل کې د ځمکو ورکړې رواج درلود، او د پیسو په عوض به یې ځمکې ورکولې. کوم ښارونه چې د سلجوقي واکمنانو ترحملې لاندې راغلل هغو ډېر زیان ولید. سلجوقیانو په فرهنګي برخه کې له غزنویانو څخه پیروي کوله. په سوداګرۍ کې یې هم لږ پرمختګ وکړ (۴:۹۱).

سلجوقیانو په بشپړ ډول د یوه قبیلوي ملکیت غوښتونکی وو. دولت یوازې د پاچا مال نه، بلکې د پاچا د ټولې کورنۍ مال یې باله، نو ځکه هر سلجوقي شهزاده چې به په هر ځای کې و، هلته به یې په خپل نوم خطبه جاري کوله. له همدې امله د سلجوقیانو لویه شاهنشاهي په ټوله منځنۍ اسیا، کوچنۍ او مرکزي اسیا کې په څو څو حکومتونو وویشل شوه. سلجوقیانو غوښتل چې منځنۍ اسیا د پخوانیو پاچاهانو په څېر په مطلق العنانه ډول اداره کړي، خو د روحانیونو او اشرافو له مخالفت سره به مخامخ کېدل. د ځمکه والو جګړې او تجزیه طلبي د سلجوقیانو د دورې یوه ډېره څرګنده نښه ده. د بیلګې په توګه په کوچنۍ اسیا کې د سلجوقیانو دولت په لسو کوچنیو حکومتونو ویشل شوی وه. د ځمکې قیمت ټیټ شو او د ځمکه والو په اقتصاد باندې یې ډېره بده اغیزه وکړه. د دوی په اقتصادي سیستم کې د لږ ځمکومالکانو اقتصاد ډېر خراب او حاکمه طبقې نور هم په رعیت ظلم زیات کړ(۲۷:۱۴۵).

سره له دې چې سلجوقیانو یوه لویه امپراتوري له افغانستان څخه تر عراقه پورې تشکیل کړه، ولې عباسي خلافت ته د روحاني مقام د درناوې په خاطر؛ په ټوله امپراطورۍ کې د عباسي خلیفه نوم په خطبه کې اخېستل کېده. کله چې به خلیفه خپل ځای ناستی ټاکه، سلجوقي پاچا به هغه ته هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

بعيت کاوه. همدارنګه که چيرې به سلجوقي پاچا خپل ځای ناستې ټاکه د هغه د اعتبار لپاره به د بغداد د خليفه تائيد اخېستل کېده (۴:۹۳).

که څه هم د سلجوقيانو د واکمنۍ پرمهال افغانستان په څلورو برخو ويشل شوی و، شمالي ولايتونه له تخارستان څخه تر مروې د سنجر او سلجوقي دولت پورې اړه درلوده. د غور، باميانو او ګوزګانانو سيمې د هرات تر شاوخوا پورې د غوريانو ترلاس لاندې وې. زابل ولايت له هلمنده تر غزنې، کابل، ننګرهار، پيښور او لاهور پورې د سلطان محمود کورنۍ پورې. د سيستان ولايت له بست او زمينداور، زرنج، تر فراه پورې د سيستان په ملکانو پورې اړه درلوده، دغو ملکانو له سلجوقيانو ، غوريانو او غزنويانو سره هم اړيکې ساتلې، خو د غزه ترکانو سره د سلطان احمد سنجر جګړه کې د سنجر له ماتې سره سم په افغانستان کې د سلجوقيانو واکمني پای ته  ورسيده (۱۰: ۱۷۰).

هغه ترکمنان چې اوس هم په افغانستان کې په ترکمني ژبه خبرې کوي د هيواد د شمال په سرحدي سيمو کې ميشت دي. ددي قوم يو شمير يې اوس هم کوچيان دي . د حيواناتو په ځانګړې ډول د پسونو او آسونو په روزنه بوخت دي. يو شمير يې په کرنيزو چارو او يو تعداد يې په ښارونو کې ژوند کوي، او په صنعت او سوداګري بوخت دي. د ترکمن قوم ډيره لويه قبيله د تيکي (Tekes)  قبيله ده چې د هرات په حوزه کې اوسيږي. بله مهمه قبيله ساراک (Sarak) نوميږي چې د ميمنې د ښار په ۹۵ کيلو مترۍ کې سرحد ته نږدې اوسيږي. د ترکمن قوم دربېمه لويه قبيله يرسريز (Erseris) نوميږي چې د هيواد په شمال کې په تيت او پرک ډول اوسيږي ( ۱۵ :۲٦۳).

د سلجوقيانو د واکمنۍ پر مهال د پاچا دربار ته د دولتي مامورينو او د ظالم له زور او جبر څخه د شکايت او د عدالت غوښتنې لپاره ورتګ اسانه وه. هر چا کولې شو چې د پاچا دربار ته ورشي او پاچا سره خبرې وکړي. سلجوقي پاچا طغرل په اونې کې د يکشنبې او چهار شنبې د خلکو د شکايتونو د اوريدو او څېړلو دپاره ځانګړې کړې وې. سلجوقي پاچاهانو د عدالت د ټينګيدو په خاطر په ولايتونو او مرکز کې قاضيان ټاکلې وو او د هغوی په چارو کې يې مداخله نه کوله. قاضي د حکم په صادرولو کې آزاد و. د هغه حکم بيا کتنې ته اړتيا نه درلوده، خو کله چې غلط يا د غرض څخه ډک حکم صادر کړ، هغه به يې له دندې ګوښه کاوه. مدعي کولې شو چې لوړو ذيصلاح مقامونو ته شکايت وکړي. دوی د ملکي مامورينو برابره تنخوا درلوده. د خپلې واکمنۍ څخه د دفاع او د اخلي شورشونو د اراملو په

(c) ketabton.com: The Digital Library

خاطر سلجوقیانو نظامي قوې ته اړتیا درلوده. لومړیو وختونو کې د دوی قوتونه منظم نه وو. کله چې دوی لویه امپراتوري تشکیل کړه دایمي او منظمو عسکرو ته اړتیا پیدا شوه. له غلامانو څخه یې خپل پوځ جوړ کړ. په هره اندازه چې قلمرو او د واکمنۍ ساحه پراخیده، په هماغه اندازه یې د پوځ شمیر هم زیاتوه. ددې پوځ مهمه برخه د سورو برخه وه، چې دا برخه هم د غلامانو او ازادو خلکو څخه جوړه او له شخصي سلطان سره یې اړیکې درلودې. هغه سلجوقي امران او حاکمان چې په ولایتونو کې مقرریدل، هغوی هم ځانته عسکر درلودل. د لښکر کشي پرمهال یې مرکزي حکومت ته له ولایتونو څخه عسکر رالیږل. د دوی په جګړه کې سپر، شمشیر، تبر زین او نیزې څخه استفاده کوله (۴: ۹۴-۹۵).

## ۵,۱۰. د سلجوقیانو د واکمنۍ د سقوط لاملونه

د سلجوقیانو د امپراطورۍ سقوط اصلاً له هماغه د لومړي ملک شاه له مړینې وروسته مخ په ځوړ شوه، چې سلجوقي شهزاده ګانو هر یوه په هر ځای کې خپل حکومتونه جوړ کړل، د بیلګې په توګه په ۱۰۴۱ ز کال په کرمان کې، په ۱۰۹۴ ز کال په شام کې، په ۱۱۱۷ ز کال په عراق او کردستان کې، په ۱۰۷۷ ز کال ترکیه (کوچنۍ آسیا) کې خپلواک سلجوقي دولتونه اعلان کړل. سلطان سنجر خپله خور بهرام شاه ته په نکاح ورکړه او هغه یې په غزني کې واک ته ورساو. سنجر، علاوالدین جهانسوز او اتسز خوارزمشاه ته په ۱۱۴۰ ز کې ماتې ورکړه، خو اتسز د کاشغر قراخطایي دولت د سنجر پر ضد ولمساوه. ددغه لمسون په پایله کې د قراخطایي دولت او سنجر ترمنځ په ۱۱۵۲ ز کال د جیحون په غاړه جګړه ونښته. په جګړه کې سلطان سنجر ماتې وخوړه. یو کال وروسته د غزه ترکانو سره په جګړه کې بندي شو. څلور کاله په بند کې پاتې شو، په دغو څلورو کلونو کې غزه ترکانو د افغانستان په شمالي ولایتونو کې ډیر ورانی وکړې. ډیر شمیر فاضل خلک یې له مینځه یوړل. غزه ترکانو پر غزني یرغل وکړ او د غزنویانو لړی پاتې کسان یې له مینځه یوړل. سنجر له څلور کالو بند څخه وروسته له بندیخانې څخه وتښتید او مروې ته ورسید. خو له ۴۰ کالو پاچاهي وروسته په ۱۱۵۷ ز کال وفات شو. د سنجر له مړیني وروسته سلجوقي دولت سقوط وکړ او د دوی د واکمنۍ سیمې د افغانستان غوري دولت ونیولې. (۲۷: ۱۴۴-۱۴۵).

- په کوچنیو دولتونو باندې د سلجوقیانو د دولت ویشل کېدل.
- د کاشغر له قراختایانو سره په جګړه کې د سنجر ماتې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- له غزه ترکانو سره په جګړه کې د سلطان سنجر ماتې او بندي کېدل.
- د خوارزمشاه اتسز مخالفت او سلطان سنجر پر ضد د قراختايي دولت لمسون او د سلجوقيانو پر ضد د هغوی پوځي عمليات.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## لنډیز

سلجوقیان د سلطان محمود غزنوي په اجازه په افغانستان کې میشت شول؛ خو وروسته یې د سلطان محمود له ځای ناستو سره مخالفت پیدا شو. سلطان مسعود او مودود ته یې ډیرې ستونزې پیدا کړې. طغرل بیک و توانیده چې په نیشاپور کې تاج پر سر او خپله پاچاهي اعلان کړي. یو شمیر هیوادونه یې تر خپل کنترول لاندې راوستل او پراخه سلجوقي واکمني یې رامینځ ته کړه. سلجوقیانو چې له رمو څرولو څخه پاچاهي ته ورسیدل، په جګړه کې یې پوره مهارت درلود. دوی لومړی د سلطان محمود غزنوي د واکمنۍ پرمهال د جوزجان د خلکو پر کورونو چور او تالان پیل کړ. د خلکو له شکایت وروسته سلطان محمود غزنوي هغوی ارام کړل، خو سلطان مسعود د سلجوقیانو په مقابل کې ماتې وخوړه او دې ته اړ شو ترڅو هند ته سفر وکړي او له هغه ځایه یو لښکر برابر او د سلجوقیانو سره مقابله وکړي، خو هغه په لاره کې ووژل شو. مودود هم د پلار یعنی لومړی مسعود د مړینې له امله د سلجوقیانو سره جګړه پرېښوده. سلجوقیانو د افغانستان ډیرې برخې ونیولې چې په پایله کې بهرام شاه د سلطان احمد سنجر پواسطه واک ته ورسید او د سنجر نوم یې په خطبه کې واخېسته. سلجوقیان ورځ تر بلې پیاوړی کېدل چې ټول ایران او عربستان یې هم ونیول. خو خلیفه ته یې ځانګړی احترام درلود او د هغه نوم به یې خطبه کې یادوه. بالاخره د سلجوقیانو واکمني ډیره پراخه شوه او یو شمیر محلي حکومتونو لکه د کرد سلجوقي دولت، د ترکیې سلجوقي دولت، د افغانستان سلجوقي دولت، د کرمان سلجوقي دولت، د شام سلجوقي دولت، د عراق سلجوقي دولت او د کردستان سلجوقي دولتونه مینځ ته راغلل. چې دې کار د سلجوقیانو د سقوط زمینه برابره کړه. دغه واړه دولتونه د خوارزم شاهیانو او غوریانو په واسطه له مینځه ولاړل. خو په ترکیه کې یې ډیر وخت دوام وکړ ترڅو عثمانیانو د هغوی واکمني سقوط کړه.

سلجوقیانو ساده دربار درلود. که د دوی یو شمیر پاچاهان بیسواده هم وو، خو د علم او فرهنګ سره یې علاقه درلوده. هغوی د نویو سیمو د نیولو پرمهال د نوي فرهنګ او تمدن سره مخ کېدل او تر اغېز لاندې یې راتلل. که څه هم د دوی ډیر وخت په جګړو کې تېر شو، خو د دوی د با تدبیره وزیرانو لکه عبدالملک او نظام الملک په هڅو سره یو شمیر فرهنګي کارونه سرته ورسیدل، په ځانګړي ډول د ملک شاه سلجوقي د وزیر نظام الملک په هڅه په بلخ، مروه، نیشاپور ، پوشنج، هرات، بغداد، اصفهان او بصره کې یوشمېر مدرسی د نظامیه په نوم جوړې شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سلجوقيانو واکمني د لومړی ملک شاه له واکمنۍ وروسته مخ په ځوړ شو. د سلجوقي شهزاده ګانو پواسطه محلي دولتونه جوړ شول او هر يو په خپل نوم خطبه جاري کړه. د غزه ترکانو په مقابل کې د سلطان احمد سنجر له بندي کېدو او مړينې وروسته په افغانستان کې د سلجوقيانو واکمني هم پای ته ورسېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پوښتنې

1. د سلجوقیانو خپل مینځي ناخوالو
2. د سلجوقیانو د واکمنۍ په سقوط کې څه اغیزه درلوده؟
3. له غزه ترکانو سره د سلطان سنجر جګړه په افغانستان کې د سلجوقي دولت د سقوط سبب وګرزید؟
4. سلجوقیان د کوم افغاني واکمن په اجازه افغانستان کې میشت شول؟
5. سلجوقیانو اصلاً د کوم ځای اوسیدونکي دي؟
6. په کوچنیو دولتونو باندې د سلجوقیانو واکمنۍ د ویش لاملونه څه و؟
7. سلطان احمد سنجر د چا زوی دی؟
8. طغرل بیک څه ډول واک ته ورسید؟
9. د سلجوقیانو بنسټ د کوم سلجوقي پاچا پواسطه کیښودل شو؟
10. سلطان احمد سنجر د چا له خوا بندي شو؟
11. د سلجوقیانو د واکمنۍ سقوط د کوم سلجوقي پاچا په واکمنۍ پیل شوه؟
12. د سلجوقیانو د واکمنۍ پرمهال د هیواد اقتصادي او سیاسي وضیعت څه ډول و؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


| د سلجوقیانو د کورنۍ د واکمنانو د واکمني موده | | |
|---|---|---|
| شمیره | د پاچا نوم | کال |
| ۱ | رکن الدین ابوطالب طغرل بیک | (۴۲۹-۴۵۵هـ ق)<br>(۴۱۶-۴۴۲ هـ ش)<br>(۱۰۳۸-۱۰۶۴ز) |
| ۲ | الپ ارسلان | (۴۵۵-۴۶۵هـ ق)<br>(۴۴۲-۴۵۲ هـ ش)<br>(۱۰۶۴-۱۰۷۴ز) |
| ۳ | ملک شاه | (۴۶۵-۴۸۵هـ ق)<br>(۴۵۲-۴۷۲ هـ ش)<br>(۱۰۷۴-۱۰۹۴ز) |
| ۴ | برکبارق | (۴۸۵-۴۹۸هـ ق)<br>(۴۷۲-۴۸۵ هـ ش)<br>(۱۰۹۴-۱۱۰۷ز) |
| ۵ | ابوشجاع محمد | (۴۹۸-۵۱۱هـ ق)<br>(۴۸۵-۴۹۷ هـ ش)<br>(۱۱۰۷-۱۱۱۹ز) |
| ٦ | سلطان محمود | (۵۱۱-۵۱۳هـ ق)<br>(۴۹۷-۴۹۸ هـ ش)<br>(۱۱۱۹-۱۱۲۰ز) |
| ۷ | سلطان احمد سنجر | (۵۱۱-۵۵۲هـ ق)<br>(۴۹٦-۵۳۷ هـ ش)<br>(۱۱۱۸-۱۱۵۹ز) |

**۵,۱. جدول: پورتنۍ جدول د کتابونو له متن څخه د مؤلف په وسیله ترتیب شوی.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۵،۱. گراف: لاندینۍ گراف د کتابونو له متن څخه د مؤلف په وسیله ترتیب شوی.**

## د سلجوقي کورنۍ واکمنان



(c) ketabton.com: The Digital Library

ابوشجاع محمد د برکبارق زوی (۴۹۸-۵۱۱ هـ ق)

سلطان محمود د ابو شجاع محمد زوی (۵۱۱-۵۱۳ هـ ق)

سلطان احمد سنجر ( ۵۵۲-۵۱۱ هـ ق) په افغانستان کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شپږم څپرکی

# د غوریانو دولت

## پیلیزه

د غوریانو  واکمني د افغانستان په تاریخ کې ځانګړی ځای لري، له غزنویانو وروسته غوریانو په افغانستان کې یوه لویه امپراتوري جوړه کړه. په هند کې یې هم د غزنویانو سیمې تر خپل تسلط لاندې راوستلې، چې تر ډېر وخته پورې په هند کې د افغانانو واکمني دوام وکړ.  د غور سیمه د خپل فزیکي جوړښت له امله د تیري کوونکو لپاره ستونزې پیدا کړې. تیري کوونکي نه توانیدل چې د غور سیمه په اسانۍ ونیسي. په غور کې د غرونو د موجودیت له امله دغه سیمه د غور او واکمنان یې د غوریانو په نوم یادیږي. غوریان نسلاً پښتانه دي، دوی زیاتره په غرونو کې اوسیدل. د کاکاخیل په وینا د پښتو کلیمه له پشتې څخه اخېستل شوی ده  نو ځکه دري ژبو به د دوي د اوسیدو ځای د پشته په نوم یادوله او دوی ته پشتانه ویل کېده. لرغونی غور د هرات، فراه، زمینداور او غرجستان په مینځ کې موقعیت درلود. عربي جغرافیه لیکونکی ابن هوقل چې په څلورمه هجری پیړۍ کې اوسېده د غور په اړه داسې لیکي : غور کافرستان است و سبب آنکه در نوشته های اسلامی از آن یاد میشود این است که گروه مسلمان دارد. کوهای آباد و چشمه ها و باغ ها و رود ها دارد. وادي که غور احاطه کرده اند از هرات تا فراه تا زمینداور ، تا جوزجان و از آن جا تا هرات سراسر بلاد غور  است... (۱۸ : ۱۸ ).

(c) ketabton.com: The Digital Library

په لرغونی غور کې څلور قبیلې اوسیدې چې عبارت وې له  سوري (پښتانه)، تایمني، جمشیدي او فیروز کوهي څخه. د غور حکمرانان ټول د سوري (پښتنو) له قوم سره تړاو لري، ځکه چې سوریان ټول پښتانه او ژبه یې یې پښتو وه، او دري ژبو دوی د پشته نشین یا پشتوان په نوم یاد کړي دي. مخکې هم ذکر شول چې د پښتو کلیمه هم د پشته نشین څخه مینځ ته راغلی ده. ارمنیان ټول پښتانه د اوغان په نوم یادوي او دغه د اوغان کلیمه اوس هم په افغانستان کې استعمالیږي. د نورو قومونو ځینې خلک اوس هم پښتانه د اوغان (اوغو ) په نوم یادوي. عبدالحی حبیبي لیکي : غور یو غرنۍ سیمه ده چې زمونږ د هیواد په زړه کې موقعیت لري. د تاریخ له نقطه نظره ډیر اهمیت لري. د غور غرونه شمال ته د بابا له غرونو او بامیانو سره وصل دي. سهیل ته له اروزګان، تیری د هراوت او له موجوده زمینداور سره وصل دي په ختیځ کې یې اجیرستان (وجیرستان) او غزنی واقع دي او لویدیځ کې یې فراه او اسفنزار ، بادغیس او هرات موقعیت لري (۹: ۱۳۵).

## ٦,١. د غوري دولت  مینځ ته راتګ

د سوري (غوریانو) د واکمنۍ لومړنی پاچا شنسب بن خرنک و چې د سوري کورنۍ ټول پاچاهان دده له نسله ګڼل کیږي. مشهور پاچاهان یې بسطام، شماخ او ماهویه سوري وو، چې د غوري ملکانو یا سوري حاکمانو په نوم یادیدل.  د زور آباد ښار چې د هرات او بادغیس ترمینځ موقعیت لري، د غوریانو پلازمینه وه. او ماهویه سوري، افغانستان ته د اسلام د رارسیدو پرمهال د مروې حاکم و. یوې بلې کورنۍ په غور کې حاکمیت کاوه چې پلازمینه یې فیروز کوه وه. دغه حاکمان هم د شنسب له اولادې څخه وو، چې د امیر فولاد زوی امیر کروړ په ۱۳۰ هـ ق کې د نړۍ د پهلوان لقب درلود چې فردوسې په شهنامه کې د هغه یادونه هم کړې ده. له امیر کروړ وروسته د هغه زوی ناصر پر بست او زمینداور باندې حکمراني کوله. د هارون الرشید د خلافت پرمهال ددې کورنۍ یو بل واکمن بنجي نهاران شنسبي په نوم حکومت کولو، هارون الرشید دده حکومت په رسمیت وپیژندلو. د شنسب  کورنۍ د طاهریانو، صفاریانو او سامانیانو تر واکمنۍ پورې خپل استقلال وساته. خو کله چې سلطان محمود غزنوي په ۴۰۱ هـ ق کال د غور پر حکومت حمله وکړه، د غور محلي حاکم محمد سوري تسلیم شو. سلطان محمود غزنوي، محمد سوري له خپل کوچنی زوی شیش سره غزني ته ولیږه. خو محمد سوري غزني ته نږدې د ګیلان په سیمه کې زهر وخوړل هغه دا زهر  په خپله ګوتمۍ کې ځای پرځای کړي وو، ده خپل ځان وواژه، خو د یرغملتیا سپکاوی یې ونه مانه. د پښتو ژبې وطني روایات چې د ((لرغوني

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښتانه)) او تاریخ سوري په حواله په پټه خزانه کې راغلي پورتنۍ پېښه تائیدوي. د محمد سوري د مړینې کیسه د شیخ اسعد سوري په یوه پښتو قصیده کې هم راوړی ده.دا شاعرپه ۴۲۵ هـ ق د زمینداور په بغنی کې مړ دی. د ابوالله د ژبنی بلاغت او فصاحت له مخې ډېره پخه ده. د محمد د شخصیت مقام لوړوالې او زړورتوب ښیي. د اهنګرانو د جګړی او د محمود له خوا د محمد بندیتوب څرګندوي او دی د سوري کورنی ویاړ یې بولي، چې د خپلې کورنۍ د پت ساتلو په لاره کې یې ځان قربان کړی د شیخ اسعد بولله د پښتو د لرغونی ادب له غوره اثارو څخه ده (۱۰: ۱۷۳ - ۱۷۴).

سلطان محمود پر محمد باندې له غلبې وروسته، د محمد سوري زوی ابوعلي د غور د حاکم په توګه وټاکه. ابوعلي د پلار د حاکمیت پر مهال هم د غزني له دربار سره اړیکې درلودې. نوموړی د غوري حاکمانو په لړ کې له نیک شهرت څخه برخمن و. ابوعلي له غزني دربار سره نیکې اړیکې درلودې؛ ده وخت پیدا کړ چې په خپل قلمرو کې ودانیزې چارې سرته ورسوي. دده پرضد دده وراره عباس د شیش زوی شورش وکړ. عباس، ابوعلي بندي کړ چې وروسته په بندیخانه کې ومړ او د شیش زوی عباس دده پرځای پرتخت کښیناست. د عباس پلار شیش د خپل ورور محمد سوري د حاکمیت پرمهال ارام ژوند درلود. د شیش زوی عباس هغه مهال چې سلطان مسعود د سلجوقیانو په مقابل کې ماتې وخوړه، نوموړی په دې فکر کې شو چې له غزني دربار سره اړیکې پرې کړي او خپلواکي واخلي. د محمد سوري له مړینې وروسته ې د شیش زوی عباس په خپلو خلکو ډېر ظلمونه وکړل. جوزجاني د عباس په اړه داسې نظر لري: سره له دې چې هغه یو ظالم شخص و، خو د نجوم په علم ډېر پوهیده او ددې علم په پرمختګ کې یې ډېر زیارونه وګالل. په غور کې یې د هنرمندانو او استادانو لپاره ښکلې ودانۍ جوړې کړی. د مندیش په سیمه کې یوه ودانۍ دده نیکه بسطام جوړه کړې و، خو دده د حاکمیت پر مهال ویجاړه شوې وه. خو عباس بیرته بیا له سره هغه ورغوله... (۱: ۲۲-۲۳).

عباس د شیش زوی د خپل نیکه محمد سوري په څېر د غزنویانو له تسلط سره مخالفت درلود. محمد د سلطان محمود غزنوي پواسطه بندي او مړ شو، خو د شیش زوی عباس د غزني د پاچا سلطان ابراهیم پواسطه له نیولو وروسته ووژل شو. له عباس وروسته د هغه دوو زامنو امیر محمد او قطب الدین حسن د غزنویانو تر حمایت لاندې په غور کې خپل حاکمیت ته ادامه ورکړه. ځکه د سلطان ابراهیم (غزنوي پاچا) پواسطه د عباس له وژلو وروسته د هغه زوی امیر محمد د غور د حاکم په توګه وټاکل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دده د حاکمیت پرمهال په غور کې ډیرې ودانۍ جوړې شوې، د اړتیا وړ  توکو بیه ټیټه شوه او له عالمانو سره یې ښه سلوک کاوه.  له ده وروسته دده ورور قطب الدین حسن د غور د حاکم په توګه وټاکل شو. دده د حاکمیت پرمهال شورشونه ډیر شول. خو کله چې د وجیرستان د ایالت  د تګاب قلعه اوسیدونکو شورش وکړ، دی پخپله د هغو خلکو د اراملو لپاره هلته ولاړ، د جګړې په جریان کې یې یو غشی په سترګه ولګید او مړ شو. دده عسکرو په زړوړتیا سره جګړه وکړه او هغه ښکلې کلا یې ورانه او شورش کوونکي یې ووژل. دغو شورشونو دوه لاملونه درلودل.

۱.  په ۴۹۲ هـ کال د لومړي مسعود زوی سلطان ابراهیم له مړینې وروسته د کورنیو بې اتفاقیو له امله د غور اداري خپل توان له لاسه ورکړ.

۲.  هغه ډلې چې په غور کې د غزنویانو تر حاکمیت لاندې ادارې سره مخالف وو، له وخت څخه یې ګټه واخېسته او شورشونه یې پیل کړل ، ترڅو په غور کې مستقل حکومت تاسیس کړي او غزني ته د وفادارو حاکمانو حاکمیت ته د پای ټکی کیږدي. په غور باندې د غزنویانو سلطې تقریباً یوه پیړۍ دوام وکړ، خو غزنویان ونه توانیدل چې غور د خپل قلمرو ضمیمه کړي. د غور ځینې امیران یې تابع او خراج ورکولو ته اړ کړل. په ۴۴۱ هـ ق کال د سلطان محمود د زوی عبدالرشید له مړینې وروسته د غزنوي حکومت واک ضعیفه ، غور او ځینې نورې سیمې د دوې له واکمنۍ څخه ازادې شوې. غور ډیر وخت د سلجوقیانو او غزنویانو ترمینځ د حایل نقش لوباوه، خو غوریان بیا هم په نسبي ډول د بهرام شاه تر واکمنۍ (۵۱۱-۵۴۸ **هـ ق** ) پورې د غزنویانو تر نفوذ لاندې وو (۱: ۲۵-۲۶).

د قطب الدین حسن له مړینې وروسته د هغه زوی امیر عزولدین حسین  د غور د حاکم په توګه وټاکل شو. غوریانو د ده د حاکمیت په وخت کې هم د استقلال لپاره مبارزه کوله. عزالدین حسین د قطب الدین حسن زوی د غزني د پاچا مسعود د ابراهیم د زوی له خوا د غور د حاکم په توګه وټاکه. عزالدین حسین د غزنوي اوسلجوقي پاچاهانو سره ښې اړیکې درلودې. او سلطان سنجر ته یې سوغاتونه لیږل، خو غوریانو د استقلال لپاره مبارزه کوله، ځکه د عزالدین حسین له وژنې وروسته د هغه زوی سیف الدین غوري د هغه پرځای پرتخت کښیناست. سیف الدین غوري د خپل پلار د واکمنۍ سیمې د خپلو شپږو ورونو ترمینځ وویشلې. فخرالدین او قطب الدین محمد غوري چې مورګانې یې په نسبي لحاظ ضعیفه او کنیزې وې، دوي چې د عمر په لحاظ مشران وو د پلار د ځای ناستۍ څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دواړه بې برخې شول. قطب الدين محمد غوري د غور د يو ولايت ورسا د حاكم په توګه وټاكه. قطب الدين محمد غوري د هرات او غزني ترمينځ د يوې كلا په جوړولو پيل وكړ. دده ورونو د نوموړي دا اقدام د استقلال طلبۍ او برترۍ يوه بيلګه وګڼله، نورو ورونو دده سره مخالفت وكړ. له همدې امله قطب الدين محمد غوري غزني ته راغی او د بهرام شاه په دربار كې يې پناه واخېستله. په غزني كې د قطب الدين محمد غوري پناه اخېستل هم لامل دا وه چې  ده غوښتل د بهرام شاه په مرسته په خپلو ورونو بريالی شي او د غور امارت ته ورسيږي. بهرام شاه هم د يو داسې فرصت په لټه كې و، ترڅو د غزنويانو تسلط چې دده د واكمنۍ پرمهال ضعيفه حتی قطع شوی و، بيرته ټينګ كړي. بهرام شاه له قطب الدين محمد سره ښه چلند وكړ او هغه ته يې خپله لور په نكاح وركړه. قطب الدين محمد غوري ظاهراً د پناه اخېستونكی په توګه د غزني دربار ته تللی و، خو په پټه يې د غزني د دربار سياسي، اقتصادي ټولنيز وضعيت ارزوه او ډيرو درباريانو هم بهرام شاه ته غلط معلومات وركول. په پايله كې بهرام شاه پر قطب الدين محمد شكمن شو له بندي كېدو وروسته يې هغه وواژه (۱: ۳۰).

سيف الدين غوري چې ځان ته يې سلطان خطاب كاوه او د غور د اميرانو لقب يې د  سلطان درجې ته لوړ كړ. تر ډيره حده يې د يو مستقل دولت په توګه حكومت كاوه. د سيف الدين له وژلو وروسته علاولدين جهانسوز د سنجر له خوا لومړی بندي او بيا د غور د حاكم په توګه وټاكل شو نوموړي په غور كې يې د  مستقل دولت بنسټ كيښود.

## ٦,٢. د غزنوي او غوري دولتونو ترمينځ اړيكې

له سلطان محمود غزنوي څخه مخكې د هغه پلار سبكتګين څو ځله په غور يرغلونه كړي دي. سلطان محمود غزنوي هم درې ځله غور ته خپل عسكر واستول. په لومړي بريد كې يې د غور سيمه ايزه واكمن محمد سوري بندي او غزني ته راوليږه چې نوموړی د ګيلان په سيمه كې مړ شو. دغه پيښه د غوريانو او غزنويانو ترمينځ د دښمني لومړی لامل ګڼل كيږي. د سلطان مسعود په واكمنۍ كې په غور بريد وشو. په دې بريد كې د غور د لښكرو مشر د مسعود له خوا ووژل شو.  په دې سبب د دوي ترمينځ دښمني ورځ تر بلې زياتيده، خو كله چې د بهرام شاه د واكمنۍ پرمهال ملک الجبال قطب الدين محمد غوري د حسين زوی له خپلو ورونو څخه د خفګان يا د بهرام شاه د بلنې او يا د كوم بل لامل له مخې له فيروزكوه څخه ولاړ او غزني كې د بهرام شاه دربار كې پناه واخېسته، بهرام شاه لومړی

(c) ketabton.com: The Digital Library

دده ډېر عزت او درناوی وکړ، خو وروسته پرهغه شکمن شو. ځینو درباریانو هم بهرام شاه ته د قطب الدین محمد غوري په اړه له غرضه ډکې مشورې ورکولې. بالاخره بهرم شاه نوموړی بندي او د زهرو پواسطه په دې گناه وواژه چې له خلکو سره ډېره مینه لري، خلکو ته بخششونه ورکوي او د خلکو په زړونو کې ځای لري. له وژنې وروسته یې د هغه مړی په غزني کې خښ کړ. دې پېښې سره د غزنویانو او غوریانو ترمینځ دښمني نوره هم زیاته شوه ( ٦: ٢١۴-٢١۵).

سیف الدین سوري د خپل ورور د مړینې له خبرېدو سره سم په غزني باندې د برید تیارې ونیو. سیف الدین ډېر ژر غزنی له بهرام شاه څخه ونیو. نوموړی له غور څخه راغلي عسکر کوم چې له ده سره په غزني کې اوسیدل، د ژمی د موسم له رارسیدو سره سم بیرته غور ته ولیږل، پخپله له خپل وزیر سید مجدالدین موسوي او یو لږ شمیر عسکرو سره په غزني کې پاتی شو. سیف الدین غوري د غزني په خلکو اعتماد وکړ. په ژمي کې د واورې د وریدو له امله د غور او غزني ترمینځ لارې بندې شوې. له دې امله د سیف الدین سوري مرستې ته څوک نه شوای را رسیدلې. د غزني خلکو سمدستي بهرام شاه ته خبر ورکړ او غزني ته یې راوغوښت. د غزني لوړ پوړو چارواکو سیف الدین او د هغه پوه وزیر او ورسره عسکر ژوندي ونیول او بهرام شاه ته یې وسپارل. بهرام شاه دوی دواړه ( سیف الدین او د هغه وزیر سید مجدالدین موسوي) په اوښانو سپاره کړل د غزني په ښار کې یې وگرځول چې خلکو به د کورونو له بامونو څخه پر دوی خاورې اچولې. وروسته یې دواړه ووژل. خو د سیف الدین سر یې له تنی څخه غوڅ او سلطان سنجر ته واستوه. نوموړو پیښې د غوریانو او غزنویانو ترمینځ دښمني لا زیاته کړه. بهاوالدین سام د حسین زوی د خپل ورور د مړینې له خبرېدو سره سم د غزني په لوری حرکت وکړ، خو په لاره کې د ډیر خفگان له امله مړ شو. د بهاوالدین سام د مړینې خبر هم په غور کې خپور شو. سلطان علاوالدین غوري، پرته له دې چې له نورو ورونو سره مشوره وکړي د غزني په لورې حرکت وکړ او تر یو لړ جگړو وروسته یې بهرام شاه ته ماتې ورکړه. اوه شپې او ورځې یې د غزني ښار ته اور واچوه. د غزني او بست ښکلي ښارونه یې وران کړل. د خپلو ورونو سیف الدین او قطب الدین محمد غوري مړي یې غور ته ولیږدول.(٦:٢١٦).

علاوالدین جهانسوز د غزني له نیولو وروسته بست او نورې سیمې ونیولې او د خپل نفوذ د پراختیا په فکر کې و. سلطان سنجر هم د غزنویانو او غوریانو له اختلاف څخه ډېره گټه واخېسته، هڅه یې کوله چې د علاوالدین جهانسوز د نفوذ د پراختیا مخه ونیسي. د سلطان علاوالدین او سلطان سنجر ترمینځ

(c) ketabton.com: The Digital Library

جگړه ونښته؛ په جگړه کې سلطان علاوالدین غوري ماتې وخوړه او له سلطان سنجر سره بندي شو. سلجوقي پاچا سنجر په یوه وخت کې له غوریانو او غزه ترکانو سره دښمني نه شوه کولې. نو ځکه سلطان علاوالدین خوشې او د غور د حاکم په توگه یې وټاکه. په دې ترتیب غوریانو په افغانستان کې د غزنویانو واکمنۍ ته د پای ټکې کښیښود.

## ٦,٣. د غوریانو امپراتوري

غوریانو د غزنویانو د امپراتوري له جوړیدو مخکې په غور کې واکمني کوله، چې د دې واکمنۍ په سر کې د خرنگ زوی ملک شنسب په ٣٦ هـ ق کال د غور محلې واکمن و. چې له حضرت علي (ک) هم مهاله و او ماهویه سوري د مروې حاکم و. امیر بنجي د نهاران زوی په ١٧٠ هـ ق کې د شنسب د کورنۍ د مهمو او لویو پاچاهانو له جملې څخه دی، چې د غور ملکان او ددې کورنۍ ډیر پاچاهان دده له نسله دي. هارون الرشید هم دده واکمني په رسمیت پیژندلې وه، دده له کورنۍ څخه ډیرو حاکمان خپل حکومت ته ادامه ورکوله ترڅو سلطان محمود غزنوي په ٤٠١ هـ ق کال امیر محمد سوري ته ماتې ورکړه. وروستی حاکمان هم له دې کورنۍ څخه د غزنویانو له خوا مقرریدل (٢٩: ٢٧-٢٨).

په غزني کې شهاب الدین غوري د واک له ټینگښت وروسته هند ته پوځي سفرونه وکړل د غزنویانو د دولت ټولې سیمې یې د هغوې د پلازمینې لاهور په گډون ونیولې او خپلو فتوحاتو ته یې په هند کې ادامه ورکړه؛ په دې ډول له غزنویانو وروسته غوریانو یوه لویه امپراطورۍ جوړه کړه. په دې دوره کې د غزنوي دولت په څېر علم، شعر او ادب ته ځانگړې پاملرنه وشوه. وروسته به د غوریانو امپراتوري په جلا عنوانونو کې د امکان تر بریده توضیح شي. د غوریانو واکمني (٥٤٣-٦١٢ **هـ ق** ) غوري واکمنانو د نوو سیمو په نیولو او خپل پخوانۍ قلمرو په ساتنه کې په خپل قوم (پښتنو) باندې ډیره اتکا کوله دوی د امپراتوري ټولې سیمې د خپلو افسرانو تر مینځ وویشلې. د علم او ادب په برخه کې یې د غزنویانو کړنلاره پلې کوله. د غوریانو د واکمنۍ پرمهال تاریخي جوړ شوي ځایونه او ځلې تر اوسه په خپله بڼه باقي پاتې دي، خو ډیرې ودانۍ او کلکې کلاگانې د چنگیز خان د ناروا یرغل په پایله کې له مینځه ولاړې، خو بیا هم دوی وکولی شول چې د هند هیواد یې د څو سوو کالو لپاره نور هم د افغاني اسلامي دولتونو د تابعیت له پاره اماده کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

### ۶,۴. د سلطان علاوالدين جهانسوز واکمني (۵۴۴-۵۵۶هـ ق)

### (۵۲۸-۵۴۰ هـ ش)

### (۱۱۵۰-۱۱۶۲ز)

سلطان علاوالدين جهانسوز په غور کې د اجيرستان حاکم و، کله چې د خپل ورور له مړينې خبر شو. نوموړی له غور او غرجستان څخه لښکر برابر او د غزني په لورې يې حرکت وکړ. په مقابل کې بهرام شاه د غزني د لښکرو سره يو ځای د ګرمسير او تګين اباد له لارې زمينداور ته ورسيد. علاوالدين جهانسوز چې د خپلو ورونو ( قطب الدين محمد غوري او سيف الدين غوري) د بدلې اخېستلو لپاره راغلې و د دواړو لورو ترمينځ تګين اباد ته نږدې جګړه ونښته. بهرام شاه په دې جګړه کې ماتې وخوړه. علاوالدين جهانسوز يو ځل بيا غزني ته نږدې بهرام شاه ته ماتې ورکړه او د غزني پايتخت يې ونيو، د غزني ښار ته يې اوه شپې او ورځې اور واچوه، او له خاورو سره يې برابر کړ. بيا يې بست او زميندآور له نيولو وروسته وران کړل. له همدې امله ورته جهانسوز وايې (۲۹:۳۴).

سلطان علاولدين تخارستان د غور دولت پورې ونښلاوه؛ خپل مشر ورور ملک فخرالدين يې د هغه د حاکم په توګه وټاکه؛ بيا يې د سلطان احمد سنجر سلجوقي سره په جګړه کې ماتې وخوړه، سلطان علاولدين جهانسوز له سنجر سره بندي شو، خو سنجر د غزه ترکانو له ويرې چې د دواړو خواو سره دښمني نشوای کولې، سلطان علاولدين جهانسوز يې ازاد او د غور د حاکم په توګه يې وټاکه. سنجر هم د غزه ترکانو پواسطه له مينځه ولاړ. سلطان علاولدين جهانسوز په غور کې خپل مخالفين له مينځه يوړل او فيروز کوه ته راورسيد. د فيروز کوه خلکو دده په غياب کې ناصرالدين حسين محمد له مدين څخه راوغوښت او په فيروز کوه کې يې پر تخت کيښناوه. خو کله چې دوی د سلطان علاولدين جهانسوز له راتګ څخه خبر شول، ناصر الدين يې وواژه او علاوالدين ته تسليم شول. سلطان علاولدين جهانسوز باميان، تخارستان، تولک، هرات ځينې سيمې ، غرجستان او مرغاب ترخپل کنترول لاندې راوستل. سلطان علاولدين جهانسوز د غور په سنګه سيمه کې وفات شو ( ۲۹ : ۴۲).

سلطان علاوالدين په دې هڅه کې و، چې افغانستان کې د غزنويانو په څېر د شاهنشاهي دوره يو ځل بيا را ژوندی کړي، خو غزه ترکانو سلجوقي پاچا سنجر ته ماتې ورکړ او د غزني ښار يې ونيو، په

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدې مهال (٥٥٦ هـ ق) سلطان علاولدين هم مړ شو. دده ارمان دده په ژوند کې پوره نه شوه(۴٦:٨٧).

### ٦,۴,١. د جهانسوز لقب

سلطان علاوالدين حسين ته د جهانسوز لقب او خطاب د غزني ښار تر نيولو او سوزولو وروسته ورکړ شوی دی. معلومه نه ده چې دغه لقب په رښتينې ډول د کومو کسانو او يا د کوم کس له خوا په لومړي ځل ورکړ شوی دی . ټول مؤرخين دغه لقب د نوموړی له نامه سره جوخت ليکي او د سلطان علاوالدين حسين له نوم سره د جهانسوز د لقب د تړون لامل د غزني د ښار د سوځيدو پيښه ګڼي. دغه لقب د وخت په تيريدو سره ډير شهرت موندلې دی او دومره خور شوی چې ګڼ شمير ليکولان يواځې د جهانسوز په ليکنه بسنه کړې او لوستونکي هم د جهانسوز په لوستلو او اوريدلو سره له ورايه علاوالدين حسين ته يې پام را اوړي (٦:٢١٣).

که چيرې څوک د جهانسوز د لقب په اړه د دواړو قوتونو (غزنويانو او غوريانو) ترمينځ د ظلم او زور زياتی، پرتله او قضاوت وکړي ؛ په هيڅ ډول نه توانيږي چې يو پلو ته رايه ورکړي او خامخا په دوو کې پاتې راځي. که دوی چيرې د وينو تويولو او وژنو لاملونه په پام کې ونيسي حتمي خبره ده چې ددې پيښو ټولو محرکينو ته به بد ووايي او يا دواړه خواوې به ملامتې وګڼي او ددې ټولو پيښو تحريکات او له دښمنی ډک کړه وړه او پرلپسی بريدونه لومړی د غزنويانو له خوا ترسره شوي دي، خو په وژنو او وينو تويولو کې دواړو خواو ګډون درلود. بيا د غزني د ښار  او د هيواد د نورو ښکليو ماڼيو سوځيدل د غوريانو له خوا ترسره کيږي. ددې دواړو خواو ترمينځ پريکړه ستونزمنه ده په همدې اندازه د جهانسوز د لقب د نسبت ثبوت يوه ستونزمنه پريکړه ده. ځکه تاريخي اشخاصو ته د داسې القابو په ورکولو کې خاماخا د دښمنی تعصبات دخيل وي (٦:٢١٩).

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ٦,٥. د سیف الدین محمد واکمني (۵۵۸-۵۵٦هـ ق

(۵۴۲-۵۴۰ هـ ش)

(۱۱٦۴-۱۱٦۲ز)

د سلطان علاولدین له مړینې وروسته د هغه زوی سلطان سیف الدین په فیروز کوه کې پرتخت کښیناست. سلطان غیاث الدین او معزالدین محمد د سلطان بهاوالدین سام زامن وو چې د خپل کاکا سلطان علاوالدین جهانسوز له خوا بندیان شوي وو ، هغه دواړه یې له بند څخه آزاد او د خپلو سلاکارانو په توګه یې وټاکل . غیاث الدین د خپل کاکا له زوی سیف الدین غوري سره په فیروز کوه کې پاتې شو، معزالدین له خپل کاکا فخرالدین[1] سره په بامیانو کې دنده اجرا کوله. سیف الدین د غزه ترکانو د مقابلې په خاطر هرات ته ولاړ، خو نوموړی د جګړې په میدان کې د سپه سالار ابوالعباس شیش پواسطه ووژل شو ( ۲۹: ۴۵).

ابوالعباس شیش د خپل ورور د وژنې کینه په زړه کې ساتلې وه. د شیش د کورنۍ مشر امیر شیش د بهرام زوی او امیر بنجي نهاران ترمینځ د غور د امارت پر سر کړکیچ رامینځ ته شو. کله چې د غور اوسیدونکي د دوی دواړو په کړکیچ خبر شول؛ د دواړو خواوو پلویانو پریکړه وکړه چې دوی دواړه دې د خلافت مقام ته ورشي او هلته چې هر چا سره د امیر ژمنه وشوه او بیرغ یې په لاس ورکړ هماغه به امیر وي. خلیفه د غور امارت بنجي نیاران (نهاران) ته وسپاره او شیش ته یې د غور د لښکرو د پهلواني (مشرتوب یا سپه سالاري) ورکړه. د شنسباني واکمن بنجي نیاران ته د خلیفه هارن الرشید له خوا د قسیم امیر المومنین مبارک لقب ورکړ شو. کله چې دوی دواړه غور ته راورسیدل، هماغه پریکړې ته وفادار پاتې شول. د شیش د کورنۍ نور پهلوانان یا سپه سالاران ابوالعباس شیش او سلیمان شیش وو. د شیشانو مشر شیش د بهرام زوی به د غور له امیر بنجي نهاران سره سیالي کوله.ځینې مؤرخینو هغه د امیر شیش په نوم یاد کړی دی. درمیش (ورمیش) چې د شیش د ابوالعباس او سلیمان شیش ورورو، د علاوالدین جهانسوز د واک پرمهال د هغه سپه سالار هم و. د علاوالدین جهانسوز له مړینې وروسته د

---

[1] ملک فخرالدین مسعود تر ټولو ورونو مشر او د غور د کاسی په سیمه کې امیر و. سلطان علاولدین جهانسوز د غزني له فتحې وروسته تخارستان هم د ځان تابع کړ، چې خپل مشر ورور ملک فخرالدین یې د بامیانو حکمران وټاکه. ملک فخرالدین د شغنان، درواز، بلور ، وخش او بدخشان ونیول. نوموړی د راغ په جګړه کې د خپلو وریرونو پواسطه بندي او بیرته بامیانو ته واستول شو او هلته د ۵۵۰ هـ ق کې وفات شو ( ۱۱ : ۸۳۷).

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه زوی سیف الدین غوري واک ته ورسید، څه موده وروسته په یوې غونډې کې سیف الدین په لاس کې دوه داسې بندونه ولیدل او دا دواړه یې وپیژندل چې د ملک ناصر الدین حسین بن محمد مادیني په چور او تالان کې دده (سلطان سیف الدین ) له خزانې څخه وړي و. د سیف الدین قهر، غضب، میړانه او سلطنتي جذبه راوپاریده او ورمیش ته یې وویل، ورشه  د نښې له ځایه زما غشې راوړه. ورمیش چې د غشي لوري ته روان شو او ده ته یې شاه شوه، سلطان سیف الدین غشې په لیندۍ کې کیښود او لیندۍ یې خپلو غوږونو پورې راښکله  او ورمیش یې داسې وویشت چې غشۍ یې له سینې بهر راووت او ځای پرځای مړ شو (٦:٢٢٦).

دا مهال چې د سنجر د دولت وخت پای ته رسیدلې و او غزه ترکان د خراسان شاوخوا سیمو ته رسیدلي وو، سلطان سیف الدین د هغوی د مخنیوی په خاطر هرات ته ورسید. غزانوته  یې د جنګ په میدان کې د مقابلې اعلان وکړ، کله چې دواړه لوري سره مخامخ شول د سیف الدین سپه سالار ابوالعباس شیش چې د غور مشهور پهلوان او د شیشانو د کورنۍ غړی و او د وژل شوی ورمیش ورور و. د سلطان سیف الدین شا ته یې ځان ورساو او سلطان یې په بغل کې وواهه، کله چې سلطان له آس څخه راولوید، نو سپه سالار شیش ورته وویل : نارینه د شا له خوا ګوزار نه کوي لکه تا چې زما ورور وواژه. (٦:٢٢٧).

ددې پیښې له رامینځته کېدو سره د غوریانو لښکر ماتې وخوړه او ابوالعباس شیش بیرته غور ته ستون او له غیاث الدین سره یو ځای شو.  غیاث الدین یې د پاچا په توګه وټاکه، خو کله چې غیاث الدین قوي شو د خپل کاکا د زوی د وژلو له امله یې له ابوالعباس شیش سره کینه درلوده. دواړو ورونو ( غیاث الدین او معزالدین ) پریکړه وکړه او یو تن ته یې دنده وسپارله او لارښونه یې ورته وکړه چې کله ابوالعباس شیش دربار ته راغی، نو سلطان معزالدین به خپلې خولې ته لاس وروړي،  ټاکلې کس به د ابوالعباس شیش سر په توره وهي. همداسې یې وکړل، ابوالعباس شیش ووژل شو؛ د غیاث الدین واکمنی لا پیاوړې شوه (٦: ٢٢٨).

د سیف الدین جسد لا د جګړې په میدان کې و چې  غزه ترکان راورسیدل، نوموړی لا ژوندې و. هغوی چې دده د پاچاهی جامې او د ملا پټۍ ولیده، وپوهیدل چې همدا پاچا دی، هڅه یې وکړه چې جامې او د ملا پټۍ ترې خلاص کړي ، خو دا چې پټۍ ډیره کلکه وه او ژر نه خلاصیده په چاړه یې پرې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړه، کله چې يې د ملا پټۍ په چاړه پرې کوله د سلطان په خيټه کې يې ټپ جوړ کړ، چې بيا د هماغه ټپ له امله په ۵۵۸ هـ ق کال وفات شو. په هغه ځای کې اوس تاريخي ابده وجود لري چې د شاه مشهد په نوم ياديږي، او د سلطان غياث الدين غوري د واکمنۍ پر مهال جوړه شوی ده، د مشهد د شاه معنی داده چې دا ځای د سلطان سيف الدين د شهادت ځای دی. دغه تاريخي ابده د مرغاب د سيند پرغاړه د جوند ولسوالۍ له مرکز څخه لږ ښکته موقعيت لري (۲۹: ۴۶).

سلطان سيف الدين يو ښکلی ځوان، متواضع، رعيت پال پاچا و، کوم ښارونه چې دده د پلار علاوالدين جهان سوز د واکمنۍ پرمهال سوزيدلې او ويجاړ شوی وو، ده بيرته د هغوی په ودانولو کې فعاله ونډه واخيسته، دده د واک موده کمه وه هغه هم په جګړو کې تيره شوه.

## ٦,٦. د سلطان غياث الدين واکمني (۵۹۹-۵۵۸هـ ق)

## (۵۴۲-۵۸۳ هـ ش)

## (۱۱٦۴-۱۲۰۵ز)

سلطان غياث الدين د بهأوالدين سام زوی، چې د خپل کاکا سلطان علاولدين جهانسوز لخوا د خپل ورور معزالدين سره بندي شوی و، دواړه د علاولدين جهان سوز د زوی سيف الدين له خوا ازاد شول او د خپل کاکا له زوی سيف الدين سره په فيروز کوه کې د مشاور په توګه دنده اجرا کوله. سلطان غياث الدين د غزانو سره د جګړې پرمهال له سلطان سيف الدين سره يو ځای و. کله چې سلطان سيف الدين د خپل سپه سالار ابوالعباس شيش له خوا ووژل شو، د غور عسکر د پاچا له مړينې سره سم بيرته غور ته راغلل. ابوالعباس شيش ، غياث الدين ته بيعت وکړ، نوموړی په ۵۵۸ هـ ق کال د غور د پاچا په توګه وټاکل شو. ابوالعباس شيش د سلطان غياث الدين د واکمنۍ پرمهال هم خپلې خپلسرۍ ته دوام ورکړ، خو سلطان غياث الدين دده زور او خپلسري نه شوه زغملی او هم يې د خپل کاکا د زوی سيف الدين د وژلو له امله ورسره کينه درلوده. نو يې ابوالعباس شيش يې وواژه. دده له وژلو سره د شيشانو نظامي قوت پای ته ورسيد (۲۹: ۴۵).

سلطان غياث الدين د ابوالعباس شيش پرځای خپل ورور معزالدين ( چې په شهاب الدين غوري هم مشهور دی) د سپه سالار په توګه وټاکه او فيروز کوه ته نږدې د استيه په کلا کې يې ميشت کړ. په

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه مهال د سلطان غیاث الدین کاکا ملک فخر الدین [1] چې د بامیانو حکمران و. د د عزالدین حسین له اوو زامنو څخه یوازې ملک فخرالدین پاتې و. ده خپل ځان د غور د پاچاهۍ وارث ګاڼه. د بلخ له حکمران علاوالدین قماج سنجري او د هرات د حکمران تاج الدین یلدوز څخه یې د مرستې غوښتنه وکړه. ملک فخرالدین د هرات، بلخ او بامیانو د لښکرو سره په فیروز کوه حمله وکړه. د (( راغ زر)) په سیمه کې د دواړو لورو ترمینځ جګړه ونښته، د غور قواوو لومړی د ملک تاج الدین یلدوز او د هرات قوتونه کلابند او ملک تاج الدین یلدوز یې وواژه. د هرات قوتونه تیت او پرک شول. وروسته یې د بلخ قواووته هم ماتې ورکړه او د هغوی مشر علاوالدین قماج سر یې له تنې څخه غوڅ او ملک فخر الدین ته یې واستوه. ملک فخر الدین یې هم کلابند کړ. سلطان غیاث الدین او معزالدین خپل کاکا ونیوه، خو په احترامانه ډول یې بیرته بامیانو ته واستوه. سلطان غیاث الدین بیا د زمینداور او ګرمسیر له نیولو وروسته قادسیه، کالیون، فیوار، سیفرود، غرجستان، تالقان او ګرزیوان هم د غور د حکومت ضمیمه کړل(۲۹: ۴٦).

سلطان غیاث الدین خپل ورور معزالدین (شهاب الدین) له ګرمسیر، تګین اباد او سیستان څخه د غزني او کابل په لورې ولیږه. شهاب الدین غوري په ٥٦٩ هـ ق له غزه ترکانو (غزانو) څخه غزنی ونیو. په هرات کې د سنجر له کورنۍ څخه بهاوالدین طغرل د هرات حاکم د سلطان غیاث الدین د لښکر له رسیدو څخه مخکې هرات پریښود، خوارزم ته ولاړ. د غیاث الدین پوځ په ٥٧١ هـ ق کال د هرات له

---

[1] ملک فخر الدین مسعود له ټولو ورونو مشر و، چې د غور په کاسې کې امیر شو. سلطان علاولدین جهانسوز د غزني له نیولو وروسته، تخارستان هم تابع کړ. خپل مشر ورور ملک فخرالدین مسعود یې د بامیانو د حاکم په توګه وټاکه. ملک فخرالدین، تخارستان، شغنان او بدخشان یې تر دروازه پورې د خپل حاکمیت لاندې راوستل. ملک فخر الدین د خپلو وریرونو (سلطان غیاث الدین او سلطان شهاب الدین) سره د راغ زر په جګړه کې ماتې وخوړه، خو هغو بیرته د بامیانو د حاکم په توګه مقرر کړ. کله چې نوموړی د غور له لښکرو سره یوځای د سلطان شاه خوارزمشاه سره مقابله وکړه د سلطان لقب ورکړ شو. د ملک فخرالدین له مړینې وروسته ملک شمس الدین د بامیانو پاچا و. له ملک شمس الدین وروسته د هغه زوی بهاوالدین سام د بامیانو پرتخت کښیناست (٥٨٧ هـ ق). د نوموړی د دربار مشهور عالمان امام فخرالدین رازي، شیخ جلالدین ورساد، د فصح العلجم مولانا سراج الدین وو. له ده وروسته دده زوی جلال الدین علي د بامیانو پرتخت کښیناست، خپل ورور علاولدین یې د غزني د حاکم په توګه وټاکه. کله چې غزه ترکانو د کرمان له لارې پرغزني حمله وکړه، جلال الدین له بامیانو څخه د خپل ورور د مرستې په خاطر غزني ته راغې. دده په غیاب کې دده کاکا علاولدین د شمس الدین زوی د بامیانو حکومت ونیو. جلال الدین د غزني له تصفیې وروسته بیرته بامیانو ته ولاړ، خپل کاکا یې د هغه له وزیر سره یوځای وواژه. تاج الدین یلدوز دریم ځل پر غزني حمله وکړه؛ علاولدین ته یې ماتې ورکړه او کلابند یې کړ. جلال الدین د خپل ورور مرستې ته راغې. دواړه ورونه د تاج الدین یلدوز له خوا ونیول شول، خو ډیر ژر یې دواړه بامیانو ته واستول، دوی دواړو تر ٦١٢ هـ ق پورې په بامیانو کې خپل حاکمیت ته ادامه ورکړ (۲۹: ٥٠-٥١).

(c) ketabton.com: The Digital Library

نیولو وروسته په ۵۷۳ هـ ق کال پوشنج هم ونیو. د سیستان حاکم هم د غوریانو حاکمیت ومانه. د افغانستان شمالي سیمې لکه تالقان، اندخوي، میمنه، فاریاب، پنجده، مروه او خلم یې هم ونیول. د ایل ارسلان زوی جلال الدین محمد د قراخطاییانو په مرسته د افغانستان په شمالي سیمو کې مزاحمت کاوه. سلطان غیاث الدین د غزني لښکر د معزالدین(شهاب الدین ) غوري په مشری د بامیانو لښکر د ملک شمس الدین په مشری او د سیستان لښکر د ملک تاج الدین حرب ترمشرۍ لاندې د مرو شاوخوا سیمو ته واستول. د ایل ارسلان خوارزمشاه زوی جلال الدین محمد ته یې ماتې ورکړه او خراسان یې ورڅخه ونیو او په ۵۹٦ هـ ق کې تر نیشاپور پورې مخکې ولاړ. نوموړی سیمې یې ملک ضیاالدین سیستاني ته وسپارلې. مروه یې هم ونیوله او ملک ناصر الدین محمد خرنک یې د هغه ځای حکمران وټاکه. د سرخس ولایت یې د ملک فخرالدین زوی تاج الدین زنګي ته وسپاره.(۲۹:۴۷).

شهاب الدین غوري د هیواد په شمال لویدیځ کې له بریالیتوب وروسته هند ته متوجه شو، د هیواد ختیځو ولایتونو د چارو له تنظیم وروسته په ۵۷۲ هـ ق کال یې ملتان فتح کړ. په ۵۷۴ هـ ق کې یې پر ګجرات حمله وکړه، خو د غور عسکرو ډیر تلفات ولیدل بیرته غزني ته راغلل. یو کال وروسته په ۵۷۵ هـ ق کال شهاب الدین غوري لومړی پیښور د غزني له پاتې شونو څخه ونیو. په ۵۷۷ هـ ق یعنې دوه کاله وروسته د غزنویانو پلازمینه لاهور یې هم ونیو او د غزنویانو اخرنۍ پاچا خسرو ملک یې بندي کړ. لاهور یې ترخپل تسلط لاندې راوست. د هند په مرکزي سیمو کې راجپوتانو حکومت کاوه. راجپوتانو د ډیرو پیسو د لرلو ترڅنګ په جګړه کې پوره مهارت درلود او جنګیالي خلک وو. افغاني قوتونه د کرنال په سیمه کې د پرتوراج سره، چې په زړه ورتوب او پهلوانۍ کې یې شهرت درلود او د نوي د ډهلي او اجمیر واکمن شوی و، مخامخ شو. دواړو خواوو په ډیر شهامت سره جګړه کوله، راجپوتانو د افغاني قوماندان او لښکر ترمینځ لاره پرې کړه. د غور د لښکرو مشر ټپي شو او شاه ته تګ یې غوره کړ. په ۵۸۷ هـ ق کال بیرته غور ته راغی. شهاب الدین غوري په غور کې بیرته خپل قوتونه په وسلو سمبال کړل. د بدلې اخېستلو لپاره بیرته هماغه میدان ته ورغی. د دویم ځل لپاره د غور او راجپوت قوتونو ترمینځ جګړه ونښته د غور مشر او افغاني پوځ په ډیر شهامت جګړه کوله، دوی که څه هم له خپل هیواد څخه ډیر لرې جنګیدل، خو روحیه یې ډیره پیاوړی وه. پرتوراج هم د ټولو قومونو له رئیسانو څخه د مرستې غوښتنه کړې وه. د پرتوراج د پوځ شمیر درې سوه زرو ته رسیده او درې سوه فیلان یې درلودل. د

(c) ketabton.com: The Digital Library

غوريانو په مقابل کې يې ماتې وخوړه. پرتوراج او ورور يې ووژل شول. د غور عسکرو ډېر غنيمتونه په لاس راوړل. د پرتوراج له مړينې وروسته افغاني قواو ډېر ژر هانسي، سامانه، اجمير او نور ولايتونه ونيول. دافغاني پوځ مشر په نيول شويو سيمو کې ديني مدرسې او جماعتونه جوړ کړل. شهاب الدين غوري نيول شوي سيمې خپل سپه سالار قطب الدين ايبک ته وسپارلې او خپله غور ته راغی. قطب الدين ايبک يو کال وروسته ډهلی هم فتح کړ، د لاهور پرځای يې ډهلی د افغاني امپراطورۍ پلازمينه وټاکله. قطب الدين ايبک په ۵۹۰ هـ ق کال بنارس، گواليار، بهار او بنگال فتح او کالنجر قلعه يې په ۵۹۹ هـ ق کې ونيوله (۸۱:۴۶).

سلطان غياث الدين په هيواد کې مرکزي حکومت ټينگ کړ. د مرکزي اسيا ټولې سيمې له هند څخه تر عراق، له چين څخه تر جيحون او هرمز درياب پورې سيمې ترخپل بيرغ لاندې راوستې، چې د غور له فيروز کوه څخه به اداره کيدې. نوموړی په افغانستان (خراسان) کې يوازينی شاهنشاه گڼل کېده . د بغداد خليفه ناصرالدين (۵۷۵-٦۲۲ هـ ق ) هم خپل سفيران ابن ربيع او قاضي مجدالدين قدوه ابن الخطيب د غور د فيروز کوه دربار ته راوليږل او د غوريانو امپراطورۍ يې په رسميت وپيژنده. د افغانستان پاچا هم مولانا سراج الدين محمد جوزجاني د سفير په توگه بغداد ته وليږه. د افغانستان او بغداد ترمينځ سياسي اړيکې ټينگې شوې. سلطان غياث الدين يو علم پالونکې او عادل شخص و؛ دده په دربار کې ډېر عالمان اوسيدل. نوموړی د ٦۳ کالو په عمر د ۵۹۹ هـ ق د جمادي الاول په ۲۷ مه ، ۱۲۰۲ ز کال په هرات کې مړ او د هرات د جامع مسجد په خوا کې خاورو ته وسپارل شو. دده د دربار مشهور عالمان قاضي وحيدالدين شافعي، صدرالدين کرامي نيشاپوري، قاضي القضات معزالدين هروي او قاضي شهاب الدين وو. دوی به په مياشت کې يو ځل له پاچا سره ليدنه کوله او مهم وزيران يې شمس الملک، عبدالجبار گيلاني، فخرالملک شرف الدين، عبدالملک ابوشاري، عين الملک سورياني، ظهير الملک سنجري او جلال الدين ابوشاري وو. سلطان غياث الدين په اوړي کې له فيروز کوه او په ژمي کې له زميند‌اور څخه د پلازمينې په توگه استفاده کوله. دده له مهمو ودانيو څخه د هرات جامع مسجد چې لا تر اوسه موجود دی، د غور جام منار، د فيروز کوه ښارگوټی او د ډهلي قطب منار دي (۲۹: ۴۸).

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ٦,٧. د شهاب الدين محمد غوري واکمني (٦٠٢-٥٩٩هـ ق)

## (٥٨٦-٥٨٣ هـ ش)

## (١٢٠٨-١٢٠٥ز)

شهاب الدين د بهأوالدين سام زوی او لقب يې شهاب الدين و. په ډېرو تاريخونو کې نوموړی د شهاب الدين او محمد غوري په نومونو هم ياد شوی دی. معزالدين د خپل ورور سلطان غياث الدين له مړينې وروسته په ٥٩٩ هـ ق کې پاچا شو. سلطان شهاب الدين د سلطان غياث الدين د واکمنۍ پرمهال د هغه د پوځ سپه سالار و. د پوځ قومانده دده په لاس کې وه. د سلطان غياث الدين د واک پرمهال د غور د امپراطورۍ پراختيا او فتوحات د معزالدين (شهاب الدين) پواسطه صورت موندلی دی. ده د خپل ورور (غياث الدين) سره ښې او دوستانه اړيکې درلودلې.

شهاب الدين د واکمنۍ پرمهال له دريو ځواکمنو دښمنانو (سلطان علاوالدين خوارزمشاه، د قراخطائيانو پاچا گوره خان چې بودايي دين يې درلود، د سمرقند مسلمان امير عثمان خان) سره مخامخ و. امير عثمان خان د غوريانو پرضد له هغوی سره متحد شوی و. سلطان شهاب الدين په ١٢٠٥ ز کال خوارزم ته داخل شو، د خوارزم پلازمينه يې کلابنده کړه. گوره خان او عثمان خان افغاني پوځونه کلابند کړل. شهاب الدين (معزالدين ) عثمان خان ته د پيسو په ورکولو سره ځان ازاد کړ، د غزني په لورې راوخوځېده، خو شهاب الدين غوري ته دغه ماتې ډېرې ستونزې پيدا کړې. دده له افسرانو څخه يو تن ځان د ملتان امير اعلان کړ. د غزني حاکم تاج الدين يلدوز د ښار دروازې د شهاب الدين پرمخ وتړلې، خو شهاب الدين غوري ددې شورشونو په مقابل کې وارخطا نه شو، غزني او ملتان يې بيرته ونيول، قطب الدين ايبک هم دده مرستې ته راورسيد. شهاب الدين غوري ټول شورشونه ارام کړل. له لاهور څخه يې د غزني په لورې حرکت وکړ، نيت يې درلود چې غزني ته له رسيدو وروسته ماورالنهر ته ولاړ شي، خو نوموړی د ٦٠٢ هـ ق کال د شعبان په درېيمه د غزني په لار کې د ملاحده لخوا د دمليک په منزل ( د اوسنۍ پنجاب د جهليم په سيمه) کې په شهادت ورسيد. شاعر هم د شهادت نيټه داسې ليکلې:

شهادت ملک بحر و بر شهاب الدين

کز ابتدای جهان شاه چو نيا ميديک

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوم زغره شعبان بسال ششصد و دو

فتاده در راه غزنین به منزل دملیک

د سلطان شهاب الدین جنازه یې غزني ته راوړه. نوموړی یې د ګردیز او غزني ترمینځ د دهک په علاقه داری کې خښ کړ (۲۹: ۵۴).

شهاب الدین غوري د خپل ورور سلطان غیاث الدین په څېر یو پراخه امپراتوري افغانانو ته په میراث پرېښوده. اسلامي مؤرخین معزالدین (شهاب الدین) د غوریانو د سترو پاچاهانو له جملې څخه ګڼي. هند کې د راجپوتانو په موجودیت او له ډېرو ستونزو سره سره د هغه ځای ډېرې سیمې یې د قطب الدین ایبک په مرسته فتح کړې. په هند کې د ده د فتوحاتو موخه د اسلام د مقدس دین خپراوی او د خدای رضا وه. شهاب الدین غوري په خپلو فتوحاتو سره په هند کې د مسلمانانو ستر قوت جوړ کړ او په هند کې یې د یو قوي اسلامي دولت بنسټ کېښود. سلطان شهاب الدین غوري د لوړې ارادې، پوهې، همت او قوي ایمان خاوند و. د نړۍ د نیولو او فتوحاتو استعداد یې درلود. ده خپل ټول عمر د اسلام د مقدس دین په لار کې تیر کړ. سلطان شهاب الدین او سلطان غیاث الدین دواړه د سلطان بهاوالدین سام زامن او د ملک عزالدین حسین لمسیان وو. د دوی مور د ملک بدرلدین کیراني یا ګیلاني لور وه. نوموړی هم د غور شاهي کورنۍ ته منسوب وه. د سلطان غیاث الدین او سلطان شهاب الدین پلار بهأوالدین غزني ته د لښکر کشۍ پرمهال په ۵۴۴ هـ ق کال د غزني په لار کې وفات شو. علاوالدین جهانسوز دواړه (غیاث الدین او شهاب الدین) په وجیرستان (اوسنې اجرستان) کې بندیان کړل. او د واک پر مهال یې یوه لویه امپراتوري تاسیس کړه.

تر لاس لاندې سیمو کې د سلطان شهاب الدین حاکمان دا لاندې کسان وو: ملک ضیاالدین په غور کې، ملک تاج الدین زنګي په بامیانو کې، ملک حسام الدین کرماخ په ملتان کې، ملک قطب الدین ایبک په لاهور، ملک تاج الدین یلدوز په غزني او کرمان کې ، ملک ناصرالدین قباچه په سند کې، ملک فخر الدین په بامیانو کې، سلطان غیاث الدین محمود په فیروز کې، ملک تاج الدین حرب په سیستان کې، ملک تاج الدین په مکران کې، ملک شاه په وخش کې ؛ وزیران یې ضیاالملک درشي، مؤید الملک محمد بن عبدالله سنجري، شمس الدین ملک عبدالجبار ګیلاني وو. د شهاب الدین غوري ژمنۍ پلازمینه لاهور او د اوړي پلازمینه یې غزنی او خراسان وو. مهم قاضیان یې عبارت وو له :

(c) ketabton.com: The Digital Library

نظام الدين ابوبکر، سيد شرف الدين ابوبکر، د فوځ قاضي شمس الدين بلخي و. د خواجه اسمعيل خزانه دار په قول د غزني په خزانه کې يو زرو پنځه سوه منه الماس موجود و (۲۹:۵۵).

د غوريانو په واکمنۍ کې د بهأوالدين سام زامنو (سلطان غياث الدين غوري او سلطان شهاب الدين غوري) واکمني چې تقريباً پنځوس کاله يې دوام وکړ د غوريانو د ترقۍ او پرمختګ دوره وه، ځکه دغه دواړه ورونه د ښه استعداد خاوندان وو؛ د رعيت پالنې، رهبرۍ او ښې ادارې استعداد يې درلود. د غور سياسي او جغرافيوي موقعيت باندې ښه پوهيدل. دوی وکولی شول چې د خپل رعيت له مادي او معنوي واک څخه ګټه واخلي. د غور محلي حکومت يې په يوه لويه امپراطورۍ بدل کړ او دغه سيمه له خراسان څخه تر هند پورې په يو لوی نظامي او سياسي قدرت بدله شوه، دوی د هيواد په ابادۍ کې هم ستره ونډه واخېسته ( ۱: ۴۶).

سلطان معزالدين محمد غوري چې د شهاب الدين غوري په نوم يادېږي يولس ځله هندوستان ته پوځي سفرونه کړی. دوه ځله ماتې خوړلی او نهه ځله بريالی شوی. د هند د تاريخ مؤلف دولا فوز هم دده د فتوحاتو په باب وايي چې په هند کې دده د فتوحاتو اغيزې ژورې وې ، يو دايمي حکومت يې دلته (هند کې) تاسيس کړ. سلطان شهاب الدين غوري د پښتنو له برمه ډک امپراتوري جوړه کړه چې شمالي حدود يې د آمو تر سيند، غربي لور ته تر مروې، طوس او سرخس، جنوب خواته د هند تر سمندر او ختيځ ته يې د هندوستان تر ورستۍ ختيځې څنډې غځيدلې وه. سلطان شهاب الدين يو مسلمان او عادل پاچا و. معزالدين او شهاب الدين لقبونه په دې سبب ورته ورکړل شوی و. دده اصلي نوم محمد و، خو مور يې ورته زنګي ويل. ده خپل مرئيان زامن بللی وو. دده امپراتوري د اسلام د عدل او انصاف پر بنا ولاړه وه او ټول رعيت سره يې له توپيره پرته ښه سلوک کاوه. د منتخب التواريخ مؤلف بلدواني د سلطان شهاب الدين غوري نوم په لوړ ډول ذکر کړې او هغه يې د غور او خراسان د پاچا په توګه ياد کړی دی او ليکي : در زمان سلطان شهاب الدين غوري علما، فضلا و شاعران بسيار تربيت يافتند از آن جمله امام فخرالدين رازي (رح) که بنام سلطان غياث الدين کُتب تصنيف کرده و در لشکر معزالدين اقامت داشته و هر هفته وعظ مينمود... (۱۹: ۷۸-۷۹).

د سلطان شهاب الدين غوري له مړينې وروسته دده امپراتوري په هند ، افغانستان او ايران ترمينځ وويشل شوه. ده کوم وارث نه درلود. په دې اړوند له ده څخه يو درباري پوښتنه کړی وه، په

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځواب کې سلطان شهاب الدين غوري ورته وويل:(( نور پاچاهان ښايي يو يا دوه زامن ولري، زه له زرو څخه زيات زامن لرم ... په دې ډول چې زما ترکي غلامان به زما له مړينې وروسته زما وارثان وي او زما نوم په خطبه کې يادوي.... )). د سلطان شهاب الدين غوري له غلامانو څخه يو هم قطب الدين ايبک و (۱۹: ۸۱).

د سلطان شهاب الدين غوري له مړينې وروسته دده امپراتوري د هغه د ځای ناستو بې کفايتي د گاونډيانو په ځانگړي ډول د خوارزمشاهانو لپاره د مداخلې زمينه برابره کړه، هند د غور له دولت څخه جلا شو. د افغانستان په داخل کې ملوک الطوايفي مينځ ته راغله. په فيروز کوه ، غزني، زابلستان، باميانو، تخارستان، سند او ملتان کې د غوريانو محلي حکومتونه مينځ ته راغلل. د غور شهزاد گانو په باميانو، تخارستان او ناصر الدين قباچه په سند، تاج الدين يلدوز په غزني کې مستقل دولتونه اعلان کړل. د امپراطورۍ پلازمينه فيروزکوه ضعيفه شوه. د خوارزمشاهانو دولت پر فيروز کوه خپل بريدونه زيات کړل. د غور د دولت ډېرې سيمې يې ونيولې، سلطان محمد خوارزمشاه په چټکۍ سره د افغانستان ډېرې سيمې د خوارزمشاهانو د دولت ضميمه کړې (۴۶: ۸۴).

## ٦,٨. د غياث الدين محمود واکمني (٦٠٧-٦٠٢هـ ق)

## (۵۹۱-۵۸٦ هـ ش)

## (۱۲۰۸-۱۲۱۳ز)

غياث الدين محمود د خپل پلار سلطان غياث الدين د مړينې (۵۹۹ هـ ق) پر مهال په دې هيله و چې د خپل پلار په ځای پر تخت کښيني، مگر د خپل کاکا شهاب الدين مقام او موقعيت نوموړی محروم کړ. غياث الدين محمود د پلار له مړينې وروسته د بست، فراه او اسفنزار د حاکم په توگه وټاکل شو. نوموړی د خپل کاکا شهاب الدين غوري له پاچا کېدو سره موافق و، هيڅکله او هيڅ ډول مخالفت يې ونکړ. له شهاب الدين غوري سره د خوارزمشاهانو پرضد جگړه کې يې گډون وکړ. خو غياث الدين محمود د شهاب الدين غوري په واکمنۍ کې وروسته له هغه واک ته د رسيدو په خاطر د باميانو له حاکم بهأوالدين سام سره تړون لاسليک کړ چې د غزني او هند سيمې به بهأوالدين سام او د افغانستان لويديځې سيمې به له ده (غياث الدين محمود) سره وي. خو دا تړون ددې شاهدي ورکوي چې غياث الدين محمود د پاچاهي غوښتونکو او دعوه کوونکو څخه و. ده پاچاهي ته رسېدل د بهاوالدين سام په

(c) ketabton.com: The Digital Library

موافقه کې لیدله. له دې ترون څخه دا څرګندیده چې نوموړې په سیاسي او نظامي لحاظ ډېر ضعیفه او د خپلو نیکونو برخلاف د امپراطورۍ تجزیې ته حاضر شو (۲۹: ۴۶).

غیاث الدین محمود د سلطان شهاب الدین غوري له مړینې وروسته له وخت څخه ګټه واخېسته، له بست څخه یې د فیروز کوه لور ته حرکت وکړ. د فیروز کوه له نیولو وروسته د خپل پلار (سلطان غیاث الدین) دربار ته ورغی. ده د هغه دربار لیاقت نه درلود، خو ده خپل ځان د سلطان غیاث الدین محمود په نوم یاد کړ. ده غوښتل چې د خپل پلار په څېر د خپل سلطنت ستنې ټینګې کړي. د فیروز کوه حاکم علاوالدین محمد له فیروز کوه څخه غرجستان ته ولاړ. سلطان غیاث الدین محمود هغه ونیو او د شیار په قلعه کې یې بندي کړ. د غور خلک هم له علاوالدین محمد څخه ناراضي وو، ځکه غیاث الدین محمود پر هغه باندې په اسانۍ سره بریالی شو. سلطان غیاث الدین محمود په فیروز کوه سربېره د غرجستان، تالقانو، ګرزوان، قادسیه او ګرمسیر سیمې هم ونیولې. د غزني حاکم تاج الدین یلدوز ته یې فرمان واستوه؛ تاج الدین یلدوز د هغه تابعیت قبول نکړ. په هند کې قطب الدین ایبک هم دده فرمان قبول نکړ. د سلطان غیاث الدین محمود د حکومت لا یو کال نه و تیر شوی، چې د علاوالدین محمد زوی ملک رکن الدین دده پرضد شورش وکړ. خو غیاث الدین محمود هغه ته ماتې ورکړه. رکن الدین غزني ته ولاړ. دویم ځل ګرمسیر ته راغی، خو هلته د غیاث الدین محمود د پلویانو له خوا ونیول شو. په ٦۰۷ هـ ق د غیاث الدین محمود له مړینې وروسته رکن الدین هم د ترکي عسکرو له خوا ووژل شو. د سلطان علاوالدین جهانسوز زوی علاولدین اتسز د سلطان محمد خوارزمشاه په ملاتړ د غیاث الدین محمود په قلمرو حمله وکړه. غیاث الدین محمود دفاع وکړه، خو کله چې هرات له عزالدین حسین فرمل څخه  خوارزمشاه ونیو، هرات د غوریانو له واکمنۍ څخه جلا شو. پر بلخ، تالقان او ترمذ باندې هم د غیاث الدین محمود حاکمیت ډېر دوام ونکړ، ځکه دغه پورته سیمې هم سلطان محمد خوارزمشاه ونیولې. د غیاث الدین محمود واکمني د فیروز کوه په شاوخوا سیمو پورې محدوده شوه. په اداره کې د پلار د وخت له مامورینو څخه یې ګټه واخېسته او عبدالجبار ګیلاني یې د وزیر په توګه وګوماره (۲۹: ۷۸).

(c) ketabton.com: The Digital Library

### ٦،٨،١. له سلطان محمد خوارزمشاه سره د غیاث الدین محمود اړیکې

د دوی دواړو ترمینځ اړیکې ښې وې. سلطان محمد خوارزمشاه د هرات له نیولو وروسته په ٦٠٣ هـ ق کال خپل استازی د غیاث الدین محمود دربار ته واستوه. غیاث الدین محمود خپل استازی د سوغاتونو سره د سلطان محمد خوارزمشاه دربار ته واستوه او د هرات په نیولو کې یې هیڅ مخالفت ونه ښوده. غیاث الدین محمود دا ومنله چې په خطبه کې به د هغه نوم یادوي. له همدې امله سلطان محمد خوارزمشاه په فیروز کوه حمله ونکړه. غیاث الدین محمود د تالقانو په نیولو هم د سلطان محمد خوارزمشاه په مقابل کې کوم غبرگون ونه ښوده. دده دغه شاته تگ د نوموړي په نابودۍ تمام شو. سلطان علاوالدین محمد په ماورالنهر کې په جگړه بوخت و. د هغه ورور علي شاه د اصفهان حاکم له خپل ورور سره مخالف و. د غیاث الدین محمود په دربار کې یې پناه واخېسته. غیاث الدین محمود د علي شاه تود هرکلی وکړ. سلطان علاولدین محمد خوارزم شاه، غیاث الدین محمود ته د هغه د کاکا شهاب الدین محمد تړون راولیږه، چې دوی به یو د بل دښمن ته پناه نه ورکوي. غیاث الدین محمود د لیک له رارسیدو سره سم علي شاه بندي کړ. د علي شاه پلویانو ونه شو کولی چې هغه له زندان څخه آزاد کړي. په ٦٠٧ هـ ق کال د غره له لارې د غیاث الدین محمود دربار ته ورغلل او هغه یې وواژه. چې دا حمله پر غوریانو کاري حمله وه چې غیاث الدین محمود یې وواژه. له دې وروسته دده کورنۍ هرات ته وکوچیده. د نوموړي جسد یې له هغه ځای څخه له ځان سره هرات ته یوړ او په گذرگاه کې خښ شو(١: ٧٩).

### ٦،٩. د بهأوالدین سام واکمني (٦٠٧-٦٠٧هـ ق

(٥٩١-٥٩١ هـ ش)

(١٢١٣-١٢١٣ز)

کله چې غیاث الدین محمود په غور کې په ٦٠٧ هـ ق کال ووژل شو، د هغه کوچنۍ زوی بهاولدین چې څوارلس کلن و پر تخت کښیناست. دده د واکمنۍ پر مهال د غور سیاسي وضعیت ډیر خراب و. نوموړی له هرې خوا څخه د گواښ او خطر سره مخ و. بهاولدین سام ډیر کوچنی و، څه یې نه شو کولی چې وضعیت ارام کړي، خو د غیاث الدین محمود میرمن چې د ملک تاج الدین شمراني لور وه، د یو فرمان په وسیله د غور مشرانو ته امر وکړ چې امنیت ټینگ او باغیان ونیسي او پرې نږدي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وتښتي؛ په تیره بیا هغه چا چې غیاث الدین محمود هغه وژلی، ونیسي. د بهاوالدین سام د واکمنۍ یو کال تیرې شوی نه وې ، چې د علاوالدین حسین جهانسوز زوی، علاوالدین اتسز د غور د ترلاسه کولو لپاره له سلطان محمد خوارزمشاه څخه د مرستې غوښتنه وکړه. سلطان محمد خوارزمشاه د هرات ملک چې هغه ته یې د امیر حجاب لقب ورکړی و، د برید لپاره د هغه سره ملګری کړ. په دغه وخت کې د غور یو شمیر مشران له سلا او مشورې وروسته دې پایلې ته ورسیدل، چې د بهاولدین سام د پلار غیاث الدین محمود قاتل علي شاه دې له بنده خوشی شي، تر څو د هغه په واسطه د خوارزم یو شمیر عسکر د بهأوالدین سام پلوي وکړي او د خوارزم له هغو عسکرو سره چې د علاولدین اتسز سره ملګري دي وجنګیږي څو بري ترلاسه کړي. د علاوالدین اتسز سره په جګړه کې بهأوالدین سام ماتې وخوړه او علاولدین اتسز د فیروزکوه پرتخت کښیناست. د هرات ملک (والي) له لښکرو سره بیرته هرات ته ستون شو (٦: ٣١٥).

## ٦,١٠. د علاوالدین اتسز واکمني (٦١٠-٦٠٧هـ ق)
## (٥٩٣-٥٩١ هـ ش)
## (١٢١٥-١٢١٣ز)

د خوارزمشاهانو او غوریانو ترمینځ مبارزه کې خوارزمشاهان بریالی شول، د سلطان شهاب الدین له مړینې وروسته یې د غوریانو کورنۍ بې اتفاقۍ څخه ډیره ګټه واخېسته. د دغو کورنیو بې اتفاقیو په پایله کې یې نه یوازې د غوریانو د قلمرو ډیرې برخې ونیولې، فیروز کوه یې هم ترخپل تسلط لاندې راوست. د غوریانو سقوط او د خوارزمشاهانو بري د هغه چا په واسطه صورت وموند چې پلار یې علاوالدین جهانسوز د استقلال او د غوري دولت د نفوذ د پراختیا لپاره ډیرې هڅې وکړې، خو د هغه زوی علاولدین اتسز چې د غیاث الدین او شهاب الدین په دربار کې یې تربیه لیدلې وه، حتی یو ځل سلطان شهاب الدین غوري ناروغه شوی و، غوښتل چې علاولدین اتسز پرخپل ځای پرتخت کښینوي، مګر له رغېدو وروسته یې هغه بامیانو ته واستوه، چې د بهأوالدین سام سره اوسېده. خو نوموړی هم د شهاب الدین له وژلو وروسته د نورو شهزاده ګانو او امرینو په څېر د غور د تخت او تاج د ترلاسه کولو په خاطر هڅې پیل کړې او خپلې موخې ته درسیدو په خاطر یې سلطان محمد خوارزمشاه ته مخه کړه. په ٦٠۴ هـ ق کال یې په فیروز کوه حمله وکړه، خو ماتې یې وخوړه. اما نااُمیده نه شو، په ٦٠٧ هـ ق

(c) ketabton.com: The Digital Library

کال يې دويم ځل د خوارزم شاه د عسکرو په مرسته په فيروز کوه حمله وکړه، د فيرزو کوه ښار يې ونيو؛ پرتخت کښيناست او متحدين يې خوارزم ته ولاړل. د غور اميرانو د علاولدين اتسز واکمني ومنله، خو د غزني والي تاج الدين يلدوز له ده سره مخالفت وکړ. د مخالفت د زياتېدو په پايله کې، غزني ته نږدې د ګيلان د مرغ نوله په سيمه کې د علاولدين اتسز او د تاج الدين يلدوز د وزير او د پوځ د قومندان مويدالملک ترمينځ جګړه ونښته . په جګړه کې د تاج الدين يلدوز د پوځ قومندان مويدالملک ماتې وخوړه. دويم ځل د تاج الدين يلدوز د پوځ قومندان ملک نصير الدين حسين او علاوالدين اتسز ترمينځ د جرماس په سيمه کې جګړه ونښته، په دې جګړه کې علاوالدين اتسز سخت ټپي شو، د جګړې له ډګر ځخه ووت، وروسته د سنګه په سيمه کې مړ شو. فيروزکوه د تاج الدين يلدوز لښکرو ونيو او د سلطان علاولدين اتسز څلور کلنه واکمني پای ته ورسيدله (۱:۸۲).

## ٦,١١. د علاوالدين محمد شجاع واکمني (٦١٢-٦١٠هـ ق)

## (٥٩٥-٥٩٣ هـ ش)

## (١٢١٧-١٢١٥ز)

علاوالدين محمد شجاع د سلطان غياث الدين د کاکا ابوعلي زوی او د سلطان غيأث الدين زوم و. په ٥٩٧ هـ ق کال د سلطان غياث الدين له خوا د ضيأوالدين په لقب سره د نيشاپور د حاکم په توګه مقرر شو. د سلطان غياث الدين له مړينې وروسته د سلطان شهاب الدين له خوا د فيروز کوه د حاکم په توګه مقرر شو. کله چې سلطان شهاب الدين په قتل ورسيد، د هغه ځای ناستی (سلطان غياث الدين محمود)، علاولدين محمد شجاع د غرستان د ايثار په قلعه کې بندي کړ. تر هغې په همدې قلعه کې بندي و، ترڅو د علاوالدين جهان سوز زوی علاوالدين اتسز واک ته ورسيد، بيا د هغه پواسطه ازاد شو. خو ډير ژر بيرته د هغه له خوا د زوی د قتل په ګناه د غرستان د بلدوان په قلعه کې بندي شو. مګر کله چې د غزني والي تاج الدين يلدوز[1] د قوتونو قومندان ملک ناصرلدين حسين د علاوالدين اتسز له

---

[1] تاج الدين يلدوز د سلطان شهاب الدين له غلامانو څخه و، چې د سلطان شهاب الدين غوري په دربار کې تربيه شوی و. د تاج الدين يلدوز ښه نظامي او سياسي استعداد په وجه هغه ته د کرمان او سنقران چې په سوق الجهشي لحاظ يې اهميت درلود د اقطاع (جاګير) په توګه بخشش ورکړ. د شهاب الدين د قتل پر مهال په خپله اقطاع کې اوسېده؛ دده په سر کې هم د سلطنت هوا چليده. له کرمان څخه د خپلې خزانې سره غزني ته راغی او د شهاب الدين وزير مويدالملک باندې د فشار له امله د شهاب الدين خزانه په لاس ورغله. او د شهاب الدين ترکي عسکر دده ملګري وو. د غياث الدين محمود فرمان يې قبول نه کړ. د غياث الدين محمود پرځای د بغداد د خلافت الناصر الدين الله نوم په خطبه کې ذکر کړ. خو خپل نوم يې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

وژلو وروسته فیروز کوه ونیو نو علاوالدین محمد شجاع یې غزني ته واستوه. د غزني والي تاج الدین یلدوز د علاوالدین محمد شجاع تود هرکلی وکړ او د سلطان لقب یې ورکړه؛ بیرته یې فیروز کوه ته واستوه. علاوالدین محمد شجاع په فیروز کوه کې په خپل نوم خطبه جاري او سکه یې هم په خپل نوم ووهله. د یو مستقل دولت په حیث د دولت چارې پرمخ بیولې. خو یو کال وروسته یې د فیروز کوه ښار د سلطان محمد خوارزمشاه مخورو کسانو ته وسپاره او سلطان محمد خوارزمشاه هغه خوارزم ته واستاوه. سلطان محمد خوارزمشاه په نیشاپور کې له ده څخه پریکړه لیک اخیستی و چې هیڅکله به د هغه په مخ کې نشي ودریدلې. لنډه دا چې د فیروز کوه ښار یې د هغه باوري کسانو ته وسپاره، علاوالدین محمد شجاع یې خوارزم ته واستاوه، چې څه موده وروروسته هلته مړ هم شو. د خپل وصیت سره په بسطام کې د شیخ بسطامي تر څنګه کې خاورو ته وسپارل شو. په دې ترتیب په غور او فیروز کوه کې د غوریانو مقتدرې او شاهنشاهي واکمنۍ لړې پای ته ورسیده او د خوارزمشاهانو لاس ته ورغله (۱: ۸۳).

## ٦,١٢. د غوریانو د واکمنۍ پر مهال د افغانستان ټولنیز او کلتوري وضعیت

د غوریانو واکمني له ۵۴۴- ٦١٢ هـ ق پورې دوام وکړ. د غوریانو واکمنانو د خپل قلمرو د ساتنې په موخه په قومي او قبیلوي قواو اتکا کوله. د غوریانو دولت که څه هم یو متمرکز دولت و، خو بیا هم د دوي د دربار بانفوذه افسرانو او لوړ پوړو چارواکو او د قبیلو مشرانو ته یې ځمکه ورکوله. غوریانو په نظامي، سیاسي، ادبي او ټولنیزه برخه کې د غزنویانو کړنلاره تعقیب کړه. افغانانو تقریباً څلور پیړۍ بیا پرهند حکومت وکړ، پر بنګال، مالوه، ګجرات، دکن او نورو سیمو باندې یې حکومت کولو. ځینې افغانان په هند کې میشت شول، او یو شمیر یې بیرته افغانستان ته راغلل. هغه افغانان چې په هند کې میشت شوې، د اسلامي تمدن، ادب، فن او تهذیب په خپریدو کې یې ستره ونډه درلوده.

---

خطبه کې ذکر نه کړ. د بهاوالدین سام زامنو د لنډ مودې لپاره په ۶۰۲ هـ ق کې غزني ونیو، خو په ۶۰۳ هـ ق کال تاج الدین یلدوز بیرته غزني ونیو. چې له ۶۰۳ هـ ق څخه تر ۶۱۲ هـ ق کال پورې په غزني باندې مسلط و. کله چې سلطان محمد خوارزمشاه د غوریانو ټول قلمرو ونیوله تاج الدین یلدوز څخه وغوښتل چې د سلطان محمد خوارزمشاه نوم په خطبه کې ذکر کړي. تاج الدین یلدوز د قتلغ تګین چې د نوموړی نایب د سلطان محمد خوارزم شاه نوم په خطبه کې یاد کړ. خو سلطان محمد خوارزم شاه ډیر ژر غزني ته داخل شو. تاج الدین یلدوز د سنګ سوراخ له لارې لاهور ته ورسید. د شهاب الدین د لاهور حاکم ناصر الدین قباچه سره جګړه، د لاهور ځینې سیمې ونیولې. په ډهلي باندې د تسلط قصد وکړ، خو د ډهلي د حاکم شمس الدین له خوا په قتل ورسید. په دې ترتیب له هندوستان پرته نورې ټولې سیمې د خوارزمشاهانو لاس ته ورغلې(۱ : ۹۱-۹۲).

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اسلام مقدس دین د هند ټولنه په خوځښت راوسته او د ترقۍ لوري ته یې سوق کړه. د هند په شمالي برخو کې د اسلام مقدس دین ستر بدلون راوست. د غوریانو د واکمنۍ پرمهال پښتو او دري ادبیاتو ته ځانګړې پاملرنه وشوه. په دغه دوره کې د پښتو او دري ژبو دغو شاعرانو ژوند کاوه چې عبارت دي له : اسمعیل سړبڼي، ملکیار غرشین[1]، تایمني[2]، قطب الدین بختیار، خرشبون، ښکارندوي، شیخ اسعد سوري[3]، شیخ متي، ابوالحسن احمد سمرقندي چې په عروضي سمرقندي هم مشهور دی، قاضي منهاج سراج جوزجاني مؤرخ او لیکوال (طبقات ناصري لیکوال)، ابونصر بدرالدین محمود چې په ابونصر فراهي هم مشهور دی، امام فخرالدین رازي، محمود عوفي (لباب آلالباب) او نور.

غوریانو د غزنویانو له دولتي تشکیلاتو څخه ګټه واخیسته، یوازې په نظامي برخه کې یې یو څه توپیر درلود. د لښکر مشران د هیواد حقیقي مالکان بلل کېدل. ډیرې دولتي چارې به د نظامي افسرانو پواسطه اداره کېدلې. غوریان په کور دننه او بهر جګړو کې بوخت وو، ددوي یوه وسله مخچنوزي[4] (فلاخن) په نوم یادیده، چې غوریانو به کاروله. بیهقي په دې اړه لیکي : پر غور د هرات له لارې د ستر محمود زوی سلطان مسعود غزنوي د برید پرمهال د غور وګړي په غره کې د ملخانو په څېر را پیدا شول، ټولو سورو (آس لرونکو) او پلیو لارې ونیولې، چغې او سوري یې جوړې کړې او په مخچنوزه (فلاخن) باندې یې کاڼې ویشتل (٦: ٣٣٦).

---

[1] د پښتو ژبې شاعر ملکیار غرشین د ستر ولي الله غرشین زوی دی. ملکیار غرشین تر ۵۷۱ هـ ق کال ( پر ملتان د سلطان شهاب الدین د لومړي برید تر وخته ) پورې ژوندی و. د زیږیدو نیټه یې تقریباً ۵۰۰ هـ ق کال ښودل شوې ده. نوموړی په ډهلي کې مړ شوی او د ابابکر طوسي ترڅنګ خاورو ته سپارل شوی دی (۶: ۳۴۶).

[2] تایمني د پښتو هغه قوم دی چې د سیاه بند په غرونو او د غور په شاوخوا سیمو کې اوسیږي. تایمني یو شاعر و چې د سلطان غیاث الدین په مدحه کې یې یو اوږد شعر ویلی خو مونږ یې یو څو بیته دلته لیکو.

نن ږغړیږم په صفت د سلطان
چې دې بادار غازي ملک د جهان
د فیروز کوه او غور رڼا له ده ده
هم د تیرو تورو بریښنا له ده ده. (۶: ۳۴۶).

[3] د غوریانو په دربار کې یو پښتون شاعر شیخ اسعد سوري د محمد سوري د ماتې په اړه چې د سلطان محمود غزنوي په مقابل کې یې وخوړه یو اوږد شعر (قصیده ) لیکلی خو مونږ یې دلته د مطلع بیت راوړو:

د فلک له چارو څه وکړم کوکار
زمولوی هرګل چې خاندې په بهار(۶: ۳۴۶).

[4] مخچنوزه (فلاخُن) یو ډول وسله ده چې له ټوټې (تیکی) څخه جوړیږي، دواړه خواوې یې نری او مینځ یې پلن وي. په مینځ کې ورته کاڼی (وړوکی ډبره ) ایښودل کیږي له ډیرو تاویدو وروسته پرې وار ( ګوزار) کیږي. چې ما په خپله دا وسله (مچنوزغه ) له کوچیانو سره لیدلې ده او کوچیان د پسونو د رمو په څرولو کې ګټه اخلي. مؤلف.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د غوریانو دویمه وسله د ( کاروه) په نامه یادیده. نوموړې وسله داسې جوړیده او استعمالیده چې دوی به د یو خوسکي په څرمن کې ډیر مالوچ یا بوس اچول او له هغوی څخه یې ډډی جوړاوه. د جګړې پرمهال هر چا به خپله ډډی په خپل مخکې د قطار په شکل دراوه، چې د دښمن د غیشو په وړاندې د یوه دیوال په توګه ترې کار اخېسته. دغې وسلې ته یې کاروه ویلی. د غور پاچاهانو په توره او نیزه کې پوره مهارت درلود چې سلطان محمد سام په نیزه وهلو کې ډیر شهرت درلود (٦:٣٤١).

د غور عسکرو له نورو وسلو هم لکه ذره او کاروه چې دفاعیې وسلې وې کار اخېسته؛ خو تعرضي وسلې یې عبارت وې له : غیشي، کمان، تیغ، نیزه، توره، ګرز، تبر زین، خنجر او مخچنوزه او منجنیق وي. دغه پورته وسلې په غور کې جوړیدلې. غور د نجیبه فلزاتو له پلوه بډایه سیمه وه په غور کې سکې هم چاپېدلې ( ۲۹: ۱۴۰).

په لنډه توګه ویلې شو چې غوریان د آزادۍ د احساس په لرلو او د ښو طبعیي موانعو پر مټ خپل استقلال ترډیره وخته پورې وساته، خو سلطان محمود غزنوي په ۴۰۱ هـ ق کال پر دوی باندې بریالی شو او غور یې تر خپل حاکمیت لاندې راوست. د غور محلي حاکمانو تر ډیره پورې غزنویانو ته مالیه ورکوله. په دغه موده کې د غور محلي حاکمانو د استقلال لپاره مبارزه کوله، خو بریالی نشول. د غزنویانو د ضعف او د غزه ترکانو پواسطه د سلطان سنجر د سلطې له ختمیدو سره سم د غوریانو د فعالیت لپاره زمینه برابره شوه. د قدرت د خلا څخه یې ګټه واخېسته او په افغانستان او هند کې یې خپلو فتوحاتو ته ادامه ورکړه. په ۵۵۲ هـ ق د سلطان علاوالدین جهانسوز د هڅو په پایله کې یې خپل استقلال بیا لاس ته راوړ. غوریان په ډیره کمه موده کې د سیمې په یوه پیاوړې دولت بدل شول. د غوریانو امپراتوري د سلطان غیاث الدین غوري (۵۵۸-۵۹۹ هـ ق) او سلطان شهاب الدین غوري (٦۰۲-۵۹۹ هـ ق) د واکمنیو پرمهال په سیاسي او نظامي لحاظ د قدرت لوړ پړاو ته ورسیده. د بغداد خلیفه پر بغداد باندې د خوارزمشاه د حملې په مقابل کې د غوریانو دولت یو مناسب بدیل ځواک ګاڼه. د غور واکمنانو په ځانګړې ډول سلطان غیاث الدین غوري او د هغه ورور سلطان شهاب الدین غوري په دین پالنې او عدالت باندی مشهور دي. دغو دواړو ورونو ټولو مذهبونو ته اسانتیا برابره کړې وه. د کفارو پرضد او د علمي پرمختګ لپاره یې تل هڅه کوله. د سلطان شهاب الدین له مړینې (٦۰۲هـ ق) وروسته د پیاوړي ارادې لرونکی او هوښیار واکمن د نه شتون له امله د غوریانو امپراطوری تجزیه او له مینځه ولاړه. د دوی نیول شوي سیمې د خوارزمشاهانو لاس ته ورغلې. په هند کې د دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیمې د دوی د هغه ځای د محلي حاکمانو تر سلطې لاندې راغلې او ځانونه یې مستقل حاکمان ګڼل، چې دوی په هند کې د مسلمانانو حکومتونه ټینګ کړل. دغو محلي حاکمانو ښې لاس ته راوړنې درلودې. خو د غوریانو امپراتوري د خوارزم شاهانو د مداخلې او کورني اختلافونو پواسطه سقوط شوه.

## ۶,۱۳. د غوریانو د واکمنۍ د سقوط لاملونه

- کله چې غوریان چې واک ته ورسیدل، مخکې له دې چې د حکومت ستنې ټینګې کړي، جګړو او فتوحاتو ته یې ادامه ورکړه. په دغو اوږدو جګړو کې د دوی ډیره انساني نیرو مصروف شوه، خو مطلقه حکومت فردي لیاقت ډیر اړین کړ. همدا علت و چې د شهاب الدین له مړینې وروسته یې د غوریانو دولت د سقوط لورې ته سوق کړ.
- د غوریانو دولت له لومړیو وختونو څخه په فدرالي بڼه اداره کېده . محلي حکومتونو ډیره آزادي درلوده. کله چې مرکزي حکومت ضعیفه شوه، د محلي حاکمانو په سر کې د سلطنت روحیه پیدا شوه. په پایله کې کورنی جګړې پیل او د سلطان شهاب الدین له مړینې وروسته لاپسې زیاتې شوې.
- د سلطنت د مدعیانو زیاتوالی یو بل لامل و، چې هر یو د بریالیتوب او واک ته د رسیدو په موخه د پردیو مرستې ته لاس اوږد کړی و؛ وروسته خوارزمشاه ته په باج ورکولو او د هغه سلطې منلو ته اړ شول. همدا لامل و چې خوارزمشاهان د غوریانو د سیمو د نیولو پر مهال له ستونزو سره مخ نشول.
- د غوریانو عسکر له څو ملیتونو څخه تشکیل شوي وو. چې دا کار د مرکزي حکومت د پیاوړتیا پر مهال کومه ستونزه نه وه. خو د غوري حکومت د ضعف پرمهال په خپله دغو عسکرو ګډوډۍ ته لمن وهله. یو شمیر عسکرو د یو شهزاده په ملاتړ د بل امیر پرضد پاڅون کاوه او له بلې ډلې سره جنګیدل، چې د امپراطورۍ د سقوط لامل وګرزیدل (۱: ۱۱۴).
- عباسي خلفاو هم د غوریانو او خوارزمشاهانو ترمینځ جګړه تازه ساتله او د شهاب الدین له مړینې وروسته د هغه د ځای ناستو د بې کفایتۍ له امله خوارزمشاهانو ته د حملو زمینه برابره شوه؛ هندوستان هم له افغانستان څخه جلا شو، د غوریانو دولت له مینځه ولاړ او خوارزمشاهانو د افغانستان ډیري سیمې ونیولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## لنډيز

غوريانو په افغانستان کې له غزنويانو وروسته يوه لويه امپراتوري جوړه کړه. دوی چې له ډيرې پخوا زمانې څخه د غور په شاوخوا سيمو او مروه کې د سوري کورنۍ په نامه واکمني کوله. کله چې د شهزاده بهرام شاه له خوا لومړی قطب الدين محمد غوري او وروسته سيف الدين غوري ووژل شول نو د غوريانو او غزنويانو ترمينځ اختلاف زيات شو. علاوالدين جهان سوز د غزني ښار وسوزاوه. له سلطان احمد سنجر سره له لږ بند وروسته په غور کې حاکم شو. له ده وروسته سلطان غياث الدين او شهاب الدين غوري په افغانستان کې يوه لويه امپراتوري تاسيس کړه . د غزنويانو د واکمنۍ سيمي يې ټولې ونيوې او هند کې يې خپلو فتوحاتو ته ادامه ورکړه.

سلطان علاوالدين جهان سوز د تخار، باميان، تولک، هرات او يو شمير نورو سيمو له نيولو وروسته د غوريانو واکمنۍ ته پراختيا ورکړه. خو سلطان شهاب الدين غوري په هند کې د غزنويانو پلازمينه لاهور ونيو. په ملتان، لاهور او د افغانستان په داخل غور، باميانو ، غزني او کرمان کې يې خپل حاکمان مقرر کړل. سلطان شهاب الدين غوري چې اصلي نوم يې معزالدين محمد غوري دی خو په تاريخ کې د شهاب الدين غوري په نوم شهرت لري يو مسلمان او عادل پاچا و. دده امپراتوری په عدل باندې ولاړه وه. له ټول رعيت سره يې پرته له توپيره ښه سلوک کاوه. دده له مړينې وروسته دده امپراتوري په ايران، افغانستان او هند کې په جلا جلا حکومتونو باندې وويشل شوه. ځکه چې ده کوم وارث نه درلود. ده به ويل چې ټول غلامان زما زامن دي او زما له مړينې وروسته به هغوی ټول زما وارثان وي. خو دده له مړينې وروسته د غوريانو امپراتوری د سقوط لوری ته سوق شوه. په ځانګړې ډول د غياث الدين محمود له وژل کېدو وروسته د هغه څوارلس کلن زوی، بهاوالدين پر تخت کښناست. دده د واکمنۍ پر مهال د غور سياسي وضعيت ډير خراب شو، ځکه نوموړی له هرې خوا د ګوانښ سره مخامخ شو. او ده نشو کولی چې وضعيت ارام کړي.

په ۶۰۴ هـ ق کال سلطان محمد خوارزم شاه په فيروز کوه حمله وکړه خو ماتې يې وخوړه. دويم ځل يې په ۶۰۷ هـ ق کال په فيروز کوه حمله وکړه او د فيروز کوه ښار يې ونيو. د غوريانو واکمني له ۵۴۴- ۶۱۲ هـ ق پورې يې دوام وکړ. دوی د خپل قلمرو د ساتنې لپاره په خپل قومي قوتونو باندې اتکاء کوله. د غوريانو دولت که څه هم يو متمرکز دولت و. خو بيا هم د دوی د دربار بانفوذو افسرانو،

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوړ پوړو چارواکو او د قبيلو مشرانو ته به يې ځمکې ورکولې. غوريانو په نظامي، سياسي، ادبي او ټولنيزه برخه کې د غزنويانو کړنلاره تعقيب کړه. او هم په هند کې يې پر بنګال، مالوه، ګجرات، دکن او نورو سيمو باندې حکومت وکړو، چې ځينې افغانان بيا په هند کې ميشت او ځينې بيرته افغانستان ته راغلل. غوريانو هم د اسلامي تمدن ، ادب، فن او تهذيب په خپرېدو کې ستر ونډه درلود.

د غوريانود واکمنۍ پر مهال پښتو او دري ادب ته ځانګړې پاملرنه وشوه. د پښتو او دري ژبو شاعرانو لکه اسمعميل سړبني، ملکيا غرشين، تايمني، قطب الدين بختيار، خرشبون، ښکارندوی، شيخ اسعد سوري او نورو ژوند کاوه. غوريانو د غزنويانو له دولتي تشکيلاتو څخه ګټه اخېسته. يوازې په نظامي برخه کې يې يو څه توپير درلود. د پوځ مشران د هيواد اصلي مالکان ګڼل کېدل. ډېرې دولتي چارې به د نظامي افسرانو پواسطه اداره کېدلې. د جګړې پرمهال يې له مختلفو وسلو څخه کار اخېسته. په لنډه توګه ويلی شو چې غوريانو د ازادی احساس په لرلو سره او د ښو طبعي موانعو پرمټ يې خپل استقلال تر ډېره وخته پورې وساته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پوښتنې

1. د خوارزمشاهانو حملې د غوریانو د سقوط لامل شو؟
2. تر سلطان شهاب الدین وروسته د هغه د ځای ناستو بې کفایتي د غوریانو د سقوط لامل شو؟
3. د غزني ښار د کوم غوري واکمن له خوا وسوزیده؟
4. د غوریانو مستقل دولت د کوم شخص پواسطه تاسیس شوه؟
5. په هند کې د غوریانو  فتوحات د اسلام د مقدس دین په نشر کې څه اغیزه درلوده؟
6. غزه ترکانو له کوم غزنوي واکمن څخه د غزني ښار ونیو؟
7. له غزه ترکانو څخه د غزني ښار چا ونیو؟
8. د غوریانو په جگړه کې د کومو وسلو څخه گټه اخېستل کېده ؟
9. د غوریانو آخیرنې واکمن څوک و؟
10. د غوریانو کوم سلطان زامن نه درلودل؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

| د غوري واکمنانو لنډه پیژندنه | | |
|---|---|---|
| **شمیره** | **د پاچا نوم** | **کال** |
| ۱ | سلطان علاوالدین جهانسوز | (۵۴۴-۵۵٦هـ ق)<br>(۵۲۸-۵۴۰هـ ش)<br>(۱۱۵۰-۱۱٦۲ز) |
| ۲ | سیف الدین محمد | (۵۵٦-۵۵۸هـ ق)<br>(۵۴۰-۵۴۲هـ ش)<br>(۱۱٦۲-۱۱٦۴ز) |
| ۳ | سلطان غیاث الدین | (۵۵۸-۵۹۹هـ ق)<br>(۵۴۲-۵۸۳هـ ش)<br>(۱۱٦۴-۱۲۰۵ز) |
| ۴ | معزالدین (شهاب الدین) | (۵۹۹-٦۰۲هـ ق)<br>(۵۸۳-۵۸٦هـ ش)<br>(۱۲۰۵-۱۲۰۸ز) |
| ۵ | غیاث الدین محمود | (٦۰۲-٦۰۷هـ ق)<br>(۵۸٦-۵۹۱هـ ش)<br>(۱۲۰۸-۱۲۱۳ز) |
| ٦ | بهأوالدین سام | (٦۰۷-٦۰۷هـ ق)<br>(۵۹۱-۵۹۱هـ ش)<br>(۱۲۱۳-۱۲۱۳ز) |
| ۷ | علاوالدین اتسز | (٦۰۷-٦۱۰هـ ق)<br>(۵۹۱-۵۹۳هـ ش)<br>(۱۲۱۳-۱۲۱۵ز) |
| ۸ | علاوالدین محمد شجاع | (٦۱۰-٦۱۲هـ ق)<br>(۵۹۳-۵۹۵هـ ش)<br>(۱۲۱۵-۱۲۱۷ز) |

**٦,۱. جدول: پورتنۍ جدول د کتابونو له متن څخه د مؤلف په وسیله ترتیب شوی.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۱,٦. ګراف: لاندينی ګراف د کتابونو له متن څخه د مؤلف په وسيله ترتيب شوی.**

## د غوري کورنۍ واکمنان

سلطان علاوالدين جهانسوز (۵۴۴-۵۵٦ هـ ق)

↓

سيف الدين محمد (۵۵٦-۵۵۸ هـ ق)

↓

سلطان غياث الدين (۵۵۸-۵۹۹ هـ ق)

↓

معزالدين (شهاب الدين) (۵۹۹-٦۰۲ هـ ق)

↓

غياث الدين محمود (٦۰۲-٦۰۷ هـ ق)

↓

بهأوالدين سام (٦۰۷-٦۰۷ هـ ق)

↓

علاوالدين اتسز (٦۰۷-٦۱۰ هـ ق)

↓

علاوالدين محمد شجاع (٦۱۰-٦۱۲ هـ ق)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اووم څپرکی

# خوارزم شاهانو دولت

## پیلیزه

خوارزم یو زرغون او ودان ولایت و چې د آمو له سیند څخه اوبه کېده . نژدې د اتیا فرسخو په اوږدوالې سره یې د کرنې ځمکی او ښکلي ماڼۍ درلودې. پلازمینه یې گرگانج (جرجانیه) نومیده. له ډېرې پخوا زمانې څخه یې د افغانستان او ماورالنهر له ښارونو سره اقتصادي، سیاسي او فرهنگي اړیکې درلودې. خوارزمي ژبه نورو آریایي ژبو ته نږدې ژبه وه، چې په وروستیو کیندنو کې یې نښې لاس ته راغلې دي. البیروني دا ژبه په اثار الباقیه کې یوه خپلواکه ژبه گڼلې ده. د خوارزم ملکانو ته یې خوارزم شاهان ویلې. په ۳۲ هـ ق کال احنف بن قیس خوارزم ته ورسید، خو ویې نه شو نیولی. مهلب په ۸۲ هـ ق کال د حجاج له خوا د خراسان په نیولو مامور شو او له خوارزمیانو سره وجنگیده، خو بریالی نه شو. قتیبه په ۸٦ هـ ق کال خوارزم فتح کړ. د البیروني له قوله د خوارزمشاهانو لومړی بنسټ ایښودونکې کیخسرو و، مگر د اسلام له پیله خوارزم د حکومت له پلوه په دوه برخو وویشل شو. د شمالي برخې پلازمینه گرگانج (جرجانیه) ښار و چې د عربانو له خوا اداره کېده او د سویلي برخې

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلازمینه یې د ((کات)) ښار و چې د خوارزمشاهانو له خوا اداره کېده . تر څو د خوارزمشاهانو مستقل دولت جوړ او په ټول خوارزم باندې مسلط شو (۱۰: ۱۸٦).

## ۷,۱. د خوارزم شاهانو فتوحات

د غوریانو د واکمنۍ د سقوط پرمهال، سلطان علاوالدین محمد خوارزمشاه په دې بهانه چې دده وراره هندو خان، د غور د ملکانو په دربار کې پناه اخېستې، د غوریانو په قلمرو حمله وکړه؛ له یو لړ جګړو او کشمکشونو وروسته په ٦۱۲ هـ ق کال یې د غور دولت له مینځه یوړ. علاوالدین محمد خوارزم شاه په ٦۱۲ هـ ق کال د هرات او بلخ تر نیولو وروسته غزني ته لښکر کشي وکړه. کله چې نوموړی غزنی ونیوه؛ تاج الدین یلدوز هند ته ولاړ. په دې ترتیب تر سند پورې د افغانستان ټولې سیمې سلطان علاوالدین محمد خوارزم شاه ونیولې او جلال الدین منکبرني یې د افغانستان د حکمران په توګه وټاکه. د چنګیز خان تر یرغل پورې دغه سیمې د خوارزم شاهانو تر واک لاندې وې(۱۱:۸۴۳).

سلطان علاوالدین محمد خوارزم شاه یو ځواکمن پاچا و، چې د چنګیز له یرغل مخکې په ډېرې چټکۍ سره د غوریانو دولت په افغانستان کې، د ترکانو دولت په سمرقند او د قراختایانو ځواکمن دولت په کاشغر کې یې له مینځه یوړل. په دې توګه یې یوه لویه امپراتوري جوړه کړه، چې د سیحون له سیند څخه نیولی تر سند پورې، له عراق څخه نیولی تر اورال او عربو سمندرګی پورې پراخه وه. ده غوښتل چې بغداد کې اسلامي دولت له مینځه یوسي او پخپله د اسلامي دولتونو په سر کې راشي. د خوارزم شاه دغه هوډ د افغانستان په نیولو او د غور د خزانو له لاسته راوړلو وروسته نور هم کلک شو، ځکه چې د غور د پاچاهۍ له دفترونو څخه د بغداد د خلافت لیکونه په لاس ورغلل، چې په هغو کې عباسي خلیفه ناصرالدین الله د افغانستان د غوري دولت او قراختایانو له دولت سره یو نظامي تړون ته هڅولي او د خوارزم شاه پرضد یې لمسولي وو. دا ځکه چې بغداد د خوارزمیانو له ورځ په ورځ زیاتېدونکي ځواک څخه په ویره کې و (۲۷: ۱۵۸).

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۷,۲. د خوارزم شاهانو د دولت مينځ ته راتګ

د خوارزم شمالي برخه چې ګرګانج (جرجانيه) يې پلازمينه وه، د عربي اميرانو له خوا اداره کېده ، سويلي برخه چې پلازمينه يې د کات ښار و، د خوارزم[1] شاهانو له خوا اداره کېده . خوارزم د آمو درياب کيڼ او ښي اړخ ته پروت دی؛ نوموړی سيمه د موقعيت په اساس ډېر سياسي او نظامي اهميت لري. يو شمير مؤرخين خوارزميان ترکان ګڼي. په عمومي توګه په خوارزم شاه د خوارزم حاکم او حکمران ته ويل کېده. په تاريخ کې د خوارزم شاهانو له دريو کورنيو څخه بحث شوی دی، چې د دوی د دوو مخکينو کورنيو حاکمان، محلي حاکمان وو، ډېر د بحث وړ نه دي، ځکه دوی يوازې په خوارزم او د هغه په شاوخوا سيمو کې حکمراني کوله؛ دوی به د پياوړو ګاونډيو قدرتونو ته خراج ورکاوه او د هغوی تابع وو او د هغوی پواسطه له مينځه ولاړل. نو ځکه دوی ډېر د بحث وړ نه دي. خو د اسلام د مقدس دين له نشر وروسته د خوارزم دولت په دوو برخو وويشل شو، يوه يې شمالي برخه و چې پلازمينه يې ګرګانج و او د عربي حاکمانو له خوا اداره کېده او دويمه يې جنوبي برخه وه چې پلازمينه يې د کات ښار و چې د غير عربي حاکمانو (خوارزم شاهانو ) پواسطه اداره کېده؛ له دې سره سم د خوارزم شاهانو دولت مينځ ته راغی چې د دوی لومړنی مؤسس ابوسعيد احمد د محمد زوی و (۴٦: ۹۰).

## ۷,۳. د خوارزم شاهانو د لومړۍ کورنۍ واکمنان

### ۷,۳,۱. د ابوسعيد احمد واکمني (۳٦۴- ۳۴۰هـ ق)

### (۳۵۴- ۳۳۰ هـ ش)

### (۹۷۵- ۹۵۱ز)

ابوسعيد احمد د محمد زوی له ۳۴۰ هـ ق کال څخه تر ۳٦۴ هـ ق کال پورې حکومت وکړ، له ده وروسته يې زوی ابوعبدالله پاچا شو.

[1] د خوارزم شاه نوم د خوارزم د پاچا يا د خوارزم د فرمانروا په مفهوم د خوارزم ملکانو او حکمرانانو ته استعمال شوی دی. خوارزم د اوسنۍ خيوه سيمه ده چې د ازبکستان او ترکمنستان د جمهوريتونو ترمينځ ويشل شوی ده (۲۳: ۹).

(c) ketabton.com: The Digital Library

### ۷,۳,۲. د ابو عبدالله واکمني (۳۶۴-۳۸۵هـ ق)

### (۳۵۴-۳۷۵ هـ ش)

### (۹۷۵-۹۹۶ز)

ابو عبدالله خوارزم شاه د نوح له امر پرته د ابوعلي پر لښکرو حمله وکړه؛ ابوعلي يې بندي کړ. نوح د ابوعبدالله په دې عمل په قهر شو او د ابوعبدالله پلازمينې کات ته يې لښکرى وليږلې. د کات ښار يې ونيو؛ ابوعبدالله يې بندي کړ او د هغه ټولې سيمې يې ونيولې. د کات حکومت يې د جرجانيه حاکم مامون ته انتقال کړ او هغه ته يې د خوارزم شاه لقب ورکړ.

### ۷,۳,۳. د مامون واکمني (۳۸۵-۳۸۷هـ ق)

### (۳۷۵-۳۷۷ هـ ش)

### (۹۹۶-۹۹۸ز)

کله چې مامون د نوح پواسطه د خوارزم د حاکم يا خوارزم شاه په توګه وټاکل شو نو د خوارزم شاه لقب يې خپلې کورنۍ ته واړوه. دريم مامون د محمد زوی چې کورنۍ يې د ده په مامونې نامه يادېږي د سامانيانو له خوا د خوارزم والي و، دې له ابوعبدالله خوارزم شاه سره وجنګيده او بريالی شو، د خوارزم شاه لقب يې په ۳۸۵ هـ ق خپلې کورنۍ ته واړوه. دده يوه لور د سلطان محمود غزنوي ماندينه وه. په ۳۸۷ هـ ق کې مړ شو. له ده وروسته يې زوی ابوالحسن علي پرتخت کښيناست (۱۱: ۳۴۷).

### ۷,۳,۴. د ابوالحسن علي واکمني (۳۸۷-۳۹۰هـ ق)

### (۳۷۷-۳۸۰ هـ ش)

### (۹۹۸-۱۰۰۱ز)

د ساماني دولت، له ضعيفه کېدو وروسته دوی د ترکستان د خانانو او محلي حاکمانو تابع شول. کله چې سلطان محمود غزنوي ماورالنهر ته راغی، د هغه سره يې دوستي وکړه او د سلطان محمود خور يې په نکاح کړه (۲۳: ۱۰).

(c) ketabton.com: The Digital Library

### ۷,۳,۵. د ابوالعباس واکمني (۴۰۷-۳۹۰هـ ق)
### (۳۹۷-۳۸۰ هـ ش)
### (۱۰۱۸-۱۰۰۱ز)

له ابوالحسن وروسته د مامون زوی د محمد لمسی او د ابوالحسن ورور ابوالعباس د خوارزم پاچا شو، یا د جرجانیه د والي په توګه وټاکل شو. نوموړی یو محلي حاکم و؛ د سلطان محمود غزنوي سره یې ښې اړیکې درلودې. په ۴۰۷ هـ ق کال ابوالعباس په کورني اړودړو کې ووژل شو او پرځای یې ابوالحارث د ابوالحسن علي زوی پاچا شو. ابوالعباس یو علم پالونکی سړی و، چې د هغه مهال د نړۍ ډېر نامتو عالمان لکه ابن سینا بلخي او ابو ریحان البیروني، ابو سهیلي او ابوالخیر د هغه په دربار کې وو، چې د همدی په نوم یې علمي کتابونه لیکل، د بیلګې په توګه امام ابو منصور نعلبي (( الطوایف و الظوایف)) د همدی په نوم ولیکه، ابو العباس هم لکه د خپل ورور ابوالحسن په شان د سلطان محمود غزنوي خور په نکاح کړې وه (۲۷:۱۵۷).

### ۷,۳,٦. د ابوالحارث محمد واکمني (۴۰۸-۴۰۷هـ ق)
### (۳۹۸-۳۹۷ هـ ش)
### (۱۰۱۹-۱۰۱۸ز)

کله چې ابوالحارث د ابوالعباس پر ځای د خوارزم د حاکم په توګه وټاکل شو، سلطان محمود غزنوي د ابوالعباس د بدلې اخېستلو او د خپلې خور د ساتنی په بهانه، خوارزم ته لښکر کشي وکړه. د هزار آسپ په سیمه کې یې د خوارزم لښکرو ته ماتې ورکړه. په ۴۰۸ هـ ق کال جرجانیه ته داخل شو او د مامون (ابوالحارث محمد ) د کورنۍ غړي یې بندیان کړل او التون نتاش یې چې د سلطان محمود حاجب (دربار وزیر) و د خوارزم د حاکم په توګه وټاکه او د خوارزم شاه لقب یې ورکړ. په دې ترتیب د خوارزم شاهانو د لومړی کورنۍ د پاچاهي دوره پای ته ورسیده (۲۳:۱۰).

**د خوارزم شاهانو لومړنۍ کورنۍ یعنی مامونیان شخه لاندې کسانو واکمني وکړه**

۱. ابوسعید احمد بن محمد **(۳٦۴-۳۴۰هـ ق)**
**(۳۵۴-۳۳۰ هـ ش)**
**(۹۷۵-۹۵۱ز)**

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲. ابو عبدالله محمد د ابوسعید احمد زوی (**۳۶۴-۳۸۵هـ ق**)
(**۳۵۴-۳۷۵ هـ ش**)
(**۹۷۵-۹۹۶ز**)

۳. مامون د محمد زوی (**۳۸۵-۳۸۷هـ ق**)
(**۳۷۵-۳۷۷ هـ ش**)
(**۹۹۶-۹۹۸ز**)

۴. ابوالحسن علي د مامون زوی (**۳۸۷-۳۹۰هـ ق**)
(**۳۷۷-۳۸۰ هـ ش**)
(**۹۹۸-۱۰۰۱ز**)

۵. ابوالعباس مامون د مامون زوی (**۳۹۰-۴۰۷هـ ق**)
(**۳۸۰-۳۹۷ هـ ش**)
(**۱۰۰۱-۱۰۱۸ز**)

٦. ابوالحارث محمد د علي زوی او د مامون لمسی (**۴۰۷-۴۰۸هـ ق**)
(**۳۹۷-۳۹۸ هـ ش**)
(**۱۰۱۸-۱۰۱۹ز**)
ددې کورنۍ اخرنۍ واکمن ابوالحارث و (۴٦: ۹۰).

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۷,۴. د خوارزم شاهانو دویمه کورنۍ

### ۷,۴,۱. د التون نتاش واکمني (۴۰۸-۴۲۳هـ ق)

### (۳۹۸-۴۱۳ هـ ش)

### (۱۰۱۹-۱۰۳۵ز)

کله چې سلطان محمود غزنوي خوارزم ونیو، په ۴۰۸ هـ ق کې التون نتاش یې د خوارزم د حاکم په توگه وټاکه او د خوارزم شاه لقب یې ورکړ. د التون نتاش په مقرریدو سره د خوارزم شاهانو د دویمې کورنۍ واکمني پیل شوه. التون نتاش د عمر تر پایه (۴۲۳هـ ق) د خوارزم حاکم پاتې شو او د سلطان محمود غزنوي او د هغه د زوی سلطان مسعود تابع و. التون نتاش هم د خوارزم شاه په نوم یادیده، تر څو چې مړ شو او پر ځای یې زوی هارون د خوارزم شاهانو واکمن شو.

### ۷,۴,۲. د هارون واکمني (۴۲۳-۴۲۵هـ ق)

### (۴۱۳-۴۱۵ هـ ش)

### (۱۰۳۵-۱۰۳۷ز)

هارون هم د خپل پلار په څېر د غزنویانو تابع و او د واکمنۍ د پراختیا دپاره یې هیڅ ونکړل یوازې پخپله پلازمینه کې د چارو په سمون بوخت و. هارون په ۴۲۵ هـ ق کې مړ شو. دده له مړینې وروسته یې ورور اسمعیل خندان د التون نتاش زوی پاچا شو.

### ۷,۴,۳. د اسمعیل خندان واکمني (۴۲۵-۴۲۹هـ ق)

### (۴۱۵-۴۱۸ هـ ش)

### (۱۰۳۷-۱۰۴۰ز)

اسمعیل خندان هم د خوارزم په پلازمینه کې خپل حاکمیت ته دوام ورکړ، خو دده په وخت کې هم دوی استقلال ته ونه رسیدل، بلکه د سلجوقیانو له واکمنانو سره مخ شول. دده پرځای شاه ملک واک ته ورسید.

(c) ketabton.com: The Digital Library

### ۷,۴,۴. د شاه ملک واکمني (۴۲۹-۴۳۴هـ ق)
### (۴۱۸-۴۲۲هـ ش)
### (۱۰۴۰-۱۰۴۴ز)

د شاه ملک د حاکمیت پرمهال نوموړي کورنۍ خپل حاکمیت د سلجوقیانو په مقابل کې له لاسه ورکړ او د طغرل بیک پواسطه خوارزم ونیول شو له دې وروسته خوارزم د سلجوقیانو د واکمنۍ پورې وتړل شو.

**د خوارزم شاهانو د دویمې کورنۍ د واکمنانو د واک موده په لاندې ډول ده.**

۱. التون تاش (۴۰۸-۴۲۳هـ ق)
(۳۹۸-۴۱۳ هـ ش)
(۱۰۱۹-۱۰۳۵ز)

۲. هارون د التون تاش زوی (۴۲۳-۴۲۵هـ ق)
(۴۱۳-۴۱۵ هـ ش)
(۱۰۳۵-۱۰۳۷ز)

۳. اسمعیل خندان د التون تاش زوی (۴۲۵-۴۲۹هـ ق)
(۴۱۵-۴۱۸ هـ ش)
(۱۰۳۷-۱۰۴۰ز)

۴. شاه ملک (۴۲۹-۴۳۴هـ ق)
(۴۱۸-۴۲۲هـ ش)
(۱۰۴۰-۱۰۴۴ز) (۴۶:۹۱).

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۷,۵. د خوارزم شاهانو درېيمه کورنۍ

### ۷,۵,۱. د انوشتگين واکمني (۴۷۰-۴۹۰هـ ق)

### (۴۵٦-۴۷٦ هـ ش)

### (۱۰۷۸-۱۰۹۸ز)

انوشتگين د بلکاتگين له خوا اخېستل شوی غلام و. په لومړيو وختونو کې دده دنده د جامو او رختونو وينځل او ساتنه وه. ده له مختلفو سيمو څخه عوايد راټولول. د ملک شاه سلجوقي له خواد خوارزم شاه په لقب د خوارزم د حاکم په توگه وټاکل شو. نوموړی د خوارزم شاهانو د درېيمې کورنۍ بنسټ ايښودونکی گڼل کيږي. تر ۴۹۰ هـ ق کال پورې د خوارزم حاکم و خو په ۴۹۰ هـ ق کال کې مړ شو. دده له مړينې وروسته د هغه زوی قطب الدين محمد د خوارزم د حاکم په توگه وټاکل شو(۹۱:۴٦).

### ۷,۵,۲. د قطب الدين محمد واکمني (۴۹۰-۵۲۲هـ ق)

### (۴۷٦-۵۰۷ هـ ش)

### (۱۰۹۸-۱۱۲۹ز)

قطب الدين محمد د خپل پلار انوشتگين غرجه له مړينې وروسته د خراسان د حاکم له خوا د خوارزم د حاکم په توگه وټاکل شو. نوموړی د ملک شاه د زوی سلطان سنجر له خوا په ۴۹۰ هـ ق په دنده وگمارل شو. قطب الدين محمد د خوارزم شاهانو د درېيمې کورنۍ اصلي بنسټ ايښودونکی بلل کيږي. ځکه چې ده ته ډېر صلاحيتونه ورکړ شوی ول خو د عمر تر اخره پورې د سلطان سنجر تابع و او په کال کې به يې يو ځل خپل زوی اتسز د سلطان سنجر دربار ته لېږه. د نوموړي له مړينې وروسته د هغه زوی علاوالدوله اتسز واک ته ورسيد (۲۳: ۱۴).

(c) ketabton.com: The Digital Library

### ۷,۵,۳. د اتسز واکمني (۵۵۱-۵۲۲هـ ق)

### (۵۳۵-۵۰۷ هـ ش)

### (۱۱۵۸-۱۱۲۹ز)

اتسز هم د سلطان سنجر له خوا د خوارزم د حاکم په توګه وټاکل شو او د خوارزم شاه لقب يې تر لاسه کړ. ده په سر کې لوړ خيالونه درلودل، استقلال يې اعلان کړ، په ۵۳۳ هـ ق يې په خپل نوم سکه ووهله او د خوارزم شاه نوم يې له خطبې څخه ليرې کړ. اتسز د خوارزم شاهانو په کورنيو کې لومړی پاچا و چې د آزادۍ او استقلال بيرغ يې پورته او له سلطان سنجر سره يې جګړه وکړه، که څه هم په جګړه کې يې ماتې وخوړه، خو غزه ترکان يې د سنجر پر ضد ولمسول. غزه ترکانو د افغانستان سلجوقي دولت له مينځه يوړ. له همدې نيتې وروسته د خوارزم پاچاهانو په مستقله او ازاده توګه حکمرانې کوله، د هرات حاکم علي چتري د اتسز په مقابل کې بغاوت وکړ، ده هغه رعيت کړ، خو سنجر له سقوط وروسته د ټول ترکستان او جند واکمنی دده تر ولکې لاندې راغلل (۷:۲۰۰).

اتسز يو عادل پاچا و او په دربار کې يې عالمان او شاعران اوسېدل. هغوی دده په مدحه کې ډير شعرونه ويلي دي . دده د دربار له مشهورو شاعرانو څخه يو هم سيدالدين محمد وطوط دی چې په عربي او دري ژبې يې دده ستاينه کړې ده او خپل کتاب حد ايق فی دقايق الشعر يې دده په نامه وليکه. نوموړی په ۵۵۱ هـ ق کال د قوچان په سيمه کې مړ شو (۴۶: ۹۲).

### ۷,۵,۴. د ايل ارسلان واکمني (۵۶۷-۵۵۱هـ ق)

### (۵۵۱-۵۳۵ هـ ش)

### (۱۱۷۳-۱۱۵۸ز)

د اتسز له مړينې وروسته د هغه زوی ايل ارسلان په ۵۵۱ هـ ق کال د رجب په درېيمه پاچا شو. ايل ارسلان دقرخطايانو او قبچاق له محلي حاکمانو سره روغه وکړه. د سنجر پاتې شونې يې له خراسان څخه وشړل، بيا هم دده د واکمنۍ پر مهال خراسان او ماورالنهر د جګړو ميدان وګرزيد. څو په ۵۶۷ هـ ق کال مړ شو (٦: ۵۶۷).

(c) ketabton.com: The Digital Library

قاضي منهاج سراج جوزجاني د ایل ارسلان د واکمنۍ په اړه داسې نظر لري: نوموړی لوی پاچا و د پلار له مړينې وروسته پرتخت کښيناست، د پلار د واکمنۍ ټولې سيمې ونيولې او خلکو سره يې نيک برخورد کاوه. د واکمنۍ شاوخوا سيمې يې په هره طريق چې امکان يې درلود ونيولې او ساتنه يې ترې وکړه... له چا سره چې لازم و، سوله يې وکړه. ډير موده يې واکمنۍ وکړه، کله چې مړ شو، له ده څخه دوه زامن يعنې سلطان علاوالدين تکش او سلطان شاه محمود پاتې شول (۷: ۳۰۰).

## ۷,۵,۵. د سلطان شاه ابوالقاسم محمود واکمني (۵٦۸-۵٦۷هـ ق)

## (۵۵۲-۵۵۱ هـ ش)

## (۱۱۷۴-۱۱۷۳ز)

ایل ارسلان دوه زامن درلودل، يو يې تکش نوميده، چې د پلار د مړينې پرمهال د جند حاکم و او بل يې محمود نوميده چې د پلار له مړينې وروسته د هغه پرځای د سلطان شاه ابوالقاسم محمود په نوم پاچا شو. تکش تر سلطان شاه مشر و؛ د خپل کشر ورور پاچاهي يې قبوله نه کړه او مخالفت يې پيل کړ. د قراختطائيانو په مرسته يې سلطان شاه ابوالقاسم محمود ته ماتې ورکړه. سلطان شاه د مرستې د ترلاسه کولو لپاره د سلطان غياث الدين غوري دربار ته راغی ، مگر پخپله موخه کې څکه بريالی نه شو چې د غور پاچا له سلطان تکش سره د نه لاس وهنې تړون لاسليک کړی و (۲۳:۱٦).

سلطان شاه ابوالقاسم چې د غور د پاچا له مرستې ناامیده شو، ماورالنهر ته ولاړ؛ د ماورالنهر محلي حاکم خطاله خان ورسره مرسته وکړه، نوموړی بيرته خراسان ته راغی او خراسان يې له غزه ترکانو څخه وژغوره. وروسته يې په مروه کې دارالملک جوړ کړ. د هرات حاکم ملک بهاوالدين طغرل هم له ده سره ملگری شو. دوی به پر غور بريدونه کول. غياث الدين د غور او باميانو لښکرې سره راغونډې کړې او شپږ مياشتې جگړه يې وکړه؛ په پای کې د غور د واکمن سلطان غياث الدين لښکری له مرغاب پورې وتلی او ملک بهاوالدين يې مړ کړ او سلطان شاه ابوالقاسم ته يې هم ماتې ورکړه سلطان شاه بيرته مروې ته وگرزيد؛ زهر يې وخوړل او په ۵۸۹ هـ ق کې مړ شو (۱۰: ۱۸۸).

(c) ketabton.com: The Digital Library

### ۷,۵,٦. د سلطان علاوالدين تکش واکمني (۵۹٦-۵٦۸هـ ق)
### (۵۷۹-۵۵۲ هـ ش)
### (۱۲۰۱-۱۱۷۴ز)

سلطان علاوالدين تکش د ايل ارسلان زوی، له خپل ورور سلطان شاه ابوالقاسم محمود سره له سولې وروسته د تاج په سر کولو مراسم ترسره کړل او د خپلو نيکونو برخلاف يې د سلطان لقب چې د ملک له لقب سره يې ډير توپير درلود، غوره کړ. د قبچاق او خطاله له قبيلو سره يې روغه وکړه. سلطان تکش ختيځ لورې ته لويه لښکر کشي وکړه چې کله به برياليې او کله به يې ماتې وخوړه. نوموړی د خوارزم شاهانو واکمنۍ ته پراختيا ورکړه؛ په افغانستان کې تر هلمند پورې سيمې يې ونيولې. د سنجر وراره دربيم طغرل ته يې ماتې ورکړه. اصفهان، ری ، مازندران، فارس او همدان ښارونه يې ونيول. د بغداد خلافت يې وګواښه. د بغداد خلافت خپل دوه تنه سفيران (ابن ربيع او ابن الخطيب) د غور فيروز کوه دربار ته راواستول؛ سلطان غياث الدين ته يې د سلطان تکش څخه ګيله وکړه ( ۱۰: ۱۸۹).

په دربيم طغرل باندې د سلطان تکش برياليتوب، دده شهرت لاپسې زيات کړ. تکش په ۵۹۲ هـ ق کې عراق ته ولاړ او د عباسي خليفه لښکرو ته يې ماتې ورکړه، دويم ځل يې بيا پر عراق حمله وکړه؛ عباسي خليفه د بغداد د ساتنې په خاطر عراق او خراسان رسماً تکش ته ورکړل؛ د هغه زوی ته يې د قطب الدين لقب ورکړ. سلطان تکش په ۵۹٦ هـ ق کال د روژې په مياشت کې له نيشاپور څخه د خوارزم په لورې را روان شو چې مړ شو(۲۳:۱۷).

سلطان علاوالدين تکش د خوارزم د لويو پاچاهانو له جملې څخه و؛ نوموړی يو عالم او سياستمدار و؛ د جګړې په فن کې يې پوره مهارت درلود، همدا لامل و چې په خپل ورور ژر بريالی شو؛ په دربيم طغرل او عباسي خليفه باندې دده برياليتوب دده شهرت ډير زيات کړ. سره له دې چې دده ډير وخت په جګړو کې تير شو ، خو بيا هم دده په دربار کې عالمان او شاعران اوسيدل او ده هغوی هڅول؛ تکش د علم په برخه کې د پام وړ خدمتونه وکړل. سلطان علاوالدين تکش د ايل ارسلان زوی يو لوی پاچاو، هغه له علم، هنر او موسيقي څخه ډير خوند اخيسته. د خوارزم شاوخوا سيمې يې د جګړې او سولې پواسطه ونيو (۷: ۳۰۰).

(c) ketabton.com: The Digital Library

### ۷,۵,۷. د سلطان علاوالدین محمد خوارزم شاه واکمني (۶۱۷-۵۹۶هـ ق)
### (۵۹۹-۵۷۹ هـ ش)
### (۱۲۲۱-۱۲۰۱ز)

د سلطان تکش خوارزم شاه زوی، سلطان علاوالدین محمد خوارزم شاه د قطب الدین په لقب په ۵۹۶ هـ ق کال د پلار پر تخت کښیناست؛ خپل ورور علي شاه يې د نيشاپور د حاکم په توگه وټاکه. د غور او غزني دربار ته يې سفيران واستول او د ښو اړيکو د ټينگيدو غوښتونکی شو. وروسته له دې د خوارزمشاهي دولت د پراختيا په فکر کې شو. ملک عزالدين خرميل له ده سره يوځای شو. له يولس مياشتو کلابندۍ وروسته يې بلخ او هرات ونيول. گوره خان ده ته غاړه کښيښوده. د عراق او اذربايجان هيوادونه يې ونيول. په ۶۱۲ هـ ق کال يې غزني ته لښکر کشي وکړه؛ تاج الدين يلدوز يې له غزنی څخه وشړلو او د واکمني سرحدات يې سند پورې وغځول او جلال الدين منکبرني يې د افغانستان د حکمران په توگه وټاکه (۱۰: ۱۸۹).

په لويديځ کې د فارس د اتابکانو او اذربايجان واکمنۍ يو پر بل پسې له مينځه يوړلې او د واک لاندې سيمې يې د خوارزم شاهي دولت پورې وتړلې. په ختيځ کې يوازې د قراختائيانو دولت په ترکستان کې دده په مقابل کې پاتې و؛ قراختائيانو چې بودايي او کنفوچيوس مذهبونه درلودل، په مسلمانانو يې ډير ظلمونه کول. د بخارا او سمرقند مسلمانانو سلطان علاوالدين محمد خوارزم شاه ته چې د مسلمانانو لوی سلطان و، شکايت وکړ. سلطان علاوالدين له ترکستان او کاشغر څخه تير شو، څو ځله يې گوره خان قراختائي ته ماتې ورکړه، په وروستي ځل له گوره خان سره د جگړې او قطعي ماتې په خاطر د نايمن د قبيلې له پاچا کوچلک خان سره چې د قراختائيانو په ختيځه سيمه کې يې واکمني کوله او د عيسوي دين لاروې و، اتحاد وکړ. ددې اتحاد په پايله کې دوی وتوانيدل چې د قراختائيانو د پاچاهي پلازمينه د اترار ښار چې د سيحون د سيند په خوا کې موقعيت لری په ۶۰۷ هـ ق کال ونيسي او پخپله د قراختائيانو پاچا د کوچلک خان پواسطه ونيول شو او بندي شو (۴۶:۹۴).

د گوره خان قراختايي له بندي کېدو وروسته د سلطان محمد خوارزم شاه او کوچلک خان ترمينځ د گوره خان د سيمو په ويش باندې اختلاف پيدا شو. سلطان علاوالدين محمد خوارزم شاه څو ځله د کوچلک خان دربار ته هئيتونه وليږل خو يې مثبته پايله ورنکړه. د يو قوي لښکر سره د کوچلک خان د

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلازمینې په لورې یې حرکت وکړ؛ د هغه د لښکر مالونه یې لوټ کړل، خو له دې ویرې چې کوچلک خان د ماورالنهر په شمالي ولایتونو حمله ونکړي نو له دې امله د هغه له مقابلې څخه تیر شو. د کوچلک خان او سلطان علاوالدین محمد خوارزم شاه ترمینځ د کړکیچ له کمیدو وروسته یې د لویدیځ خواته مخه کړه. فارس او اذربایجان یې بیا ځلی ونیول؛ د بغداد د نیولو په فکر کې شو، په ۶۱۲ هـ ق کال یې د بغداد په لورې حرکت وکړ. مګر د هوا د خرابوالی او د مغولانو د تعرض له ویرې د اسداباد له کوتل څخه بیرته راوګرزید او د بغداد له نیولو څخه یې ډډه وکړه. په ۶۱۲ هـ ق کال د ژمې په موسم کې سیحون ته نږدې د جندله ښار څخه د قرغیز په دښته کې د قبچاق د قبایلو د رعیت کولو په غرض یې د خپل لښکر سره حرکت په حال کې وو، چې په نوموړی دښته کې د چنګیز د زوی (جوجي) د لښکرو یعني یوه ډله مغولو سره مخامخ شو. جوجي له جګړې څخه ډډه کوله او استدلال یې کاوه چې د لښکر سره دې خواته د نوموړي له راتګ څخه د هغه موخه د یاغیانو رعیت کول و، نه د خوارزم شاهانو سره جګړه. خو سلطان محمد خوارزم شاه قبوله نکړه ، ویل یې چې زمونږ لپاره ټول کفار یو شان دی نو د جوجي په لښکرو یې حمله وکړه . د سلطان علاوالدین محمد خوارزم شاه زوی جلال الدین په ډیرې سختۍ او زړورتیا سره جګړه کوله. جوجي خان له دې ویرې چې د سلطان علاوالدین محمد خوارزم شاه له خوا بندي نه شي نو د شپې له خوا یې اورونه بل کړل او په پټه یې شاه ته تګ پیل کړ. خوارزم شاه په دې جګړه کې هم بریالی شو او له دې ځایه سمرقند ته ولاړ (۴۶ :۹۵).

سلطان علاوالدین محمد خوارزمشاه د تکش زوی، د خوارزم شاهانو یو ځواکمن پاچا و، چې د زده کړو لرونکی و، چې د چنګیز خان له یرغل څخه مخکې په ډیرې چټکې سره د غوریانو حکومت په افغانستان کې، د ترکانو دولت په سمرقند کې او د قراختایانو ځواکمن دولت په کاشغر کې له مینځه یوړل او یوه لویه امپراتوري یې جوړه کړه، چې د سیحون له سیند څخه نیولی تر سند پورې، له عراق څخه نیولی تر اُرال او عربو سمندرګې پورې پراخه وه. سلطان محمد خوارزم شاه په دې قلمرو باندې قانع نه و، هغه غوښتل تر بین النهرین پورې دده واکمنی ورسیږي او د بغداد اسلامي خلافت له مینځه یوسي او په خپله د ټولو اسلامي پاچاهانو په سر کې راشي. د خوارزم د دولت دغه هوډ د افغانستان له نیول کېدو او د غور د خزانو د ترلاسه کولو وروسته نور هم کلک شو، ځکه د غوریانو د پاچاهي له دفترونو څخه د خلافت لیکونه په لاس ورغلل، چې په هغو کې د بغداد د خلیفه الناصرالدین الله د افغانستان د غوري دولت له قرختایي دولت سره یو نظامي تړون ته هڅولی و او د خوارزم شاهانو پرضد

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې لمسولی و. لامل يې دا وه چې د بغداد دولت د خوارزميانو له ورځ په ورځ زياتېدونکی ځواک څخه په ويره کې و. سلطان علاوالدين محمد خوارزم شاه چې کله د ايران، ماورالنهر او افغانستان له چارو وزګار شو، فقهاو څخه يو فتوا ترلاسه کړه، چې په هغې کې راغلی و، چې الناصرالدين د بغداد خليفه له سلطان محمد خوارزم شاه چې د اسلام خدمت ګار دی مخالفت کوي، په داسې حال کې چې اسلامي خلافت د حسيني ساداتو حق دی. دغه حق يې غصب کړی دی. خوارزمشاه دغه فتوا بهانه کړه، په ۱۲۱۷ ز کال کې د مسلمانانو د خليفه نوم له خطبې څخه وغورځاو او له خپلې اردو سره د بغداد د نيولو او اسلامي خلافت د نړولو لپاره د بغداد په لوري روان شو. ژمی ژر راورسيد اوسلطان د ايران په همدان کې له کلک ژمی او بدې يخنۍ سره مخامخ شو. ډير عسکر يې مړ شول. د بغداد له نيولو څخه تير شو او ماورالنهر ته راستون شو. چې د خطر ناک دښمن په مقابل کې دفاع وکړي، هغه دښمن چې سلطن خپله جګړې ته اړ ايستلی و. د هغه سوداګر او سفير يې ورته وژلی و. دا ځکه چې سلطان له پخوا د چين د هيواد د نيولو هوډ درلود او چنګيز يې مخې ته خنډ باله. څومره چې دده د دربار مشرانو ورته مشوره ورکړه، خو نوموړی له چين او ترکستان څخه د راغلو قصه ويونکو څخه به د چين د حالاتو پوشتنې کولې، او د چين د نيولو اراده يې کړی و (۲۷:۱۵۸).

سلطان علاوالدين خوارزم شاه د وضعيت د معلومولو په موخه سيد اجل بهاوالدين د چنګيز خان دربار ته د سفير په توګه وليږه، دغه سفير په لار کې پيکينګ ته نږدې د طمغاج په سيمه کې د چنګيز خان په لاس د وژل شويو مړيو د هډوکو غونډېدل وليدله او همدارنګه يوه توره او غوړه ځمکه يې وليده چې په هغې باندې د وژل شويو خلکو د بدن غوړي ښکاريدل. همدارنګه دغه سفير د شمالي چين د پاچا وزير او زوی يې وليدل، چې چنګيز خان نيولې و او د چنګيز خان په دربار کې بنديان وو. دغه سفير (سيد اجل بهاوالدين) خپلې ليدنې او کتنې سلطان ته وويلې او د سلطان محمد خوارزم شاه خپل ځارګر (جاسوس) هم ده ته د چنګيز خان د پوځ د عسکرو او ژوند په اړه پوره معلومات ورکړی و. خو سلطان علاوالدين ورته اهميت ورنکړ. چنګيز خان د سلطان محمد خوارزم شاه د سفير ښه هرکلی وکړ، خو د سلطان محمد خوارزم شاه حاکم غاير خان د سياسي نړۍ د اصولو برخلاف د هغه راليږل شوی کاروان مالونه چور او سفيران يې ووژل، په پايله کې د دوی اړيکې په دښمنې بدله شوه(۲۷:۱۵۹).

(c) ketabton.com: The Digital Library

### ۵,۷,۱.۷. سلطان علاوالدین محمد خوارزم شاه او د چنگیز سره د هغه اړیکې

د چنگیز خان[1] د واکمنۍ پرمهال، سلطان علاوالدین محمد خوارزم شاه د افغانستان ډیرې سیمې نیولې وې. دا مهال په افغانستان کې د غوریانو ستره امپراتوري له مینځه تللې وه. د افغانستان ډیرې سیمې د سیمه ایزو حاکمانو او ملکانو له خوا اداره کېدلې. چنگیز خان (تموچن) د یسوګای بهادر زوی په منګولیا کې یوه امپراطوری جوړه کړې وه. سلطان علاوالدین محمد خوارزم شاه هم له اورګنج څخه پر ماورالنهر، افغانستان او ایران حکمراني کوله. دغه فتوحات او بریالیتوبونه چې په مرکزي اسیا کې دده په برخه شوی وو، نو ځکه د چین د نیولو په فکر کې شو. علاوالدین محمد خوارزم شاه غوښتل چې د مغولو (چنګیز خان) له زور او قوت څخه خبر شي، په همدې خاطر یې یو هئیت د سید اجل بهاوالدین رازي په مشرۍ چین ته واستوه. چنگیز خان چې په پیکنګ (چین) کې حکمراني کوله، د خوارزم شاه هئیت یې خپل حضور ته ومانه او له دوی یې تود هرکلی وکړ. د لیدنې په پای کې هئیت ته یې پیغام ورکړ چې سلطان علاوالدین محمد خوارزم شاه د لویدیځ حکمران او خپل ځان (چنګیز خان) د ختیځ حکمران ګڼي. هیله ده چې د دواړو ترمینځ سوله ایزه اړیکې ټینګې شي، د دواړو هیوادونو ترمینځ سوداګریزې اړیکې پراختیا پیدا کړي، دواړه لوري یو د بل محصولاتو ته اړتیا لري. د اسلامي هیواد سوداګر هم د دواړو ترمینځ د سوداګریزه اړیکو د پراختیا پلوی و. ځکه هغوی له چین سره د سوداګریزو مالونو تبادلې ته ډیر لیواله وو. په پایله کې د دواړو هیوادونو سوداګریز تړون لاسلیک شو. د دې تړون له لاسلیک وروسته یو ځل د مغولو د سوداګرو یو کاروان چې شمیر یې له ۴۵۰ څخه تر ۵۰۰ تنو پورې رسیده. ډیر قیمتي مالونو لکه طلا، نقره، وریښم، قیمتي رخت، مشک او کریمه ډبرې ورسره وې. کله چې دوی د اترار ښار ته چې د خوارزم شاهانو لومړنی سرحدي ښار و، راورسیدل، د اترار حاکم غایر خان چې د سوداګرو مالونو ته یې سترګې پټې کړې وې، سوداګر یې خوارزم شاه ته جاسوسان معرفي کړل او هغو یې ووژل. له دې سوداګرو څخه یو تن ژوندی پاتې شو، نوموړی ځان د چنگیز خان دربار ته ورساوه او د سوداګرو احوال یې هغه ته بیان کړ. چنگیز خان یو هئیت د سلطان

---

[1] چنګیز خان په ۵۴۹ هـ ق کال په مغولستان کې زیږیدلی دی. دده پلار یسوګای بهادر د مغولو د قبیلو څخه د قیات د قبلې رئیس و. د چنګیز خان نیکونه او د هغوی لاس لاندې قبلې له ډیر پخوا څخه د شمالي چین امپراطورانو ته خراج ورکاوه او د هغوی تابع وو. مغولانو خراج ورکول یو ډول غلامي ګڼله، څو ځله یې د ځان د خلاصون لپاره اقدامات وکړل، خو لومړی کس چې د ازادۍ په اخیستلو بریالی شو د چنګیز خان پلار یسوګای بهادر و. نوموړی چې یو هوښیار سړی و د غلامۍ کړۍ یې د خپل قوم له غاړې څخه لیرې کړ او استقلال یې اعلان کړ او د دولت بنسټ یې کیښود، چې د هغه زوی چنګیز خان د واکمنۍ پرمهال دغه دولت خپل لوړ پړاو ته ورسید او یوه لویه امپراتوري یې جوړه کړه (۱۰۰: ۴۶).

(c) ketabton.com: The Digital Library

علاوالدین محمد خوارزم شاه دربار ته راولیږه. د غایر خان ددې عمل پوښتنه یې او هم یې د غایر خان د سپارلو غوښتنه وکړه. څرنګه چې غایر خان له یوې خوا د سلطان علاوالدین محمد خوارزم شاه د مور ترکان خاتون[1] له خپلوانو څخه و، له بلې خوا هغه فوځي قوماندانان چې د علاوالدین محمد خوارزم شاه شاوخوا کې دنده اجرا کوله د غایر خان د خپلوانو له جملی څخه وو. په دې وجه سلطان علاوالدین محمد خوارزم شاه مجبور شو چې چنګیز خان ته د رد ځواب ورکړي، مګر سلطان علاوالدین محمد خوارزم شاه د سیاست د اصولو برخلاف د چنګیز خان رالیږلی هئیت وواژه. په دې ډول ده په دې کار سره په راتلونکې کې د اسلامي هیوادونو لپاره ډیرې ستونزې پیدا کړی(۴۶:۹۶).

په داسې حال کې چې د سلطان علاوالدین محمد خوارزم شاه نظامي جاسوس نوموړی ته د چنګیز خان د جګړیز ځواک په هکله په لاندې توګه یو ګزارش ورکړی و. د چنګیز خان د لښکر هر سرتیری خپل ځان ته جامه جوړوي او هر سرتیری ځانته وسله پیدا کوي، د پوځ له څارویو غوښه او شیدی چمتو کوي او خوري یې؛ لنډه دا چې د پوځ څخه بهر هیڅ شئ ته اړ نه دي. څاروي یې د پراخې سارا په وښو او ګیا ماړه دي. دغه ډول لښکر په سختیو کې کلک او په ناوړه حالت کې صبرناک او مطیع وي او که سوبه ومومي هر څه غنیمت کوي او ساکښ ژوندي نه پریږدي. خو له دې معلوماتو سره سره سلطان علاوالدین چې ځان په رسمي توګه په منبرونو او خپرونو کې (ظل الله في الارض ) او ثاني سکندر بللی و، له خپل دغه خیال یعنی د هیوادونو د نیولو له فکر څخه او د چنګیز خان د له مینځه وړولو له پلان څخه نه اوښت. دا په داسې حال کې و چې چنګیز خان په پیل کې د خوارزم له لوی امپراتوري سره د جګړې فکر نه درلود، بلکی غوښتل یې چې د سلطان په سیمه کې سوداګري ته وده ورکړي (۲۷: ۱۵۹).

---

[1] ترکان خاتون : سلطان علاوالدین محمد خوارزم شاه د خپل پلار له مړینې وروسته د خپلې مور ترکان خاتون پواسطه واک ته ورسید. ترکان خاتون یو سیاستمداره، باتدبیره، عیاشه ، وینه تویونکی او زړه وره ښځه وه. په چارو کې د هغې مداخله د سلطان محمد خوارزم شاه د سقوط زمینه برابره کړه. قاضي منهاج سراج جوزجاني په خپل کتاب طبقات ناصري کې لیکي چې سلطان علاوالدین تکش د قبچاق د یو خان (قدرخان) لور وه په نکاح کړه چې وروسته بیا ترې یوه لویه ښځه جوړه شوه او په نړۍ کې یې نوم پاتې شو (۷: ۳۰۰) . ټول خپلوانو یې د دولت په مهمو څوکیو کې مقرر کړل . کوم بندیان چې علاوالدین محمد خوارزم شاه له جګړو څخه راوړل، ترکان خاتون به هغوی د جیحون په اوبو کې اچول تر څو زوی یې له تکلیف څخه خلاص شي . سلطان علاوالدین محمد خوارزم شاه ددې له فرمان څخه د سرغړونې توان نه درلود (۲۱:۲۰).

(c) ketabton.com: The Digital Library

چنگيز خان د سلطان محمد خوارزم شاه له خوا د سوداګرو او هيئت په وژنه ډېر په قهر شو. له دوه سوو زرو لښکرو سره د توپاني سيلاب په څېر د خوارزم پر هيواد راوخوت؛ تر شاه يې يو ميليون ملاتړ کوونکی هم درلودل. د چنګيز خان لښکر له سيحون څخه راتير شو او د سلطان محمد خوارزمي لښکرو ته يې ماتې ورکړه. په يو داسې زور او وحشت سره چې په تاريخ کې سارې نه لري. د اسلامي هيوادونو ودان ښارونه لکه بخارا، سمرقند، خجند، جند او نور يې په ډېر دهشت سره وران او وګړي يې ووژل. په ٦١٧ هـ ق کال خوارزم شاه له ماتې وروسته له جيحون څخه راتير او په بلخ کې ميشت شو؛ وروسته بيا طوس ته وتښتيده، تر واک لاندې ښارونه يې ټيټو اميرانو ته وسپارل ترڅو د چنګيز خان مقابله وکړي. سيستان يې امير زنګي بن حفض ته، تخارستان يې امير سرهنګ سام ته ، د باميانو کلا يې امير عمر باوري ته، پيښور او غزني يې ملک اختيار الدين خرپوست ته، ملک حسام الدين سرزراد ته، د غور نوری کلاګانی يې ملک قطب الدين حسن ته، د هرات د کاليون کلا يې اختيار الملک دولت يار ته، هرات يې شمس الدين جوزجاني ته، د غرجستان فيوار يې پهلوان اصيل الدين نيشاپوري، د تالقانو نصرت کوه يې د ملک شمس الدين اتسز باوري کسانو ته، د جوزجان ګرزيوان يې د الغ خان خدمتګار ته ، فيروز کوه ښار يې مبارزالدين سبزاواري (شينډېي)، تولک کلا يې امير حبشي ته وسپارلو. خو د چنګيز خان لښکرې د جبه ستايي او تفاجار تر مشرۍ لاندې د ٦١٧ هـ ق کال په لومړی خور (ربيع الاول) کې له جيحون څخه راپورې وتې؛ د بلخ تر نيولو وروسته د سلطان علاوالدين محمد خوارزم شاه د نيولو په خاطر يې د هرات لاره ونيوله. د هرات امين الملک يې کلابند کړ. د خلکو له وژنې وروسته يې ډېر ژر ځان طوس ته ورساوه. خو سلطان علاوالدين محمد خوارزم شاه په ډېرې ناهيلۍ سره د ابسکون ټاپو ته وتښتيد، چې وروسته د ٦١٧ هـ ق کال د کوچني اختر(شوال) په مياشت کې مړ شو، چنګيز خان دهغه هډوکي وسوزول (١١:٨٥٣).

سلطان علاوالدين محمد خوارزم شاه پنځه زامن پيروز شاه، غوريشانستي، جلال الدين منکبرني، ارزلوشاه او اق سلطان درلودل. سلطان علاوالدين محمد خوارزم شاه د لويو پاچاهانو خويونه درلودل، د نړۍ د نيولو،جګړايزه صفات، چې په نورو پاچاهانو کې و په ده کې موجود و. د مور له خوا پاچا زاده و، مور يې د قبچاق د يو خان (قدرخان) لور وه (٧: ٣٠٦).

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۷,۵,۸. د جلال الدین منکبرني واکمني (۶۱۸-۶۱۷هـ ق)
## (۶۰۰-۵۹۹ هـ ش)
## (۱۲۲۲-۱۲۲۱ز)

سلطان جلال الدین منکبرني د سلطان علاوالدین مشر زوی او د خوارزم شاهانو وروستی زړور پاچا و. په ٦۱۷ هـ ق کال د تښتیدلې پلار پرځای پر تخت کښیناست. د چنګیز له لښکرو سره یې په میړانه جګړې وکړې. د جلال الدین او چنګیز خان د عسکرو ترمینځ لومړی جګړه په فراون کې ونښته. په دې جګړه کې د چنګیز خان لښکرو ماتې وخوړه. یو ډیر شمیر مړه او بندیان شول، خو متاسفانه د جلال الدین د لښکرو مشران ددې پر ځای چې د چنګیز خان د لښکرو د تعرض په مقابل کې تیاری ونیسي، د لاس ته راغلو غنیمتونو د ویش په خاطر یو د بل سره په جګړه بوخت شول او د نفاق اور ددوی ترمینځ بل شو، چې دغه وضیعت د چنګیز خان د لښکرو مورال پیاوړی کړ. خو د چنګیز خان لښکرو سره په بامیانو کې کلکه مقابله وشو او د چنګیز خان لمسی هم په دې جګړه کې مړ شو. چنګیز خان د لمسی په مړینه ډیر عصبي شو او هغه ښار یې وران کړ. د پروان له جګړې وروسته چنګیز خان او جلال الدین په ګردیز کې هم جګړه وکړه، چې بالاخره دې جګړې د سند تر سیند پورې دوام وکړ چې بالاخره جلال الدین د سند له سیند څخه تیر شو (۴۶: ۹۷).

خو دا چې سلطان جلال الدین د خپل پلار د واکمنۍ پرمهال د غور او غزني نایب السلطنه و. دده وزیر شهاب الدین الپ سرخسي نومېده. جلال الدین د پلار له مړینې وروسته غزني کربر، فیروز کوه مبارزالدین سبزوار (شینډنډ) کرمان ملک لا امیر، پیښور ملک اختیار الدین ته وسپارل. هغه وخت چې پلار یې په ٦۱۷ هـ ق د چنګیز له یرغل څخه وتښتیده، جلال الدین په نیشاپور(کرمان)، نیمروز او بست کې د چنګیز له لښکرو سره جګړې کولې. چنګیز خپل زوم قوتوقونویان په ده پسې وګوماره، د پروان په شاوخوا کې د دوی ترمینځ درې واره جګړه وشوه. قوتوقونویان ته یې ماتې ورکړه، خو چنګیز خان له تالقانو څخه د جلال الدین سره جګړې ته راغی. جلال الدین پیښور خواته ولاړ، کومه جګړه چې د سند سیند خوا کې وشوه، جلال الدین منکبرني په دې جګړه کې ماتې وخوړه او له سند څخه تیر شو (۱۰: ۱۸۹-۱۹۰).

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې جلال الدین د نیلاب په گودر له سیند څخه تیر شو، چنگیز خان د هغه اته کلن زوی وواژه؛ جلال الدین خپله مور ، ماندینه او د حرم نور غړي یې په سیند کې ډوب کړل، پخپله له دوه سوه لښکرو سره د چنگیز د لښکرو په مقابل کې جنگیده، په آخر کې پر یو آس سپور د سند له دریاب څخه تیر شو. خو چنگیز خان او زامن یې په ۶۱۹ هـ ق ۱۲۲۲ ز کې د هوا او اوبو د خرابوالی له امله ناروغ او ماورالنهر ته ستانه شول او په ۶۲۱ هـ ق ۱۲۲۳ ز کال خپل اصلي ټاټوبی ته ورسیدل؛ په همدې کال د ۷۲ کلنی په عمر د تنگنت په دښته کې مړ شو، چې نړۍ دده د یرغلونو او وحشت څخه بېغمه شوه. سلطان جلال الدین خوارزم شاه په ډیری بی وسۍ کې هم خپله متره ونه بایلله، څه موده د سند سیند هغې غاړو کې په ځنگلونو کې اوسېده. یوه ډله یې له ځان سره ملگري کړه، د سند د حاکم ناصرالدي قباچه سره یې ډغرې ووهلې. د ډهلي له پاچا څخه یې مرسته وغوښته، خو هغه ورسره مرسته ونکړه. جلال الدین په لاهور کې د یو راجا له لور سره واده وکړه، چې د هغه په مرسته  د سند حاکم ناصرالدین قباچه یې مات کړ، ډیره وسله یې لاس ته ورغله. د دیبل (کراچي) تر ښاره پورې مخې ته ولاړ. تفلیس او ارمنستان یې ونیول، خو په ۶۲۸ هـ ق کال په میاقارفنین کې د کردانو له لاسه ووژل شو. دده له مړینې سره سم د خوارزم شاهانو کورنۍ واکمنې پای ته ورسیده (۱۱: ۸۵۵).

### د خوارزم شاهانو د دریمې کورنۍ څخه لاندې کسانو واکمنی وکړه.

۱. انوشتگین

**(۴۷۰-۴۹۰هـ ق)**
**(۴۵۶-۴۷۶ هـ ش)**
**(۱۰۷۸-۱۰۹۸ز)**

۲. قطب الدین محمد د انوشتگین زوی

**(۴۹۰-۵۲۲هـ ق)**
**(۴۷۶-۵۰۷ هـ ش)**
**(۱۰۹۸-۱۱۲۹ز)**

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳. اتسز د قطب الدین محمد زوی (۵۲۲-۵۵۱هـ ق)
(۵۰۷-۵۳۵ هـ ش)
(۱۱۲۹-۱۱۵۸ز)

۴. ایل ارسلان د ا تسز زوی (۵۵۱-۵٦۷هـ ق)
(۵۳۵-۵۵۱ هـ ش)
(۱۱۵۸-۱۱۷۳ز)

۵. سلطان شاه ابوالقاسم محمود (۵٦۷-۵٦۸هـ ق)
(۵۵۱-۵۵۲ هـ ش)
(۱۱۷۳-۱۱۷۴ز)

٦. سلطان علاوالدین تکش (۵٦۸-۵۹٦هـ ق)
(۵۵۲-۵۷۹ هـ ش)
(۱۱۷۴-۱۲۰۱ز)

۷. سلطان علاوالدین محمد خوارزم شاه (۵۹٦-٦۱۷هـ ق)
(۵۷۹-۵۹۹ هـ ش)
(۱۲۰۱-۱۲۲۱ز)

۸. سلطان جلال الدین منکبرني (٦۱۷-٦۱۸هـ ق)
(۵۹۹-٦۰۰ هـ ش)
(۱۲۲۱-۱۲۲۲ز) ( ٤٦ : ۹۷).

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۷,۵,۹. د خوارزم شاهانو د واکمني د سقوط لاملونه

د خوارزم شاهانو د سقوط لپاره باید د هغه د واکمنۍ دوران ته ډیره پاملرنه وشي، ځکه یو شمیر تاریخ لیکونکی هغه د اسلامي نړۍ د ټولنیز انحطاط او د مغلو د حملو سبب ګڼي، خو ددوي د سقوط اصلي لامل د سلطان علاوالدین محمد خوارزم شاه د واکمنۍ پراختیا او د هغه لخوا په نیول شویو سیمو ظلم او دا لاندې نور لاملونه ګڼي.

- د سلطان علاوالدین محمد خوارزم شاه پرلپسی جګړو ډیر خلک له ده څخه ناراضه کړې وو.
- سلطان علاوالدین محمد خوارزم شاه پریکړه کړې وه چې د بغداد دار الخلافه به نیسي، نو له دې امله د بغداد عباسي خلیفه ناصر د سلطان علاوالدین محمد خوارزم شاه له دښمنانو سره یوځای شو او د خپل موقعیت د ټینګ ساتلو په خاطر په پټه د مغلو له مشر چنګیز خان سره یې اړیکه ټینګه کړه او هغه یې د خوارزم شاه د واک لاندې سیمو د نیولو لپاره وهڅاوه.
- د سلطان محمد خوارزم شاه د واکمنیو په سیمو کې د ګډوډیو یو عمده لامل د سلطان محمد خوارزم شاه بې تدبیري وه.
- روحانیونو او فیوډالانو هم په خلکو ظلمونه کول، چې دغه ظلمونه د ټولنیزو حرکتونو او مخالفتونو سبب وګرزیدل (۲۰: ٦٧-٦٨).
- په دولتي چارو کې د سلطان علاوالدین محمد خوارزم شاه د مور ترکان خاتون بېځایه مداخله او د هغې ظلمونه.
- په لومړیو وختونو کې د مغلو د لښکرو په مقابل کې د سلطان علاوالدین محمد خوارزم شاه ډیره زړورتیا او د جګړې پرمهال بیا دده بې زړه توب دده په ناکامۍ کې ډیره ونډه درلوده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## لنډيز

د خوارزم شاهانو واکمني د مرکزي آسيا او افغانستان په تاريخ کې ځانګړی ځای لري. خوارزم په لومړيو وختونو کې دوه پلازمينې درلودې چې يوه يې شمالي برخه او بله يې جنوبي برخه وه. د شمالي برخې پلازمينه يې د ګرګانج (جرجانيه) ښار و، چې د عربانو لخوا اداره کېده او د سويلي برخې پلازمينه يې د کاث ښار و چې د خوارزم شاهانو له خوا اداره کېده. تر څو چې خوارزم شاهانو مستقل دولت جوړ او په ټول خوارزم باندې مسلط شول.

خوارزم چې يو ودان ښار و او د امو د سيند پواسطه اوبه کېده. نوموړی سيمه د موقعيت په اساس ډېر سياسي او نظامي اهميت درلود. يو شمير مؤرخين خوارزميان ترکان ګڼي، په عمومي توګه خوارزم شاه به د خوارزم حاکم او حکمران ته ويل کېده. په تاريخ کې د خوارزم شاهانو له دريو کورنيو څخه بحث شوی دی، چې ددوو لومړنيو کورنيو حاکمان ټول محلي حاکمان وو او ډير د بحث وړ نه دي ځکه دوی يوازې په خوارزم او د هغې په شاوخوا سيمو باندې حکمراني کوله. دوی به ګاونډيو قدرتونو ته خراج ورکاوه او د هغوی تابع وو. خو د اسلام د مقدس دين له خپرېدو وروسته د خوارزم پلازمينه په دوه برخو وويشل شوه. د خوارزم د لومړی کورنۍ موسس ابوسعيد احمد د محمد زوی و چې له ۳۴۰ څخه تر ۳٦۴ هـ ق پورې يې حکمراني وکړه او ددې کورنۍ اخرنۍ واکمن ابوالحارث محمد بن علي بن مامون و. د خوارزم شاهانو د دويمې کورنۍ موسس التون نتاش او اخري واکمن يې شاه ملک دی. د خوارزم شاهانو د درېيمې کورنۍ لومړی واکمن انوشتګين دی او اخری واکمن يې سلطان جلال الدين منکبرتی دی. د خوارزم شاهانو په درېيمه کورنۍ کې د دوی پياوړی واکمن سلطان محمد خوارزم شاه و چې يوه لويه امپراتوري يې جوړه کړه. خو د امپراتورۍ په اخرو وختونو کې نوموړی مغروره شو. د چنګيز خان سره دده مخالفت او د هغه د هيئت وژنه دده لپاره بده پايله درلوده. نوموړي د چنګيز خان سره په جګړه کې خپله واکمنۍ او ژوند له لاسه ورکړ او يو لويه اسلامي امپراتوري يې د تجزيې لوری ته سوق کړه. که څه هم د سلطان محمد خوارزم شاه زوی سلطان جلال الدين منکبرتي هم يو څه مقاومت وکړ او د چنګيز خان له عسکرو سره يې څو جګړې وکړې خو نوموړی هم ووژل شو او له مړينې سره سم د خوارزم شاهانو واکمني پای ته ورسيده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پوښتنې

1. خوارزم شاه څه ډول واک ته ورسيد؟
2. د سلطان علاوالدين محمد خوارزم شاه د واکمنۍ سقوط په رښتينې ډول د اسلامي هيوادنو لپاره يو گواښ و؟
3. د سلطان علاوالدين محمد خوارزم شاه د واکمنۍ په سقوط کې د هغه د مور ترکان خاتون مداخلې کومه اغيزه درلوده؟
4. د خوارزم شاهانو لومړيو کورنيو د کومو پاچاهانو د واک لاندې حکمراني کوله؟
5. سلطان علاوالدين محمد خوارزم شاه د چا په مقابل کې ماتې وخوړه؟
6. سلطان علاوالدين محمد خوارزم شاه چيرته وفات شو؟
7. ترکان خاتون پلار څه نوميده؟
8. سلطان جلال الدين منکبرتي په کومه جگړه کې د چنگيز لښکرو ته ماتې ورکړه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

| د خوارزم شاهي واکمنانو لنډه پیژندنه | | |
|---|---|---|
| **شمیره** | **د پاچا نوم** | **کال** |
| | **د خوارزم شاهانو لومړنۍ کورنۍ** | |
| ۱ | ابوسعید احمد د محمد زوی | (۳۴۰-۳٦۴هـ ق)<br>(۳۳۰-۳۵۴ هـ ش)<br>(۹۵۱-۹۷۵ز) |
| ۲ | ابو عبدالله د ابوسعید زوی | (۳٦۴-۳۸۵هـ ق)<br>(۳۵۴-۳۷۵ هـ ش)<br>(۹۷۵-۹۹٦ز) |
| ۳ | مامون د محمد زوی | (۳۸۵-۳۸۷هـ ق)<br>(۳۷۵-۳۷۷ هـ ش)<br>(۹۹٦-۹۹۸ز) |
| ۴ | ابوالحسن علي د مامون زوی | (۳۸۷-۳۹۰هـ ق)<br>(۳۷۷-۳۸۰ هـ ش)<br>(۹۹۸-۱۰۰۱ز) |
| ۵ | ابوالعباس د مامون زوی | (۳۹۰-۴۰۷هـ ق)<br>(۳۸۰-۳۹۷ هـ ش)<br>(۱۰۰۱-۱۰۱۸ز) |
| ٦ | ابوالحارث محمد د ابو الحسن علي زوی | (۴۰۷-۴۰۸هـ ق)<br>(۳۹۷-۳۹۸ هـ ش)<br>(۱۰۱۸-۱۰۱۹ز) |
| | **د خوارزم شاهانو دویمه کورنۍ** | |
| ۱ | التون نتاش | (۴۰۸-۴۲۳هـ ق)<br>(۳۹۸-۴۱۳ هـ ش)<br>(۱۰۱۹-۱۰۳۵ز) |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| ۲ | هارون د التون نتاش زوی | (۴۲۳-۴۲۵هـ ق)<br>(۴۱۳-۴۱۵ هـ ش)<br>(۱۰۳۵-۱۰۳۷ز) |
| ۳ | اسمعیل خندان د التون نتاش زوی | (۴۲۵-۴۲۹هـ ق)<br>(۴۱۵-۴۱۸ هـ ش)<br>(۱۰۳۷-۱۰۴۰ز) |
| ۴ | شاه ملک | (۴۲۹-۴۳۴هـ ق)<br>(۴۱۸-۴۲۲هـ ش)<br>(۱۰۴۰-۱۰۴۴ز) |
| | **د خوارزم شاهانو درېیمه کورنۍ** | |
| ۱ | انوشتگین | (۴۷۰-۴۹۰هـ ق)<br>(۴۵٦-۴۷٦ هـ ش)<br>(۱۰۷۸-۱۰۹۸ز) |
| ۲ | قطب الدین محمد د انوشتگین زوی | (۴۹۰-۵۲۲هـ ق)<br>(۴۷٦-۵۰۷ هـ ش)<br>(۱۰۹۸-۱۱۲۹ز) |
| ۳ | اتسز د قطب الدین محمد زوی | (۵۲۲-۵۵۱هـ ق)<br>(۵۰۷-۵۳۵ هـ ش)<br>(۱۱۲۹-۱۱۵۸ز) |
| ۴ | ایل ارسلان د اتسز زوی | (۵۵۱-۵٦۷هـ ق)<br>(۵۳۵-۵۵۱ هـ ش)<br>(۱۱۵۸-۱۱۷۳ز) |
| ۵ | سلطان شاه ابوالقاسم محمود | (۵٦۷-۵٦۸هـ ق)<br>(۵۵۱-۵۵۲ هـ ش)<br>(۱۱۷۳-۱۱۷۴ز) |
| ٦ | سلطان علاوالدین تکش | (۵٦۸-۵۹٦هـ ق)<br>(۵۵۲-۵۷۹ هـ ش)<br>(۱۱۷۴-۱۲۰۱ز) |
| ۷ | سلطان علاوالدین محمد خوارزم شاه | (۵۹٦-٦۱۷هـ ق)<br>(۵۷۹-۵۹۹ هـ ش)<br>(۱۲۰۱-۱۲۲۱ز) |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| ۸ | جلال الدين منكبرني | (۶۱۸-۶۱۷هـ ق)<br>(۶۰۰-۵۹۹هـ ش)<br>(۱۲۲۲-۱۲۲۱ز) |

**۱.7 . جدول: پورتنۍ جدول د کتابونو له متن څخه د مؤلف په وسیله ترتیب شوی.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۱.7. گراف: لاندینۍ ګراف د کتابونو له متن څخه د مؤلف په وسیله ترتیب شوی.**

### د خوارزم شاهي کورنۍ واکمنان

**د لومړنۍ کورنۍ واکمنان**

ابوسعید احمد د محمد زوی (۳۴۰-۳٦۴هـ ق)

↓

ابو عبدالله د ابوسعید زوی (۳٦۴-۳۸۵هـ ق)

↓

مامون د محمد زوی (۳۸۵-۳۸۷ هـ ق)

↓

ابوالحسن علي د مامون زوی (۳۸۷-۳۹۰هـ ق)

↓

ابوالعباس د مامون زوی (۳۹۰-۴۰۷هـ ق)

↓

ابوالحارث محمد د ابو الحسن علي زوی (۴۰۷-۴۰۸ هـ ق)

د خوارزم شاهانو دویمه کورنۍ

التون نتاش (۴۰۸-۴۲۳هـ ق)

↓

هارون د التون نتاش زوی (۴۲۳-۴۲۵ هـ ق)

↓

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسمعیل خندان د التون نتاش زوی (۴۲۵-۴۲۹ هـ ق)

↓

شاه ملک (۴۲۹-۴۳۴ هـ ق)

## د دریمې کورنۍ واکمنان

انوشتګین (۴۷۰-۴۹۰ هـ ق)

↓

قطب الدین محمد د انوشتګین زوی (۴۹۰-۵۲۲ هـ ق)

↓

اتسز د قطب الدین محمد زوی (۵۲۲-۵۵۱ هـ ق)

↓

ایل ارسلان د اتسز زوی (۵۵۱-۵٦۷ هـ ق )

↓

سلطان شاه ابوالقاسم محمود (۵٦۷-۵٦۸)

↓

سلطان علاوالدین تکش (۵٦۸-۵۹٦ هـ ق)

↓

سلطان علاوالدین محمد خوارزم شاه (۵۹٦-٦۱۷ هـ ق)

↓

جلال الدین منکبرني (٦۱۷-٦۱۸ هـ ق)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اتم څپرکی

## د اسلام له ظهور څخه د چنگیز خان تر یرغل پورې د افغانستان ټولنیز او کلتوري وضعیت

### پیلیزه

لرغوني افغانستان د خپل ځانګړی جغرافیای موقعیت او طبعیي جوړښت له مخې د اسلام د مخه هم ډیر عظمت او شوکت درلود. خو د طاهریانو د مستقل دولت له تاسیس وروسته صفاریانو، غزنویانو او غوریانو نه یوازې ددې هیواد کلتور وساته، بلکې یوه لویه امپراتوري یې هم رامینځته کړې وه، چې د هند او ایران ډیرې برخې یې په خپل قلمرو کې شاملې کړې، خو د غوریانو د امپراطورۍ له سقوط وروسته، سلطان محمد خوارزم شاه، زمونږ د هیواد ډیرې برخې ترخپل کنترول لاندې راوستې. د چنگیز خان په مقابل کې د سلطان محمد خوارزم شاه له ماتې او مړینې وروسته د هغه زوی جلال الدین ورسره له یو لړ جګړو وروسته ماتې وخوړه . د چنگیز خان یرغلګر پوځ د افغانستان ډیر ښارونه ځکه ویجاړ کړل چې د افغانانو د هر ښار اوسیدونکو په ډیره میړانه له ځانه دفاع کوله. په دې ترتیب د افغانستان زیات آباد ښارونه په کنډوالو بدل شول. په دغه څپرکی کې ټولنیز طبقات، اقتصادي

(c) ketabton.com: The Digital Library

وضعیت، ښارونه، دولتي اداري، مذهب، کلتور او تصوف، ښوونه او روزنه او تصوف، لنډيز او پوښتنو ته ځای ورکړل شوی او هر عنوان د امکان تر بریده توضیح شویدی.

## ۸,۱. ټولنيز طبقات

افغانستان کې د اسلام د مبارک دین له راتګ  د مخه لا د مرئیتوب نظام له مینځه تللی وو، خو وروسته اسلامي حاکمانو کرنيزې ځمکې د بیت المال مال وباله، چې د ټاکلو مالیاتو په بدل کې بیا هغه ځمکې يې محلي ځمکوالو او افغانستان کې میشتو عربانو ته په واک کې ورکړې او هغه فیوډالي دوره چې د اسلام د مقدس دین له راتګ څخه مخکې پیل شوې وه. د اسلامي دولتونو د واکمنانو د واک پرمهال د بشپړيدو په حال کې وه. د اسلام مقدس دین د ټولو طبقو (پاټکیو) ترمینځ طبقاتي امتیازات لغوه کړل او ټول خلک يې د قانون په  وړاندې يو شان وګڼل. خو په عمل کې فیوډالانو، اشرافو او سیمه ایزو خانانو د ټولنې واکمن طبقات جوړول. ددوی ترمینځ د ښځې او نر، مرئي او بادار ترمینځ ډیر توپیر مینځ ته راغی. په قانون کې هم د شتمنو او غریبو ترمینځ توپیر زیات شو. ټوله ټولنه له کوم دلیل پرته د پاچا تابع و. په مطلق ډول د پاچا فرمان د تطبیق وړ و. شتمن له قانون څخه لوړ او یوازې د خدای ج په نزد مسؤل وو. افغانستان ته د اسلام له راتګ وروسته سیمه ایزو فیوډالانو عباسي اداره کې ورننوتل او له هغوی سره په ګټو کې شریک شول. خو نور ملت به درانده مالیاتورکول؛ د عباسیانو پرضد  ډیرو پاڅونونو اقتصادي لامل درلود او دغه مخالفتونه زیاتره د سیمه ایزو خانانو او عباسیانو پرضد وو. مګر د امویانو پرضد پاڅونونو سیاسي بڼه درلوده. د اسلام له خپریدو څخه د چنګیز خان تر راتګ پورې په افغانستان کې دا لاندې درې طبقې موجودې وې.

۱. لومړۍ طبقه : فیوډالانو، اشرافو، ملکانو، ځمکه والو او روحانیونو سره په ګډه حاکمه طبقه جوړوله.

۲. دویمه طبقه: مینځنی ښاري طبقه و، چې سوداګر، مامورین او کسبه کاران پکې شامل ول.

۳. دریمه طبقه يې بزګران وو (۲۷: ۱۶۴-۱۶۵).

په افغانستان کې فیوډالي سیستم موده له اوومې میلادي پیړۍ څخه تر دیارلسمې میلادي پیړۍ پورې وه او د مغلو تر راتګ پورې يې دوام وکړ، خو د بزګرو ژوند تریخ وو، ځکه له بزګرو څخه په مختلفو نومونو مالیات اخیستل کیدل. لومړۍ طبقې ډیر شمیر څاروي ، ځمکې او شتمنۍ درلودې. دوی له

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیګار او مالیی څخه معاف وو او هوسا ژوند یې درلود؛ دوی مرئیان هم درلودل. د مثال په توګه د سلطان محمود غزنوي ورور امیر نصر ته د نیشاپور اوسیدونکي ابوالقاسم رازي یو څو وینځې وړاندې کړې او نصر په بدل کې ورته یوه لونګۍ او یو څه نور انعامونه ورکړل. وروسته له دې به ابوالقاسم رازي د اشرافو په څېر په ښار کې پر آس سپور ګرزیده او یو کس به یې رکاب نیولې و. خلک د هغه درناوې ته حیران وو. کله چې سلطان محمود غزنوي له دې خبرې خبر شو؛ خپل ورور یې ملامت کړ. ځمکه والو، سوداګر له ځان سره برابر نه ګڼل؛ خو دویمې طبقې په ښار کې هوسا او ډاډه ژوند درلود؛ خپل کلتور او تمدن ته یې وده ورکړه. دوی له خپلو سوداګریزو مالونو څخه دولت ته مالیه ورکوله. دریمه طبقه بزګران او د دوی په خوا کې کسبګرو لکه ټټاران، ګنډونکي، اوبدونکي او نورو کلیوالو ژوند کاوه. فیوډالانو له ځمکو څخه ډېره ګټه اخیسته (۲۷: ۱٦٦- ۱٦۷).

د هیواد دریمې طبقې (بزګرانو) د مینځنیو پیړیو پرمهال په تولید کې ستره ونډه درلوده؛ په کلیوالي اقتصاد کې یې دنده د ځمکې کرنه او د څارویو روزنه وه. دوی د سخت استثمار لاندې وو. د مالیاتو د سیستم درونډ پیټې یې پر اوږو بار و او بزګرانو ددې سیستم پواسطه یې ځمکې له لاسه ورکولې او په مختلفو بڼو به په غلامانو بدلیدل. د مالیې د ورکړې پر مهال بزګران مجبور وو چې پردۍ ځمکې په بزګرۍ وکري، ځکه د لږو ځمکو مالکان ددې برسیره د ډول ډول مالیاتو په ورکولو هم مکلف وو. د کاریزونو په ویستلو، د لارو، کانالونو او د خانانو لپاره د لوړو او قوي کلاګانو په جوړولو او نور کارونه یې د بیګار په توګه سرته رسول. دې ډول کارونو د غزنویانو تر دورې پورې دوام درلود. خو د هیواد په ډیرو سیمو کې تر ډیره وخته پورې د خانانو او ملکانو له خوا پر بزګرانو د هغوی شخصي کارونه پرته له حق الزحمې سرته رسیدل. او دغه غیر عادلانه اړیکو تر ډیره وخته پورې دوام وکړ (۲۲: ۱۴٦-۱۴۷).

## ۸,۲. اقتصادي وضعیت

په لومړنیو ټولنو کې انسانانو ځمکه د حکومت ملکیت ګڼله او په دې عقیده وو چې بزګران باید د قبیلې رئیس یا حکومت ته د ځمکې د حاصل یوه برخه هرو مرو ورکړي. په لرغونو اریایي قبیلو کې ځمکه عمومي ملکیت و؛ په موقتي ډول یو یا څو کلونو لپاره ددوې ترمینځ ویشل کېده . د مالیې وزیر یا د مالیې مسؤل د ځمکې له پیداوارو څخه شپږمه برخه اخیستله. هیوان تسنګ د افغانستان د اوسنۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

کندهار د ولایت په اړه لیکي چې په دغه ولایت کې یو نوعه گزیت (جزیه[1]) موجوده وه چې له مخې به یې د کورنۍ هر غړي به اړ و چې یو څه فلزي سکې باید حکومت ته ورکړي. له دې څخه معلومیږي چې د زابل پاچاهانو او رتبیلانو به له خلکو څخه د سړي سر مالیې په بدل کې څلور درهمه چې ۲۰ افغانۍ کېدلې اخېستلې (۴۳۰:۸-۴۳۱).

په افغانستان کې د اسلام له رارسیدو مخکې د مرئیتوب دوره په بشپړه توگه پای ته نه وه رسیدلې خو د کرنې سکتور پرمختگ کړی و. او د څارویو روزنې د خلکو ژوند ډاډمن کړی وو. د اوبو لگولو وسایلو ترقي کړې وه؛ ویالې، کانالونه او د اوبو بندونه جوړ شوي وو. د اوبو او بادي ژرندې، او ارهټونه به جوړیدل؛ له لرگیو او اوسپنو څخه د کرنې د وسایلو په جوړیدو کې گټه اخېستل کېده . په افغانستان کې د طاهري، صفاري، غزنوي او غوري دولتونو پرمهال د کرنې پرمختگ ته ځانگړي پاملرنه وشوه. په دغه دوره کې د دولت ثابت عاید کرنیز مالیات وو. د بڼونو روزنې ته هم پاملرنه وشوه. په هیواد کې په پوره اندازه څاروي روزل کېدل. د باختر آسونه او اوښان ، د تخارستان آسونه او د سیستان غواگانو ډېر شهرت درلود. کرنیزو تولیداتو لکه غنم، وربشې، پومبې، وریجې، انگور، ممیز او بادام ډېر پرمختگ وکړ. د څارویو محصولاتو لکه غوړي ، پنیر، کورت او خېدک هم زیات تولیدل. د هیواد له معدنونو څخه سره زر، سپین زر ، اوسپنه، مس، قلعي، سرپ او نوشادر ایستل کېدل. نساجي په تیره بیا نازک رختونه، ځرمن گنډل، فلز کاري، غالۍ اوبدل، د مسي لوښو جوړول، وسله جوړول، په تیره بیا توري، صابون جوړول، براق جوړول او نورو ښه پرمختگ وکړ. د مسگرۍ، ټټارۍ، بنایي، ترکاڼي او د انځور گرۍ صنعت کې هم پرمختگ وشو. صنعتکاران ډېر هڅول کېدل، ځکه د ټولنې ممتازې او شتمنې طبقې صنعتي شیانو ته ډېره اړتیا درلوده. په ښارونو کې سره او سپین زر د درهمو او دینارو په نوم چلیدل، خو مسي سکو هم رواج درلود او دې ټولو د نن ورځې د پیسو په ډول چلند درلود. د بیلابیلو فلزاتو مخلوط ډول لکه د سپینو زرو، سرو زرو، سربو او قلعي څخه سیکې جوړیدلې. د بیهقي په وینا په یوولسمه میلادي پیړۍ کې د افغانستان د سپینو زرو د درهم عیار[2] په سلو کې ۹۵٪ و او د بارتولد په وینا په نهمه میلادي پیړۍ کې د بخارا د درهمو عیار په سلو کې ۹۷٪ خالص درهم و، چې وزن یې یو مثقال

---

[1] جزیه: هغه پیسې یا مال ده، چې اسلامي دولت یې له اهل کتاب یا غیر مسلمو څخه اخلي. په مقابل کې به د هغوی د سرو مال ساتنه کوي. او که چیرې اسلامي دولت د غیر مسلمو د سر او مال ساتنه ونشو کولی، بیا نو باید جزیه وانخلي.

[2] عیار: د سرو زرو څخه په جوړ شوی څیز کې د زرو اندازې یعنې سلنې (فیصدي) ته وایي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

و. په همدې پيړۍ کې د افغانستان درې نيم درهمه د ناصر خسرو بلخي په وينا د مصر له دريو دينارو سره برابر وه. د عربستان په صحرايي سيمو کې به يو اوښ په دريو افغاني دينارو پلورل او پيردل کېده. پخوانۍ وزنونه هم تر ډېر وخته پورې په افغانستان کې رواج درلود. په يوولسمه ميلادي پيړۍ کې د افغانستان په ښارونو کې يو من غنم په يو درهم او په کليو کې به دوه منه غنمو يو درهم قيمت درلود. چې د ايران د اصفهان په ښار کې اته منه ډوډۍ يو درهم، په ارمنستان کې سل منه شات يو دينار او په مصر کې لس منه د بادامو مغز يو دينار بيه درلوده. کله چې به د افغانستان په شمال لويديځ ولايتونو کې قحطي راغله. نو د يو من غنمو بيه به ديارلس درهمه کېدله. د يوې قلبې ځمکې بيه له زرو درهمو څخه دوه سوه درهمو ته راټيټه شوه. دا ځکه چې د کر لپاره به د غنمو تخم نه و (۲۷: ۱۶۹).

د هيواد له کرنيزو ځمکو څخه يوه برخه د حاکمو طبقو په اقطاع او تيول کې وه او يا هم د وقفي ځمکې په توګه به روحانيونو سره وه. روحانيونو او لويو ځمکوالو به خپلې ځمکې بزګرانو ته په اجاره ورکولې او هر يوه به يو تن د وکيل په نوم د ځمکې د څارنې لپاره ګوماره؛ وکيل به له بزګرانو څخه د ځمکې ماليه او اجاره راټولوله؛ له شپنو څخه به يې د رمې په حساب څاروي اخېستل چې دا کار به کله کله ملک هم کاوه.

د افغانستان سوداګري به له ايران، چين او ماروالنهر هيوادونو سره ترسره کېده . افغانستان د سامانيانو له دورې څخه د چنګيز خان تر يرغل پورې د بلغار[1] هيواد سره هم ښه سوداګري درلوده. په روسيه او سويډن کې موندل شوې سيکې چې طاهري دورې پورې اړه لري، د سوداګري همدا اړيکې ثابتوي چې افغانستان د ماورالنهر له لارې د اروپا سره سوداګري اړيکې لرلې. د مېنځنۍ آسيا مالونه به ددغو کاروانونو پواسطه د ايران له لارې د مديترانۍ غاړو ته رسول کېدل. دغو کاروانونو کې به څاروې، رختونه، عطر، درمل، فلزي وسايل، قيمتي ډبرې، کاغذ، مسي لوښې، وړۍ، څرمنې، ډيوې، غوړي، وسلې، غلې دانې او نور شيان وړل کېدل. سوداګريزې لارې ډاډمنې وې. په لار کې کاروان سرايونه آباد وو. واليان به مرکزي دولت ته د سوداګرو د مالونو د ساتنې مسؤل وو. صرافانو په ښارونو کې پولې چارې سرته رسولې. د کليو او ښارونو ترمينځ سوداګري ورځ تربلې پياوړې کېده (۲۷: ۱۷۰).

---

[1] د بلغار په دې نوم دوه هيوادونه وو ، چې يو د دانيوب پر غاړه چې اوس هم شته او بل يې د ولګا د سيند مينځنۍ برخې ته نږدې و. خلک يې مسلمانان شول. په ديارلسمه ميلادي پيړۍ کې د بلغار څرمنو او مرئيانو ډېر نوم درلود. خو مغلو دا ښار وران کړ. دغه ويجاړ ښار په څوارلسم ميلادي پيړۍ کې روسانو له خوا بيا ويجاړ شو او بلغار له مينځه ولاړ (۲۷: ۱۷۰).

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانستان په شپږمه او اتمه زیږدیزو پیړیو کې د هند، پارس ساساني دولت، د ماروالنهر د دولتونو، چین او عربو د بحیرې ترمینځ د سوداګریز مرکز په توګه موقعیت درلود. ځکه د ورېښمو مشهوره لار له دې هیواد څخه تیرېدله. ددې په خوا کې په وروستیو کلونو کې له افغانستان څخه هند ته درې نورې سوداګریزې لارې تیرېدلې. په شمال کې د کابل د سیند ترڅنګ ، د کابل- کونړ او د باجوړ پر لاره پیښور ته د اباسیند سواحلو ته رسیده. دویمه لاره: دې لارې د تخار ولایت له هند سره وصلاوه. دغه سوداګري د هندوکش له شمالي سیمو څخه هند ته صورت نیوه او سوداګریز مالونه به په پروان کې چې د کابل په شمال کې پروت دی تبادله کېدل. ددې بازار سوداګري تقریباً دوه میلونو دینارو ته رسیده. د کابل ولایت د بلخ له ولایت سره په شمال کې نښتې و. چې کابل د هند د بارګیرۍ یا د کاروانونو د مالونو د بارولو او اخېستلو په محل بدل شو. او له هرې خوا به کابل ته مالونه رارسیدل. بلخ له جوزجان سره وصل و. د بلخ ښار څلور دروازې درلودې چې الشاري دوه دروازې د باب هندوان (هندواني دروازې ) او دوه نورې یې د یهودانو په نومونو یادولې. بارتولد وایې چې ځکه یې د بلخ د ښار دروازې په دغو نومونو یادولې چې هندي او یهودي سوداګرو هلته ژوند کاوه ( ۸ : ۴۷۷-۴۷۸).

دریمه لاره: دغه سوداګریزه لار له خراسان ، سیستان ، نیشاپور، هرات، بست او رخج څخه تیرېدله. د پشین او شال ( ننني کویټې ) څخه د بولان د درې له لارې سند ته رسیده، البته د هرات مالونو ډېر شهرت درلود. هغه مالونه چې افغانستان له لارې هند، چین او نورو هیوادونو ته وړل کېدل په لاندې ډول دي.

له سیستان څخه انګور، د زمینداور لیمڅي (نمد): خرما، تارینې رسۍ او پزي وړل کېدل. له کابل څخه نخي ټوټې او اته مخیزه دستمالونه چې په چین او سند کې مشهور و، کابلي هریړه او اعلي نیل؛ له بست څخه وچه میوه او صابون؛ له مروې څخه وچ خټکې، ورېښم، پنبه او نخي ټوکران البته ورېښمینې روجایي ګانې، غوا ګانې، پنیر، شیدې، دیګونه او مسي دیګونه؛ له بلخ څخه بختې اوښان، ترکي غلامان، صابون، کُنځلې، وریجې، بادام ، ممیز ، غوړي ، پوټکې ، د انګورو شربت او نور ...؛ له بدخشان څخه مشک، لاجورد، قیمتي ډبرې چې سره رنګونه به یې درلودل؛ د طوس څخه رسۍ، پزي او میوه؛ له سرخس څخه میوه او اوښان؛ له فرغانې څخه ترکي غلامان، البسه، وسله، توره، مس، اوسپنه ، زر ، ډبرین څراغونه ، فیروزه، نوشادر ؛ له نیشاپور څخه د البسې مختلف ډولونه ، ابریشمې ټوټې او نور...؛ له هرات څخه د لباس مختلف ډولونه، سره او شنه ممیز، وریجې، پولاد، پسته؛ له

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنجشیر ځخه ، لاجورد او نور جواهر او له بامیان ځخه د دوه میلونو طلایي دینارو په ارزښت نیل صادرول؛ ماوراالنهر ځخه نخي او پشمي ټوټې، پوټکې ، نوشادر، کاغذ، زر، ترکي غلامان، مشک ، زعفران، د ګیدړې پوستکي، یوناني دوا ګانې او اورلګیت. په دې ترتیب له دې ښارونو ځخه مختلف ځیزونه د سند له حوزې( منصورې) ځخه ګنې؛ له قصدار ځخه سپینه شکره، له ګنداو ځخه بختي اوښان، غواګانې، ګوړه؛ له ملتان ځخه مشک؛ له دیبل (کراچي) ځخه اعلا مشک تبادله کېدل. او د یو بل اړتیاوې به یې پوره کولې (۸: ۴۸۸-۴۹۰).

## ۸،۳. ښارونه

د افغانستان لویو ښارونو د اسلام د رارسیدو پرمهال د سلو زرو ځخه تر دوه سوو زرو پورې نفوس درلود. په همدې مهال اروپایي ښارونو د صنعتکارانو، مزدورانو او سوداګرو د کار د محل په اساس وده کړې وه. د افغانستان په یو شمیر ښارونو کې د لاسي صنایعو سوداګرۍ پرمختګ کړې و؛ د اسلام له رارسیدو مخکې د افغانستان ښارونه د علم- هنر او آبادۍ له پلوه ډېر شهرت درلود. د اسلام د مبارک دین له رارسیدو وروسته د دغو ښارونو شهرت نور هم زیات شو. د بلخ، مروه، نیشاپور، هرات او بامیانو ښارونه یې په ټوله مینځنۍ آسیا کې له اوچت شهرت ځخه برخمن وو، ځکه دغه هر یو د صنعت، سوداګرۍ، کلتور او پوځي چوڼیو ستر مرکز و. پردې سربیره په دغو ښارونو کې لوی لوی دولتي ماڼۍ هم موجودې وې. شخصي او دولتي ودانۍ له پخو خښتو، ګچو او خامو خښتو ځخه جوړې وې. بازارونو تنګې کوڅې درلودې. د ښار هرې رستې او کوڅې جلا نوم درلود؛ په ښارونو کې جوماتونه کاروانسرایانه ، حمامونه ،مدرسې هم وې؛ د ښار صفایي د خلکو په لاس ترسره کېده . محتسب د ښارې کارونو ځارنه کوله. د افغانستان هر لوی ښار لکه بلخ، غزني، نیشاپور، مروه، هرات، زرنج او نور د چنګیز خان د یرغل پرمهال له ۴۰۰ ځخه زیات صنعتکاران درلودل او په هر یو کې له ۲۰۰ ځخه زیات شتمن خلک او سوداګران اوسیدل، چې دغه شمیر د هغه مهال د صنعت ، سوداګرۍ او اقتصاد ترقۍ ښې نښې بللی شو. دغو ښارونو د دفاع له پلوه ښه استحکامات درلود او د پنډو دیوالونو، لوړو برجونو او د ځو دروازو په واسطه به ساتل کېدل. هر ښار ارګ درلود. د شپې له خوا به د ښار دروازې تړل کېدې؛ له ټاکلي وخت وروسته وتل او ننوتل بند وو؛ د کلیوالو ښونه، ودانۍ او کرنیزې ځمکې له ښارونو ځخه بهر او ښار ته نږدې وې. په ټولیزه توګه بډایه طبقې د ښه ژوند لرونکې وې او د درباریانو په ځېر یې ژوند درلود. هرې طبقې لویانو ځانته مرئیان او وینځې لرلې (۲۷: ۱۷۱).

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوداګر چې د ټولنې مينځنۍ طبقه وه او څه نا څه شتمن هم و؛ تفريح ته يې ډير ميلان درلود. دوی د دوو طبقو يعنی مرئيانو او وينځو، او بډايانو ترمينځ متوسط ژوند درلود. مزدورانو او بزګرانو په کليو کې کار کاوه. د دوی عايد ايله دومره و چې ((دومره خوره چې مړ نه شې)). سوداګر، صرافان، طبيبان، ملايان، شاعران او منشيان د درناوې وړ وو. صنعتګران او کسبګرو د اتحاديو لرونکی وو. يو څه هوسا ژوند يې درلود؛ د هيواد صنعت د دوی پرمټو پرمختګ کاوه. په ښارونو کې د مسلمانانو د بيلابيلو مذهبونو پيروان اوسيدل چې هر مذهب خپل امام او لارښود درلود. چې کله ناکله به يو له بل سره په شخړو کې وو. په جوماتونو کې شافعي او حنفي ډلو جلاجلا عبادت کاوه. چنګيز خان د خپل يرغل پرمهال د دغو دواړو مذهبي ډلو له اختلاف څخه ګټه واخيسته. د مروې په ښار کې دغه دواړه ډلې يو له بل سره به جګړې کولې؛ يو د بل جوماتونه به يې سوځول. سادات هم له دوی سره مخالف وو. دوی ټولو هغه مهال له حکومت څخه د څوکيو د ترلاسه کولو په خاطر جګړې کولې، ترڅو يو د بل په پرتله په حکومت کې اوچت مقام او ځای ولري. د دوی په نظر د دولت د چارو کيفيت کوم ارزښت نه درلود. د دوی په قضاوت سره دولت بايد دوی ته لومړی امتياز ورکړي. دولتونو هم لومړی امتياز د مذهبونو مشرانو او روحانينو ته ورکاوه. د چنګيز خان د يرغل په وخت له ټولو خلکو مخکې همدغو مذهبي مشرانو د هغه اطاعت ته غاړه کيښوده. دوی د چنګيز خان حضور ته ورغلل او د خپلو پخوانيو مستمري معاشونو غوښتنه يې وکړه. په بلخ کې هم سوداګر او بډايه طبقې د خپلو شتمنيو د خوندي پاتې کيدو په موخه له جګړې مخکې د چنګيز خان حضور ته ورغلل او ښاريان يې ورته هم تسليمدو لپاره وهڅول. په سرخس کې يو نامتو قاضي شمس الدين خوارزم شاهي د خپل دولت پرضد له چنګيز خان سره مرسته وکړه او سرخس يې پرته له جګړې چنګيز خان ته تسليم کړ. همدارنګه شيخ الاسلام شمس الدين حارثي هم قصد درلود چې د مروې ښار دې پرته له جګړې څخه چنګيز خان ته تسليم شي. حال دا چې بزګرانو او کسبګرو د چنګيز خان پر ضد جګړه وکړه. د چنګيز خان له يرغل څخه مخکې د افغانستان په کليو او بازارونو کې د بڼ لرونکو، ځمکوالو او سوداګرو ترمينځ راکړه ورکړه روانه وه. لوی کلی ښه آباد وو؛ زده کړی په جوماتونو کې کيدلې. په بازارونوکې يو شميرصنعتګران، اوبدونکی، ګنډونکی او ترکاڼان موجود وو (۲۷:۱۷۲).

د چنګيز خان لښکرو به خلک ډير ځورول. کله به چې دوی ښار يا کلی ته راغلل، خلکو به کلی اوښار پريښود؛ په کاريزونو او ځنګلونو کې به پټ شول؛ مغلو به د خلکو مالونه، څاروې او دوکانونه چور

(c) ketabton.com: The Digital Library

او تالان کړل، ځکه چې بزګران تل په آبادو کليو کې اوسيدل او توليداتو څخه يې د ښار خلکو ګټه اخېسته. مونږ د افغانستان له يو څو ښارونوڅخه دنمونی په ښه دلته يادونه کوو، چې د لرغوني فرهنګ او تاريخ لرونکی دي.

بلخ: هيوان تسنګ د نهم هجري کال د حمل په ۳۱ مه د ٦۳۰ ز کال د اپريل په ۲۰ مه د بلخ ښار کتلی او ليکي : چې د بلخ ښار شپږ نيم ميله پراخوالې درلود، کوچنۍ پلازمينه شميرل کېده، چې سل بودايي معبدونه او د بودايي دين درې زره پيروان يې درلودل. د بلخ ښار د اسلامي لښکرو د فتوحاتو پرمهال ډير زيان وليد. د نوبهار مشهور معبد په ۴۰ هجري کال د قيس بن هشيم چې د خراسان والي و تخريب شو. کله چې اسد بن عبدالله د خراسان امير شو نو د بلخ ښار يې بيا ورغاوه؛ حکومتي دفترونه يې د بلخ پوځي چونۍ ته انتقال کړل، وروسته خالد برمکي ددې ښار په جوړولو کې اقدام وکړ. د امويانو د واکمنۍ پر مهال بلخ د يوې پوځي چونۍ په توګه د قوماندې مرکز وو. له دې ځايه به د آمو جنوب خواته لښکر کشي کېدله. بشاري وايي : چې بلخ يو ښايسته ښار و. يعقوبي وايي چې بلخ د خراسان مرکزي سيمه وه؛ خو د چنګيز خان د يرغل پرمهال تخريب شو. مفتي بلخي وايي چې بلخ شل ځلي وران شوی او بيا جوړ شوې (۸: ٦۷٦-٦۷۷).

بُست : د بُست لرغونۍ ښار د اسلام له مبارک دين مخکې د انګورو د شرابو له امله ډير شهرت درلود او ساساني پاچاهانو به له دې شرابو څخه تل ګټه اخېسته، چې د فردوسي په شهنامه کې هم ددې ذکر شوې دی. د مسلمانانو له خوا د افغانستان جنوبي سيمو له فتحې وروسته عبدالرحمن بن ثمره په ۳٦ هـ کال زابل او کابل ته لښکر کشي وکړه. وروسته له هغې د مسلمانانو بريااليو پوځونو په بُست کې د رتبيلانو سره جګړه وکړه. د بشاري په قول په اسلامي دوره کې په بُست کې متدين مسلمانان اوسيدل. خرما، انګوراو د کشمالي بوټې پکې وو. په نوموړۍ ښار کې مسجدونه، بازار او حصارونه موجود و. د هلمند او ارغنداب سيندونه په يوه فرسخ کې له بُست څخه لرې سره يو ځای کيږي. د غزني لورې نه هغه لار چې غزني ته غزيږي په نيم فرسخې يو کوچنۍ ښار د المعسکر (د لشکرګاه اوسنې لشکري بازار ) واقع ده. بُست او لشکری بازار د خپل موقعيت او عمومي ساختمان له پلوه په حقيقت کې د يو ښار دوه برخې دي ، چې بُست د خلکو د هستوګنځی او لشکري بازار يې د سپاهيانو او دولتي ادارو محل و. يا په بل عبارت د بُست په يوه برخه کې يې عام خلک اوسيدل، تجارتي مرکز او

(c) ketabton.com: The Digital Library

کاروانسرایونه ورکړې وو او بله برخه یې سپاهیان ، پوځیان، صاحب منصبان او کله کله به غزنوي پاچاهان لکه سلطان محمود او سلطان مسعود پکې اوسیدل (۴۰: ۱۰۱).

کوهک ښار: د کوهک کلا د ارغنداب د سیند په غاړه یوه مستحکمه کلا او د رتبیلانو یوه مهمه قرارګاه وه. افغانستان ته د اسلام د راتګ پرمهال رتبیلانو له همدغې کلا څخه د اسلامي لښکرو په مقابل کې د قرارګاه په توګه استفاده کوله. اوس د کوهک په نوم یوه قریه د قندهار لویدیځ ته په لس میلۍ کې واقع ده. نښې یې اوس هم موجودې دي. له بُست او سیستان څخه پر کندهار د حملو په مقابل کې د دفاع غوره سنګر و. رتبیلان په همدې ځای کې له یعقوب لیث صفاري سره وجنګیدل. په ځینو اثارو کې کوهک د کوهژو، کوهشیر، کوهتیز په نومونو هم لیکل شوی دی (۸: ٦٨١).

هرات: د هرات ښار چې په تاریخ کې د (مروارید شهر) په لقب یاد شوی، زمونږ د هیواد له مهمو لرغونو تاریخي، فرهنګي او ستراتیژیکي ښارونو څخه یو نامتو ښار دی. د اسلام د مقدس دین له ظهور څخه په پیړیو پیړیو د مخه مشهور او موجود و. هرات لوی دیوالونه (حصارونه)، برجونه اوڅلور دروازې درلودلې چې په لاندې ډول ښودل شوی دی.

- باب سردي : د بلخ واټ په مقابل کې
- باب زیاد: د نیشاپور د لارې په مقابل کې
- باب فیروز: د سیستان د لارې په مقابل کې
- باب کوشک: د غور د لارې په مقابل کې

هرات ښار یو ارګ درلود چې د ښار په دننه کې پروت و. هرات ښار یوه دارالاماره (اداري مرکز - پلازمینه) هم درلودله، چې له ښار څخه د باندې د پوشنګ د لارې پر سر د خراسان آباد په نوم یادیدله. د هرات ښار په ۱۲ او ۱۳ مه میلادي پیړۍ کې پراختیا موندله؛ د غوریانو د واکمنۍ پر مهال د هرات ښار ۱۲ زره دکانونه، ۴۴۸ کورونه، ۳۵۰ بابه مدرسې درلودلې. د هرات ښار په بیلابیلو نومونو لکه هرات، هریو، ارتاکوانا (ارتاکون) یا ارتاکان یعنې د اریایانو شاهي ښار یاد شوی دی. بطلیموس دا ښار د اریامترو پولتس (Ariametro Poltis) په نوم هم یاد کړی (۴۰: ۵۱-۵۲).

(c) ketabton.com: The Digital Library

کابل: بطليموس ددې ښار پلازمينه کابورا KABURA او وګړي يې کابوليتا KABOLITAE ذکر کړي او نوموړی ښار يې اورتسپانه ORTOSPANA هم نوموليې دی. په هر صورت کابل په اسلامي لومړۍ پيړۍ کې لوی ديوالونه او غرونه لرل، چې پر هغې باندې تسلط غير ممکن و. شريف ادريسي په ۵۴۹ هـ کې ليکي: کابل يو لوی ښار دی، ددې ښار په غرونو کې، کابلۍ هريړه او زعفران پيدا کيږي. نخي ټوټې له دې ځايه چين ، خراسان او سند ته وړل کيږي. په غرونو کې يې اوسپنه موجوده ده او ددې ښار ګرد چاپيره يوه کلا موجوده ده (۸: ٦۸۵).

د باميانو ښار : د افغانستان له مشهور ښارونو څخه هغه ښار دی چې د اسلام د مبارک دين په لومړې هجري پيړۍ کې يو آباد او ودان ښار او د شيران باميان د محلي پاچاهانو پلازمينه وه. هيوان تسنګ په نهم هجري کال کې باميانو ته راغی، او ليکي : چې ددې ښار پايتخت د غره په لمن کې و، چې د غره په وادي د درې ميله په حدودو کې ساحه لري او شمال ته يې غرونه واقع دی. د باميانو خلک په اسلامي دوره کې د چنګيز خان تر يرغل پورې دلته اوسيدل، چې اسلامي فاتحانو د باميانو تر نيولو وروسته ، هغوی مسلمانان شول، دوی يې په خپل ځای پريښودل. ډير معبدونه د يعقوب ليث صفاري (۲۵۸ هـ ق ) تر دورې پورې باقي پاتې و، خو يعقوب ليث د باميانو تر نيولو وروسته يو شمير بتان بغداد ته واستول (۸: ٦۸٦).

د هيواد ډير ښارونه لکه پوشنج او باميان، افغانستان ته د اسلام د راتګ پرمهال د پاچاهانو پلازمينه و. ويهند چې د سند سيند په جنوب کې پروت دی. د اسلام د مقدس دين له رارسيدو مخکې د جيپال سيمه ايزه پلازمينه وه، خو د هغه له زوی انندپال څخه سبکتګين ويهند ونيو؛ د مروې ښار د مينځنيو پيړيو په تاريخ کې ځانګړی ځای لري او له ډير شهرت څخه برخمن و. خو د چنګيز خان د يرغل پرمهال دغو ښارونو ډير زيان وليد او ځينې ښارونه لکه د غلغلې ښار د خاورو سره خاورې شو. خو مونږ يې د بحث اوږديدو د مخنيوې په خاطر د نورو ښارونو د تاريخي پيژندنې څخه ډډه وکړه.

## ۸,۴. دولتي ادارې

هغه وخت چې د اسلام فاتحين له عربستان څخه په لومړۍ هجري پيړۍ کې افغانستان ته راورسيدل. دلته د محلي پاچاهانو له خوا زمونږ هيواد اداره کېده . هيوان تسنګ چې په نهم هجري کال افغانستان ته راغلې و ، د افغانستان د محلي واکمنانو په اړه ليکي:چې هغوی اداري او مالياتي

(c) ketabton.com: The Digital Library

تشکیلات درلودل؛ تنخوا لرونکي او ایله جاري عسکر، وزیران ، قاضیان او مامورین یې درلودل. دغو مامورینو د خپل ورځني ژوند د اړتیاو د پوره کولو په خاطر د ځمکې یوه برخه د اقطاع په توگه په خپل اختیار کې درلوده. کله به چې یو محلي پاچا مړ او پر ځای به یې بل پاچا مقرر شو، هغه دغه څلور دندې درلودې.

۱. د دولتي چارو اجرا کول.

۲. له خلکو سره مرسته؛ وزیرانو او مامورینو ته معاش ورکول.

۳. لایقو او ممتازو اشخاصوته د انعامونو ورکول.

۴. روحانیونو ته خیرات ورکول. د هیوان تسنگ له خبرو څخه معلومیږي چې په هغه وخت کې د افغانستان محلي پاچاهانو بشپړ دولتي تشکیلات درلودل،ځکه په دې هیواد کې دکوشانیانو د شاهنشاهۍ دوره تیره شوې وه،حتماً دهغوی اداري اودولتي تشکیلات دوی ته پاتې وو(۸:۵۱۰-۵۱۱).

کله چې مسلمانان افغانستان ته راورسیدل دلته ملوک الطوایفي نظامونه موجودوو. د اسلامي لښکرو د فتوحاتو پرمهال د هیواد اداري نظامي بڼه درلوده، ځکه والیان د لښکرو مشران وو. د یوې سیمې له فتحې وروسته ددې پر ځای چې په ښار یا فتح شوی کلي کې ژوند وکړي، په پوځي چونی (قرارگاه) کې به اوسیدل او له خلکو سره یې ډیرې اړیکې نه درلودې. اجرائیه او قضایه قوې به د اسلامي خلیفه گانو په خپل لاس کې وې. خلیفه به په خپله د نیول شویو سیمو لپاره حاکمان او والیان مقررول. کله کله به دغه والي د امیر په نوم هم یادیده، د خراج مسؤل به د مالي چارو مسؤل هم وو. دراشدینو خلفاو په وخت کې د ولایتونو والیان او حاکمان به له عربو څخه مقرریدل چې دوی ته یې سخت مسؤلیت درلود. دوی د دیني تعلیم په برخه کې هم مسؤلیت درلود. کله چې حضرت عمر (رض) یو حاکم مقرروه، نو ورته یې وویل:(( په خدای ج قسم دی چې زه تاسې د خلکو د ځورولو او د مال راټولولو لپاره نه ټاکم، بلکه تاسې ددین د تعلیم او سنتو د تدریس لپاره هلته لیږم. که چا له تاسو څخه ماته شکایت وکړ ، بیا به تاسې حتماً جزا ووینئ؛ پوه اوسئ، چې مسلمانان باید ونه وهئ، هغوی باید ذلیل نه شي، هغوی د ډیر وخت لپاره له کور او میرمنی څخه لیری ونه ساتئ، ترڅو په فتنه مبتلا نه شي. د هغوی حقوق مه اخلئ؛ تاسې حق خوړونکی او عیاش مه اوسئ؛ د خلکو له حاجت پوره کولو پرته بل کار

(c) ketabton.com: The Digital Library

ونکړئ...)). ټولو راشدينو خليفه ګانو خپلو حاکمانو ته دا لاندې هدايت صادر کړې و. دغه هدايت د حضرت عثمان (رض) له ليک څخه اخېستل شوی چې خپلو حاکمانو ته يې ليکلې و.

۱. د خلکو ساتونکي اوسئ، نه يوازې ماليه ټولوونکې. د تاسې له مقررې څخه د اسلامي حکومت هدف د خلکو سوکالي او هغوی ته خدمت دی؛ نه پيسې راټولول.

۲. عدالت تامين کړئ يعنې په حکومتي چارو کې په خلکو ظلم او ستم ونکړئ او د خلکو د خوښۍ په خاطر د حکومت حقوق هم تلف نه کړئ. له خلکو څخه د دولت حق واخلئ او څه چې د خلکو حق دي هغه خلکو ته ورکړی.

۳. د اهل ذمه خلکو د مال او حقوق ساتنه وکړئ، دوی د مسلمانانو په څېر د عدالت مستحق دي.

۴. له دښمنانو سره په معامله کې وفا وکړئ؛ له غدر څخه پرهيز وکړی؛ لومړی هغوی ته د اسلام دعوت ورکړې؛ که چيرې يې اسلام قبول کړ د ورور په څېر يې وګڼئ؛ او که چيرې يې سوله وکړه د ساتنې حق لري؛ که چيرې يې جګړه کوله باالمثل معامله ورسره وکړئ(۸:۵۲۱).

په هر ترتيب په افغانستان کې دولتي اداره متمرکزه وه، دغې ادارې به د بيلابيلو ملکي، نظامي او قضايي ادارو پواسطه کار کاوه. د ټولو په سر کې پاچا قرار درلود؛ وروسته تر پاچا صدراعظم د پاچا نائب په توګه د هيواد د چارو واک په لاس کې درلود. د ولايتونو لوی حاکمان په خپلو ساحو کې د پوره واک خاوندان وو او د مطلق العنانه واکمنانو په څېر يې په خپلو سيمو کې حکومت کاوه. ځينې وخت به قوي دولت قوي فيوډال له مينځه وړلو او په خلکو به يې خپل وفادار فيوډالان وګمارل. مذهبونو هم د دولت په ګټه کار کاوه. د مينځنۍ ښاري طبقې ټول وګړي د عمومي امنيت او د دولتي د قدرت غوښتونکي وو. دربار ډېر لوړ لګښتونه درلودل. په دربار کې به ګڼ شمير مرئيان، خدمتګاران، شاعران، افسران، طبيبان، ستوري پيژندونکي، فال کتونکي او مامورين موجود وو. دا ځکه چې هغه مهال د اسلامي هيوادونو ترمينځ د دربار لويوالی، عظمت ، تجمل او د پوهانو او علماو د عزت او پالنې په برخو کې يو له بل سره سيالي کوله. دا کار په اسلامي هيوادنو کې پخپله د علم او هنر د پرمختګ لپاره يو لامل و. ددغه پرتم، تجمل او لوی دربار د لګښت لپاره ډېر درانه ماليات د ملت پر اوږو باندې بار وو. ولايتي مامورينو به مرکزي دولت ته سوغاتونه او رشوتونه ورکول، ترڅو په خپل ځای پاتې شي. د دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولو لګښتونو بار د بزګرانو پر اوږو باندې وو. د پاچا دربار د روحانيونو او فيوډالانو ملاتړې و. هنرمندان او عالمان يې هڅول. د حکومت تکيه پر پوځ باندې وه. خلک به يې د رمو په بڼه ساتل؛ ټول اولس د حاکمې طبقې د زړه سوې، ترحم او شفقت په تمه و (۲۷: ۱۷۲).

پاچا دربار کې به لوی ګلداره چيني لوښي موجود وو، او قيمتي چينايي خولی ، غټی حاشيه دارې لونګی به يې په سروله. دوي به موزې په پښو کولې؛ د سروزرو ملاوستنی به يې تر ملا تړل او مهرونه به يې په فيروزې ګوتمی کې وو. د سورلې آس به يې د سرو زرو براق لرونکی و او ځينې وخت به په ملاوستنو او د آسونو په براقونو کې قيمتي دانې ټومبلې وې. د غزنوي دورې د شهزادګانو چينايي مرغلری ټومبلې او خوليو کې څلور بڼکې لګول شوې وې او ملاوستنې به يې هم ټول په ګاڼو ډک پسوللي وو. د دوی د آسونو براق به د سرو زرو او په ودونو کې به يې د آسونو نالونه هم د سروزرو وو. د شهزادګانو موزې به سرې وې او ښه خواړه لکه غوښه ، کباب، آش، ښوروا، پيره کي، حلوا، آچار، نقل ، ميوه، شراب، شربتونه، شيدی، کوچ، پيروې، پوځې هرسيه ( هغه خوراک چې د غنمو او غوښې له کوفتې، غوړيو او مصالې څخه جوړ) او داسې نور شيان وو. په لويو مجلسونو کې به بيلا بيل دسترخوانونه، بيلا بيلو ځايونو کې، دبرخه اخېستونکو د بيلابيلو درجو لپاره هواريدل. د دسترخوان مينځ کې به په يو لوښې کې حلوا ايښې وه. د ورې غوښې به وې، بيا به شراب وويشل شول او سندرغاړو به سندرې او ټوکيانو به ټوکې پيل کړې. د دولت مهم دفترونه مالي اداره، رسايل، جاسوسي ، نظامي او قضايي ادارات وو. مالي اداره خپله د صدراعظم له خوا څارل کېده . د جاسوسی اداره د پاچا تر نظر لاندې وه. ښځو او نرو جاسوسانو به د هيواد دننه څارګري کوله. د هغوی مخابرات په ځانګړو شفرونو سره (معما ډوله) په امسا کې د آس د زين په لمڅې کې، د نعلونو دننه او نورو ځايونو کې اېښودل کېدل. د بريد ديوان خپل ډاګونه د څاروې د سورلې پواسطه ترسره کول، چې د دولت د ډيری پاملرنې وړ وو، او غزنوي عصر کې دوی ته د (( ديو سواران)) نوم ورکړ شوی و. دوی کولی شول چې درې شپو- ورځو کې له غزني څخه نيشاپور ته او په اوو شپو ورځو کې له نيشاپور څخه د خوارزم پلازمينې ته ورسيږي. دوی د سفر په ترڅ کې له خوراک او ډيرې لږې دمې کولو پرته نور څند نه کاوه او د اړتيا پرمهال يې کولې شول له هرځای څخه به يې چې زړه و تازه دم آس اخېستلای شو. ديو سوارانو به په مهمو خدمتونو کې له خپل هر ځل سفر څخه څو زره درهم په بخششي ډول له دولت څخه اخېستل. عادي مخابرات بيا لږ څه ورو و. نظامي مخابرات به د جګړې له ډګر څخه د هغو سورليو

(c) ketabton.com: The Digital Library

په واسطه ترسره کېدل چې تر پلازمینې پورې یا تر آس الحرکات پورې به منزل په منزل د انتظار په حالت کې و او حاضر باش به ولاړ و. دوی به بې له ځنډه لیکونه له یومنزل څخه بل ته لیږل او بیرته به خپل ځای ته راستنیدل (۲۷: ۱۷۴).

قضایي ادارو به قضیې د اسلامي حقوقو سره سم په ډیر ګړندی ډول په یو پړاو کې پرته له استناف څخه فیصله کولې. وزیران او لوړ پوړې چارواکې هر یو په لیکونو کې د غټو القابو او عنوانونو لرونکي وو. لکه الشیخ العمید، الشیخ الجلیل او نور... . لښکر له دوو برخو څخه جوړ و، یوه یې سپاره او بله یې پلی؛ په دوی کې یو شمیر یې دایمي و، یو شمیر یې اجیر او مرئیان وو. د جګړې پر مهال به حشري پوځ ( د هیواد د ډیرو لویو خانانو اړوند قطعات) هم ورسره یو ځای کېدل. سرتیرو سره به غشي، لیندې، نیزه او منجنیق وسلې وې؛ اور اچونکی بمونه یې هم کارول چې له نفتو څخه به جوړ وو. د جګړې په ډګر کې پیاده یا پلې سرتیري به مخکې وو او ورپسې به سپور پوځ روان وو. که چیرې به ښځې پکې وې هغه به د پوځ په مینځ کې وې. د عسکرو تجهیز کول د عارض په لاس کې وو. د پوځ اعاشه یا خوراک د لارې په ترځ کې به د سیورسات په نامه له خلکو څخه ټولیدل او ځینې وخت به له پوځ سره یوځای آذوقه هم روانه وه. د لښکر لوی افسران د اقطاع لرونکی وو، چې د قانون له مخې یې میراثي بڼه درلوده. د مجرمینو سزاګانې بیلابیلې وې لکه بندیتوب، په لرګیو وهل او په دار ځړول، خو په افغانستان کې یې زیاتره په بندیتوب اکتفا کوله. په بندي خانه کې فرش، رڼا او د ژمي تودوخه نه وه، ځینې وخت به یې لاسونو او پښو کې زنځیرونه وراچول. د دولت روش ډیر ویروونکی و او له ټولنې څخه یې بې قید و شرطه اطاعت غوښتنی لپاره به کله ناکله به کوچنۍ ګناه دپاره ډیره سخته سزا ورکول کېده ، چې د دغې سزا په تطبیقولو سره به یې نور خلک ویرول. د بیلګې په توګه امیر سبکتګین غزنوي په دې ګناه باندې چې په بست کې یو پیلوان په قصد سره خرما له ټاکلی ونې پر ځای له بلې ونې څخه خوړلی و، هغه یې په هماغه ونه کې له ستونې ځوړند کړ او ټولو خلکو ته یې وښوده ترڅو ټول خبر شي. غزنوي سلطان مسعود هم په کرمان کې خپل یو تنخواه خور په دې ګناه چې له رعیت څخه یې یوه پیسه د بیې له ورکولو پرته اخېستې دی د ښار په دروازه باندې ځوړند کړ، د هغه آس یې هغه سړي ته ورکړ چې ظلم ورباندې شوی و. د دولت د قهر لاندې راغلي وګړي ټولې کورنۍ ، خپلوانو او خدمتګارانو به خپلې ټولې شتمنۍ له لاسه ورکولې او دوی به ټول ټکول کېدل. دغو دولتونو په دغه ډول تشکیلاتو او اداري سره له سوداګریزو اجناسو، د بڼونو او ځمکو له حاصلاتو، د څارویو له حاصلاتو،

(c) ketabton.com: The Digital Library

له صنعتکارانو او کسبه کارانو او له غیرو مسلمانانو څخه مالیات، عوارض او د سر مالیه اخېسته. هغوی به دغه ټوله شتمني د دربار په لګښتو د ملکي او نظامي مامورينو په معاشونو، په ودانيو او ترميماتو، د روحانينو په مستمري تنخوا، د مدرسينو په معاش، د زندانونو په لګښت، د اوبولګولو په پرمختيا او د لارو په لګښتونو او نورو برخو کې مصرفول. خو دغه اداري تشکيلات او جوړ ښارونه او ودانۍ د چنګيز خان د ناروا يرغل پرمهال ټول له مينځه ولاړل (۲۷:۱۷۵).

د غور اسلامي امپراتوري چې د پراختيا په لحاظ يې په سيمه کې سارې نه درلود، د علم، فن او تجمل د پرمختګ لوړ پړاو ته رسيدلې وه. د هيواد په مختلفو ښارونو کې يې اداري، سوداګريز، ټولنيز او فرهنګي فعاليتونه سرته رسيدل، مګر د چنګيز خان د وحشي يرغل په پايله کې له حد پورته خراب او ويجاړ شول په تيره بيا د غور په ولايت کې دغه ويجاړۍ د نورو ځايونو په پرتله ډيرې وې. ځکه د غور، غرجستان، تولک ، خيسار او سفيرو د خلکو او قومونو  د خپلو نيکونو په څېر د چنګيز خان په مقابل کې په ګډه لکه  پښتنو ، تاجکو، جمشيدي او تايمني په ميړانه دفاع کوله او چنګيز خان لښکرو ته يې څو ځلې ماتې هم ورکړه، خو چنګيز خان د غوريانو ټول آباد ښارونه وران کړل، يوازې  جام منار، د هرات جامع مسجد او ځينې نور ترې خوندي پاتې شول. دا دوه پاتې شوی ودانۍ اوس له څو سوه کلونو وروسته هم د غور د مدنيت شاهدي ورکوي.

## ۸,۵. مذهب، کلتور او تصوف

په افغانستان کې د اسلام د مقدس دين د  خپرېدو سره سم مخکني دينونه ټول له مينځه ولاړل. په افغانستان کې د لومړي ځل لپاره د خپلواک اسلامي دولت له جوړيدو سره سم، د اسلام مقدس دين د افغانستان د خلکو رسمي دين شو چې په خپرېدو سره يې په افغانستان کې ملي او سياسي وحدت تامين شو؛ په افغانستان کې د اساسي قانون له مخې ټولې پريکړې د حنفي مذهب له اصولو سره سم کيږي؛ شافعي مذهب هم په افغانستان کې پيروان لري. د دواړو مذهبونو پيروان خپلې ديني چارې سرته رسوي.

د اسلام مقدس دين په افغانستان کې بوديزم او زردشتي دينونه ختم کړل او د خلکو تربيت يې په مسجدونو کې پيل کړ  وروسته افغانانو د هند په نيمه وچه کې د اسلام د مقدس دين په خپرېدو کې ستره ونډه لرلې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کلتور: د اسلام د مقدس دين له راتگ وروسته، د افغانستان کلتور يوه نوې بڼه غوره کړه؛ د اسلامي تعليماتو او اصولو پر بنسټ د ژوند په ټولو برخو کې ژور بدلون راغی او پخوانيو ناوړو رواجونو ته يې د پای ټکی کيښود. د هيواد د بيلابيلو مليتونو ترمينځ يې وحدت تامين کړ. افغانستان، ماوراالنهر، ايران، مصر، المغرب او اندلس د اسلامي تمدن ستر مرکزونه وو. افغانستان کې مدرسې جوړې شوې، د افغانستان خلکو به د ديني عالمانو درناوی کاوه؛ عالمانو ته يې قيمتي سوغاتونه ورکول، ددې درناوې له امله په دغو هيوادونو کې اوچت پوهان او عالمان راڅرگند شول. د سلطان محمود غزنوي د واکمنۍ پرمهال په افغانستان کې ديني مدرسې جوړې شوې، چې په هغو کې تقريباً ددرې زرو تنو په شاوخوا کې شاگردانو ديني زده کړې کولې، بيا يې د هند په نيمه وچه کې د اسلام د مقدس دين په خپرېدو کې ونډه واخيسته. د هيواد طبيبان او د ستورو پوهان تل په دربار کې اوسيدل. د خلفاو، وزيرانو، پاچاهانو او اميرانو مجلسونه به د علمي بحثونو او مناظرو ځايونه وو. د اسلامي هيوادونو مهم متمدنو ښارونو لکه بغداد، نيشاپور، دمشق، موصل ، حلب ، بلخ ، بخارا، قاهره او نورو د روم، اتن، بيزانس اسکندريې، انطاکيه او نورو ښارونو ځای ونيو. لويديځي نړۍ د اسلامي عالمانو اثار په لاتينه ژبه وژباړل چې په دوی کې د ابن سينا او ابن ماجه اثار څو ځلي وژباړل شول. د اسلامي دورې ستر عالم فارابي په ۸۷۳ ز کال کې زيږيدلې او په ۹۵۰ ز کال په سوريه کې مړ شو؛ ابن الرشيد د اندلس په قرطبه کې زيږيدلې دی او په مراکش کې مړ شو، چې د خپل وخت ډير نامتو حکيم و. ابوالحسين شهيد بلخي، بلخي ابن سينا چې په ۹۸۰ ز کې زيږيدلې او په ۱۰۳۶ ز کې مړ شو، چې د خپل عصر يو جامع عالم و. دغه اسلامي عالم په تفسير، طب، تصوف، اخلاقو، کيميا او لغت کې په دري او عربي ژبو کې اثار وليکل. د هغه د شفا کتاب په طب او قانون کې همدارنگه د نوموړی نور کتابونه لکه ارشادات، نجات تر اولسمې پيړۍ څو ځله په لاتيني او نورو ژبو باندې وژباړل شول (۲۷: ۱۸۱).

د اسلام د سپيڅلي دين په لومړيو کې د ټول افغانستان د خلکو لباس کې د کابل، زابل ، تخار، غور، هرات، بلخ او جوزجان هغه لباس ته ډير نږدې و، کوم چې د کوشانيانو په انځورونو او مجسمو کې او د تخار او باميانو د محلي اميرانو لباس دی. د هغوی د لباس کميس تر زنگنونو پورې اوږد ؤ، چپن دار لستوڼی، گريوان او پرتوگ يې درلود، چې اوس هم د افغانستان په ځينو سيمو کې رواج دی. شال به يې پر اوږو اچولې و. دوی د اسلام د عصر په لومړيو کې ملوک الطوايفي ژوند درلود. په سياسي لحاظ غير متمرکز و، محلي ملاکانو او حاکمانو په هر ځای کې په مستقل ډول حکمراني کوله. د يوې

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیمې د خلکو ژوند له بلې سیمې سره سیمه ایز تفاوت درلود. د دوی بل رواج دا و چې کله به دوی د جګړې لپاره تیاري نیولو، یا به حشر و، دوی به ډول واهه او خلک به یې خبرول؛ او کله به چې پاچا بیرون حرکت کاوه، دوی به د نورو الاتو سره ډول واهه او د خلکو د راټولولو لپاره به یې هم له ډول وهلو څخه کار اخیسته.

د افغانستان د فرهنګ د انتقال لپاره یوه مهمه وسیله سوداګري وه. افغانانو د وریښمو په مشهورې لارې د کاروانونو په وسیله له هند او چین څخه سوداګریز توکي عراق، عربي هیوادونو، مصر او روم ته تلل، افغانستان د فرهنګونو د یوځای کېدو نقطه وه. د افغانستان د برمکیانو کورنۍ د هند د علمي او فرهنګي اثارو په انتقال کې د افغانستان له لارې عربي نړۍ ته ډیرې هلې ځلې کړي دي. د بلخ د نوبهار معبد د هند، چین او افغانستان د بودایانو د ټولیدومرکز و، نو ځکه به د هند راجګان او د چین خاقان ددې معبد زیارت ته راتلل او هلته به یې عبادت کاوه. په داسې حال کې د بلخ برمکیانو د چیني او هندي ادب او علم سره بلدیت پیدا کړ. دغه کورنۍ د اسلام له قبلولو وروسته د علومو او فرهنګ په انتقال کې فعاله ونډه واخیسته. هندي طبیبان او عالمان یې د بغداد دارالترجمو اوشفاخانو ته وغوښتل څو د هندي دوا ګانو په تطبیق کې مرسته وکړي. ابن ندیم په ۳۷۷ هـ ق کال په دې باره کې لیکي : د عباسي حکومت په دوره کې هند ته ډیره پاملرنه وشوه چې په دې کار کې د یحیی بن خالد برمکي او د هغه کورنۍ د هند حکیمان او طبیبان بغداد ته راوغوښتل. (۸: ۷۳۴).

تصوف : تصوف یو عاطفي او د سالک د داخلي حالت ښکارنده ده. نو ځکه نشو کولی د نورو جامدو علمي مقالو، ساینسي تعریفونو او د فلسفي مفاهیمو په شان ورته یو وچ او ټاکلی تعریف وکړو. به بله وینا تصوف یوه عرفاني او معنوي درجه ده چې د هستی، ژوند او کایناتو په هکله د حقیقت موندلو لپاره په ټاکلو لارو او ځانګړو دستورونو ولاړه ده . دا د عرفان یو پراخه، بې پایه، ژور او مجذبوونکي کشش دی چې د هغه خاص حالت په الفاظو نشي القا کیدای، مګر بیا هم د تصوف او عرفان اصطلاحات لکه صوفي، سالک، طریقت، درویش، د سلوک مقامات، د تصوف حالات او درجې او نورو معاریفو له خوا ښودل شوی دی. په بل عبارت تصوف یوې لوړې انساني درجې ته رسیدل دي، د صوفي ژوند منظم دی اوهره ګړۍ یې با خبره او د قناعت او روحي لوړوالي په لرلو سره له ظاهري،مادي شتمنیو،دنیایي زرق وبرق څخه بې نیازه ده.عبدالرحمن بابا په دې اړه وایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

خرقه پوشو په خرقه کې دې موندلې

هغه حظ چې په دنیا یې دنیا دار کا

خو باید هیره نه کړو چې تصوف یوازې په اصطلاح ملنګي، فقر او د دنیا پریښودل نه دي، بلکې تصوف یو ژوره دیني، ځانګړي فلسفه او نړۍ لید دی. په دې برخه کې ابن خلدون ویلي دي. : سالکان او متصوفین ځان د الله عبادت ته وقف کوي د تصوف طریقه دغه طرز د اصحابو کرامو دوره کې هم په همدې معنې تلقي کېده ، خو کله چې د هجرت په دوهمه پیړۍ کې او بیا وروسته تر هغه یو شمیر مسلمانانو له حده زیاته، مادیاتو ته مخه کړه، هغه شمیر چې به په عبادت بوخت وو، صوفیان وبلل شول. تصوف یوازې د دنیا ترک کول او پریښودل نه دي، بلکې زاهد دنیا ته د آخرت په تمه شا کوي(۴۴ : ۴-۵).

تصوف یو ضمیري او وجداني حالت ده ، چې فروتن، متواضع خلک کوم چې په دغه لاره کې د تلو پر وخت د خدای ج د واجب الوجوب ذات او خالق پروردګار سره د روحي وصال او نژدې والي په خاطر تیروي خوند ورڅخه اخلي. تصوف په فکري لحاظ ځانګړی اهمیت لري، خو په افغانستان کې لا تصوف په لومړۍ هجري پیړۍ کې هم موجو وه، دغه فکري حرکت د هیواد په فرهنګ کې اغیزه درلوده. د صوفي کلیمې په اړه مختلف نظریات موجود دي، چې وړیني (پشمي) جامې یې اغوستی، ځینې وایي چې صوفي له صفا یا صفه (اصحاب صفه) څخه مشتق ګڼي. ابوریحان البیروني (مړینه ۴۴۰ هـ ق) تصوف د SOPH سوف څخه اخېستل شوی لفظ بولي چې د حکمت او پوهې په معنی ده. فیلسوف د حکمت خاوند ته وایي (۸: ۸۹۹-۹۰۰).

ابن عجیبه (رح) وایي: تصوف د خدای ج ته توجه ده، ددې لپاره چې الله ج پرې راضي شي، تصوف د احسان مقام دی که څه هم ته الله تعالی نه وینې خو الله تا وینې ، په تصوف کې اصلاح د ظاهر او باطن دواړه واجب دي (۴۷: ۷-۸).

په لنډ ډول ویلې شو چې د تصوف نومونه په لومړۍ هجري پیړۍ کې رامینځ ته شوې ده؛ د تصوف د طریقې له لوی شخصیت حسن بصري (۲۱-۱۱۰ هـ) څخه روایت دی : د طواف پر مهال مې یو صوفي سړی ولید، یو څه شی مې ورکاوه، خو هغه وا نه خېست او ویې ویل چې ماسره څلور دانګه (د

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو درهم شپږمه برخه) شته، دا زما لپاره بس دي. ډيری ليکوالان په دې آند دي چې صوفي له اهل الصفه يا د صفې اصحاب څخه اخېستل شوی کليمه ده. اصحاب صفه د حضرت محمد ص هغه ډله وه چې جامې به يې وړينې وې او د نبوي جومات په يوې څنډه کې يې ځانونو ته ځای ټاکلی و، وړينې جامې يې د تواضع ، حلم او فقر نښه وه. نو ځکه اوس عابد د رياضت ګالونکی د صوفي په نوم بلل کيږي، ځکه هغوی وړينې جامې د نفس د خوارولو، تواضع او فروتنۍ لپاره اغوستلې تر څو دا جامې د هغوی د ادب او تواضع استازيتوب وکړي (۴۴: ۳۱-۳۲).

په پښتو کې ځينې ټپې د پښتون قام د ذوق يو داسې سندريزه ترجمانه هستي ده چې د ټولنيزو نفسياتو او فطرت د مزاج اظهار پکې پروت دی دغه لاندې ټپه د خدای رحمت ته سړی اميدواره کوي.

څـــانــــګه به نن سبا کې ګـــــل شي

ما يې په سر کې سرې غوټۍ ليدلې دينه

په دې لاندې ټپو کې تزکيه او تصوف هم په بيلابيل رنګونو انځور شوي دي.

په مـــــــــــــادې ځان د انځر ګل کړ

بوی دې راځي ګل دې په سترګو نه وينمه

زما په سترګــــــــــــو کې دې کور دی

چې چيرته ګـــــــورم هلته ته ښکارې مينه

په دې مسرو کې تصوف او رومانيت هم شته او د ځينو خلکو لپاره مجازي معنی هم په دې ټپه کې شته . په دري ژبه کې د علامه اقبال په دې شعر کې لولو:

ګر نيايي صحبت مــــــرد خبير

از آب و جد انچه من دارم بگير

(c) ketabton.com: The Digital Library

پسر رومی را رفـــــیق راه ساز

تا خدای ج بخشد تر سوزو گـداز

زانکه رومي مغز را داند ز پـوست

پای او محکم فتد درکوی دوست (۳۸: ۳۴-۳۵)

اسلامي تصوف په مسلمانانو کې اغيزمن پاتې شو. ددې اغيز دومره زيات شو چې په اسلامي هيوادونو کې به حکمت د تصوف د بنسټ په توګه په پام کې نيول کېده . ابن سينا تصوف داسې تعريفوي: حقيقي صوفيه طريقه هغه ده، چې د خپل خاوند علی شانه معرفت ته سړی ورسوي. د تصوف په لار کې د افغانستان صوفيانو لکه ابوسعيد ابی الخبير او عبدالله انصاري په دې لار کې ډيرې هڅې کړي دي ( ۲۷: ۱۹٦).

مذهب: د افغانستان خلک د مسلمانيدو وروسته دوه مذهبونه لري، يو يې شافعي مذهب او بل يې حنفي مذهب دی، چې د حنفي مذهب پلويان زيات دی. خو د افغانستان د نفوسو يو سلنه خلک اهل هنود دی. د نورو مذهبونو پيروان په افغانستان کې نشته، ځکه زردشتي او بودايي دينونه د اسلام د سپيڅلي دين په راتګ سره له مينځه ولاړی اوس مهال د افغانستان ټول خلک مسلمانان دي او د اسلام سپيڅلي دين د افغانستان رسمي دين دی.

## ۸,٦. ښوونه او روزنه : هنر او ادب

په افغانستان کې د اسلام د مقدس دين له خپرېدو وروسته تر ډيره وخته عربي ژبه د افغانستان رسمي ژبه وه، تر هغې چې د يعقوب ليث صفاري د واکمنۍ پرمهال دري د دولت رسمي ژبه شوه. خو په ډيرو سيمو کې عربي ليکدود رواج وموند. د افغانستان نورې ژبې يې هم ترخپل نفوذ لاندې راوستې، خو دري ژبې پرمختګ وکړ، ځکه له يعقوب ليث صفاري وروسته د افغانستان ټولو واکمنانو په دربار او دولتي چارو کې له دري ژبې څخه استفاده کوله. يو مهال راغی چې افغانستان د هند لرغونې ژبه له بودايي دين سره يو ځای له هندوستان څخه واخېستل. د غزنويانو د واکمنۍ پرمهال هندوستان ته د اسلام د مقدس دين سره يو ځای، دري ادب هم ورسيدل. دا يوه نظامي عمليه نه وه، بلکې د افغانستان د علماو او اديبانو کاروان يې د ځان پسې درلود. په همدې دليل زر کاله مخکې لاهور د

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانستان فرهنګي مرکز وګرځيد. د افغانستان شاعرانو هم لکه فرخي او نورو د دري ادب هلته وليږداوه. د افغانستان ژبې او فرهنګ د هندوستان په لوی هیواد کې خپلې ودې ته دوام ورکړ. د چنګيز خان يرغلونه او ويجاړۍ په افغانستان کې ددې لامل وګرځيدې، چې نور پاتې علمي، سياسي او نظامي خلک هم هند ته مهاجر شي. په همدې دوره کې بهاوالدين، امير روحاني، منهاج السراج جوزجاني، شيخ عثماني ترمذي، حمزه السفزايني، کاشف هروي، محمد عوفي او نور ټول په هند کې د دري ژبې او ادب مخکښان وو. تاريخ فيروز شاهي او فتوحات فيروز شاهي کتابونه همدا مهال اعزالدين خالد خاني، ضياو الدين او په خپله د فيروز شاه له خوا په همدې مهال تاليف شول. د سلطان سکندر لودي په وخت په هند کې دري خط او ژبې پراخوالي وموند. د پنجاب حاکم د خان لودي زوی غازي خان يو کتابتون پرانست. يو شمير پوهانو لکه سيد محمد خاوري چې خاور نامه لري، قاضي محمد حسين او مير سيد محمد د تنوير کتاب لرونکې ټولو د اسلامي فرهنګ او دري ژبې په غوړيدو کې خدمتونه وکړل. د هند بابري دولت يو شمير پوهان او شاعران وهڅول. هغه مهال چې افغانستان ته کاغذ لومړی له چين څخه وروسته له ماورالنهر په ځانګړي ډول له سمرقند څخه وارديده، چې د يوې تختې بيه دوه درهمه و (۲۷: ۲۰۲).

د افغانستان فرهنګ او ادب له اسلام څخه مخکې دورې په پرتله د اسلام د مقدس دين له خپريدو وروسته ډير پرمختګ وکړ او په لسمه پيړۍ کې زيات شمير ادبي او علمي اثار رامينځته شول. په يوولسمه او دولسمه پيړۍ ددغه پرمختګ چټکوالې دومره زيات و، چې افغانستان د ژبې او ادب له پلوه د نړۍ د پرمختللو هيوادونو په لومړۍ قطار کې ودريد. په مرکزي ښارونو او پلازمينه کې کتابتونونه موجود وو. غزنوي ، ساماني، سلجوقي، غوري او خورازمي دولتونو ، ټولو دري ادب او ژبې د پرمختګ په لاره کې لوی خدمتونه وکړل. سره له دې ، چې د ټولو اسلامي هيوادنو عالمانو بين الاسلامي ژبه عربي وه. د افغانستان علماو هم خپل علمي اثار په عربي ژبه ليکل، حتی د افغانستان شاعرانو هم په عربي ژبه شعر ويلې لکه بشار بن برد تخارستاني، امير عبدالله طاهر، ابوالفتح بُستي، حسن ميوندي او نور... او په دغه وخت کې دري ژبه هم پرمختګ وکړ. په همدغه مهال په ديني، ادبي ، تاريخي ، جغرافيايي ، حکمت او عرفان په برخو کې ارزښتمن اثار وليکل شول. لکه د بلخي عجايب البلدان، د ابو منصور مسعودي مروزي د نثر او نظم شهنامې، د طبري د تاريخ او تفسير ژباړه ، د هروي حقايق الادويه، د جوزجاني حدود العالم، د بروني مسالک الممالک، د بيهقي ، ګرديزي او سيستاني تاريخونه، د ابن

(c) ketabton.com: The Digital Library

سینا دانش نامه، د بروني التفهیم، د کلیه او دمنه ژباړه ، غزنوي کشف المحبوب، د بلخي مقامات حمیدي، چهار مقاله عروضي، د ناصر خسرو سفرنامه، زادالمسافرین او وجه دین، وطواط حدایق السحر ،د نظام الملک سیاست او نور منظوم دري اثار دومره زیات دي چې دلته د ټولو نومونه لیکل یو ستونزمن کار دی، یوازې د غزنویانو په دربار کې څلور سوو تنو شاعرانو ژوند کاوه (۲۷: ۲۰۳).

د سلطان محمود غزنوي د واکمنۍ پرمهال د بل کوم هیواد پلازمینه د افغانستان په څېر د شاعرانو د راټولیدو ځای نه وو. ځکه چې سلطان محمود غزنوي شاعران او عالمان هڅول، هغوی ته یې انعامونه ورکول او ستایل یې، د بېلګې په ډول د دري ژبې لومړنی ملک الشعرا عنصري بلخي د سلطان محمود غزنوي د واکمنۍ پرمهال په خپل دسترخوان باندې د سرو زرو او سپینو زرو لوښي استعمالول. سلطان مسعود یو شاعر ته د یو ملیون درهم په ارزښت سوغات وباخښه. په افغانستان کې مشهورو شاعرانو لکه دقیقي، عنصري ، حنظله بادغیسي، فرخي سیستاني، سنایي غزنوي، اسدي، خیام او نورو ژوند کاوه او مهم اثار یې ولیکل. د افغانستان د ادب بنسټ د مینې ، پاکۍ ، احسان، زړورتوب، خدای پالنې او دیني اصولو پر بنسټ ولاړ و. په هر حال د اسلام له پیله بیا د غزنویانو تر وخته دري ادب پرمختګ وکړ. په دې ژبه کې عرفاني او فلسفي معناګانو ځای ونیو، چې ژبه یې لابډایه کړه. خو په افغانستان کې د ناوړو تاریخي پیښو لکه د علاوالدین جهانسوز پیښه ، د چنګیز خان ویجاړونې او د ګوډ تیمور بي حده مظالمو په پایله کې ډېر تاریخي اثار له مینځه ولاړل. کوم اثار چې ددې پیښو له زغملو وروسته پاتې دي، د ډېر لوړ ارزښت لرونکي دي. خو د بده مرغه د معمارۍ، انځور ګرۍ او فلز کارۍ ډیری اثار هم له مینځه تللي  او کوم اثار چې لاس ته راغلي ، زمونږ د هیواد او ادب ښه راښئي. د دغو اثارو په ډله کې د بُست نامتو تاق، د بامیانو د غلغلې ښار ، د غزني څلی ، د دولت اباد څلی ، د منار جام، د هرات منار او جامع مسجد، یو شمیر حکاکي او تورل شوی مرمر، ګچ کاري، د لرګیو څخه جوړ شوي انځورونه، د لشکری بازار انځورونه، د کابل موزیم، فلزي وسایل او د خوني لوښي اثار دا ټول د دولسمې پیړۍ تر پایه پورې د افغانستان د فلز کارۍ ، انځور ګرۍ، تورل شوی ډبرې ښکلي بیلګې د کابل موزیم کې اوس هم  شته ، لکه په کودوړو (خټینو لوښو کې انځورونه) کې رسم شوي انځورونه چې د ساسانیانو له  دورې څخه را پاتې دي او بیلابیلې سکې هم د پام وړ ارزښت لري (۲۷: ۲۰۴).

د افغانستان د هغه وخت موسیقي، چنګ، رباب، ډول، سورنی او اتڼ و، چې دوی پرې  خپله خوښي لمانځله او ګډا ګانې هم کېدلې. په افغانستان کې ظریفه او ښکلی صنایع  د مدنیت د نورو

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیلگو غونډې تر دیارلسمې پیړۍ پورې د پرمختګ په حال کې وې. هغه وخت په مسجدونو او لویو ودانیو باندې رواقونه، ګومبدې او تاخچې (تاخونه) جوړول، چې د ذوذنقې بڼه یې درلوده. به جوماتونو کې د مرمرو ډبرې د مربع او مسدس په بڼه استعمالیدلې او پخې خښتې هم کاریدلې؛ دیوالونه په ګچو ښکلی کېدل. بیا به یې په ګلانو او د هغوی په پاڼو په هندسي شکلونو ښایسته کېدل. په څنډو کې به یې به کوفي خط لیکنې کېدلې؛ کوټې به په کړوړو ګلانو سینګارېدې او د لاجوردو کرښې وربانديې ایستل کیدې. چوترې، د اوبو حوضونه، دالانونه او نور په رنګونو او انځورونو ښکلی کېدل. د حرمسرایونو او انګړونو لپاره اوچت اوچت دیوالونه به له خټو څخه په خام ډول جوړیدل. د افغانستان د ودانیو سبک د نورو اسلامي هیوادونو سره توپیردرلود. د بیلګي په توګه د غزنویانو په دوره کې له سلطنتي ماڼیو وروسته جوماتونو ته ډیره پاملرنه کېده؛ چې د غزنویانو جامع جومات ددې جوړونو ښه نمونه ده. دې جومات لوی کتابتون هم درلود. د غزنویانو په دوره کې د فلزکارۍ صنعت هم پرمخ تللی او ښکلی وو، به دغه دوره کې چې پورته یې یادونه وشوه، د افغانستان موسیقي هم پرمخ تللی وه او د چنګ رباب، دبلې، طبلې، شپیلی، دنبورې او نور د ساز سامان الات موجود و. ګډا او اتڼ هم عمومیت درلود. خو د خلکو دغه ذوق په دیارلسمه پیړۍ کې د چنګیز خان د یرغل له امله کلکه ضربه ولیده خو له مینځه ولاړ نه شو (۲۷:۲۰۵).

ښوونه او روزنه په افغانستان کې له اسلام څخه مخکې هم رواج درلود. په آریانا کې ویدې سرودونه او بیا  وروسته اوستایې دین مینځ ته راغی. زردشتي دین هم په خپل تبلیغ او تعلیم کې مشغول و. د زردشتي دین شعار ښه وینا ، ښه عمل او ښه کړنه وه. په زردشتي دین کې د ارسطو منطق ، فلسفه، نجوم، یوناني طب او نور تدریسیدل. په هغه وخت کې د پاچاهانو دربارونه به ګڼو د ونو لاندې ول او د عبادتونو په ځایونو کې به تعلیم کېده . د لرغوني اریانا په شرقي برخو کې د بودایانو دین او قانون رواج درلود او د اسلام تر راتلو پورې یې دوام وکړ. د اسلام مقدس دین د پخوانۍ فلسفې، علم ، نجوم او منطق پرځای خلک د اسلامې علومو لکه تفسیرشریف، حدیث، فقه، صرف، نحو، ادب، تاریخ، عقاید او طب زده کړو ته هڅول. کله چې لومړی ځل اسلامي لښکرې د احنف بن قیس په مشرۍ د هجرت په ۲۲ کال افغانستان  ته راغلې، او دې لړۍ ادامه پیدا کړه نو د امویانو د خلافت پر مهال د افغانستان په ځینو سیمو کې د اسلام دین خپور شو؛ هغه مهال د تدریس ځایونه یوازې جوماتونه وو؛ مدرسې هم په جوماتونو کې وې. خلک به د دینې علومو د زده کړې لپاره لیرې ځایونو ته تلل او له راتلو وروسته به یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

مدرسې جوړولې. د افغانستان په لویو ښارونو کې هم مدرسې او کتابتونونه جوړ شول. د سامانیانو، غزنویانو، سلجوقیانو، غوریانو او خوارزمشاهانو په وخت کې اسلامي تعلیماتو پرمختګ وکړ. اسلامي عالمان لکه خواجه عبدالله انصاري، امام فخرالدین محمد رازي، امام غزالي ، مولانا عبدالرحمن جامې او نور په اسلامي نړۍ کې پیدا شول او د اسلامي تعلیماتو په برخه کې یې پوره ونډه واخیسته(۱۰:۳۴-۱۱).

له اسلام د مخه هم افغانستان ځانګړې ښوونه او روزنه درلوده. چې د مذهبي، سیاسي او اقتصادي اغیزو لاندې رامینځته شوې وه. په افغانستان کې د زردشتي دین تعلیمات د کرنې، مالدارۍ او ښاري ژوند پر بنسټونو ولاړ وو. دوی د اهورامزدا او اهر یمن ترمینځ مجادله په حقیقت کې د رڼا او تیارې ، د خیر او شر ترمینځ مجادله وه. په دوزخ او جنت یې عقیده درلوده. د افغانستان په ښوونه او روزنه باندې د ایران، یونان، هند او مرکزي اسیا د هیوادونو اغیز موجود وو. ځکه چې افغانستان د مینځنۍ اسیا په څلور لارې کې موقعیت لري. په اسلامي دوره کې د افغانستان ښوونه او روزنه نوې شوه او اسلامي ښوونې او روزنې د پخوانۍ ښوونې او روزنې ځای ونیو، خو دغه ښوونه او روزنه په یوه عمومي چوکاټ کې لکه د کلتور په شان ددین تابع وه. په اسلام کې ښوونه او روزنه د حلالو او حراماو مذهبي دودونو پیژندل وو. دیني تعلیمات په کور کې پلار، واعظ په جومات او بازار کې ، د کار لارښود استاد هټۍ کې، ښوونکې به په مدرسه کې مرشد به په خانقا کې، په دربار کې به اشرافو، د دولت په اداره کې به محاسب او منشي د ښوونې او روزنې دنده ترسره کوله. خو توپیر دا و چې په مدرسه، کور او هټۍ کې د اوریدلو په طریقه ښوونه ترسره کېده ، چې شرعي احکام او ورسره به د لویانو د درناوې ښوونه هم کېدله. د روحانیونو او دولت اطاعت ته به خلک هڅول کېدل. د سختیو په مقابل کې به صبر او تحمل درسونه ورکول کېدل. زده کوونکو به لاسي صنعت هم زده کاوه. د دربار د اشرافو د تدریس ځای و. هلته به اداري اداب، تشریفات، معاشرت او رسمي زده کړه ورښودل کېده . په رسمي دفترونو کې به یو شمیر زده کونکي د انشاء، محاسبې او دفترداري په چارو کې روزل کېدل، چې وروسته به بیا د دولت په ادارو کې په کار ګمارل کېدل. ښکلی خط، عربي او دري لیک د هغوی لپاره د لیاقت معیار و(۲۰۷:۲۷).

په جوماتونو او مدرسو کې نظري ښوونه او روزنه پرمخ وړل کېده . په لومړي پړاو کې د قران لوستل، د عقایدو، د حرامو او حلالو شرحه، د دري ژبې لیکل او لوستل یې مهمه موخه وه. په دویم پړاو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې دري ژبه او ادب، عربي ژبه ، منطق، الهي حکمت، فلسفه، طب، رياضي او نجوم راتلل. لوړی زده کړې ( د مولوي توب درجې ته رسيدل) په عربي ژبه وې، چې عقلي او نقلي علوم پکې راتلل. خو وروسته زده کړې په ادبي، شرعي علومو (فقه)، حديث، تفسير، عقايدو، څه ناڅه په طب او نجوم پورې را ايسارې شوې وو او نور علوم يې شاته کړل. تحصيل يوازې په ښارونو او لويو کليو پورې تړلی و، خو اشرافو له نظري زده کړو پرته د آس ځغلولو، غشي ويشتلو، ښکار او نورې لوبې هم زده کولې. د افغانستان د ښوونې او روزنې پايله د يوې صبرناکې، قانع او کارکوونکې ټولنې کې رامينځ ته کول وو، چې د روحانيونو او دولت په اصالت يې عقيده درلوده او ټولې پيښې يې حتمي او ازلي بللې. دغه ډول روحيه د چنگيز خان له يرغل وروسته نوره هم کلکه شوه او تر اوسه پورې لا پاتې ده. په افغانستان کې د ښوونې او روزنې دغه تګلاره زياتره د حاکمې طبقې د ګټو د ساتلو په خاطر وه، ترڅو مرکزي حکومت قوي شي او په افغانانو کې يې د استعماري قوتونو پر ضد روحيه پياوړې کړي، د چنگيز خان د يرغل پرمهال دولتي ځواک له مينځه تللې و، په ټول هيواد کې خلکو د چنگيز خان په مقابل کې مقاومت وکړ، خو نور ملتونه په اسانۍ سره چنگيز خان ته تسليم شول. له چنگيز خان اوه سوه کاله وروسته افغانانو، د انګريزانو په مقابل کې پرته له دولته مقاومت وکړ. په افغانستان کې د ښوونې او روزنې پواسطه خلک صبر، زغم، قناعت او موجودې وضعې سره د جوړ جاړۍ په روحيه تربيه کېدل. له بلې خوا هغه وخت له بيوزلۍ سره سره خلکو په ژوند کې له ثقافت سره هم مينه درلوده. په غم او خوښۍ کې يو د بل سره شريک وو، په ډله ايزه توګه يې يو له بل سره مرستې کولې. ځوانمردي او احسان پيژندنه يې له اتلولۍ او اتل پالنې سره يو ځای عادت او ځانګړتيا وه. سره له دې چې خلک بيسواده وو، خو د علماو او مشرانو يې ډير درناوې کاوه. په وعده يې وفا کوله، له بې وزلو سره يې مرسته کوله(۲۷: ۲۱۰).

خو دغه فرهنګ، ادب ، ښوونې او روزنې د بهير او پرمختګ مخه د داخلي اختلافاتو او د چنگيز خان د يرغل په پايله کې ډپ شوه ؛ يو شمير فرهنګي اثار هم د دغو جګړو په پايله کې له مينځه ولاړل او افغانستان د تاريخ په بيلابيلو وختونو کې د استعماري ځواکونو د يرغل او جګړې له امله ډير زيان وليد او د هيواد د پرمختګ مخه لاپسی د خنډ او خنډ سره مخ شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## لنډیز

افغانستان د لرغوني تمدن او فرهنګ لرونکی هیواد په توګه د ګاونډیو هیوادونو سره ډېر نږدی کلتوري او سوداګریزه اړیکې درلودلې. د اسلام د مبارک دین له خپرېدو او په افغانستان کې د خپلواکو اسلامي دولتونو له جوړېدو وروسته د طاهریانو، صفاریانو، غزنویانو او غوریانو د واکمنیو پرمهال نه یوازې یې خپل کلتور وساته بلکې یوه لویه امپراتوري یې تاسیس کړه. د هند او ایران ډیرې برخې یې په خپل قلمرو کې شامې کړې. ددې هیواد د هر ښار اوسیدونکو د چنګیز د لښکرو په مقابل په میړانه دفاع وکړه. د هیواد ډیرو ښارونو د چنګیز د یرغل په پایله کې ډیر زیان ولید.

د خپلواکو اسلامي دولتونو د واکمنیو پر مهال د افغانستان خلک په دریو طبقو ویشل شوي وو. لومړی طبقه فیوډالان، اشراف، ملکان او روحانیون وو چې په ګډه یې حاکمه طبقه جوړوله. دویمه طبقه منځنی ښاري طبقه وه چې سوداګر، مامورین او کسبه کاران پکې شامل وو. درېیمه طبقه بزګران وو. فیوډالي (ځمکه والي) سیستم تر ډیره وخته پورې په افغانستان کې دوام وکړ. له بزګرو څخه درانده مالیات اخېستل کېدل، خو لومړی طبقه چې ډېره شتمني یې هم درلوده له مالیې څخه معاف وو. په تولید کې درېیمې طبقې ډېره ونډه درلوده. په کلیو کې د بزګرو دنده د ځمکې کرنه او د څارویو روزنه وه. په دغه دوره کې کرنې او د څارویو روزنې پرمختګ وکړ. د وګړو اقتصاد په کرنې سربیره پر سوداګری باندې ولاړ وو، چې د افغانستان سوداګري به له ایران، چین او ماورالنهر سره ترسره کېده. افغانستان د چین، پارس او ماورالنهر دولتونو ترمینځ د سوداګریز مزکز په توګه موقعیت درلود. د وریښمو مشهوره لار له دې هیواد څخه تېرېدله. افغانستان څخه مختلف جنسونه لکه خرما، تارینې رسی، نخي ټوټې، وریښمینې روجای ګانی، غوا ګانې، پنیر، ممیز، پوټکی او نور شیان صادریدل.

په افغانستان کې لرغونی ښارونه لکه بلخ، بست، هرات، غزني، نیمروز پرمختګ وکړ. په هغه وخت کې د پاچاهانو دربار ډېر لګښت درلود.ځکه چې په دربار کې ګڼ شمیر مرئیان، خدمتګاران، شاعران، افسران، طبیبان، ستوري پیژندوکي، فال کتونکي او مامورین موجود وو. د پاچا په دربار کې به لوی ګلداره چیني لوښي موجود وو. شهزادګانو به قیمتي چینایي خولۍ او غټی حاشیه داری لونګۍ پر سر وې. د سروزرو ملاوستنی به یې تړل او مهرونه به یې په فیروزي ګوتمې کې وو. د شهزادګانو موزي به سرې وې او ښه خواړه به یې خوړل. قضایي ادارو به قضیې د اسلامي حقوقو سره سم په ډېر ګړندي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډول په يو پړاو کې پرته له استيناف څخه فيصله کولې.  وزيران او لوړ پوړي چارواکې هر يو په ليکنو کې د غټو القابو او عنوانونو لرونکي وو. لښکر يې له دوه برخو څخه جوړ شوی و، يو يې سپاره او بل يې پلي وو. په دوی کې يو شمير يې دايمي وو او يو شمير يې اجيران او مرئيان وو. د جګړې پرمهال به حشري پوځ هم ورسره يو ځای کېده. سرتيرو په غشې، ليندی، نيزه او منجنيق وسلې درلودې.

د غزنويانو او غوريانو امپراتوري چې د پراختيا په لحاظ يې په سيمه کې ساری نه درلود؛ د علم او فن لوړ پړاو ته رسيدلې وه. د اسلام مقدس دين پخواني زردشتي او بودايي دينونه ختم کړل او د خلکو تربيت يې په مسجدونو کې پيل کړ.  د افغانستان د فرهنګ د انتقالولو لپاره يوه مهمه وسيله سوداګري وه. د افغانستان علم، فرهنګ او ادب له اسلام د مخه دورې په پرتله د اسلام د مقدس دين له خپرېدو وروسته ډېر پرمختګ وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پوښتنې

۱. په افغانستان کې د اسلام له خپرېدو مخکې ښوونه او روزنه موجوده وه؟

۲. په دولتي اداره کې به له کومو روښونو څخه ګټه اخېستل کېده ؟

۳. په دربار کې اشرافو ته څه ډول ښونه او روزنه ترسره کیدې؟

۴. په افغانستان کې د اسلام د مقدس دین له خپرېدو وروسته به زده کړې چیرته کېدې او کوم علوم زده کوونکو ته ښودل کېدل؟

۵. د چنګیز خان یرغل د افغانستان د کلتوري اثارو په له مینځه وړلو کې کومې منفي اغیزې درلودې؟

۶. ایا د غزني په دربار کې د دیني علماو د روزنې لپاره کوم مرکز موجود و؟

۷. تصوف څه ته وایي؟

۸. سلطان محمود غزنوي په هند کې د اسلام د سپیڅلي دین په خپرېدو کې څه ونډه درلوده؟

۹. د ترکومه وخته عربي ژبه د افغانستان رسمي ژبه وه؟

۱۰. په زردشتي دین کې څه شی تدریس کېده ؟

۱۱. د زردشت شعار څه و؟

۱۲. د اسلامي دورې په ماڼیو کې کوم سبک څخه کار اخېستل کېده ؟

۱۳. په جوماتونو کې کوم علوم تدریس کېدل؟

۱۴. په اسلامي ښوونه ګې د کومو علومو په تدریس باندې ډېر تاکید کېده ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

## لومړنی نښلونه

### د غوريانو د واکمني پرمهال جوړې شوی تاريخي ودانی او کلاګانی

په لرغونی غور کې ډيرې کلاګانی د غوريانو د واکمنی پرمهال جوړې شوی، چې د پرديو په مقابل په دفاع کې ستر رول درلود. دغه کلاګانی او تاريخي ځايونه په لنډ ډول معرفي کوو.

1. د منديش کلا: د منديش کلا يوه جګه او مستحکمه کلا ده، چې د منديش د زار مرغ په غره کې پرته ده. ددې کلا بنسټ بسطام ايښې و. د منديش کلا د غوريانو له برمه ډک فرهنګي او سياسي ښار نوم دی چې د غزنويانو په واکمني کې د سياسي بندي خانی په توګه ترې ګټه اخېسته.
2. د فيروز کوه استحکامي کلا: د غور د پاچاهانو پلازمينه وه. فيروز کوه کلا د فيروز کوه د غره په شمال کې د ورشاد په سيمه کې د غور د پاچاهانو په زمانه کې جوړه شوی ده. کله چې ملک قطب الدين محمد خپل وطني لقب (غرشاه) چې په عربي ليکنو په ملک الجبال بدل کړ، وپتيله چې يوه پخه کلا چې د شاهي دربار سره مناسب وي اباده کړي په ٦١٧ هـ ق د چنګيزخان په لښکر کشيو کې ورانه شوه.
3. خيسار کلا: د خيسار کلا هم د غور د ښکلو کلا ګانو څخه شميرل کيږي. دغه کلا د خيسار د غره په لويديځو لمنو کې د هوارې ځمکې څخه ځلور متره جګه ودانه شوی ده، چې اوس د قيصار په نوم ياديږي. د فراه ولايت د پرچمن ولسوالی کې په يو قريه بدله شوی ددې کلا بنسټ سلطان غياث الدين ايښې دی.
4. کاليون کلا: دا کلا هم د غور له مستحکمو کلا ګانو څخه ده، چې د چنګيز خان د يرغل پرمهال ويجاړه شوه (۴۰: ۹۵).
5. فيوار کلا: دغه کلا د غرجستان او مادين ترمينځ موقعيت لري او د بهاوالدين سام له خوا په ۵۴۴ هـ ق کال د غور په غرونو کې جوړه شوی ده چې د چنګيز د يرغل پرمهال په ٦١٧ کې ويجاړه شوه.
6. د سيفرود کلا: دا کلا سلطان بهااولدين سام ابن حسين جوړه کړی و. مغولي لښکرو ددغو کلا ټول خلک ووژل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

7. د تولک کلا: دغه کلا د غشو ویشتلو له پاره شپږ تیر کشونه درلودل. امیر نصر د تولک کلا له پاسه د اوبو حوض جوړ کړی و چې شل په شلو کې سور يې درلود او اوبه ترې تیرېدلې نه شوې(۹٦:۴۰-۹۷).
8. اهنگران: دغه ښار گوتې تر ۴۰۱ هـ ق کال پورې د محمد سوري پلازمینه وه، چې د سلطان محمود غزنوي په واسطه فتح شوه. دغه ښار د هرات ولایت په ۲٦۰ کلیومترې د چغچران لویدیځ ته پروت دی چې اوس هم په دې نامه يادېږي. نوموړی ښار د کاسې ۲۲ کلیومترې کې د لویدیځ لورې، د هریرود په کینې اړخ ۵۰ مترې کې د خاورې د غونډۍ پر سر يې کنډوالی شتون لري.
9. زاني : د غور د پاچاهانو مهالنی پلازمینه و، چې اوس د يوې قريې بڼه خپله کړی. د تیوري د قریې ۵۳ کیلو مترې کې سهیل ته پرته ده. فرانسوي جنرال فریه په ۱۸۴۵ ز کال د لټون پرمهال دغه کنډواله د غوریانو پلازمینه گڼلی ده.
10. زمینداور: د غور د ولایت په جنوب او د هلمند په شمال کې موقعیت لري. د غور د واکمنانو ژمنی پلازمینه وه، په ځانگړي ډول د سلطان غیاث الدین (۵۵۸-۵۹۹ هـ ق) په وخت کې ددغه ځای شخه د پلازمینې په توگه گټه اخېسته.
11. په بامیانو کې د غلغلې ښار: په بامیانو کې د غوریانوپلازمینه د غلغلې ښار وه، چې د ۵۴۰- ٦۱۰ هـ ق کال پورې غوریانو په بامیانو کې واکمني وکړه. دغه ښار په ۱۲۱۲ ز کال د چنگیز خان د فوځونو له خوا له خاور سره خاورې شوې. ددې ښار کنډوالې د بوداغتې مجسمې ته مخامخ په یوه لوړه تپه قرار لري. په ۱۹۳۰ ز کال ددې غونډۍ شخه تاریخي اثار لاس ته راغلې او د کابل موزیم د بامیانو په خونه کې خوندي دي (۲۹: ۱۳۳-۱۳۴).
12. دولت یار - چغچران - جرماس او استیه

دولت یار : اوس د چغچران د عمومي سړک پر سر یوه قریه ده.

چغچران: اوس هم د غور ولایت پلازمینه ده.

جرماس: د غوریانو د واکمني پرمهال ډېره مشهوره وه. اوس د چغچران لویدیځ ته په ۲۳ کیلو مترې کې یو قریه د جرماس په نوم موجود ده.

کاسی: د چغچران شمال ته واقع ده.

استیه: دغه کلا اوس هم په خپل نوم د منار جام جنوب ته واقع ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## تیوره او پسابند:

تیوره: د غور ولایت له لرغونو او تاریخي ښارونو څخه یو ښار دی، چې پخوا د غوریانو سیمه ایزه پلازمینه وه. هیرودت دغه ښار تسیپاره په نوم یاد کړی. تیوره اوس مهال د غور د ولایت یوه ولسوالۍ ده چې ۵۱۱۵ کیلو متر مربع مساحت لري.

پسابند: دا هم د غور یو تاریخي سیمه ده. اوس د غور د ولایت یو ولسوالی ده(۱۳۷:۲۹-۱۳۸).

## د غور نورې کلاګانې

ددې دپاره د غور ټولې کلاګانی چې د غوریانو د واکمنی پرمهال موجود وې چې ځینې یې توضیح شو او ځینې یې پاتی دي دلته به یې یوازې نومونه واخلو.

د اهنګران کلا، داستیه کلا، زانی کلا، د زنینداور (زمینداور کلا)، د بامیانو کلا (غلغلی کلا) ، د غزني کلا، د برکوشک کلا، خول ماښی (قلعه سنګي یا سنجیه )، دتیري کلا ( ددې کلا نامتو قهرمان المار پښتون و)، د کهیرا کلا (ددې کلا نامتو قهرمان شعب افغان و)، د دوکې کلا( ددې کلا نامتو قهرمان سندان و)، دخاسک کلا، دکجوران کلا، دایشارکلا، دوالشتان کلا، د تمران کلا (۴۰: ۹۷-۹۸).

د تګانی کوټ کلا، د شهرک کال ، د کاسی کلا، سور سنګ کلا ( شیرسنګ کلا)، د فیروز کلا، د ګزیو کلا، د ساجی کلا، د تیرد هند کلا، د بندراو کلا، د بلدوان کلا، د کوهنیز کلا (کوهیش کلا)، د سبکجی کلا، د خوست کلا، د ایشیار کلا، د فخراباد کلا، د بشلنګ کلا، د خوربین کلا، د خلج کلا، د روزګاران کلا، د قره باغ کلا، د دولت یار کلا، د چغچران کلا، د چهل اباد کلا، د چاردري کلا، د جوزدری کلا، د یامان کلا، د پساوند کلا، د ورشک کلا، د بشوره کلا (پشوره کلا)، د سرمژګان کلا، د بروند کلا، د حصادره کلا، د ګرزیوان کلا، د درنګ کلا، د لاغري کلا، د ساخان کلا، د نای کلا، د مریخ کلا، د کوه سنګ کلا، کچی ګرد کلا، د خطیف کلا، د حصارتو کلا (۴۰: ۹۹-۱۰۰).

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دویمه نښلونه

## د غزنویانو په دربار کې د دري ژبې د ځینو شاعرانو لنډه پیژندنه

نوموړی نښلونه د غزنویانو د واکمنۍ له فرهنګي فعالیت سره اړیکي لري.

۱. ملک العشراء عنصري : نوم حسن او په ابوالقاسم یې شهرت لاره؛ د پلار نوم یې احمد او د زیږیدو ځای یې بلخ و. عنصري د ویناوالو استاد و، د هیواد له سترو ویناوالو او شاعرانو څخه دی؛ د عنصري له ویناو څخه څرګندیږي، چې نوموړی د بلخ د اوسیدونکی و او په ځوانۍ کې د سلطان محمود خدمت ته راغلی دی (۱۴:۷۵۵).

۲. امیر فرخي: نوم یې علي کنیت یې ابوالحسن، تخلص یې فرخي و، د پلار نوم یې جولوغ او د سیستان په یوه بزګره کورنۍ کې یې سترګی نړۍ ته غړولی دی. نوموړی په ځوانۍ کې د امیر چغاني پواسطه د غزني دربار ته لار موندلی ده. فرخي یو پیاوړی ویناوال و؛ د ښې قریحې او قلم خاوند و(۱۴:۷۵۹).

۳. د منصور زوی عسجدي مروزي: عسجدي مروزی، ځینې د مرو رود او ځینو په وینا د هرات اوسیدونکی دی، نوموړی له سترو شاعرانو څخه دی چې تل له فرخي او عنصري سره په یو کتار کې یاد شوی. نوموړی د سلطان محمود په دربار کې روزل شوی او د سلطان محمود غزنوي پواسطه د سومنات د فتحې په اړه یې یو قصیده هم ویلې ده.

۴. استاد ابوالحسن علي بهرامي سرخسي: د غزني د دربار له خورا نومیالیو شاعرانو او پوهانو څخه دی؛ په عروض و قافیه کې یې رساله لیکلی دی؛ له دې پرته نور اثار یې هم لیکلي دی.

۵. محمد بن محمد بدایعي بلخي: ده خپل شعرونه په ترنم کې ویلي، د هغه ارزښتمن اثر د نوشیروان پندونه دی چې منظوم کړی یې دی.

٦. ابو محامد محمد بن عمر جوهر زرګر هروي: هغه د سلطان محمود ستاینه کوله، کله به په غزني او کله به په خپل اصلي استوګن ځای (هرات) کې اوسېده، نوموړی تر ۴۴۴ هـ ق پورې ژوندی و(۱۴:۷٦٦-۷٦۷).

(c) ketabton.com: The Digital Library

۷. حکیم ابوالقاسم فردوسي: حکیم ابوالقاسم فردوسي، له شک پرته لوی شاعر او نومیالی حکیم دی. د هغه شهنامه نه یوازې د فارسي ژبې ، بلکې د بشریت شهکار گڼل شوی. نوموړی د طوس اوسیدونکې، شهنامه د ختیځ ستر واکمن یمین الدوله محمود غزنوي په وینا په غزني کې لیکلی ده.

۸. منوچهري : نوم یې احمد، کنیت یې ابوالنجم، تخلص یې منوچهر او د پلار نوم یې قوصې دی . ځینې نوموړی د بلخ او ځینې د دامغان گڼي. په ۴۱۱ هـ ق د سلطان محمود دربار ته رسیدلی دی. ده ته د عزت په سترگه کتل کېدل؛ نوموړی د هغه دربار د ملک الشعراء او عنصري ډېره ستاینه کړې ده،خو دې پخپله دسلطان مسعود ددربار شاعر او دهغه یې ډېره ستاینه یې کړې ده (۱۴:۷٦۹-۷۷۰).

د موضوع د اوږدیدو څخه د مخنیوی په خاطر یوازې د نورو شاعرانو د نومونو په لیکنه بسنه کوو. زینبي علوی محمودي؛ ابوالخرج اوني، سید محمد بن ناصر علوي غزنوي، سید حسن غزنوي، ابوالفضل مسرور بن محمد خالقاني، منشوري سمرقندي، صدر اجل ملک الکتاب، د احمد بلخي زوی ابوسراقه عبدالرحمن، ابو محمد عبدالله بن محمد (چې په اوده بلخي مشهور و)، ابوالمظفر بن ابراهیم بن علي پنجشیري، ابو عبدالله روزیه بن عبدالله تکتي لاهوري، مسعود رازي، مظفر پنجدهي، کوکبی مروزي، ابوالمجمد مجدودستالي، غزنوي ، مختار غزنوي او نور (۱۴: ۷۸٦).

(c) ketabton.com: The Digital Library

## درېيمه نښلونه

## د غزنويانو د واکمني پرمهال مروجې سکې

دا نښلونه د کتاب د اتم څپرکی له اقتصادي برخې سره تړاو لري. په هغه څپرکي کې د درهمو څخه بحث شوی، دلته مونږ يوازې د غزنويانو له خوا ضرب شوی سيکو په اړه لنډ معلومات ليکو.

### سبکتگين

الف: د سروزرو سکې

ضرب ځای: هرات ۳۸۵ هـ ق

وزن: ۴ گرامه، قطر :۲۴ ملي متره.

د سکې مخ : ناصرالدين والدوله سبکتگين

د سکې شاه: الله، الطابيع الله - الملک المنصور نوح بن منصور

د سکې لمن ليک : هذا الدينار بهرات سنه خمس وثما نين و ثلثمائة

ب: د سپينو زرو سکې :

وزن: ۳،۱ گرام، قطر ۱۸ ملي متره

د سکې مخ: الطابيع لله

د سکې شا: لله- نوح بن منصور- سبکتگين

د سکې لمن ليک : سنه ثلث و سمانين وثلثمائة (۱۴: ۷۱۳).

### يمين الدوله سلطان محمود غزنوي

الف: د سروزرو سکې

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱ نمبر: ضرب ځای غزني، ۴۰۴ هجري

وزن: ۳،۹ گرامه، قطر :۱۵ ملي متر

د سکې مخ: القادر

د سکې شا: لله یمین الدوله و امین امله - ابوالقاسم

۲ نمر: ضرب ځای : غزني، ۴۱۷ هجري

وزن: ۴،۳ گرامه، قطر : ۲۵ ملي متر

د سکې مخ: القادر بالله

د سکې شا: یمین الدوله - امین المله- محمود

۳ نمبر : ضرب ځای: هرات

د سکې مخ: القادر بالله

د سکې شا: لله- یمین الدوله وامین المله - نظام لدین ابوالقاسم

۴ نمبر: ضرب ځای : هرات

د سکې مخ: القادر بالله

د سکې شا: لله یمین الدوله، امین المله، نظام الدین ابوالقاسم

۵ نمبر : ضرب ځای : نیشاپور، ۳۹۰ هجري

وزن: ۴،۹ گرامه، قطر : ۲٦ ملي متره

د سکې مخ: القادر بالله

د سکې شا: لله، الامیر سید یمین الدوله و امین المله ابوالقاسم ولی امیر المومنین

(c) ketabton.com: The Digital Library

٦ نمبر :

وزن: ۱،۷ گرامه، قطر : ۲۰ ملي متره

د سکې مخ: لا اله الا الله وحده، یمین الدوله محمود

لمن لیک: سجستان سنه آثین و ثسیحن وثلثمائة

د سکې شا: القادر بالله

لمن لیک : لا اله الا لله وحده لا شریک له

ب: د سپینو زرو سکې

۱ نمبر: ضرب ځای : لایقر ، قطر : ۲۱ ملي متره

د سکې مخ: القادر بالله

د سکې شا: لله، یمین الدوله وامین المله محمود بن سبکتګین.

۲ نمبر: ضرب ځای بلخ ، ۴۲۰ هجري

وزن: ۲،۸ گرامه، قطر:۲۲ ملي متره

د سکې مخ: عدل

د سکې شا: ابوالقاسم یمین الدوله محمود (۱۴: ۷۱۴-۷۱۵).

## سلطان مسعود

الف: د سرو زرو سکې

۱ نمبر: ضرب ځای : هرات. ۴۲۲ هجري

د سکې مخ: الناصر الدین ، القادر بالله، مسعود، الله

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سکې شا: امنستقم من اعداء الله، ظهیر خلیفة الله، ابو سعید.

۲ نمبر: ضرب ځای: غزني، ۴۲۳ هجري

وزن: ۳،۷ گرام، قطر : ۲۲ ملي متره

د سکې مخ : القادر بالله

د سکې شا: القایم بامرالله ناصر دین الله ابوسعید

۳ نمبر:۴۲۳ هجري

د سکې مخ : لایقر

د سکې شا: الناصر الدین الله ظهیر خلیفة الله مسعود بن محمود

۴ نمبر: ضرب ځای : نیشاپور، ۴۲۲ هجري

د سکې مخ: القادر بالله

د سکې شا: لله- ناصرالدین الله حافظ عبادالله مسعود

ب: د سپینو زرو سکې

۱ نمبر: ضرب ځای : بلخ، د ۴۲۱ او ۴۲۲ هجري کلونو ترمینځ

د سکې مخ: عدل، القادر بالله

د سکې شا: لله.... علیه السلام مسعود(۱۴: ۷۱٦).

## شهاب الدوله سلطان مودود

الف: د سپینو زرو سکې

۱ نمبر: د سکې مخ: رجب، عدل

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سکې شا: القايم بامرالله، شهاب الدوله مودود

۲ نمبر: د سکې مخ: عدل، القايم بامرالله

د سکې شا: القايم بامرالله، شهاب الدوله مودود

ب: د زيړو سکې

د سکې مخ: القايم بامرالله

د سکې شا: الدوله.... ابوالفتح مودود

## عبدالرشيد

الف: د سروزرو سکې

وزن: ۲،۸ گرام، قطر : ۲۵ ملي متره

د سکې مخ : القايم بامرالله

د سکې شا: لله ، عزالدوله و زين المله، شرف الله، عبدالرشيد (۱۴: ۷۱۷).

## طغرل نمک حرام

الف: د سپينو زرو سکې

وزن: ۳،۳ گرام، قطر : ۱۹ ملي متره

د سکې مخ: فتح .... بامرالله

د سکې شا: لله قوام الدوله ابوسعيد، طغريل

## فرخ زاد

الف: د سروزرو سکې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ضرب ځای: غزني، ۴۴۴ هجري

وزن: ۴ گرام، قطر : ۲۴ ملي متره

د سکې مخ: القایم بالله

د سکې شا: فر، جمال الدوله وکمال المله فرخ زاد بن مسعود.

ب: د سپینو زرو سکې

وزن: ۳،۳ گرام، قطر : ۱۹ ملي متره

د سکې مخ: عدل، القایم بالله

د سکې شا: ابوشجاع فرخ زاد بن مسعود ( ۱۴: ۷۱۸).

## سلطان ابراهیم

الف: د سرو زرو سکې

وزن: ۴،۸ گرام ، قطر: ۲۵ ملي متره . ۴۵۵ هجري

د سکې مخ: لا اله الا الله وحده لاشریک له- القایم بامرالله

د سکې شا: ظفر، سفیر الدوله و ضهیر المله ، ابراهیم

ب: د سپینو زرو سکې

۱ نمبر: وزن : ۲،۹ گرامه، قطر :۱۸ ملي متره

د سکې مخ: الله، القایم بامرالله، نصیري.

د سکې شا: طهیر الدوله ، الملک ابراهیم

۲ نمبر: وزن : ۳ گرامه، قطر : ۱۹ ملي متره

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سکې مخ: القایم بامرالله

د سکې شا: محمد رسول الله، طهیر الدوله الملک ابراهیم نصیري.

۳ نمبر: وزن: ۳،۳ گرامه، قطر: ۱۹ ملي متره

د سکې مخ: القایم بامرالله، ملک الاسلام نصیري

په لمن لیک کې : الملک لله

د سکې شا: السلطان الاعظم - قید الملوکه، سید السلاطین ابراهیم

## دریم مسعود

الف: د سپینو زرو سکې

وزن: ۳،۸ گرامه، قطر :۱۹ ملي متره

د سکې مخ: لله، محمد رسول الله المسظهر یمینې (؟)

د سکې شا: ابوسعید... الاعظم ، القادم بامرالله القایم بحجت الله مسعود

لمن لیک : الملک الموید علاولدوله

## بهرام شاه

الف : د سپینو زرو سکې

وزن: ۳،۳ گرامه، قطر : ۱۸،۹ ملي متره

د سکې مخ: لله المستر شل بالله، عزالدوله سنجر

د سکې شا: ........ (؟) السلطان الاعظم یمین الدوله بهرام شاه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پورته معلومات د کابل موزیم د لرغونو اسلامي سیکو لړ لیک اثر څخه چې لیکوال یې دومي نیک ښودلی دی او په ۱۹۵۳ ز کال په دمشق کې چاپ شوی، اخېستل شوی دی (۱۴ : ۷۱۹).

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څلورمه ضمیمه

| د طاهريانو، صفاريانو، سامانيانو او غزنوي واکمنانو د واکمنیو د مهمو پیښو کرنولوژي | | |
|---|---|---|
| شمیره | هجري قمري کال | پیښې |
| ۱ | ۲۰۴ | د اسد بن سامان د زامنو تقرر: نوح د سمرقند په حکومت، احمد په فرغانه کې، یحیی په چاچ (تاشکند) او الیاس په هرات کې |
| ۲ | ۲۰۵ | د طاهر بن حسین انتصاب (مقررول) د خراسان په حکومت |
| ۳ | ۲۲۷ | نوح بن اسد مړینه |
| ۴ | ۲۳۷ | د بُست په حکومت باندې د یعقوب لیث صفاري واکمن کېدل |
| ۵ | ۲۴۱ | د یحیی بن اسد مړینه |
| ٦ | ۲۴۲ | د الیاس بن اسد مړینه |
| ۷ | ۲۴۹ | د احمد بن اسد مړینه |
| ۸ | ۲۵۳ | د یعقوب لیث په لاس د هرات، بلخ او بامیان فتح کېدل |
| ۹ | ۲۵۹ | د یعقوب له خوا د محمد طاهر ماتې |
| ۱۰ | ۲٦۰ | د یعقوب په لاس د طبرستان فتح، د نصر بن احمد په لاس د بخارا فتح او خپل ورور اسمعیل ته د هغې سپارل |
| ۱۱ | ۲٦۵ د شوال ۱۴مه | د یعقوب مړینه |
| ۱۲ | ۲٦۷ | د الپتگین پیدایښت |
| ۱۳ | ۲۷۵ | پر بخارا د احمد بن نصر یرغل |
| ۱۴ | ۲۸۵ | اسمعیل بن احمد ته د احمد بن فریغون بیعت |
| ۱۵ | ۲۸۷ | د اسمعیل بن احمد په لاس په بخارا کې د عمرو لیث ماتې |
| ۱٦ | ۲۹۵ د صفری ۱۴ مه | د اسمعیل بن اسد مړینه |
| ۱۷ | ۲۹۸ | د احمد بن اسمعیل په لاس د سیستان د حکمران معدل بن لیث ماتې |
| ۱۸ | ۲۸۷ | د احمد بن اسمعیل په لاس د سیستان د حکمران عمرو بن لیث ماتې |
| ۱۹ | ۳۰۱ جمادی الثانی ۲۳ مه | د احمد بن اسمعیل مړینه. (۳۷: ۳۰٦). |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| ۲۰ | ۳۰۹ | د سیستان پر حکومت د احمد بن محمد صفاري مقرري. |
| ۲۱ | ۳۳۱ | د سبکتگین پیدایښت |
| ۲۲ | ۳۴۳ د ربیع الثاني ۱۹ مه | د نوح بن نصر مړینه |
| ۲۳ | ۳۴۵ | د الپتگین په لاس د بکر بن ملک وژل کېدل |
| ۲۴ | ۳۴۸ | د الپتگین لخوا د سبکتگین ابتیاع |
| ۲۵ | ۳۴۹ | پر نیشاپور باندې د الپتگین حکمراني |
| ۲۶ | ۳۵۰ د شوال ۱۱ مه | الملک بن نوح مړینه |
| ۲۷ | ۳۵۰ ذیحجه | بخارا باندې د الپتگین یرغل |
| ۲۸ | ۳۵۱ ربیع الاول ۱۵ مه | د الپتگین په لاس د منصور بن نوح د جنرال ماتې |
| ۲۹ | ۳۵۱ د ذیحجې ۱۳مه | په غزني باندې د الپتگین واکمني |
| ۳۰ | ۳۵۲ | د الپتگین په لاس د منصور بن نوح د جنرال ابوجعفر ماتې. |
| ۳۱ | ۳۵۲ د شعبان شلمه | د الپتگین مړینه او د هغه د زوی ابواسحق په تخت کیناستل |
| ۳۲ | ۳۵۳ | د احمد بن نوح مړینه او د هغه د زوی خلف په تخت کیناستل |
| ۳۳ | ۳۵۴ د شوال ۲۷مه | د ابو ابراهیم اسحق په لاس د ابوعلي لاویک ماتې |
| ۳۴ | ۳۵۴ | د خلف په غیاب کې په سیستان باندې د طاهر بن حسین واکمني |
| ۳۵ | ۳۵۵ د ذیقعدې ۲۵مه | د ابواسحق ابراهیم مړینه او د بلکاتگین پاچا کېدل |
| ۳۶ | ۳۶۱ د محرم لسمه | د سلطان محمود پیدایښت |
| ۳۷ | ۳۶۵ | د بلکاتگین مړینه او د پریتگین په تخت کیناستل |
| ۳۸ | ۳۶۶ | د منصور ابن نوح مړینه او د هغه د زوی پاچا کېدل. |
| ۳۹ | ۳۶۶ | د پریتگین خلع کېدل. (۳۷: ۳۰۸). |
| ۴۰ | ۳۶۶ د شعبان ۲۷ مه | د غزني په تخت د سبکتگین کښیناستل |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| ۴۱ | ۳۷٦ | د سبکتګین په لاس د جیپال ماتې او په یرغمل ډول د سخپال پاتې کېدل. |
| ۴۲ | ۳۸۰ | د غزني په کلا کې د محمود بندي کېدل د سبکتګین له خوا |
| ۴۳ | ۳۸۲ محرم | سیر جان ته نژدې د عمرو بن خلف ماتې |
| ۴۴ | ۳۸۴ د رمضان ۱۵مه | د سبکتګین او محمود له لوري د ابوعلي سیمجوری ماتې؛ سبکتګین ته د نوح بن منصور له خوا د بلخ سپارل او د ناصر الدوله لقب ورکول. محمود ته د خراسان د پوځ د مشري ورکول او د سیف الدوله د لقب ښښل. |
| ۴۵ | ۳۸۵ ربیع الاول | د سبکتګین او محمود له خوا د ابوعلي سیمجوری او فایق ماتې خوړل. |
| ۴٦ | ۳۸۷ د رجب ۱۳مه | د نوح بن منصور مړینه او د هغه د زوی ابوالحارث په تخت کښیناستل |
| ۴۷ | ۳۸۷ شعبان | د سبکتګین مړینه او د هغه د زوی اسمعیل سلطان کېدل |
| ۴۸ | ۳۸۸ ربیع الاول | د محمود له خوا د غزني د کلا نیول او د اسمعیل نیول کېدل او په تخت د محمود کښیناستل. |
| ۴۹ | ۳۸۸ | په فوشنج د خلف واکمن کېدل او بیرته د هغه پریښودل؛ د محمود د تره بغراجق مړینه . |
| ۵۰ | ۳۸۹ د صفری۱۲ مه | د ابوالحارث منصور بن نوح لری کول او پر ځای یې د هغه ورور ابوالفواراس عبدالملک په تخت کینول |
| ۵۱ | ۳۸۹ جمادي الاول ۲۷ مه | د محمود له خوا عبدالملک ته ماتې ورکول په مرو او د خراسان نیول، د غرجستان مشر په توګه د محمود پیژندنه او جوزجانان ته د اسمعیل ورتګ. |
| ۵۲ | د ۳۸۹ شعبان | د فایق مړینه |
| ۵۳ | د ۳۸۹ د ذیقعدی لسمه | په بخارا د ایلک خان واکمن کېدل او د عبدالملک بندي کېدل |
| ۵۴ | ۳۹۰محرم | ایلک خان  ته د محمود له خوا د یوه هیئت لیږل |
| ۵۵ | ۳۹۰ | د لغمان پر ځینو کلاوو د محمود واکمن کېدل |
| ۵٦ | ۳۹۱ شوال | هند ته د محمود روانیدل؛ د نصر له خوا د نیشاپور پریښودل |
| ۵۷ | ۳۹۱ | د محمود لاس ته د واثق لویدل او د هغه بندي کول. (۳۷: ۳۱۲). |
| ۵۸ | ۳۹۲ | د جیپال ماتې او بندي کېدل او د محمود قلمرو سره د ویهند یو ځای کېدل. |
| ۵۹ | ۳۹۳ | له غزني ځخه د سیستان خواته د محمود ورتګ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| ٦٠ | ۳۹۳ ذیقعده | د سیستان خواته له غزني څخه د محمود خوځېدل |
| ٦١ | د ۳۹۳ د ذیحجې پنځلسمه | د محمود له خوا د سیستان د شورشیانو ماتول. د سیستان په حکومت د نصر مقررول |
| ٦٢ | ۳۹۳ | د جیپال مړینه او د هغه د زوی انندپال په تخت کیناستل |
| ٦٣ | ۳۹۵ | له غزني څخه بهتندې ته د محمود تګ او د بهتندې د راجه (بیجی رای) شکست او مړینه |
| ٦۴ | ۳۹۵ | غزني ته د محمود بیرته راتګ |
| ٦۵ | ۳۹٦ | د سند پر غاړه د آنند پال ماتې |
| ٦٦ | ۳۹٦ | پر خراسان د ایلک خان یرغل |
| ٦٧ | ۳۹٧ | له خراسان څخه د ایلک خان د پوځ شاته تلل او وتل |
| ٦٨ | ۳۹۸ ربیع الثاني ۲۳ مه | پر خراسان د ایلک خان دوباره یرغل او د (کتر) په میدان کې د هغه ماتې |
| ٦۹ | ۳۹۸ | د سخپال بغاوت او د محمود له خوا د هغه ماتې او بندي کېدل |
| ٧٠ | ۳۹۹ د ربیع الثاني ۲۹ مه | د آنند پال په وړاندې د محمود راخوځېدل او ویهند ته نژدې د آنند پال ماتې |
| ٧١ | ۴٠٠ | غزني ته د طغا خان د سفیر راتګ؛ له غزني څخه د نراین پور خواته د سلطان محمود حرکت کول. |
| ٧٢ | ۴٠١ | له غزني څخه ملتان ته د محمود ورتګ؛ د طغاخان پر سلطنت د ایلک خان یرغل او بیرته د هغه په شاتګ ؛ یو ځل بیا د طغا خان پر سلطنت د ایلک خان یرغل؛ |
| ٧٣ | ۴٠١ | په غور د محمود یرغل او ابن سوري نیول . د ابن سوري مړه کېدل. |
| ٧۴ | ۴٠١ | خراسان کې قحطي؛ د قصدار د حمران پاځون او هلته د محمد بن محمود مقرریدل. |
| ٧۵ | ۴٠١ | د آنند پال مړینه |
| ٧٦ | ۴٠۲ | پر قصدار یرغل او د هغه د حکمران بیعت |
| ٧٧ | ۴٠۳ | د غرجستان نیول او غزني سره یې تړل. |
| ٧٨ | ۴٠۳ | د ایلک خان مړینه |
| ٧۹ | ۴٠۴ | نندنې ته د محمود ورتګ او له ناچارۍ څخه له هغه ځایه بیرته راتګ؛ له غزني څخه یو ځأ بیا |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| | | ننډنې ته د محمود تګ او د هغه پواسطه د ننډنې نیول کېدل. |
| ۸۰ | ۴۰۵ | تهانیسر ته له غزني څخه د محمود ورتګ او د تهانیسر سقوط |
| ۸۱ | ۴۰۵ | په خوابن باندې د محمود یرغل |
| ۸۲ | ۴۰۶ | بلخ باندېد محمود یرغل؛ د مسعود ټاکل د ولیعهد په توګه ؛ په کشمیر باندې لومړنې حمله او د لوهکوټ محاصره؛ |
| ۸۳ | ۴۰۸ | د خوارزم د لښکر ماتی او د محمود له خوا د هغو سیمو نیول. د خوارزم حکومت ته د التون نتاش غوره کول؛ د طغان خان مړینه او د هرات په حکومت د مسعود مقرریدل |
| ۸۴ | ۴۰۹ د جمادی الاول ۱۳ مه | له غزني څخه  قنوج ته د محمود حرکت او محمد ته د غزني دحکومت د کفالت پرېښودل |
| ۸۵ | ۴۰۹ د رجب شلمه | له جمنا څخه د محمود قنوج نیول . |
| ۸۶ | ۴۰۹ | د قبایلو خواته د محمود حرکت |
| ۸۷ | ۴۱۰ | له غزني څخه  د ګنډهـ او قنوج په لورې د محمود حرکت |
| ۸۸ | ۴۱۰ د شعبان ۱۴مه | د محمود له خوا د تریلو جیپال ماتې |
| ۸۹ | ۴۱۰ | په باري باندې د محمود واکمن کېدل |
| ۹۰ | ۴۱۱ | نور او قیرات ته د محمود ورتګ |
| ۹۱ | ۴۱۱ د جمادی الاول لسمه | د غور (تب)  ته د محمود حرکت |
| ۹۲ | ۴۱۲ | پر کشمیر دویم ځل یرغل او د لوهکوټ محاصره کول |
| ۹۳ | ۴۱۲ | ملتان ته د مسعود په بندي توګه لېږل؛ د محمود له خوا د آنند پال د زوی تریلو جیپال وژل کېدل |
| ۹۴ | ۴۱۳ | د ګوالیار د راجه بیعت؛ د کالنجر د راجه ګنډهـ بیعت |
| ۹۵ | ۴۱۵ | بلخ ته د سلطان تګ  ( ۳۷: ۳۱۴). |
| ۹۶ | ۴۱۶ | د اسرائیل بن سلجوق نیول کېدل او د کالنجر کلا ته د هغه لېږل؛ په خراسان کې د سلجوقیانو لپاره د اوسیدو اجازه ورکول. |
| ۹۷ | ۴۱۶ د شعبان ۲۲ مه | سومنات ته له غزنی څخه د محمود ورتګ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| ۹۸ | ۴۱٦ د رمضان ۱۸مه | ملتان ته د محمود تګ |
| ۹۹ | د ۴۱٦ شوال | انهلوارې ته د سلطان رسیدل او د راجه بیهم تښتیدل |
| ۱۰۰ | د ۴۱٦ د ذیقعدی ۱٦مه | د سومنات فتح |
| ۱۰۱ | د ۴۱٦ ذیحجه | د محمود له خوا د کنتهـ کوټ د کلا نیول او د منصورې د حاکم خفیف ماتې |
| ۱۰۲ | ۴۱٦ | د معدان مړینه او د هغه د زوی (عیسی) په تخت کښیناستل او غزني ته د ابوالمعسکر تښتیدل. |
| ۱۰۳ | ۴۱۷ | د سلطان حضور کې د قتا خان او ایغور خان د سفیرانو شرفیابی، قدرخان ته د محمود له خوا د مرستې په خاطر د ابوبکر حصیری ورلیږل. |
| ۱۰۴ | ۴۱۷ | محمود ته د کف (الدوله والاسلام) د لقب او دده ورونو او زامنو ته د نورو لقبونو ورکول د خلیفه له خوا؛ د بهیمپال مړینه |
| ۱۰۵ | ۴۱۸ | د جټانو د ټکولو په خاطر له غزني څخه د محمود وتل |
| ۱۰٦ | ۴۱۸ | له سلجوقیانو څخه د ناوا بیورد د خلکو شکایتونه |
| ۱۰۷ | ۴۱۹ | د سلجوقیانو په وړاندې د محمود لشکر کشي |
| ۱۰۸ | ۴۲۰ربیع الثاني | ری ته د محمود د لښکرو ننوتل ، د ری نیول ، د مجدالدوله بندي کېدل د ری په حکومت د مسعود مقرریدل |
| ۱۰۹ | ۴۲۱ | د مسعود له خوا د اصفهان نیول |
| ۱۱۰ | د ۴۲۱ د ربیع الثاني ۲۳ مه | د سلطان محمود مړینه |
| ۱۱۱ | د ۴۲۱ د جمادی الاول شلمه | مسعود ته د محمود د مړینې خبر وررسیدل |
| ۱۱۲ | ۴۳۲ د جمادی الاول ۱۱ مه | د سلطان مسعود مړینه (۳۷: ۳۲۱). |

(c) ketabton.com: The Digital Library

## اصطلاحات

- منجنيق: يوه وسله ده چې ډبرې، نفتي موادو څخه الوده او نور تخريبي مواد ليرې گوزاروي. د لومړي ځل لپاره فنيقيانو دغه وسله استعمال کړه. وروسته يونانيانو او پارسيانو هم له دې وسلې څخه گټه اخېستله. عربو هم په لومړي اسلامي دوره کې دغه وسله استعمالوله. په دې کې هيڅ شک نشته چې مجنيق په افغانستان (خراسان) کې د جگړې پرمهال استعماليده... په اسلامي دوره کې چې کله عبدالرحمن بن سمره په ۳٦ هـ کې افغانستان ته راغی، او د مسلمانانو له لښکرو سره کابل ته راورسيد، څو مياشتی يې د کابل ښار کلابند کړ، بالاخره يې د منجنيق په وسيله د کابل د ښار حصار مات کړ، بيا يې دا ښار ونيوه. مسلمانانو د افغانستان د ختيځو سيمو (سندهـ) په نيولو کې هم منجنيق استعمالوه. د منجنيق څخه يې د کلاگانو د ديوالونو په ورانولو کې گټه اخېسته. (۸: ۵۸۵).
- عيار: د سرو زرو په يو جوړ شوي توکي کې د سروزرو د سلنې اندازې ته وايي.
- حشري پوځ: د غزنويانو د واکمنۍ پر مهال به محلي لويو خانانو په شخصي امکاناتو يو پوځي ټولگی جوړاوه او له پاچاهانو سره به يې په فتوحاتو کې مرسته کوله. ددغې پوځي ټولگي شمير د هر خان تر امکاناتو پورې اړه درلوده، خو ځينې وخت د پاچا له خوا هم د ځينو لويو قومونو مشرانو ته اندازه ټاکل کېده .
- سيورسات: هغه پوځي مسؤلينو ته استعماليده چې د پوځي سفر پر مهال به يې پوځيانو ته اعاشه او اباطه برابروله (۱۰۱:۲۲).
- امپراتوري : هغه دولتونو ته ويل کيږي چې له خپلو جغرافيايي حدود څخه د باندې په گاونډيو هيوادونو باندې حکومت وکړي.
- بيگار: هغه کار ته وايي چې په خلکو باندې له اجورې پرته سرته رسول کيږي.
- ارهټ: چې جمع يې ارهټونه دي. دا له څاه گانو څخه د اوبو را ايستلو ابتدايي وسيله وه، چې څرخ به يې د انسان يا څاروي په واسطه تاويده او د اړتيا وړ د څښاک او د کروندې د خړوبولو استفاده به ترې کېده .

(c) ketabton.com: The Digital Library

- اقطاع او تیول: اقطاع هغه ځمکې ته ویل کېده ، چې د حکومت له خوا به نظامي افسرانو ته ورکول کېده ، خو کله کله به روحانیونو ته هم د احترام او درناوي په خاطر یوه ټوټه ځمکه ورکول کېده . اقطاع میراثي بڼه درلوده چې له یولسمې پیړۍ څخه مخکې رواج درلود. مینوسکي لیکي: هیڅ داسې وسیله نشته چې مونږ د هغه پواسطه د اقطاع او تیول ترمینځ فرق وکړو، ولې یو شې ویلې شو چې تیول د صفویانو په وخت کې محترمانه جنبه درولوده چې له خدمت سره یې اړیکه نه درلوده. حتی تیول د مستعمری یو ډول بڼه غوره کړه. خو بارتولد په خپل اثر ترکستان نامه په ۱۳۲ مخ کې لیکي : تاریخ اجتماعي دوره غزنویان (الته برویت حدود العالم) سابقه تیول په حدود قرن یازده هم بیش برده اند اما اسم تیول به معنی وسیعش از قرن شانزدهم میلادي به بعد متداول گشت و رونق یافت و تیول عبارت بود از اهدای تمام یا سهمی از محصول و عواید ارضي معین. بعضی از تیول ها مربوط بوظایف و مشاغل معینی بود. تا وقتی که آن شغل را داشت، از آن تیول بهره میگرفت. بعضي تیول های دیگری در برابر خدمت شخص به شخصی مورد نظر و برای حیات وی داده میشد، ولی ارثي نبود.... در واقع تشبثی بود از طرف حکومت برای احیای اقطاع به شکل قدیمی ( انتقاع مؤقتی) که در وقت خلفا وجود داشت، تیول از اراضی دیوانی (دولتي ) داده میشد (۲۲:۱۱۰-۱۱۱).
- گزیت یا سرگزیت: د جزیه معنی ورکوي، چې په ساساني دولت کې هم رواج و چې په پارسي کې جزیه یا د سرمالیه د گزیت یا سرگزیت په نوم رواج درلود.(۲۲:۱۸٦).
- جزیه : په اسلامي دوره کې د قران د (توبی د صورت ۲۹ آیت ) د حکم سره سم په فتح شویو اسلامي هیوادونو کې له اهل ذمه (اهل کتاب) څخه هر کال جزیه اخستل کېده . که چا د اسلام مقدس دین قبلولو، هغه د جزیې څخه معاف و (۲۲:۱۸٦).
- فرسخ: ۱۲۰۰۰ زره خطوي، یا ۳٦۰۰۰ زره قدمه، ځینې فرسخ د اوښ زر گامه گڼي چې یو نیم میل کیږي.
- مستمري: هغه تنخوا گانی وې، چې روحانیونو او ځینو اشخاصو ته به د دولت له خوا په دوامدره توگه ورکول کېده .

(c) ketabton.com: The Digital Library

- عروض: هغه علم چې د وزن په لحاظ د نظم سم او ناسم پر معلومېږي او په يو شمير بحرونو مشتمل دی (۱۷: ٦١).
- وزنپوهنه (عروض): هغه علم دی چې د نظم پر څپو ويشنه، رکنونه او بحرونه راپېژني (۱۱:۴۸).
- عروض په لغت کې د شعر تلی د لومړی مسری وروستی رکن او غره کې د لاری په معنی ده(۴۸:۷۳).
- عروض د ادبي علومو له ډولنو څخه يو ډول دی چې موضوع يې د شعر پر وزن، آهنګ باندی بحث کول دي او د وزن د ايجاد پر څرنګوالې، د وزن پر ډولونو او د هغه په سم او ناسم باندې خبري کوي (۲۴: ۲۳).
- قافيه: د عربو په لغت کې وروسته - شا- څټ او ورپسي تلونکی ته وايي او په اصطلاح کې هغه پوهنه ده، چې د بيتونو د دورونو د پای کلمو له همغږيو څخه بحث کوي يا په بله وينا د مصرع، بيت د هری مصرع او غير مصرع هر بيت د پای کلمه، چې شعرونو باندی ختميږي او اعاده يې په ورپسې بيتونو کې لازمه وي قافيه بلل کيږي يا د نظم د دورونو وروستيو هم اهنګيو څخه بحث کوي (۱۳: ۹).

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ماخذونه


۱. ابري فروغي، اصغر. (۱۳۸۷هـ ش). تاریخ غوریان. ایران: ارگان نشراتي سمت.

۲. بارتولد. (۱۳۴۴هـ ش). تاريخ سياسي و اجتماعی اسیای مرکزي در قرن دوازده. مترجم.علي محمد (زهما). کابل: پوهنې مطبعه.

۳. بخش فرهنگي اماده سازي غزني . (برای سال ۲۰۱۳ -۱۳۹۱). سیمای تاریخی غزنه. مطبعه. نوري بخش.

۴. بهار خوګیاڼی، سید محمد کریم. (۱۳۸۸لمریز). د افغانستان د مینځنیو پیړیو تاریخ. ژباړن. محمد فردوس (زکوخیل). کابل: ریپرو هندیا.

۵. بهار، ملک الشعراء. (۱۳٦٦هـ ش). تاريخ سیستان .کابل:مطبعه دولتی.

٦. پژواک، عتیق. (۱۳۸۸ ل). غوریان. ژباړن. اورنګزیب ارشاد. پیښور: دانش خپرندویه ټولنه.

۷. جوزجانی، سراج الدین. (۱۳۴۲هـ ش) طبقات ناصري. به تصحیح و مقابله و تحشیه. عبدالحی حبیبی. کابل: د افغانستان تاریخ ټولنه.

۸. حبیبي، عبدالحی. (۱۳۸۰هـ ش). تاريخ افغانستان بعد از اسلام .ایران :انتشارات افسون.

۹. حبیبي، عبدالحی. (۱۳۸۲ هـ ش). جغرافیای تاریخی افغانستان .چاپ سوم. کابل: بنګاه انتشارات میوند. کتابخانه سبا

۱۰. حبیبي، عبدالحی.(۱۳۷۸ ل). د افغانستان لنډ تاریخ. دویم چاپ. ژباړن. عبدالروف بینوا. پېښور: دانش خپروندویه ټولنه.

۱۱. حبیبي، عبدالحی او نور. (۱۳۹۱هـ ش). د افغانستان تاریخ د اسلام له راتګ څخه تر محمد زایانو پوري. دویم چاپ. ژباړن . عبدالرؤف بینوا. کابل: میوند خپرندویه ټولنه.

۱۲. حسیني، سید رضا.(۱۳۹۲هـ ش). معماري و شهر های افغانستان. کابل: انتشارات خراسان.

۱۳. حقپال، محمداجان. (۱۳۸۹ل ). قافیه پوهنه. کابل: د کابل پوهنتون مطبعه.

۱۴. خلیلي، خلیل الله او نور. (۱۳۹۱ ل). د افغانستان تاریخ. د اسلام د راتګ څخه تر محمد زایانو پوري. دویم چاپ. ژباړن. اورنګزیب ارشاد. پیښور: دانش خپرندویه ټولنه.

۱۵.رحمتي، محب الله. (۱۳٦۴ هـ ش). جغرافیای بشري افغانستان. کابل: پوهنتون کابل.

(c) ketabton.com: The Digital Library


۱۶. رشاد، عبدالشکور.(۱۳۸۹لمریز). جغرافيايي يادښتونه. (لومړی او دوهمه برخه). کندهار: علامه رشاد اکاډمي.

۱۷. رشاد، عبدالشکور. (۱۳۹۵ ل). د پښتو منظم عروضي سیستم . کندهار : علامه رشاد اکاډمی.

۱۸. سرهنگ، پاینده محمد. (۱۳٦۰ هـ ش). افغانستان مقارن لشکرکشی های اعراب. اثر تحقيقي گستتنز. چاپ شده. کابل: پوهنتون کابل.

۱۹. سوبمن، نصرالله. (۱۳۸۰ ل). پښتانه په هند کې. پاکستان: لاهور ملت چاپ خونه.

۲۰. سمناني، احمد پناهي. (۱۳۷۷ هـ ش). چنگيز خان چهره خونریز تاريخ. ایران: انتشارات حافظ نوین.

۲۱. سیستاني، محمد اعظم. (۱۳٦۹هـ ش). سیستان سرزمین ماسه ها و حماسه ها. جلد سوم. اوضاع سیاسي و اجتماعی سیستان بعد از اسلام. کابل: مطبعه دولتي.

۲۲. سیستاني، محمد اعظم. (۱۳٦۲هـ ش). مالکيت ارضی و جنبش های دهقاني در خراسان قرون وسطی. کابل: اکادمی علوم افغانستان.

۲۳. سیاقي، محمد دبير. (۱۳۹۲ هـ ش). جلال الدين محمد خوارزم شاه. کابل: انتشارات میوند. کتابخانه سبا.

۲۴. شمیسا، سروش. (۱۳۸۱ هـ ش). اشنايي باعروض و قافيه. تهران: انتشارات فردوسي.

۲۵. صديقي، جلال الدين. (۱۳۸۳هـ ش).دايرةالمعارف تاجيک. کابل: انتشارات میوند.

۲٦. صديقي زرولي. (۱۳۹۴ لمریز). افغانستان د طاهريانو پرمهال. ننگرهار: مومند خپرندويه ټولنه

۲۷. غبار، میر غلام محمد. ( ۱۳۹۳ ل ). افغانستان د تاريخ په تگلوري کې ( لومړی او دويم ټوک) . ژباړن. پوهاندمحمد بشیر دودیال . کابل : میوند خپرندويه ټولنه .

۲۸. غبار، میر غلام محمد. (۱۳۹۱ لمریز). خراسان. ژباړن. رحمت الله هوتک. جلال اباد: همدرد کتاب پلورنځی.

۲۹. غوری مستمندي، غوث الدین. (۱۳۷۸ هـ ش). تاریخ مختصر غور. پشاور: مرکز نشراتی میوند، سبا کتابخانه.

۳۰. فروزاني ، سیدابوالقاسم. (۱۳۹۵هـ ش). غزنويان. (از پیدايش تا فروپاشی). تهران: چاپ هشتم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳۱. فرهنګ، مير محمد صديق او نور (۱۳۹۱هـ ش). د افغانستان تاريخ د اسلام له راتګ څخه تر محمد زايانو پورې. دويم چاپ. ژباړن . اورنګزيب ارشاد. کابل: ميوند خپرندويه ټولنه.

۳۲. کاکاخيل، سيد بهادر شاه. (۱۹٦۵ م ). پښتانه د تاريخ رڼا کې. پيښور: يونيورسيټی بُک ايجنسي.

۳۳. کاکړ، محمد حسن. ( ۱۳۹۰ل). پښتون، افغان، افغانستان. پيښور: دانش خپرندويه ټولنه.

۳۴. کامګار، جميل الرحمن. (۱۳۸۸ هـ ش). د افغانستان د معارف تاريخ. ژباړن. قاري عبدالسميع شيرزاد. کابل: ميوند خپرندويه ټولنه.

۳۵. محبی. (۱۳۹۱هـ ش). د افغانستان تاريخ د اسلام له راتګ څخه تر محمد زائيانو پوري. دويم چاپ. ژباړن. اورنګزيب ارشاد. پيښور: دانش خپرندويه ټولنه.

۳٦. محمد حيات خان. (۱۳۸٦هـ ش) حيات افغاني. دويم چاپ. ژباړونکې. محقق فرهاد ظريفي او محقق عبدالطيف طالبی. پيښور. دانش خپرندويه ټولنه.

۳۷. محمد ناظم.(۱۳۸۵ ل). د غزنوی سلطان محمود ژوند او پيښليک. ژباړن. محمد بشير دودیال. کابل: ميوند خپرندويه ټولنه.

۳۸. ناګار، فضل ولي .(۱۳۹۵ لمريز). د حضرت حمزه بابا (رح) عرفان او غزل. ننګرهار: ناګار خپرندويه ټولنه.

۳۹. نرشخي، ابوبکر بن جعفر. ( ۱۳٦۲هـ ش). تاريخ بخارا. مترجم . ابونصر احمد بن محمد بن نصرالقبادي. کابل: مطبعه دولتي .

۴۰. نړيوال، رازقي. (۱۳۸۳ لمريز). د افغانستان استحکامي کلاوې ، حصارونه او بالاحصارونه. کابل: ميوند خپرندويه ټولنه.

۴۱. نړيوال، رازقي.(۱۳۹۲ لمريز) . د افغانستان تاريخی او فرهنګی وياړونه . کابل:دانش خپرندويه ټولنه.

۴۲. نړيوال، رازقي. (۱۳۸٦ لمريز). د هيواد لرغوني ښارونه او د تاريخ پاڼې. دويم ټوک. کابل: ميوند خپرندويه ټولنه.

۴۳. نعيمي، علي احمد او نور. (۱۳۹۱لمريز). د افغانستان تاريخ د اسلام له راتګ څخه تر محمد زايانو پورې. دويم چاپ. ژباړن . اورنګزيب ارشاد. کابل: ميوند خپرندويه ټولنه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴۴. نقشبندي، شيخ امين علاوالدين .(۱۳۸۹ لمريز). د تصوف حقيقت او د نقشبند په طريقې يو بحث. ژباړن. محمد بشير دوديال. کابل: ميوند خپرندويه ټولنه.

۴۵. نهرو،جواهر لعل .(۱۳۷۷ ش). نگاهی به تاريخ جهان. مترجم . محمود تفضلی. چاپ دوهم . تهران: چاپخانه سپهر.

۴۶. هاشمي، سيد سعدالدين. (۱۳۵۴ هجري شمسي). تاريخ افغانستان دوره اسلامی از ظهور حکومات ملی اسلامی تازمان اعليحضرت احمد شاه ابدالی . کابل: پوهنتون کابل.

۴۷. هاشمي، نور حسيب .( ۱۳۹۵ هـ ش). مفتاح التصوف.

۴۸. همکار، محمد ابراهيم. (۱۳۹۴ ل). وزنپوهنه. دويم چاپ . ننگرهار: ختيځ کتاب پلورنځی.

۴۹. هيوادمل، زلمي. (۱۳۸۳ هـ ش ). جغرافيه تاريخي لغمان. پيښور: موسسه انتشارات الازهر.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لیکلړ

سریزه.......... 1

## لومړی څپرکی

## د طاهریانو دولت

پیلېزه.......... 3
۱,۱. په افغانستان کې د ۹-۱۳ ز پیړۍ پورې د خراساني دولتونو جوړیدل .......... 4
۲.۱. له ۹-۱۳ ز پیړۍ پورې د افغانستان ټولنیزه، اقتصادي او کتلوري اوضاع .......... 5
۳.۱. د طاهریانو دولت ( .......... 7
۴.۱. د طاهر پوشنجي واکمني .......... 8
۵.۱. د طلحه واکمني .......... 13
٦.۱. د عبدالله واکمني.......... 13
۷.۱. د دویم طاهر واکمني .......... 15
۸.۱. د محمد واکمني .......... 15
۹.۱. د طاهریانو د عصر علمي او فرهنګي خدمتونه.......... 16
۱۰.۱. د طاهریانو د واکمنۍ د سقوط لاملونه .......... 19
لنډېز .......... 20
پوښتنې .......... 21

## دویم څپرکی

## د صفاریانو دولت

پیلیزه.......... 24
۱.۲. د صفاري دولت مینځ ته راتګ .......... 25

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲.۲. د یعقوب لیث صفاري واکمنی........ 27
۳.۲. د عمرو واکمني ........ 31
۴.۲. د طاهر واکمني ........ 34
۵.۲. د لیث واکمني ........ 35
٦.۲. د ابوعلي محمد واکمني ........ 36
۷.۲. د معدل واکمني........ 37
۸.۲. د دویم عمرو واکمني ........ 38
۹.۲. د ابو جعفر احمد واکمني ........ 38
۱۰.۲. د خلف واکمني........ 39
۱۱.۲. د صفاریانو د عصر کلتوري او ټولنیز وضعیت ........ 39
۱۲.۲. د صفاریانو د واکمنۍ د سقوط لاملونه ........ 41
لنډیز ........ 42
پوښتنې ........ 43

**درېیم څپرکی**

**ساماني دولت**

پیلیزه........ 47
۱.۳. سامان خدات........ 48
۲.۳. د امیراسمعیل ساماني واکمني........ 50
۳.۳. د ابونصر احمد واکمني ........ 53
۴.۳ . د نصر واکمني ........ 54
۵.۳. د نوح واکمني ........ 55

(c) ketabton.com: The Digital Library

٦.٣. د عبدالملک واکمني ........ 57
٧.٣. د ابو صالح منصور واکمني ........ 58
٨.٣. د دويم نوح واکمني ........ 59
٩.٣. د دويم منصور واکمني ........ 61
٣,١٠. د دويم عبدالملک واکمني ........ ٦٢
١١.٣. د سامانيانو د عصر مدني، ټولنيز او فرهنګي حالت ........ 63
١٢.٣. د سامانيانو د واکمنۍ د سقوط لاملونه ........ 67
لنډيز ........ 68
پوښتنې ........ 70

## څلورم څپرکی

## د غزنويانو دولت

پيليزه ........ 75
١.۴. د غزنويانو د دولت مينځ ته راتګ ........ 76
١.١.۴. غزني ښار ........ 76
٢.١.۴. د غزنوي دولت بنسټ ايښودونکی ........ 77
٢.۴. د الپتګين واکمني ........ 78
٣.۴. د ابواسحق ابراهيم واکمني ........ 78
۴.۴. د بلکاتګين واکمني ........ 79
۵.۴. د پريتګين واکمني ........ 79
٦.۴. د سبکتګين واکمني ........ 80
٧.۴. د سلطان محمود غزنوي واکمني ........ 84

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱.۷.۴. د سلطان محمود غزنوي او ابوالحارث ساماني اړيکې ........ 86
۲.۷.۴. د سیستان نیول ........ 87
۳.۷.۴. د غور نیول ........ 88
۴.۷.۴. د قصدار یا ننني بلوچستان نیول ........ 89
۵.۷.۴. د مکران نیول ........ 89
٦.۷.۴. د ری، همدان او اصفهان نیول ........ 90
۷.۷.۴. د فارس نیول ........ 91
۸.۷.۴. ختیځ لورې ته فتوحات ........ 92
۹.۷.۴ . د سلطان محمود مړینه ........ 97
۱۰.۷.۴. د سلطان محمود شخصیت ........ 97
۱۱.۷.۴. د سلطان محمود دورې ته یوه کتنه ........ 98
۸.۴. د محمد واکمني ........ 101
۹.۴. د مسعود واکمني ........ 103
۱۰.۴. د مودود واکمني ........ 106
۱۱.۴. د دویم مسعود واکمني ........ 108
۱۲.۴. د علي واکمني ........ 109
۱۳.۴. د عبدالرشید واکمني ........ 109
۱۴.۴. د طغرل واکمني ........ 111
۱۵.۴. د فرخ زاد واکمني ........ 111
۱٦.۴. د ابراهیم واکمني ........ 112
۱۷.۴. د درېیم مسعود واکمني ........ 113

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۸.۴. د ارسلان شاه واکمني ........ 114
۱۹.۴. د بهرام شاه واکمني ........ 115
۲۰.۴ . د خسرو شاه واکمني ........ 118
۲۱.۴. د خسرو ملک واکمني ........ 119
۲۲.۴. د غزنویانو د عصر فرهنګي او ټولنیزې هڅې ........ 119
۲۳.۴. د (۱۲ - ۱۵ ) زیږدیزې پیړۍ ترمینځ د افغانستان ټولنیز حالات ........ 122
۲۴.۴. د غزنویانو د واکمنۍ د سقوط لاملونه........ 124
لنډیز ........ 126
پوښتنې ........ 128

## پنځم څپرکی

## د سلجوقیانو دولت

پیلیزه........ 134
۱.۵. د رکن الدین ابوطالب طغرل بیک واکمني ........ 135
۲.۵. د الپ ارسلان واکمني ........ 137
۳.۵. د ملک شاه واکمني ........ 138
۴.۵. د برکبارق واکمني ........ 140
۵.۵. د ابوشجاع محمد واکمني........ 141
٦.۵. د سلطان محمود سلجوقي واکمني........ 141
۷.۵. د سلطان احمد سنجر واکمني (په افغانستان کې د سلجوقیانو واکمني) ........ 142
۸.۵. د سلجوقیانو د دولت سقوط او د خوارزمشاهانو پیاوړې کېدل ........ 144
۹.۵. د سلجوقي دولت کلتوري او ټولنیزې کړنې........ 144

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۰.۵. د سلجوقیانو د واکمنۍ د سقوط لاملونه ........ 147
لنډیز ........ 149
پوښتنې ........ 151

## شپږم څپرکی

## د غوریانو دولت

پیلیزه ........ 155
۱.٦. د غوري دولت مینځ ته راتګ ........ 156
۲.٦. د غزنوي او غوري دولتونو ترمینځ اړیکې ........ 159
۳.٦. د غوریانو امپراتوري ........ 161
۴.٦. د سلطان علاوالدین جهانسوز واکمني ........ 162
۱.۴.٦. د جهانسوز لقب ........ 163
۵.٦. د سیف الدین محمد واکمني ........ 164
٦.٦. د سلطان غیاث الدین واکمني ........ 166
۷.٦. د شهاب الدین محمد غوري واکمني ........ 170
۸.٦. د غیاث الدین محمود واکمني ........ 173
۱.۸.٦. له سلطان محمد خوارزمشاه سره د غیاث الدین محمود اړیکې ........ 175
۹.٦. د بهأوالدین سام واکمني ........ 175
۱۰.٦. د علاوالدین اتسز واکمني ........ 176
۱۱.٦. د علاوالدین محمد شجاع واکمني ........ 177
۱۲.٦. د غوریانو د واکمنۍ پر مهال د افغانستان ټولنیز او کلتوري وضعیت ........ 178
۱۳.٦. د غوریانو د واکمنۍ د سقوط لاملونه ........ 181

(c) ketabton.com: The Digital Library

لنډيز ........................................................................................... 182
پوښتنې .......................................................................................... 184

## اووم څپرکی

## خوارزم شاهانو دولت

پيليزه........................................................................................ 187
۱.۷. د خوارزم شاهانو فتوحات ............................................................. 188
۲.۷. د خوارزم شاهانو د دولت مينځ ته راتګ ............................................. 189
۳.۷. د خوارزم شاهانو د لومړۍ کورنۍ واکمنان.......................................... 189
۱.۳.۷. د ابوسعيد احمد واکمني ............................................................. 189
۲.۳.۷. د ابو عبدالله واکمني ................................................................. 190
۳.۳.۷. د مامون واکمني ....................................................................... 190
۴.۳.۷. د ابوالحسن علي واکمني ............................................................. 190
۵.۳.۷. د ابوالعباس واکمني ................................................................... 191
٦.۳.۷. د ابوالحارث محمد واکمني............................................................ 191
۴.۷. د خوارزم شاهانو دويمه کورنۍ ....................................................... 193
۱.۴.۷. د التون نتاش واکمني ................................................................ 193
۲.۴.۷. د هارون واکمني ....................................................................... 193
۳.۴.۷. د اسمعيل خندان واکمني ............................................................. 193
۴.۴.۷. د شاه ملک واکمني .................................................................... 194
۵.۷. د خوارزم شاهانو درېيمه کورنۍ...................................................... 195
۱.۵.۷. د انوشتګين واکمني................................................................... 195

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲.۵.۷. د قطب الدين محمد واكمني........................................................................195
۳.۵.۷. د اتسز واكمني ..........................................................................................196
۴.۵.۷. د ايل ارسلان واكمني ..................................................................................196
۵.۵.۷. د سلطان شاه ابوالقاسم محمود واكمني.............................................................197
٦.۵.۷. د سلطان علاوالدين تكش واكمني ......................................................................198
۷.۵.۷. د سلطان علاوالدين محمد خوارزم شاه واكمني ......................................................199
۸.۵.۷. د جلال الدين منكبرني واكمني .........................................................................205
۹.۵.۷. د خوارزم شاهانو د واكمني د سقوط لاملونه........................................................208
لنډيز ..........................................................................................................209
پوښتنې .......................................................................................................210

## اتم څپرکی

## د اسلام له ظهور څخه د چنگيز خان تر يرغل پورې د افغانستان ټولنيز او کلتوري وضعيت

پيليزه........................................................................................................216
۱.۸. ټولنيز طبقات.............................................................................................217
۲.۸. اقتصادي وضعيت..........................................................................................218
۳.۸. ښارونه .....................................................................................................222
۴.۸. دولتي ادارې................................................................................................226
۵.۸. مذهب، کلتور او تصوف .................................................................................231
٦.۸. ښوونه او روزنه : هنر او ادب.........................................................................236
لنډيز .........................................................................................................242
پوښتنې ......................................................................................................244

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړنی نښلونه........................................................................ 245
د غوریانو د واکمنۍ پرمهال جوړې شوی تاریخي ودانی او کلاګانی .............................. 245
دویمه نښلونه ........................................................................ 248
د غزنویانو په دربار کې د دري ژبې د ځینو شاعرانو لنډه پیژندنه .............................. 248
درېیمه نښلونه........................................................................ 250
د غزنویانو د واکمنۍ پرمهال مروجې سکې ........................................ 250
څلورمه نښلونه........................................................................ 258
اصطلاحات ........................................................................ 264
ماخذونه........................................................................ 267

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**